# د اسلام سیاسي نظام

- د نظام ساختار
- د نظام تطبیق
- رد پر مخالفینو

Ketabton.com



تفريغ من دروس

دکتور شهاب المهاجر حفظه الله

المجلد الأول

العزائم
مؤسسة العزائم الإعلامية

(c) ketabton.com: The Digital Library

الدولة الإسلامية

خلافة على منهاج النبوة

# د اسلام سیاسي نظام

- د نظام ساختار
- د نظام تطبیق
- رد پر مخالفینو

## المجلد الأول

تفريغ من دروس

دکتور شهنام المهاجر حفظه الله

الطبعة الأولى

صفر ١٤٤٥ هـ

العزائم

مؤسسة العزائم

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اسلام سیاسي نظام

## سرليكونه


سريزه........................................................................................٤
په اسلام كې سياسي نظام.....................................................................٤٤
لومړی د آخرت غم دی:.....................................................................٤٨
دویم د ګناه غم دی:.........................................................................٤٨
دريم د خاتمې غم دی:.......................................................................٤٩
څلورم د قبوليت غم دی :....................................................................٥٠
په اسلام كې د سياسي نظام اهميت.........................................................٧١
د جګړي جهتونه...............................................................................٨٨
د اسلام د سياسي نظام طرحه................................................................٩٩
د اسلام د سياسي نظام ساختار (هيكل)....................................................١٠٥
اول محور او اصل هغه د کُلي اهدافو ټاكل دي:.........................................١٠٦
دوهم محور او اصل هغه د برترۍ اصل دی:.............................................١٠٦
دريم محور او اصل هغه د اسلامي نظام د عناصرو مشخص كول او په پام كې نيول دي:..........١٠٧
د اسلام د سياسي نظام عناصر څلور دي:.................................................١٠٨
١- د قانون مرجع: ...........................................................................١٠٨
٢- زعيم يا رهبر:...............................................................................١١١
٣- اسلامي قلمرو / اسلامي سرحدات:......................................................١١٢
٤- رعيت.......................................................................................١١٧
څلورم محور او اصل د نظام د ساختار (جوړښت) هغه د مراتبو د سلسلې اصل دی:...........١٣٢
د اسلام د سياسي نظام تطبيق كېدل او عملي كېدل....................................١٣٣

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی محور:........................................................................۱۳۳
دوهم محور:........................................................................۱۳۵
دریم محور :........................................................................۱۳۸
څلورم محور:........................................................................۱۳۹
- د اسلامي سیاست او اسلامي نظام تعریفونه...................................................۱۴۲
د سیاسي نظام تعریف........................................................................۱۴۵
- د اسلامي نظام پنځه اصلي ځانګړتیاوې...................................................۱۴۶
۱- د اسلام مبین دین یو رباني دین دی:...................................................۱۴۶
۲- د اسلامي نظام د برترۍ دویم معیار (اصل) ثابت والی دی...................................................۱۴۹
۳-د اسلامي نظام د برترۍ درېم معیار دا دی چې دا دین نړېوال دین دی.............۱۵۱
٤- د اسلامي نظام د برترۍ څلورم معیار دا دی چې پدې دین کې همغږي او
هماهنګي موجوده ده...................................................۱۵۳
٥-د اسلامي نظام د برترۍ پنځم اصل دا دی چې په دې نظام کې به امر
بالمعروف او نهې عن المنکر وي...................................................۱۵۶
یوه پوښتنه او د هغې څلور (٤) ځوابونه...................................................۱۶۳
لومړی ځواب:........................................................................۱۶٤
دوهم ځواب: ........................................................................۱۶۶
دریم ځواب:........................................................................۱۶۸
څلورم ځواب:........................................................................۱۷۲
- دیپلوماتیکه جګړه........................................................................۱۷۵
د اسلام په سیاسي نظام کې دیپلوماسي...................................................۱۸۶
د دیپلوماتیکې جګړې د ستونزمنتیا علت څه دی؟...................................................۲۰۱
د یوه مجاهد ملګري پوښتنه او د هغې تفصیلي ځواب:...................................................۲۳۷
- د حدیبیې صلحه........................................................................۲٤٤
- سیاست او ستراتېژي........................................................................۳۲۸
د ستراتیژي او پلان تر منځ توپیرونه:...................................................۳۲۹
- تکتیک څه ته وایي؟........................................................................۳۳۶
- سیاسي تحلیل........................................................................۳٤۱
د تحلیل ضرورت څه دی، ولې تحلیل کوو؟...................................................۳۶۰
د اطلاعاتو تفسیر........................................................................۳۸۰
څنګه کولای شو خپل سیاسي بصیرت لوړ کړو؟...................................................۳۸۷
- انعطاف پذیري څه ته وآیي؟...................................................۳۹۰
څنګه یو مجاهد پوه شي چې زه سیاسي دید او فکر لرم؟...................................................٤۰۰

(c) ketabton.com: The Digital Library


- د ښه سیاستمدار اوصاف..........٤١٦
- انتقاد کې درې شرطونه دي..........٤٣٨
- د اسلام په سیاسي نظام کې د قتال ستراتېژي..........٤٥٢

د اسلام په سیاسي نظام کې د قتال ستراتېژي د شپږو اهدافو لپاره تطبیقېږي ...
..........٤٥٨

- نیابتي جګړه کومې جګړې ته وایي؟..........٤٧٦
- مجازي جګړه..........٤٨٢
- د نظامي ستراتیژي تعریف..........٤٩٢
- د اسلام په سیاسي نظام کې د خدعې قاعده..........٤٩٣

خدعه څه وخت او چاسره جایز ده؟..........٥٠٢
د خدعه اسباب څه دي؟..........٥٠٢
د خدعه شروط..........٥٠٧
د خدعې اصول..........٥٠٧

- دنظامی ستراتیژئ اجزاوي..........٥١٠

١- د حملې یا برید ستراتېژي..........٥١٠
٢- د عقب نشیني ستراتېژي ..........٥١٤
عقب نشیني(شاتګ) ستراتېژي درې برخې لري:..........٥١٥
الف: اختیاري عقب نشیني:..........٥١٦
ب: اجباري عقب نشیني:..........٥٢١
ج: تکتیکي عقب نشیني:..........٥٢١

- د حملې یا برید کولو ستراتیژي ..........٥٢٥
- د دفاع ستراتیژي ..........٥٢٦
- د اسلام په سیاسي نظام کې د دښمن پېژندنه..........٥٤٠

د دښمن پېژندلو علت څه دی؟..........٥٤٤
مخفي دښمن ولې ډېر خطرناکه وي؟..........٥٥١
ستا حقیقي دښمن څوک دی؟..........٥٥٥

- د دښمن پېژندنې اصول..........٥٦٣

اول اصل : د دښمن پېژندنه (شناخت):..........٥٦٤
دویم اصل : دښمن ته به د دښمن په سترګه ګورې: ..........٥٦٤
دریم اصل: دا چې دښمن سره ببرته دښمني کول: ..........٥٦٥

- د دښمن دوهم تعریف:..........٥٦٧

د دښمن د دښمنې مراحل او مراتب..........٥٦٨
د دښمن سره د دښمنی مراتب او سلسله..........٥٨٦

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دښمن پېژندلو اوله مرحله:........................................................ ۵۸۶
د دښمن پېژندلو دوهمه مرحله:........................................................ ۵۸۷
د دښمن پېژندلو درېمه مرحله:........................................................ ۵۸۸
د دښمن پېژندلو څلورمه مرحله:........................................................ ۵۸۸
دښمن ریښې پرې کول او ګذار ورکول........................................................ ۶۰۱
- د اقلیت دسیسه........................................................ ۶۰۸
کفار اقلیت چاته وایي؟ ........................................................ ۶۱۱
- استعمار........................................................ ۶۲۱
- د استعمار انواع........................................................ ۶۲۸
اقتصادي استعمار........................................................ ۶۳۴
سیاسي استعمار........................................................ ۶۳۹
- آیا د اسلام په سیاسي نظام کې د استقلال لمانځنه شته؟........................ ۶۵۲
- استقلال/ خپلواکي........................................................ ۶۶۰
- سیکولریزم........................................................ ۶۶۶
د سیکولریزم تعریف:........................................................ ۶۷۶
کودتا........................................................ ۷۰۱
انقلاب........................................................ ۷۰۱
قیام څه ته وایي؟........................................................ ۷۰۲
شورش........................................................ ۷۰۳
- سیاسي اصلاحات........................................................ ۷۰۴
جنبش........................................................ ۷۰۴
- نتیجه........................................................ ۷۰۵
- خاتمه........................................................ ۷۰۷

(c) ketabton.com: The Digital Library


# سريزه

إن الحمد لله الذي وَحَّدَ صفوفَ المجاهدين، وفرَّق شَمْل الكافرين، والحمدلله القائل﴿وَاعْتَصِمُوابِحَبْلِ اللّهِ جَمِيعًاوَلاَ تَفَرَّقُوا﴾ والصلاة والسلام على مَن أَلَّفَ اللهُ به بين قلوب المؤمنين، فكانوا كالبنيانِ المرصوص في وجه أعداء الدين، أشداءُ على الكفار رحماءُ بينهم، وعلى آله وصحبه الذين رَفَعُوا سيف الحق يداً واحدة فأزهقوا رؤوس الباطل، أمَّا بعد؛

**قال الله تعالى: ﴿ٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُخْرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ ۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَوْلِيَآؤُهُمُ ٱلطَّٰغُوتُ يُخْرِجُونَهُم مِّنَ ٱلنُّورِ إِلَى ٱلظُّلُمَٰتِ ۗ أُوْلَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ﴾ [سورة البقرة :257]**

**ژباړه: كومو خلكو چې ايمان راوړى، دهغو ملاتړ او مرستندوى الله دى او هغوى له تررميو څخه رڼا ته راباسي او كومو خلكو چې د كفر لاره غوره كړې، د هغو ملاتړ او مرستندويان طاغوتان (شيطانان) دي او هغوى د رڼا څخه د تررميو لوري ته راكاږي، دا كسان اور ته ورتلونكي دي، هلته به تل اوسيږي.**

مجاهدين چې كومې ستړياوې او تكاليف ګالي،زمونږ ورونه چې كوم زخمونه، زندانونه او د ژوند نور ډېر سخت پړاونه ګالي، نو دا د يو

(c) ketabton.com: The Digital Library


روڼ او روښانه هدف لپاره دي، کله چې مونږ او تاسې همدغه هدف په تمامه مانا په درست شکل وپېژانده نو بیا به د جهاد د دې اغزنې لارې له هر پړاو او هر پېچومي، هرې ستړیا او هر درد څخه یو ځانګړی خوند او معنویت ترلاسه کوو.

تاسې پوهېږئ چې د جهاد په نامه ډېر خوځښتونه پیل شول، ډېرو با احساسه ځوانانو او مؤمنو پرګنو د یو آزاد او شرعي نظام په هدف د تاریخ په هر پړاو کې بې دریغه قرباني ورکړې، خو افسوس دا چې دوی د کوم نظام قائمه کېدلو لپاره وینه ورکړه، د کوم نظام د راتللو په موخه یې چې پوره کورنۍ قرباني کړې، سخت دردونه یې وګالل، خو همدغه نظام یې په تمامه مانا نه وو پېژندلی، ځکه یې نو وخت په وخت په وینو، اوښکو او ډوّل، ډوّل سربښندنو د بین الملل د لاس نانځکو او تش په نوم د جهاد قائدینو معاملې، تجارت او د دوی د آرمانونو سره لوبې وکړې.

نو په همدې اساس مونږ ټولو ته لازمه ده چې دا نظام په تمامه مانا وپېژنو هسې نه چې الله مه کړه سبا مونږ او تاسې له دې سپېڅلي منهج او نظام څخه لار کږه کړو.

دا نظام د **اسلام سیاسي نظام** دی، چې زمونږ دښمن یې هم په تمامه مانا پېژني او په دې پوهېږي هم که چېرې په حقیقت کې د اسلام سیاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library


نظام حاکم شي، نو هغه ورځ به د دوی د ذلت او د اسلامي امت د برم او عزت ورځ وي،ځکه یې نو د اسلام د سیاسي نظام د حاکمیت رښتیني لارویان د اسلامي دولت سربښندویان د سختو فشارونو لاندې نیولي دي.

تر اوسه د اسلام د ټولو دښمنانو دا شریکه هڅه وه چې اسلامي امت د اسلام د حقیقي سیاسي نظام له رښتینې تصور او حقانیت څخه لرې وساتي، دوی ټوله انرژي په همدې مصرفوله چې اسلامي امت رابېداره او د یو داسې نبوي منهج په درېځ رانښکاره نشي چې بیا به ترې ټولې کفري نړۍ ته نه یوازې اخطارونه ورکول کیږي، بلکې له همدې دریځه به د ټولې کفري نړۍ په مقابل کې د جګړې اعلان او شروع به هم کوي، دوی خو د اسلامي امت دا آرمان د وطنیت او قومیت په تُوره درې ورې کړی وو، دا دی لله الحمد د اسلامي خلافت مجاهدینو په خپل عمل ټولې نړۍ، دوست او دښمن ته دا ثابته کړه، چې جهاد د کوم اهدافو تر سرواي لپاره کیږي او د اسلام سیاسي نظام څنګه تطبیقیږي.

نو په همدې اساس مونږ په دې کتاب کې هڅه کړې ده چې د کفارو له دې توطیئو پرده پورته کړو چې دوی ولې اسلامي امت د اسلام د سیاسي نظام څخه د بې پروا او بې خبره ساتلو په هدف د سیاست له

(c) ketabton.com: The Digital Library



نامه سره په کینه او عداوت کې اچولی دی او هڅه یې همدا ده چې له همدې لارې خپل شوم اهداف پلي کړي، ترڅو د مسلمانانو سرنوشت همدوی وټاکي.

که څه هم د اسلام په سیاسي نظام بحث په یوکتاب کې نه راټولیږي او نه هم دا دومره وړه خبره ده، بلکې د اسلام سیاسي نظام داسې یو ستر نظام دی، چې د ژوند ټولو اُمورو ته کامل او شامل اصول او تګلاره لري، او د دې نظام په هر اړخ جلا جلا کتابونه لیکل کېدای شي، خو مونږ په دې کتاب کې یوازې د اسلام د سیاسي نظام په ساختار یعنې جوړښت او د اسلام د سیاسي نظام د عملي تطبیق په لارو چارو، شرائطو او اړوند نورو موضوعاتو لنډ بحث کړی دی.

له دې مخکې چې د کتاب موضوعاتو ته ورننوځۍ له هغې وړاندې به د همدغه سپېڅلي نظام دیورښتیني لاروي په مسؤلیتونو، مکلفیتونو او وړترغاړې کارونو په اړه لنډې خبرې وکړو ځکه د دومره یو ستر نظام د تطبیق د لارې هر سربښندونکی غازي باید همدومره لوړ عزمونه، کلک هوډونه، مظبوطې ارادې او پیاوړې حوصلې ولري.

دا کومه مقدمه چې لیکو په دې کې مخاطب زمونږ کوم ځانګړی کس نه دی، بلکې خپل نفس مخاطب کوو،ځکه چې زمونږ په شمول ځینې ملګرو کې به دا ستونزې پیدا شوې وي چې د دوی ورځنی مهالویش

(c) ketabton.com: The Digital Library


او کارونه د بې نظمۍ ښکار شوې وي، نو د رب العالمين نه غواړو چې د کتاب لوستلو سره مونږ او تاسې خپلو نيمګړتياو ته متوجه کړي، يوه نوې جذبه او د کار کولو يو پياوړی احساس راسره مل شي او تر اوسه چې کوم غفلت، کسالت، سستي او بې غوري شوې وي نو له دې وروسته په خپلو رغنده او چټکو کارونو يې جبران ، د خپلو کارونو نظم او مهالويش راجوړ او بېرته يې د سره منظم کړو ان شاء الله .

## ورونو!

موږ او تاسې چې د غفلت، سستۍ، کسالت، بې پروايي او نورو مهلکو عادتونو ښکار او يا په دې ناروغيو اخته کيږو نو اساسي خبره دا ده چې زموږ په ورځني ژوند او کارونو کې عوارض پيدا کيږي، او که په وخت سره د دې عوارضو غم ونه خوړل شي نو دا نور هم سرايت کوي، تاسې د يو انسان ژوند او بدن د يو ماشين په څېر فرض کړئ، کله چې ماشين جوړ وي نو ښه صحيح کار کوي ،په درست شکل خپل کارونه ترسره کوي، خو کله چې د ماشين په يوه پرزه کې عوارض راپيدا شي او دا عوارض ترې ونه ويستل شي (جوړ نه شي) نو عوارض نورو پُرزو ته سرايت کوي او ماشين بيا د پخوا په څېر

(c) ketabton.com: The Digital Library


فعالیت، تولید او لاس ته راوړنې نه لري او د وخت په تېرېدو یې عوارض دومره خپاره شوې وي چې ټول ماشین فلج کړي نو همداسې په خپل ژوند هم قیاس وکړئ.

**ورونو!** په ژوند کې بې نظمي له هغه عوارضو څخه ده چې له امله یې ټول فعالیتونه د خنډ او ځنډ سره مخ کیږي او زموږ د ژوند ماشین سم چلېدو ته نه پرېږدي، بیا به د دې عوارضو له کبله طبیعي ده چې د سستۍ، غفلت، کسالت او د نورو زیاتو زیانونو ښکار کیږو، او که د دې عوارضو (بې نظمۍ) په وخت غم ونه خورو، نو لا به زیات شي او زموږ دا کارنده او فعال بدن به بیا مکمل فلج کړي، یعنې د فعالیت له نګاه څخه به داسې شي لکه یو فلج شوی بدن.

نو زموږ دا موضوع په همدې راڅرخي که چېرې د ژوند په ورځنیو فعالیتونو کې کوم عوارض راپیدا شوې وي، دا باید اصلاح، جوړ، بېرته ترمیم او منظم کړو او په دې ځان مطمئن کړو چې زمونږ د کار ماشین بېرته خپل عادي حالت ته راغلی دی.

دې خبرې ته هم متوجه اوسېږئ چې ځینې وخت د یو مجاهد په ژوند کې بې نظمي رامنځ ته شي، نو د دغه بې نظمۍ ضرر او زیان کله انفرادي او اکثره بیا اجتماعي وي، مجاهد خو دا فکر کوي چې بس د دې بې نظمۍ زیان شخصي ماته دی، خو داسې نه ده بلکې کله

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې د یو مجاهد په ژوند کې بې نظمي رامنځ ته شي، نو د رامنځته شوې سستۍ او غفلت په پای کې کوم زیانونه چې پیدا کیږي هغه ټول نظام ته متوجه کیږي، ځکه چې دا مجاهد د یو نظام غړی او یو نظم سره تړلی دی،مطلب دا نظم ټول یو ماشین دی او دا مجاهد یې یوه پُرزه ده، چې ماشین کې یوه پرزه کار پرېږدي نو د ماشین په فعالیت خامخا منفي اغېز کوي.

## څنګه پوهه شو چې زموږ په ژوند کې عوارض پیدا شوي دي؟

کله چې زموږ په ورځنیو کارونو کې کمزوري راغله،د کارونو په لاسته راوړنو کې کمی راغی،د نن کار درنه سبا ته پاتې شو،کارونه درباندې بوج شول او له نورمال حالت څخه ووتلې نو باید پوهه شې چې ستا ژوند او د کار ماشین کې عوارض پیدا شوي او باید چې په وخت د دې عوارضو د جوړېدو غم وخورې.

**مثال:** که ته یو امیر یې او هره ورځ دې په خپل وخت اړوند ملګرو سره رابطې منظمې وې، هغوی ته دې په وخت ځوابونه ورکول،د هغوی ستونزې دې اورېدلې اوپه وخت دې ورته د حل لارې وړاندیز او لاس په کار کېدلې،ملګرو ته دې د ورسپارلو کارونو دقیقه څارنه او پوښتنه کوله،د کارونو پایلو او لاس ته راوړنو ته متوجه وې، د کار ثمره دې کتله خو اوس دې په ټولو فعالیتونو کې ځنډ او خنډ راغلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library


نه ملګرو ته په وخت ځواب وايې،نه د هغوی ستونزې اورې او نه يې هم په حل کې مرسته کوې، نه ورسره مشورې کوې ، نه ورته کارونه سپارې او نه د ورسپارل شویو کارونو معلومات ترېنه کوې، نه دې د کار نتيجه معلومېږي او نه يې هم په کيسه کې يې نو په دې پوه شه چې په تا کې عوارض پيدا شوي.

او يا هم يو اعلامي مجاهد يې مخکې دې د ورځې څو تحليلي ليکنې کولې، مقالې او کتابونه دې ليکل، تحقيق او مطالعه دې کوله، شبهاتو ته دې ځوابونه ويل، نور د خپل استعداد او درسپارل شوي کار موافق زيات کارونه دې ترسره کول ، خو اوس دا يو هم نه کوې او که کوې يې هم نو د نن کار درڅخه سباته پاتي کيږي او ورځ په ورځ دې فعاليت کم رنګه کيږي، نو ښکاره خبره ده چې ستا په ژوند کې هم عوارض پيدا شوي، نو د دې عوارضو د جوړولو غم دې وخوره.

## ورونو!

اوس راځو او په همدې خبره کوو چې علت او سبب څه دی، چې زموږ په ژوند کې عوارض رامنځ ته کيږي چې له امله يې په موږ کې سستي او غفلت راځي او خپل ورځني کارونه په ښه شکل مخ ته نه وړو، د دې علتونه او لاملونه څه دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


**لومړنی علت يې دادی:** چې زه او ته په خپلو کارونو کې **تفريط** ته خوشحالېږو، زموږ ورځني کارونه د تفريط ښکار دي او راسپارل شوي کارونه په پوره ډول نه ترسره کوو، لږ يې وکړو نور وايو چې بس دا ډېره ده، په دې ښه پوهېږو چې دا کار راترغاړې دی او بايد همدا نن ترسره شي،د کار د ترسراوي لپاره ښه کافي وخت هم لرو خو بس په ډېر لږ کار بسنه کوو او نور وخت هسې ضايع کوو.

## څنګه پوه شو چې موږ خپل کارونو کې کم کاري (تفريط) کړی دی ؟

هلته به موږ په دې کم کارئ او تفريط پوهه شو چې کله خپلو ځانونو سره محاسبه وکړو، او دا معلومه کړو چې نن موږ څومره کاري فرصتونه له لاسه ورکړي دي، يعنې دا فرصتونه مو په خپل لاس وژلي، کله چې زه او ته له ځانونو سره محاسبه وکړو نو دا راته مالومېږي چې نن ما سره د دې او د هغه کار د ترسره کولو دا چانس او فرصت و خو ترسره مې نه کړ، له فرصته مو ګټه نده لاسته کړې، نو ښکاره خبره ده چې تاسې خپلو اړوندو کارونو سرته رسولو کې له تفريط څخه کار اخيستی دی. ښه فرصت وخت يعنې (زمان) دی، د ځينې کارونو ترسره کول خپل وخت لري، چې همغه فرصت شمېرل کيږي که چېرې هماغه کار په خپل وخت کې ونکړو، بيا وروسته سر ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


رسول یې دومره فایده نه لري، کومه فایده چې اول وخت کې په همدې کار مرتب کېدله.

نو دلته باید پوه شو چې د فرصت نه په ګټه اخیستلو کې مو کوتاهي کړې او په هماغه ورځ مو د کارونو په سرته رسولو کې تفریط کړی دی، مثال: یو وخت خلکو ته د دعوت په برخه کې د یوې خاص موضوع د وړاندې کولو او روښانه کولو ښه فرصت وي په همغه ټاکلي وخت کې باید یو اعلامي وړور د وخت د غوښتنې سره سم لیکنه وکړي، یا یو خبر او اعلامیه خپره کړي خو سستي وکړي هغه کار په خپل وخت ونه کړي، نو ده فرصت له لاسه ورکړ، کله چې موږ خپل وختونه ضایع کړل مانا یې همدا ده چې مونږ په خپل لاس فرصتونه وژلي دي، او باید پوهه شو چې زموږ په کارونو کې تفریط راغلی او دا عوارض دي چې زموږ په ژوند کې پیدا شوي باید دا عوارض ونیسو.

## مجاهدینو ورونو!

زما او ستا مخ ته ورځني فرصتونه پراته دي، چې لوی فرصت هغه وخت (زمان) دی، که مو له وخته سالمه استفاده وکړه خو ښه ده او که همدا ورځ له موږ څخه بې کاره تېره شوه نو ښکاره خبره ده چې ما او تا کې سستي پیدا شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سستۍ او کسالت د عوارضو له کبله نه یوازې دا چې ستا په معاملاتو کې منفي توپیر او بدلون راځي،یعنې د دغه عوارضو پایله کې نه یوازې زموږ کارونه د خنډ او ځنډ سره مخ کیږي، بلکې په عباداتو کې مو هم ډېر توپیر او منفي اثرات ښکاره کیږي، په جماعت سره لمونځ، نوافل، اذکار، تلاوت،وتر، دعا او نورو اکثرو عباداتو کې سستي پیدا کیږي، اعمالو کې تغییر راځي، وجود کې منفي بدلون رامنځته کیږي، ټوله ورځ او شپه خوبونه وي او بې ځایه سوچونه او ګډوډ خیالونه... او د دې هر څه علاج همدا دی چې باید له ځان څخه دا عوارض لرې کړو.

زموږ په وجود کې د سستۍ، غفلت او کسالت پیدا کېدو دوهم عمده علت **نا هیلي (نا امیدي)** ده.

دا هغه وخت پیدا کیږي کله چې زه او ته د خپلو کارونو د زر تر زره د ثمرې ترلاسه کولو هیله ولرو،یعنې کار کوو او غواړو چې بس سمدستي یې نتیجه وګورو، خو داسې نه ده، په زیاتو مواردو کې به ستا د کار نتیجه ځو میاشتې او ان ځو کلونه وروسته وي او یا به هم دا نتیجه ته مستقیم نه وینې بلکې ستا د کارونو نتیجه او ثمره به نور خلک یا ستا د نظام نورې اداري ترلاسه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**مثال:** زمونږ خو لله الحمد يو نظام دی،ټولې اداري که په مختلفو برخو کې په کار بوختې دي خو د ټولو هدف او مقصد يو دی، ټولې سره تړلې دي، هېر کله به د يوې ادارې د کارونو نتيجه او ثمره بله اداره ترلاسه کوي.

فرضاً اعلامي ملګري شپه او ورځ کار کوي، نور کار سره يې کار نه وي، لېکنې کوي، بيانات او ويډيوګانې جوړوي، کتابونه خپروي او نور ګڼ اعلامي کارونه کوي، خو که فکر وکړي چې ياره دا زما د کارونو نتيجه نو څه شی شوه، لګيا يم او نتيجه يې نه وينم.

يا د دعوت په اداره کې مصروف ملګري همداسې فکر وکړي، يو عالم ملګری شپه او ورځ د بياناتو په کولو او د کتابونو په ليکلو بوخت وي، خلکو ته دعوتي پيغامونه استوي نور دعوتي فعاليتونه کوي، خو وايي چې ياره بس د کار نتيجه نه شته او پايله کې خپلو کارونو او فعاليتونو ته شا کړي او نا هيلی شي ، په کارونو کې ځنډ، خنډ، سستي او په وجود کې يې لټي او کسالت پيدا شي.

خو نه هېڅکله داسې نه ده، تاسې د خپلو کارونو د نتايجو پوښتنه د جلب او جذب له ادارې وکړئ،چې څومره نوي ملګري همدا ستاسې د اعلامي او دعوتي فعاليتونو له کبله راروان دي، له نظامي ملګرو څخه يې وکړئ چې د دوی په ليکو کې همدا ستاسې د دعوتونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



فعالیتونو له کبله د مجاهدینو مورالونه او حوصلې ځومره لوړې پاتې شوي، دوی ځومره د جهاد په احکامو، فضائلو، اهدافو او مقاصدو پوهه شوي، ځومره یې په اخلاقو او معنویاتو کې لوړوالی راغلی او همداسې نور یې ځومره مثبت تغییرات کړي دي.

یا ځینې نور ملګري دا فکر کوي چې دا ولې مونږ نه قوي کیږو، ولې تمکین نلرو، ځینې یې له همدې علتونو او وسوسو له امله نا هیلي شي او ځینې بیا په شا وګرځي.

نو مونږ او تاسې ته هیڅکله داسې فکر نه دی په کار، زمونږ او ستاسې مسؤلیت او مکلفیت دا دی چې راسپارل شوي کارونه ښه په اخلاص، په درست شکل او په خپل وخت ترسره کړو، نور په نتیجه یې مونږ مکلف نه یو.

د دې هر څه سرته رسیدلو لپاره الله ﷻ یو ځانګړی وخت ټاکلی وي، د هر څه لپاره خپله موقع او مناسبات وي، ټول همدا ستاسې د فعالیتونو نتیجه ده،چې د الله ﷻ په فضل حق یې د خلکو زړونو ته ورکوز کړی دی.

الله ﷻ د میوې د پخیدو او د فصلونو د رسیدو لپاره خپل وختونه ټاکلي، که یو باغوان او بزګر هر ځومره هڅه وکړي د خپل باغ میوې

(c) ketabton.com: The Digital Library


له وخته مخکې ورسوي او يا هم د فصل حاصل له کرلو څخه وروسته په دوه دريو ورځو کې ترلاسه کړي نو دا خو هېڅ امکان نه لري. د باغوان او بزګر مکلفيت همدا دی، چې د خپل باغ پالنه او ساتنه وکړي، په وخت يې د اوبه کولو غم وخوري، کيمياوي او نورې سرې او دوايانې ورکړي، شاخه بري يې وکړي، فصل کې ځان ستړی او په تکليف کړي، نور نو ثمره يې الله ﷻ چې څومره ليکلې وي هماغه اندازه په خپل وخت يې ورکوي.

همدغه شان مونږ هم مکلف يو چې د نظام په هره اداره کې چې په کار بوخت يو بايد بې له کوم ځنډ او خنډ څخه په پوره اخلاص خپل کارونه مخ ته يوسو، نوره ثمره او د خپل کار نتيجه الله ﷻ ته پرېږدو، چې کله هم الله ﷻ زما او ستا د فعاليتونو د نتيجې راکولو ته کومه نېټه ټاکلې وي په همغه نېټه يې راکوي ان شاء الله، زمونږ او ستاسې فعاليت بې ثمره او بې فايدې نه پاتې کيږي.

**قال تعالى: ﴿يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ اللّهَ لاَ يُضِيعُ أَجْرَ الْمُؤْمِنِينَ﴾ [171/ آل عمران]**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : هغوی د الله په لورینه او د هغه په مهربانی خوشحاله او سوکاله دي، او هغوی ته ثرگنده شوې ده چې الله د مؤمنانو اجر نه ضایع کوي.

قال الله تعالی:﴿ إِنَّ اللّهَ لاَ يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ ﴾[التوبه/۱۲۰]

ژباړه : دا باوري ده چې د الله عزوجل په وړاندې د نیکانو د خدمت حق نه ضایع کیږي.

قال الله تعالی: ﴿وَاصْبِرْ فَإِنَّ اللّهَ لاَ يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ﴾[115 هود]

ژباړه : او صبر وکړه ، الله د نیکې کونکو اجر هېڅکله نه ضایع کوي.

قال الله تعالی: ﴿ إِنَّهُ مَن يَتَّقِ وَيِصْبِرْ فَإِنَّ اللّهَ لاَ يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ﴾

(یوسف/90) ژباړه: که څوک د پرهیزگاری او صبر څخه کار واخلي نو د الله په وړاندې ددغسې نېکیو بدله نه ضایع کیږي .

قال تعالی:﴿ وَلَا تَهِنُواْ وَلَا تَحْزَنُواْ وَأَنتُمُ ٱلۡأَعۡلَوۡنَ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ﴾.

ژباړه : بې زړه کیږئ مه ، اندیښمن کیږئ مه ، همدا تاسې برلاسي یاست، که تاسې مؤمنان اوسئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library


د پورته ذکر شویو نصوصو په شمول په ډېرى قرآني آیاتونو کې الله ﷻ بار بار دا تاکید کړی، چې زه ستاسې اجر نه ضایع کوم،خو تاسې صبر ولرئ تاسې په دې اړه خفګان، سستي او غم مه کوئ.

موسی علیه السلام ته یې قوم راځي ورته د فرعون او د هغه د لښکر له ظلمونو څخه سرټکوي او نا هیلي کیږي، خو دغه وخت موسی علیه السلام خپل قوم ته عجیبه خبره او لارښوونه کوي. **قال تعالی:** ﴿قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ ٱسْتَعِينُوا۟ بِٱللَّهِ وَٱصْبِرُوٓا۟ ۖ إِنَّ ٱلْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۖ وَٱلْعَٰقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ﴾ **ژباړه: موسی ÷ خپل قوم ته وویل: له الله ﷻ څخه مرسته وغواړئ او زغم ولرئ، ځمکه د الله ده له خپلو بندګانو څخه چې یې چاته خوښه شي د هغې وارث یې ګرځوي او وروستی کامیابي دپرهېزګارانو په برخه ده .**

قومه بې صبري به نه کوئ،د الله رب العالمین څخه به مرسته غواړئ او صبر به کوئ،دا ځمکه د الله ﷻ ده یوه ورځ به یې مونږ ته راکوي.

مونږ هم خپلو مجاهدینو ورونو ته همدغه خبره کوو، چې ورونو د الله رب العالمین څخه به مرسته غواړئ، صبر به کوئ خپل فعالیتونو ته مو په هر حال کې ادامه ورکړئ، دا ځمکه د الله ﷻ ده ،یوه ورځ به یې مونږ ته راکړي ان شاءالله، ځکه الله ﷻ مخکې له مخکې نه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library


د بري زيرى راکړى دى، يوه ورځ نه يوه ورځ به خپل متقيان بنده ګان کاميابوي او بېشکه کاميابي د متقيانو ده.

خباب بن الارت ﷺ رسول الله ﷺ ته راځي د مشرکينو د آزار، اذيت او د مسلمانانو د کموالي او ضعف څخه ورته شکايت کوي، خو رسول الله ﷺ ورته د پخوانيو مسلمانانو حالات بيانوي چې دا ورځ فقط په ما او تا باندې نه ده راغلې، بلکې په تېرو مسلمانانو هم راغلې وه، بيا چې ګوري چې خباب بن الارت ﷺ ډېر نا اميده شوى.

ورته وايي: اې خبابه! داسې ورځ به راشي چې د جزيرة العرب له يوه سر به په آس سپور شي او بل سر ته به ورسېږي په داسې حال کې چې له هېچا څخه به دې وېره او ډار نه وي، صرف د الله ﷻ او يا د کوم ځناور درنده وېره به درسره وي، نور به هېڅ ډول وېره او ډار به نه محسوسوې.

## ورونو!

که د کفارو له لورې د سختيو، ظلمونو، وحشتونو او د مسلمانانو د ضعف له امله په تاسو کې نا اميدي پيدا شوې وي، نو مونږ تاسې ته د مخکنيو مسلمانانو حال در يادوو، تاسې وګورئ چې په رسول الله ﷺ باندې څه رنګه ورځې او شپې تېرې شوي دي، په مدينه کې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


رسول الله ﷺ نظام جوړ کړی دی، صحابه دي، قومونه ورسره ولاړ دي، تاسي وګورئ چې په رسول الله ﷺ څه ډول شپې او ورځې راځي چې حتی د مجاهدينو سره يو ځای د الله‌ﷻ څخه مرسته غواړي او وايي چې ستا مرسته او مدد به کله راځي، همدارنګه پخوانيو رسولانو به هم همدا ويل چې يا الله مدد به کله وي؟

بيا الله ﷻ ورته په جواب کې فرمايي: ﴿أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ﴾

**ژباړه: بېشکه د الله مرسته نژدې دی.**

مفسرين وايي چې دا آيت په مدينه کې نازل شوی، يعنې په مدينه کې هم په رسول الله‌ﷺ باندې د اسلامي نظام د تحکيم لپاره ځومره سختيانې راغلي دي، د مکې ابتدايي دور خو لا پرېږده.

بله خبره دا چې مجاهدين بايد د دښمن د ظلم او وحشت څخه، د دښمن د هاى هوى ، قوت، تشو نمايشاتو څخه، په ښارونو کې د ښکته پورته ګرځېدو،د دوی سره د کفارو د مرستو او نورو فعاليتونو څخه کومه ويره او ډار محسوس نه کړي.

ځکه د آدم ؈ له خلقت څخه راشروع تر آخري انسان پورې به دلته دوست او دښمن موجود وي، دلته به د حق او باطل جګړه روانه وي، دا جګړه نه ختمېدونکې جګړه ده، کله چې آدم ؈ پيدا شو دښمن

(c) ketabton.com: The Digital Library


يې هم ورسره پيدا کړ چې هغه ابليس لعنتي و،کله چې ابراهيمعليه السلام سر راپورته کړ دښمن يې نمرود موجود و،کله چې موسیٰ عليه السلام خپل دعوت شروع کړ، په مقابل کې فرعون خپله دښمني اعلان کړه، همدا رنګه کله چې رسول اللهﷺ د توحيد ناره پورته کړه،نو په مقابل کې يې ابوجهل ودرېده، الله رب العالمين فرمايي: چې موږ د هر نبي او هر حق پرسته مؤمن په مقابل کې دښمن پيدا کړی دی، موسیعليه السلام ته وګوره چې نه تمکين لري، نه څوک ځای ورکوي، بالاخره دومره سخت حالات پرې راشي چې په بحر باندې ورګډېږي، لېکن باطل ته نه تسليمېږي.

## ورونو!

مونږ بايد د دښمن د دې مجازي قوت په ليدو نا اميده نشو، د دښمن قوت او لښکرکشي د اللهﷻ د قدرت په مقابل کې هېڅ نه ده، لازم ده چې مونږ او تاسې اللهﷻ ته ډېره توجو او عاجزي اختيار کړو. بناءً مجاهدين بايد د دښمن په موجوديت، قوت او د پراخه فعاليتونو په ليدو نا اميده نشي، بلکې دښمن سره په هره برخه کې يې د دښمنۍ او مقابلې احساس او توان لا پياوړی شي، په هېڅ حال کې خپل کار پرېنږدي، خپل کار او فعاليت ته ادامه ورکړي او خپل وختونه ضايع

(c) ketabton.com: The Digital Library


نه کېږي، خير که د امير لخوا څخه درته يو کار سپارل شوی وي، ته بايد د هغې سره د الله د دين د نصرت لپاره نور اضافه کار هم وکړې، بيا تاسې وګورئ چې الله ﷻ څومره تاسې سره مدد او نصرت کوي.

**ورونو!** هغه وخت په خپل کار کې پرمختګ کولای او خپلو کارونو ته ترقي، پراخوالی او مظبوطوالی ورکولی شو ،له وجود څخه کسالت، سستي او تنبلي لرې کولای شو کله چې عقيده مو په دې خبره مظبوطه وي چې زمونږ دا کارونه د الله ﷻ د نظام د قيام لپاره دي او خپلو رښتينو بندګانو سره يې چې د نصرت کومې وعدې کړي هغه رښتيني دي او به يوه ورځ د مجاهدينو مرسته وکړي، مونږ ته به پراخې فتحې راکړي او د دې کارونو ثمره به راووينې.

که دا عقيده ونه لرو نو بيا د دې عقيدې د نه شتون په سبب ځای يې وسوسې او بېځايه فکرونه نيسي او د دغه وسوسو او بېځايه افکارو زېږنده بيا نا اميدي، کسالت او سستي ده.

دې خبرې ته مو پام ساتئ چې هر کله ستا وجود کې سستي، کسالت او بزدلي پيدا شوه، نو معنی يې دا ده چې ستا عقيده کې ضعف پيدا شوی دی، نو بېرته د خپلې عقيدې پر مضبوطوالي، کلکوالي او پخېدو کار وکړه تر دې چې ستا له وجود څخه کسالت، سستي او بزدلي لرې شي. بايد په دې ښه پوخ يقين ولرو او دا احساس مو په ذهن او فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې تل د یو ځرخ په څېر وګرځیږي چې په دې کار کې راسره الله ﷻ مرسته کوي او هغه زمونږ د ټولو کارونو کار ساز او ولي دی.

د همدې عقیدې او یقین شتون د دې باعث کیږي چې زمونږ له وجود څخه لټي او سستي کډه وکړي.

لکه څرنګه چې رسول الله ﷺ او د هغه ملګري ابوبکر رضي الله عنه په غار ثور کې د کفارو او مشرکینو څخه پناه اخستې وه او کفار د غار تر خولې رسېدلي وو، په دې وخت کې ابوبکر رضي الله عنه رسول الله ﷺ ته وایي که چېرته دوی خپلو پښو ته هم وګوري نو مونږویني، رسول الله ﷺ ورته وایي چې: **لا تحزن ان الله معنا.**

**ژباړه: مه غمجن کیږه ځکه چې الله له مونږ سره دی.**

نو که چېرته زمونږ هم همداسې عقیده او احساس جوړ شو بیا نور ته نه غمجن کیږې.

ثمره د ایمان همدغه ده چې ستا په وجود کې دا احساس پیدا شي چې الله رب العالمین مونږ سره دی.

ځکه الله ﷻ فرمايي:﴿وَلَا تَهِنُوا۟ وَلَا تَحْزَنُوا۟ وَأَنتُمُ ٱلْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ژباړه: بې زړه کېږئ مه، اندېښمن کېږئ مه، همدا تاسې برلاسي یاست، که تاسې مؤمنان اوسئ.**

**لومړی:** خپل ایمان او عقیده داسې برابره کړئ چې الله ﷻ زمونږ مددګار دی، ترڅو هم درڅخه سستي لرې شي او هم دې د خپلو کارونو په اړه دا سکون او اطمینان زیات شي چې دا کارونه به ته په درست شکل انجاموې ، ځکه چې په کولو یې درسره الله ﷻ مرسته کوي.

**دویم:** هر کار او فعالیت چې تاسې کوئ، ولو که هغه کار درته د امیر له لورې سپارل شوی وي او یا یې هم خپله ترسره کوئ، نو په دې فکر او نیت یې شروع او ترسره کړه چې په دې کار کې د الله ﷻ رضا ولټوې نه د امیر خوښه یا نور دنیاوي مفاد او امتیاز، بلکې د ټولو کارونو هدف دې د الله ﷻ رضا وي،او په هر حالت کې باید صبر او استقامت وکړې، د خپلو کارونو د نتایجو ترلاسه کولو ته وارخطا نه شې، په الله ﷻ توکل وکړه،د همغه ذات د خوښۍ او رضا لپاره یې پیل کړه او په همدې یقین ولره چې الله ﷻ درسره مل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


همدغه باید د هر مجاهد انګېزه وي چې هر قدم اخلم او هر اقدام چې کوم الله ﷻ پرې ماته اجرونه راکوي، بیا ته ګوره چې په خپلو کارونو ترسره کولو ته خپله څومره ترغیبېږې او تشویقېږې.

**دریم:** په خپل وجود کې به دا قوت او یقین مضبوطوئ چې هر چا د الله ﷻ د دین نصرت وکړ، الله ﷻ خامخا د هغه نصرت کوي، په هر ډګر کې چې ته د هغه د دین نصرت وکړې که هغه د قلمي جهاد ډګر وي که په ژبه باندې حقه وینا وي،یا د دعوت په سلسله کې اړوند فعالیتونه وي ،یا چېرې اقتصادي اړخ وي، یا نظامي جبهه وي او دا دې نیت او یقین وي چې په یادو برخو کې زه د الله ﷻ د دین نصرت کوم نو هغه ذات هم ستا نصرت او مرسته حتمي کوي.

قال تعالی﴿ وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ﴾ {40_الحج}

**ژباړه : الله عزوجل به هرو مرو له هغه کسانو سره مرسته وکړي چې د هغه مرسته وکړي، الله ډېر زورور او برلاسی دی.**

او د دې سختیو نه وروسته به خامخا د الله ﷻ مدد راځي ځکه الله ﷻ خپله وایي چې: ﴿فَإِنَّ مَعَ ٱلْعُسْرِ يُسْرًا...﴾ ژباړه: **یقیناً وروسته له سختیو څخه آساني ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا باید زما او ستا کامل یقین وي که په دې سختیو کې ځان ټینګ، صبر او استقامت وکړو، خپل فعالیت پرېنږدو او د خپلې مبارزې څخه په شا نشو، نو د دې سختیو څخه وروسته خامخا الله ﷻ آساني او پراخي راولي او د هغه ﷻ مدد راځي.

**مجاهده وروره !** یوه خبره یاد ساته چې په سختیو کې د الله ﷻ د دین نصرت ډېر افضل دی په نسبت د هغې چې بیا آساني راشي او ته د الله ﷻ د دین نصرت وکړې، ځکه چې کله فتحې او سهولتونه راشي بیا خو مخالفین هم راځي، کله چې فتحه راشي بیا ته ګوره چې ډلې، ډلې خلک به راځي، بیا ستا او د هغه توپیر څه شو، بس د دغه سختیو د امتحاناتو ترخې شېبې چې نن په ما او تا راغلي دا حالت یو خاص ایماني کیفیت او یو خاص لذت لري، داسي حالاتو کې سم کس الله ﷻ ته لازیات متوجه شي او ایمان خپلې قوي درجې ته ځان رسوي، نو زه او ته باید خوشحاله شو چې مونږ الله ﷻ په داسې حالاتو کې د خپل دین د نصرت لپاره غوره کړي یو، چې زیاتو خلکو د مختلفو وجوهاتو له امله د الله ﷻ د دین د نصرت څخه مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګرځولی، او الله ﷻ ما او تاته په ډېرو سختو حالاتو کې د خپلې رسۍ د کلک نیولو توان راکړی دی.

نو وروره! را ویښ شه، د مایوسۍ او نا امېدۍ د غفلت او سستۍ څادر دې له اوږو وغورځوه او په یوه نوې روحیه او کلک عزم د الله ﷻ د دین نصرت ته راوړاندې شه.

**وروڼو!** مونږ به کارونه کوو، د الله ﷻ به په دې وخت کې خوښه نه وي چې زمونږ د کارونو ثمره زیاده راکړي، په دې کې هم د الله ﷻ ډېر حکمتونه دي، هغه ډېر حکیم ذات دی، مونږ د الله ﷻ په حکمتونو نه پوهېږو، کېدای شي نن زمونږ د کارونو ثمره راکړي هغه به ډېره لږه یا موقت وي، نظر هغې ته چې څه وخت وروسته یې راکوي، الله ﷻ په هر څه پوهېږي مونږ نه پوهېږو، نو خپلو کارونو ته په دې وجه نه شا کوو چې ولې فتحې نه راځي، ولې دا سختي دومره اوږده شوه، ولې زمونږ د کارونو په ثمره مونږ نه پوهېږو.

همداسې باید د هر مؤمن په دې سل په سله یقین او باور وي چې که د نړۍ ټول طاقتونه (انس ـ جن) راټول شي تا ته ضرر نشي رسولی، مګر هغه کوم چې الله ﷻ تاته مقرر کړي وي، نو چې مونږ داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library


قوي عقيده ولرو نو بيا به کفارو او د دوی له لورې د اسلام په نامه غولېدلي ډلې او افراد هېڅکله موږ په دغه نمايشونو او د کفارو له لورې په ورکول شويو اسلحو او تجهيزاتو نشي ډارولی او نه مجاهدينو ته ضرر رسولی شي، زه او ته که د اسلام د سياسي نظام د قيام په لاره کې په هره برخه کې که هغه نظامي، اقتصادي، اعلامي، دعوتي او که نورې برخې دي خپلې هڅې جاري وساتو، ما او تا په دغه ټولو برخو کې خپل مسؤليتونه په درسته توګه سر ته ورسوو، نو ته به وګورې چې دا د کفارو له لورې په مختلفو طريقو تېر وېستلي خلک او خپلو خود خواه مشرانو له لورې خطا کړای شوي افراد به هم حق درک او يوه ورځ به په ګريوان کې سر ښکته کړي او په دې هر څه به فکر ته مجبوره شي چې د اسلام سياسي نظام څه دی او دوی د کومو لوبو او دسيسو ښکار دي.

نو په اوس وخت کې دا سختۍ او کړاونه ، د کفارو او طواغيتو دا نمايشونه او مانورونه بايد زما اوستا د کارونو مانع نه شي.

قال تعالی: ﴿وَٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً لَّا يَخۡلُقُونَ شَيۡـًٔا وَهُمۡ يُخۡلَقُونَ وَلَا يَمۡلِكُونَ لِأَنفُسِهِمۡ ضَرًّا وَلَا نَفۡعًا وَلَا يَمۡلِكُونَ مَوۡتًا وَلَا حَيَوٰةً وَلَا نُشُورًا﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه : خلکو له الله عزوجل څخه پرته داسې معبودان ونیول چې هېڅ شئ نه پیدا کوي، بلکې پخپله هستول کیږي، په خپله د خپل ځان لپاره هم د څه گټې یا زیان واک نه لري، نه د وژلو وس لري نه د ژوندي کولو او نه مړه شوي بیا راپاڅولای شي.**

ددې مبارک آیات مقصد همدا دی چې په دې باندې زمونږ او ستاسې یقین باید جوړ او کلک باور ولرو چې دغه کفارو او ددوی له لورې خطا شوې ډلې او افراد که په هره جامه او نامه وي، هېڅکله مؤمنانو ته ضرر نشي رسولای، بغیر د الله ﷻ د مشیت او ارادې څخه.

نو په دې اساس چې دښمن ما او تاته ضرر نشي رسولای، نو بیا د الله ﷻ په مدد او مرسته خپل کارونه باید په پوره ډاډ،اطمینان او اخلاص سره پرمخ بوځو، سستي او غفلت ونه کړو او کارونو سرته رسولو لپاره باید ملا کلکه وتړو.

نن مجاهدینو سره قوي وسله او قوت چې دی هغه ایمان دی، کله چې دومره قوي قدرت او اسلحه مونږ لرو نو بیا له داسې پلاستیکي او نمایشي قوتونو څخه باید ډار ونه لرو، او نه هم د کمترۍ احساس وکړو، زمونږ قوت او شتمني همدا ایمان دی، چې دا قوت زمونږ دښمن سره نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خالد بن ولید ﷺ ته وګوره چې په بدن کې داسې ځایونه بیخي کم و چې هلته به د زخم اثر نه و،مګر بیا هم ورته مرګ په خپله بستره کې راځي.

د مجاهدینو هم باید همداسې پخه عقیده جوړه وي ،چې که د جګړو په هر څومره اورونو او لمبو، مردکو او چاودنو کې ولوبیږي، بیا هم چې الله ﷻ ورته مرګ نه وي لیکلی، نو ژوندی به ترې وځي، زمونږ او ستاسې په دې عقیده ده چې د الله ﷻ له اجازې پرته د ونې څخه یوه پاڼه هم نه راغورځیږي، نورې چارې او کارونه خو لا پریږده، او په کار دا ده چې د ټولو کارونو ترسره کونکی او واکدار ذات الله ﷻ وګڼو او همغه ذات سره خپله رابطه قوي کړو او په خپلو کارونو کې د الله ﷻ د رضا په لټه کې شو.

## څنګه کولای شو چې په خپل ورځنی ژوند، کار او فعالیت کې مثبت بدلون راولو؟

**ځواب دادی:** اول باید دا معلوم کړو چې د کومو عناصرو په پام کې نیولو سره په ورځنیو کارونو کې پرمختګ او ترقي راځي او کارونه پرمخ ځي، دا عناصر باید حقیر ونه شمېرو، دغه عناصر درک، پیدا او ترلاسه یې کړو او بیا د همدې عناصرو په مراعتولو سره خپلو کارونو او فعالیتونو ته د پرمختګ په لور مثبت تغییر ورکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه مهمه خبره دا هم ده چې کله په کارونو کې غفلت کیږي نو باید دستي خپل غفلت ته متوجه شو او بیا نو ځان سره دا عهد او ژمنه وکړو چې نور به زه غفلت نه کوم او کله دې چې خپل ځان د وعدې په پرېږې وتاړه نو باید وعده ترسره او پوره کړې او د خپل کار ماشین چالان وساتې، ځکه مؤمن په وعده ولاړ وي، یعنې په خپلې وعدې وفا کول به ستا په وجود کې خامخا د مثبت تغییر لامل ګرځي ان شاء الله.

ځکه نو اللهﷻ فرمايي:﴿إِنَّ اللَّهُ لا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتّي يغيروا مَا بِاَنفُسِهِم...﴾

**ژباړه : حقيقت دادې چې الله د هيڅ قوم حالت نه بدلوي ترڅو پورې چې هغوی خپل اوصاف نه وي بدل کړي .**

که غواړئ چې اللهﷻ ستاسو حالت بدل کړي نو په خپلو نفسونو کې تغییرات راولئ، مجاهدین به ځان په خپله مجبوره کوي، د مجبورۍ لفظ مو ځکه استعمال کړ چې د مجبورۍ حالت لږ سخت تماميږي، نو تاسې به ځان سختۍ ته ورکوئ او ځان به مجبوره کوئ تر دې چې حالات مو مثبت طرف تغییر وکړي، کله چې د همدې ژمنتيا له کبله د يو مجاهد په ورځيني ژوند کې بدلون راشي نو تاسې به بيا وګورئ چې په اجتماعي ژوند کې هم څومره ستر تغییرات راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د مقدمې په آخره کې یو ځل بیا په دې خبره ټینګار کوو چې مجاهدین باید په هېڅ صورت کې هم خپل وخت ضایع نه کړي، له وخت څخه اعظمي استفاده وکړي، دا وخت یو داسې نعمت دی چې زه او ته ترې څنګه استفاده کوو دغه راز همدا وخت د دښمن په واک کې هم دی، ټولو ته همدا وخت یو شان ورکول شوی دی، دا وخت داسې نه ده چې زمونږ دښمن ته زیات ورکول شوی او زه او ته یې کم لرو، نه بلکې دا وخت ټولو ته مساوي ویشل شوی، وخت یو داسې حساسه او با ارزښته تحفه ده چې دا نه ذخیره کیږي، نه اخستل کیږي، نه قرضیږي، نه غلا کیږي او نه هم بېرته راګرځي.

نو باید دا سوچ ضرور ولرو چې دښمن سره د وخت لرلو کې مساوي یو، که چېرې دا وخت عبث تېر او ضایع کړو، وخت راڅخه پرته له ګټې اخستو له لاسه لاړ شي او دښمن په همدې عین وخت کې چې ما او تا همداسې فضول تېر کړی هغه زما او ستا د نابودۍ لپاره ترېنه سالمه استفاده کړې وي، زما او ستا په خلاف یې دعوت کړی وي، پروپایګنډه او پوچ تبلیغات یې کړي وي ، خلک یې زمونږ په خلاف راپارولي وي ، خپل کفر یې ورته اسلام او زمونږ پاک سپېڅلی په نبوي منهج مزین اسلامي نظام یې ورته په مختلفو نومونو بدنام کړی وي، زما او ستا د نابودۍ لپاره یې په نظامي برخه کې خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library


روزلي، پلانونه يې طرحه او نقشې يې جوړې کړې وي، خو ما او تا همدا عين وخت په خوبونو او بېځايه بنډارونو تېر کړی وي ، نو اوس خپله قضاوت وکړه، چې زه او ته به بيا دښمن سره د مقابلې جوګه پاتې شو؟

## ورونو!

د وخت په ارزښت زياتې خبرې کېدای شي او په دې اړه زيات کتابونه ليکل شوي، زه او ته پوهېږو چې کسان او امکانات مو کم دي، نور فشارونه او تهديدونه راته له هر چا زيات متوجه دي، او د دې هر څه باوجود مو د داسې يوستر نظام د قيام دعوه کړې چې د هغې لپاره په هره برخه کې شپه او ورځ کار کول په کار دي، او د همدې نظام د قيام د مخنيوي لپاره که فکر وکړو د نړۍ ټولو کفارو، مشرکينو، طواغيتو، منافقينو او مرتدينو راته لاس يو کړی، که زما او له تا څخه يو ساعت هم ضايع شي نو بايد سخت خفه شو، ګريوان ته سر دننه کړو او ځان سره سوچ او دا حساب وکړو چې په همدې يو ساعت کې چې ما ضايع کړ، زما آمريکايي دښمن، زما روسي او چينايي دښمن، زما اروپايي او آفريقايي دښمن، زما پاکستاني، ايراني، هندي او نورو دښمنانانو به زمونږ د نابودۍ او محوې لپاره څومره په شومو

(c) ketabton.com: The Digital Library


پلانونو کار کړی وي، څومره زحمت به یې ویستلی وي او څومره به یې زموږ په خلاف لاسته راوړنې درلودلې وي؟

خو زما په شمول به زما د اعلام، دعوت، اقتصادي او نظامي کارونو د ملګرو په شمول نورو ملګرو به څومره غفلت کړی وي او بیا به ورته څومره دا غفلت حس شوی وي؟

که چیرې دا احساس پیاوړی کړو بیا به هم د کارونو په خوندونو پوهه شو او هم به د خپلو کارونو د پرمختګونو شاهدان واوسو.

که هر مؤمن ملګری داسې فکر وکړي بیا به هېڅ آرام ونه لرو تردې چې خپل وختونه قیمتي نه کړو او د اللهﷻ له لوري د راکول شوي دې ستر نعمت څخه سالمه ګټه ترلاسه نه کړو.

اوس راځو دې ته چې مونږ څنګه کولای شو د خپل وخت څخه په ښه شکل استفاده وکړو، دغه د وخت نعمت چې اللهﷻ موږ ته راکړی، خپل ورځني ژوند او کارونو کې ترېنه څنګه په سمه توګه ګټه واخلو نو په کار ده چې مونږ د خپلو ورځنیو کارونو د ترسره کولو لپاره یوه منظمه برنامه او مهالویش ولرو.

خپل ټول کارونه کتګورې کړو، هغه کارونه په ډاګه کړو چې باید لومړی یې ترسره کړو، مطلب مهم کارونه لومړي سر ته راولو، بیا وروسته کارونه او بیا هغې پسې ضروري کارونه په ډاګه شي، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصروفیت هم په ډاګه کړو چې زمونږ څخه هسې وخت ضایع کوي او زمونږ کارونو ته کومه ګټه نه رسوي او د دې ترڅنګ د هر کار کولو او تر سره کولو لپاره یې هم ځان سره وخت وټاکو، چې دا فلانی کار په دومره ورځو کې سرته رسوم، لکه یو کتاب دی او غواړې چې ته یې تصحیح کړې، نو که ته په دې کار شروع او منځ کې ډېره تفریح وکړې، ځان یو ساعت په کار او دوه ساعته په نورو بېځایه مسائلو بوخت وساتې، نو همدا کتاب چې په دریو ورځو کې یې تامولای شې بیا یې په لسو ورځو کې هم نه شې تصحیح کولای، او داسې نه ده چې تاته همدا د یو کتاب کار پروت دی، بلکې له دې علاوه درته نور هم زیات کارونه پراته دي، نو ته په دې ژمنه ځان وتړه چې یاره بس سبا سهار کتاب پیلوم او ماسخوتن یې ان شاءالله ختموم، نو همدې عهد ته ژمن پاتې شه، هم به د اللهﷻ په فضل دا کتاب ختم کړې هم به ورپسې نورو کارونو ته پراخه وخت ترلاسه کړې ، هم به ډېر ډاډ، اطمینان او سکون حاصل کړې دا طبیعي ده او تاسې ته به تجربه هم شوې وي، چې کوم کار تاسې له خپل درکول شوي او ټاکلي وخت څخه مخکې تمام کړئ نو انسان د ډېر سرور او یو خوږ کیفیت احساس کوي، چې همدا زمونږ او ستاسې معنوي شتمني ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بله مهمه مسئله داده چې ته هغه وخت د خپلو کارونو په غیر منظم والي پوهېږې کله چې له تا څخه د نن کار سبا ته پاتې شي، یا دربانديې خپل کار بوج شي،نو طبیعي ده چې له تا به کارونه نیمایي کې پاتې کیږي، یو کار به شروع کوې هغه به پرته له دې چې انجام او پای ته یې ورسوې، هلته به درڅخه د بلې ورځې کار نن ورځې ته راغځېدلی وي، هغه به اړین وي نو ستا د غفلت او کم کارۍ له امله به یو تشویش او سرخوږی درته جوړ وي، چې په خلاصولو به یې نه توانیږې،نه یوازې دا چې کارونه به درڅخه ګډوډ وي، بلکې روحاً به هم نا آرامه او خفه به یې،د زړه تنګۍ او نا امیدۍ احساس به کوې، شیطان به درته سل او زر وسوسې در اچوي، خو که ته خپل وخت تنظیم کړې،نو بیا به د کارونو په خوند او د ترسره شویو کارونو له کبله د حاصل شوي سکون څخه ډېر راضي یې ان شاء الله.

**د قدر وړ محترم مؤمن وروره!** که چېرته د اسلامي نظام د قایمېدو او تنفیذ لپاره منظمه برنامه اومهالویش نه لرې، نو سر له همدا نن ځانته د خپلو کارونو د منظم ترسراوي په هدف یوه برنامه جوړه کړه، یو کلک عهد وکړه، یو مهالویش جوړ کړه او د هرې ورځې په پای کې ځان سره محاسبه وکړه چې تا د نن ورځې په مهالویش کې د کومو کارونو ترسره کولو لپاره همدا نن ورځ ټاکلې وه، آیا هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارونه دې ټول سرته رسولي دي، کوم خو درڅخه په نیمايي کې نه دی پاتې، د سبا لپاره دې برنامه جوړه کړه او سبا بیا په یو قوي عزم او همت د الله تعالی په مرسته په خپلو کارونو پیل وکړه.

## مجاهده وروره!

ته باید په دې هم فکر وکړې چې ستا د کارونو د بې نظمۍ له کبله یواځې ستا کارونه د خنډ او ځنډ سره نه مخ کیږي، بلکې ستا له کبله د نورو ورونو په کارونو کې هم خنډ راځي، مخکې مونږ خبره وکړه چې زمونږ نظام شریک نظام دی او د دې نظم دا ټولې اداري سره تړلي دي، څنګه چې د یو ملګري زیان نورو ته سرایت کوي همدا راز یې د کارونو په برخه کې بې نظمي هم نورو ته سرایت کوي او درسره د اداري په داخل او ستا له اداري بهر د نورو ورونو په کارونو هم ستا د بې نظمۍ اثر غورځیږي او که ستا کارونه منظم او منسجم په خپل وخت ترسره شي نوستا د دې همت او د کارونو د ښه ترسراوي او نظم له کبله نور بې نظمه ورونه هم مجبوریږي چې خپل کارونه منظم کړي او خپلې چارې په وخت ترسره کړي.

**مؤمنه او مجاهده وروره!** ته ځانته داسې عادي فکر مه کوه، مه خپل ځان داسې وړوکی او بې ارزښته ګڼه او مه خپل وختونه داسې بې اهمیته شمېره،باید پوه شې چې که ته په هره برخه کې په کارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوخت يې که هغه دعوتي برخه ده که اعلامي چارې دي که د اقتصاد په هيکل کې مصروف يې او که په نورو نظامي کارونو بوخت يې نو ته ښه په دې سر خلاص کړه، چې د ټول امت سترګې همدا تاته دي، داسې فکر مه کوه چې يوازې د خراسان کونډې، ايتام په زندانونو کې زموږ اسيرې خويندې، معصوم بچي او مجاهدين ورونه ستا لار څاري، په ټوله آسيا کې بلکې په ټوله نړۍ کې د مظلومانو سترګې ستا په لور کږې دي،د ټول امت فقط همدا تاته سترګې دي، د اسلام په نامه مختلفو ډلو او افرادو دوی لوټ کړل، د دوی آرمانونه او هيلې يې ووژلې، دوی ټول تجربه کړای شول، اوس ستا منهج هم ويني، ستا دعوه هم ګوري او ستا فعاليتونه هم څاري، نو زه او ته ډېر درانه مسؤليتونه لرو، داسې درانه کارونه را ترغاړې دي،چې د هغه په ترسره کولو ما او تا ته د يوې ثانيې غفلت هم مناسب نه دی. نو راځه نور ځان سره دا کلکه ژمنه وکړو چې خپل وختونه قيمتي او له خپلو وختونو سالمه ګټه پورته کړو،د خپلو کارونو څخه بې نظمي ختمه او د خپلو کارونو د منظموالي او ښه والي له کبله نور ورونه چې په غفلت کې دي او يا يې هم چارې ټکنۍ او بې نظمه دي رامنظم ، را چابک او راګړندي کړو باذن الله تعالی.

**آخري خبره مې د يو نصيحت په شکل ولوله مجاهده وروره!**

(c) ketabton.com: The Digital Library


کله چې رسول اللهﷺ باندې وحې راځي او الله رب العالمین دا تربیه کوي د دې لپاره چې د نبوت مقام ورکړي، اللهﷻ بار بار رسول الله ﷺ دې ته آماده کوي، چې دا کوم مسؤلیت دې ته ورکول کیږي، دا باید په احسنه طریقه باندې مخ ته یوسي، د رسول الله ﷺ تربیه په عبادت سره کوي، نو ځکه ورته فرمایي. قال تعالی ﴿يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ (1) قُمِ اللَّيْلَ إِلَّا قَلِيلاً (2) نِّصْفَهُ أَوِ انقُصْ مِنْهُ قَلِيلاً (3) ...﴾

**ژباړه: اي په ښرى كې تاوېدونكيه! شپه په (لمانځه) ولاړه تېره كړه خو كمه، يا نيمايي شپه يا له هغې څخه يو څه كمه كړه.**

ځکه ورته وایي چې د الله سره رابطه جوړه کړه چې تاته ډېر لوی مسؤلیت درکول کیږي، نو ځان د سختو سره عادت کړه، له الله څخه مددونه وغواړه او الله ته ډېر استغفار وکړه.

## عزتمنده وروره!

همېشه درانده بوجونه هله ته پورته کؤلای او د سختیو نه راوتلای شي، چې کله ته خپلې اړیکې د اللهﷻ سره جوړې کړې، چې کله هم تا د هغه ذات سره قوي رابطه جوړه کړه، بیا درته د خلکو زړونه مایله کوي، په عُمر،کارونو او په وخت کې درته برکت اچوي، په کارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې درسره مرسته کوي او د نورو مسلمانانو په زړونو کې درته محبت اچوي، چې په درکړل شوي مسؤلیت کې درسره مرسته وکړي.

نو وروره د الله جل جلاله ذکر او اذکار کول دا هغه صابون دی چې د وجود څخه د کسالت، غفلت، سستۍ او تنبلۍ ټولې خیرې پاکوي، مونږ ته د خوښۍ احساس او د زړه قوت راکوي، که څوک غواړي چې په دنیا کې آرام او سکون ومومي، په کارونو کې یې خوند او لذت راشي ، په کارونو کې سرعت او برکت پیدا شي او په آخرت کې جنت ته لاړ شي، نو په دنیا کې دې د الله جل جلاله له ذکر او یاد څخه نه غافله کیږي، د الله جل جلاله ذکر او یادول د ستونزو د حل یواځینۍ لنډه لار ده، له هر ډول ستونزو، سختیو تکالیفو او کړاؤنو څخه د وتلو لار ده، په یو مسلمان کې د ژوند انرژي او آب حیات همدا د الله جل جلاله ذکر او یاد دی که چیرته دغه آب حیات او انرژي ستا په وجود کې نه وه او د الله جل جلاله له یاد څخه غافل وې نو ته فکر وکړه چې وخته مړ شوی یې.

## نو مجاهده ورورە!

دا وه د اسلام د سیاسي نظام له پېژندنې وړاندې یوه عمومي مقدمه چې زمونږ د کارونو او امورو د ښه ترسراوي او منظموالي په هدف مو د کتاب په پیل کې وړاندې کړه، نو هڅه وکړئ که تر اوسه مو په

(c) ketabton.com: The Digital Library


کارونو کې بې نظمي وه او یا مو هم په وجود کې سستي، غفلت، کسالت او تنبلي وه نو هغه له دې وروسته وباسئ او له دې وروسته په یو نوې هوډ او اراده خپلو کارونو ته دوام ورکړئ.

جزاکم الله خیرا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په اسلام کې سياسي نظام

الله رب العالمين امر کړی دی چې فيصلې په اسلام وکړو، پوره يې ومنو، دعوت يې وکړو، په کامل شکل سره يې حاکم کړو، ځکه دا يو کامل دين دی،د ژوند ټولو امورو ته کامل او شامل نظام لري، فضيلت يې په نورو اديانو دا دی، چې الله رب العالمين دا دين کامل دين رالېږلی دی، په دې دين کې د الف څخه تر يا، د وړې څخه تر لويې مسئلې پورې هرڅه الله رب العالمين واضح او تشريح کړي دي او هر څه کې يې الله رب العالمين خير اچولی، دا الله ﷻ يو کامل، منظم او يو تطبيق کېدونکی دين د مؤمنانو لپاره را لېږلی دی او بيا يې په دې باندې قاطع امر کړی ده،چې تاسو به د الله رب العالمين د دين(اسلام) څخه بل دين ته مخه نه کوئ، ځکه دا دين کامل او پوره شو او ستاسې لپاره همدا دين غوره شو، اوس به نو له دې څخه ځان اخوا دېخوا نه کوئ، بلکې مکمل به په دې دين کې داخلېږئ او په ټولو اړخونو به يې ايمان لرئ.

## ورونو!

اسلام داسې دين دی چې په ټولو برخو او نظامونو کې يو کامل او شامل اصول او ظوابط لري، له وړې خبرې رانيولې تر لويې خبرې ټول مسائل په کې شته، د اسلام سياسي نظام بيا داسې يو تطبيق

(c) ketabton.com: The Digital Library


کېدونکی سیاسي نظام دی، چې همدا دین ټول په ټوله حاکموي او د دین څخه د دفاع ، حاکمیت او د تطبیق وړتیا لري، الله ﷻ د همدې دین له کبله د اسلام سیاسي نظام ته داسې عزت، حیثیت او ارزښت ورکړی چې په نورو نظامونو کې نشته.

نو موږ باید ښه په جرأت دا دعوه ولرو چې زمونږ نظام یو شامل او کامل نظام دی، هېڅ برخه یې نیمګړې نه ده، د طاغوتي نظامونو په څېر د بنده ګانو په لاس په جوړو شویو وضعي قوانینو ولاړ نظام نه دی، بلکې په الهي اوامرو او احکامو مستحکم او قایم نظام دی، اوس نو داسې نه ده چې کلونه، کلونه وروسته یو څوک راځي د خپل پوچ او غلط فکر او د خپلې خیټې او خواهش څخه رازېږېدلی قانون په مونږ حاکم کړي او دا دعوه وکړي چې اسلام د اوسني عصر له غوښتنو سره په ټکر کې او د تطبیق وړ نه دی، او زمونږ ځینې ساده مسلمانان هم لکه د ړندو چرګانو پشان ورپسې شي، چې هو والله دې کې عدالت نشته او دا هغه سابقه وخت لپاره راغلی دی، اوس د تطبیق وړ نه دی، نه! موږ د رب العالمین په توفیق سره د قرآن په آیاتونو عمل کوو، وړه خبره او غټه خبره ټوله د اسلام په دلیل او په برهان باندې ثابتوو او هر چا سره په هره برخه کې په دې تړاو بحث ته حاضر یو، که څوک له شرعي او یا له عقل او منطق څخه غږیږي، د الله په فضل

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې په دې قانع کؤلای شو چې اسلام يو جامع دين او د ژوند يو ظابطه حيات دی، د ژوند ټولو امورو ته يو شامل غښتلی نظام لري او په وړاندې يې نور نظامونه د مقارنې وړ نه دي، مونږ ان شاءالله تر آخري سلګۍ تيار يو چې د الله رب العالمين د همدې دين او نظام څخه دفاع وکړو.

او بايد زمونږ ټول فردي، اجتماعي، بدني، انفرادي، عبادات خاص د الله ﷻ لپاره وي، نو په همدې بنياد مونږ د ريا، سمعت، تشهير او بېځايه ځان ښودنې دروازه ورتړلی شو،او دا هغه وخت کې کؤلای شو چې د خپلو ترسره کړو ښېګڼو او خدمتونو نسبت الله رب العالمين ته وکړو او هر څه مو د هغه ذات لپاره وي او بايد هر مؤمن شعار دا وي چې:﴿ قُلْ إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾

**ژباړه : زما لمونځ زما عبادت ټول مراسم ، زما ژوند زما مرګ هر څه د کايناتو د پالونکي الله لپاره دي .**

دا ټول اعمال که هغه لمونځ، روژه، زکات، حج، جهاد، او نور طاعت او عبادات دي خاص د الله ﷻ لپاره وي کله چې دا دعوه لرو چې زما دا ټول طاعات او عبادات د الله ﷻ لپاره دي نو بيا بايد دا شرايط عملي کړو، شرايط کوم دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


[لَا شَرِيكَ لَهُ ۖ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ]

**ژباړه : چې د هغه هېڅوک شریک نشته، د هماغه امر ماته شوی دی،او تر ټولو لومړی د اطاعت سر ټیټونکی زه یم .**

دا شرط به پوره کوئ، چې د الله رب العالمین لپاره دې عمل وکړ، نو بیا دې ځان په کې مه شریکوه، بیا د (زه ) او (زما) الفاظ ترې وباسه چې زه داسې... یم او ما داسې اعمال کړي او دا زما برکت دی چې دومره کارونه روان دي... خاص د الله رب العالمین لپاره یې وکړه، په همدې صورت کې ته بیا دا دعوه کولای شې،چې زه مخلص مؤمن یم.

ورونو! ریا ډېر بد عمل دی، په هر وخت کې چې د مجاهدینو اعتبار خراب شوی دی، ریا، خودنمایي، شهرت طلبي او ذاتي تشهیر لمنځه وړی، له داسې کړنو به سلفو ډېر ځان ساته، نو لنډه دا چې عزت په شهرت کې نه دی.

یو مؤمن سره باید تل د څلورو خبرو غم موجود وي او هېڅکله به ځان له دې غمه نه بې غمه کوي، د دې څلورو خبرو غم باید مونږ آرام ته پرېنږدي، همدا غمونه چې مونږ سره مل وي نو ان شاء الله د کامیابۍ لار مومو ،چې د دې غمونو له جملې څخه:

## لومړی د آخرت غم دی:

مونږ او تاسې باید تل د آخرت په فکر کې واوسو چې زمونږ اخروي

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژوند به ښکلی وي، مونږ د خپل اخروي ژوند د جوړولو لپاره څه کړي دي، مونږ به د جهنم له اور څخه ښکلی نجات مومو، د صحابه وو تاریخ ته که ځیر شو، نو د جنت زیرې به پرې شوې وو ،خو بیا به هم د آخرت غم د دوی سترګې وچېدو ته نه پرېښودې، تل به یې د اللهﷻ له ډاره ژړل، تاسې د آخرت د غمونو په وجه د سلفو په طاعت او عباداتو کې پابندی، اخلاص او تقوا ته وګورئ، وجه همدا وه چې دوی به یوه لحظه د آخرت له غمه ځانونه نه بېغمه کول.

## دویم د ګناه غم دی:

تل باید همدې ته غمجن شو، چې اې ربه پخواني ګناهونه به مې ښکلی شي، هغه به راته معاف کړې او که نه، موجوده وخت کې په ګناهونو کې له ښکېلتیا څخه نجات راکړه او د آخرت په سخته ورځ مو مه شرمنده کوه.

د تېرو ګناهونو غم او پرېشانی به تا د حال او راتلونکو ګناهونو څخه وژغوري ان شاء الله، نو تاسره باید تل همدا غم وي، چې د تېرو کړو ګناهونو په اړه به مونږ سره اللهﷻ څه معامله کوي، همداسې د آینده ګناهونو څخه په غم، تشویش او په وېره کې به اوسېږې، چې یا الله زمونږ څخه د ایمان توفیق وانخلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**یا الله اې رب العالمینه !** موږ ته دا جرأت را نکړې چې آینده کې هم داسې ګناه وکړو چې ته زمونږ څخه خفه شې، دا غم هم تل په ذهن کې باید درسره پروت وي چې د دې ګناهونو له امله ستا کړې عملونه برباد نشي، تل همدا غم او خفګان موجود وي چې اې الله هسې نه دومره سختۍ، تکالیف او ستونزې مو تېرې کړې،ډیر دردونه او غمونه مې وزغمل خو داسې ونه شي چې زما د ګناهونو له کبله زما ټول عملونه برباد شي.

اې الله که له ما څخه ریا، فخر، سمعت، خود نمایي او یا ذاتي تشهیر شوی وي نو زه به خبر هم نه یم او اعمال به مې برباد شوي وي، داسې حال کې به زه هلاک شم، همدا د تېرو او راتلونکو ګناهونو غم دی چې ما او تا به له ریا او نورو بربادونکو اعمالو، عادتونو او ګناهونو څخه د الله په فضل لرې ساتي، تل به مو د الله یاد په زړه کې وي او د هغه له ستاینې به نه غافله کیږو.

## دریم د خاتمې غم دی:

شپه او ورځ په همدې سوچ، فکر او غم کې باید اوسو چې زمونږ خاتمه به څنګه شي، زموږ خاتمه به په ایمان سره وي او که نه هسې نه له دې هجرتونو، جهادونو، سختیو، تکلیفونو او کړاؤنو وروسته هم کله چې مرو زموږ خاتمه الله مه کړه خرابه وي، ایمان راسره نه

(c) ketabton.com: The Digital Library


وي، ځکه اعتبار ټول خاتمې ته دی، که تا په تېر کې هر څومره نیک اعمال کړي وي ،خو د مرګ په وخت کې دې خاتمه په ایمان سره نه وي نو د تېرو اعمالو څخه دې فایده نه تر لاسه کېږي، او تاسې به دا هم ډېر لیدلي وي چې ډېرى خلکو د جهاد په لارو کې سخت کړاوونه وګالل خو په آخر کې ګمراه شول او بې ایمانه له جهانه لاړل، ډېرو خلکو د کفر او طاغوت سره مبارزه پیل کړه خو آخر کې یې بېرته همدې کفري نړۍ او د بین الملل طاغوت ته محتاج، په یو نه یو ډول د هغوى پلانونه تطبیقوي او د هغوى ګټې پالي، زړونه د اللهﷻ لاس کې دي اوړي را اوړي نو تل باید مونږ سره د خپلې خاتمې غم او فکر وي.

## څلورم د قبولیت غم:

تل باید په دې غم کې پراته اوسېږو چې اې الله رب العزته! دغه عمل چې زه کوم، دغه کارونو کې چه زه مصروفه یم، یا مې په تېر وخت کې کوم عملونه چې کړي ،هغه به قبول شوي وي او که نه، یا په اوسني وخت کې مونږ د جهاد په اړوندو اعمالو یا انفرادي اعمالو او عباداتو بوخت یو، نو دا غم باید راسره تل مل اوسیږي چې زمونږ دا اعمال به اللهﷻ قبول کړي که نه، زمونږ دا عملونه څنګه دي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبولیت په شرائطو برابر دي که نه، نیتونه مو څنګه دي، اعمال مو خاص د الله رب العالمین لپاره دي که د نورو اهدافو لپاره؟

نو دا غم اړین دی دا غم که مونږ سره و نو زمونږ هڅه به بیا دا وي چې د اعمالو د قبولیت په شرائطو فکر او غور وکړو، له اعمالو کولو څخه وړاندې نیت خالص کړو، خپل عملونه د همدې غم له داره خاص الله ﷻ ته ځانګړي کړو او د ریا او سمعت په پلیتېو یې ګنده نه کړو.

## ورونو!

که چېرته دغه څلور غمه مونږ سره تل اوسېږي،دا ددې باعث کیږي چې موږ به په عملونو کې ریا نه کوو، ددې څلور واړو غمونو درلودلو فایده او ثمره همدا ده چې په تا کې به اخلاص پیدا کیږي، که چېرته تاسره د خپل آخرت، د خپلې خاتمې، ګناهونو څخه ډار او یا د خپلو اعمالو دقبولیت غم موجود وي نو ته به بیا داسې په اخلاص ،صداقت، محبت او دقت ټول اعمال ترسره کړې چې هغه به بیا ډېر پاک او خالص وي، دا څلور غمونه به ستا عملونه سوچه او چاندي وساتي.

ځکه ته بیا پوهېږې چې د همدې اعمالو په وجه به الله ﷻ تاته له دې ټولو غمونو څخه نجات درکوي که اعمال دې له ریا څخه پاک وو،خاص د الله ﷻ لپاره وو، او د دې ډار په ملتیا دې کړي وو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


اې الله ! ته يې زما د آخرت د ښه والي سبب وګرځوه، ته پرې ما د جهنم له اوره وساته، نو ان شاء الله اعمال به دې الله ﷻ قبلوي ، له مستقبل ګناهونو دې هم ساتي او خاتمه به دې هم په ايمان سره په نصيب شي نو ورونو دا غمونه بايد هېر نه کړئ، په ځانګړي ډول د جهاد په باب کې تل بايد دا ستاسې د سترګو په وړاندې پراته وي.

**ورونو!** تل بايد دا فکر وکړو چې هر وخت د يو اجتماعي خير څخه محرومه شو او نور خلک په دې خير کې شريک ول، په دې وخت کې بايد مونږ غمجن او پرېشانه شو، ځکه دا د منافقينو صفت دی چې د اجتماعي خير څخه که بې برخې هم شي، نو کومه پروا يې نه وي، بيا هم خوشحالي کوي او همداسي بې باکه او بې غمه ګرځي ، يعنې که ستا له لاسه نظام ته يو خير رسيده او زمينه درته مساعده ده چې يو خير دين او نظام ته ورسوې،خو ته هسې خوشې بېکاره ګرځېدې، خپله انرژي او استعداد دې په کار نه اچوې، لټي،تنبلي او سستي کوې، بې موجبه او بې دليله د دې خير نه محرومه شوې او نور خلک په کې شريک شول، نو دا ستا لپاره د ډېر تاوان او غم خبره ده.

منافقين به د رسول الله ﷺ سره جهاد ته له تګ څخه ځان پټ ساتلو او د جهاد صف نه به محرومه کېدل خو بيا هم دوی غم نه کولو او خوشحاله به ګرځېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


قال تعالى: ﴿فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلاَفَ رَسُولِ اللّهِ وَكَرِهُواْ أَن يُجَاهِدُواْ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَقَالُواْ لاَ تَنفِرُواْ فِي الْحَرِّ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا لَّوْ كَانُوا يَفْقَهُونَ﴾ [التوبة81]

**ژباړه : کومو خلکو ته چې د ببرته پاتې کېدو رخصت ورکړ شوی و، هغوی د الله له پیغمبر سره د ملگرتیا په نه کولو او په کور کې پر کېناستلو خوشحاله شول، او دا يې خوښه نه شوه چې د الله په لاره کې په سر او مال سره جهاد وکړي، هغوی خلکو ته وويل:په دې سخته گرمۍ کې(جهاد)ته مه وځۍ،دوی ته ووايه چې د دوزخ اور له دې څخه زيات گرم دی،کاش! دوی په دې پوهېدلی.**

د مؤمنانو صفت دا دی چې هر وخت د خير له کوم کار څخه محروم او هغه کې استعمال نشي بيا غمجن او خفه کيږي، غزوه تبوک کې درې صحابه له غزوې څخه شاته پاتې کيږي، دومره خفه وي چې ځمکه سره د دومره پراخۍ دوی ته ځای نه ورکوي ،د غم او خفگان له وجهې دښتو ته وځي.

قال تعالى: ﴿وَعَلَى الثَّلاَثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُواْ حَتَّى إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنفُسُهُمْ وَظَنُّواْ أَن لاَّ مَلْجَأَ مِنَ اللّهِ إِلاَّ إِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُواْ إِنَّ اللّهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ﴾[- 118/ التوبة]

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ژباړه : او هغه درېيو تنو ته يې هم بخښنه وکړه چې معامله يې ځنډول شوې وه. کله چې ځمکه له خپلې ټولې پراختيا سره سره پر هغوی تنګه شوه؛ او د هغوی خپل ځانونه هم پر هغو پيټې شول، او هغوی دا وګڼله چې له الله څخه د ژغورل کېدو لپاره د پناه کوم بل ځای په خپله د الله د رحمت له لمنې څخه پرته نشته نو الله په خپلې مهربانۍ سره د هغو لورې ته رجوع وکړه، تر څو چې دوی د الله لورې ته راوګرځي. په باوري ډول هغه ښه بخښوونکی او رحم کوونکی دی.**

افسوس د هغه خلکو په حال چې نن سبا د هجرت او جهاد ، د دين د خدمت او د اسلامي نظام د تطبيق څخه محرومه دي اما بيا هم عبرت او پند نه اخلي، خپل دنياوي کارونو کې مست مصروف دي او دين ته د خدمت لپاره يې شاه کړې ده.

## اې مؤمنه او قدرمنده وروره!

د اسلامي نظام د تطبيق لپاره چې تا کار ونکړ، بيا نو ستا د شتون څه فايده؟

چې ته د اسلامي نظام د تطبيق لپاره کار نه کوې او نه درسره په دې اړه کوم فکر او غم شته، نو ته بيا ځانته څنګه يو دردمند او په اسلام مين مسلمان وايې، اسلام خو فقط د دې لپاره نه دی چې په کتابونو

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې دې ولیکل شي او یا دې په مدارسو کې تدریس شي، نه بلکې اسلام خو د حاکمیت دین دی، په ټوله نړۍ د ټولو امورو لپاره د تطبیق قانون لري او د دې د حاکمیت لپاره په هر ډګر کې مبارزه په کار ده.

دا خو د غرب له لوري یو خپور شوی او رایج شوی ذهنیت او فکر دی چې اسلام په اوس وخت کې د تطبیق وړ کوم نظام نه دی او مسلمانانو ته یې همدا ذهنیت ورکړی چې ستاسې یو ایدیالوژیک نظام دی، بس په مدارسو کې د تدریس لپاره جوړ دی، فقط تدریسوئ یې، درته آزادي ده، نور نظامونه په غرب کې تدریسیږي، په اسلامي مملکتونو کې تاسې اسلامي نظام تدریسوئ، په مساجدو کې اعلانونه هم ورته کوئ، خو د تطبیق میدان ته به نه رادانګئ!

نو دا خو یوازې د مدارسو، مجلو او کتابونو نظام نه دی، دا خو د حکومتولۍ او سیاست نظام دی، دا خو د ژوند ټولو اړخونو ته پراخه قوانین لري، د تطبیق لپاره یې کار په کار دی، په ټولو باندې فرض عین ده، چې د تطبیق لپاره یې راپورته شي، د اصلي نظام څخه دفاع وکړي، تطبیق یې کړي او ځان وربandې ټوټه، ټوټه کړي.

ډېر خلک شته چې له دې خیر څخه محرومه شوي دي او خپل وخت عبث تېروي او د اسلامي نظام قیام ورته خوشې خبرې ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ورونو!** الله ﷻ رسول الله ﷺ ته امر کړی چې تاسې کفارو او منافقینو سره جګړه وکړئ په وړه او غټه خبره کې، یوه کې هم د دوی پیروي مه کوئ او دوی سره جهاد وکړئ.

قال تعالی: ﴿فَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَجَاهِدْهُم بِهِ جِهَادًا كَبِيرًا﴾ [التوبة 52]

**ژباړه : نو اې پیغمبره! د کافرانو خبره هېڅکله مه منه، دا قرآن درسره واخله د هغوی سره ستر هر اړخیز جهاد وکړه .**

ځینې علماء د دې آیات په تفسیر کې لیکي چې ته دوی سره جنګ وکړه په قرآن باندې او ځینې وایي چې ته دوی سره جګړه وکړه په توره باندې، یعني په توره او اسلحه دوی سره وجنګېږه په دواړو صورتونو کې ترې مونږ دا استدلال کولای شو چې مونږ دښمن سره په ټولو برخو کې باید وجنګېږو او په ټولو برخو کې چې ورسره جنګ کوو زمونږ د جنګ د جواز سرچینه قرآن دی که هغه دعوتي جنګ دی، که اعلامي مبارزه ده، که نظامي جګړه ده او یا اقتصادي هلې ځلې دي، په هره برخه کې چې دوی سره مونږ خپله جګړه کوو نو له قرآن څخه ورته دلیل وړاندې کوو، د سیرت څخه ورته دلایل لرو او دوی سره جهاد کبیر کوو، په هر میدان کې ورسره جنګ مخ ته وړو که د تورې میدان وو او که بل هر میدان وي، د قرآن د نظام په مقابل کې چې هر نظام مخ ته راځي، مقابله کوي، ځان په حق

(c) ketabton.com: The Digital Library


معرفي کوي او غواړي چې د الله رب العالمین له لوري رالېږل شوی نظام مونږ ته ضعیف معرفي کړي، نو همداسې خلکو سره مونږ په هر ډګر کې خپله جګړه جاري ساتو بنصرالله تعالی.

دا سریزه مو د دې موضوع د اهمیت له کبله وړاندې کړه چې تاسې ته یوه انګېزه درکړو چې دا درسونه تعقیب کړئ، په دې اړه فکر وکړئ دا خپله یو جهاد دی، بلکې دا یو جهاد کبیر دی چې مونږ دوی سره مبارزه کوو په قرآن باندې، او که کله د تورې خبره راځي په توره هم ورسره جنګېږو، همدې ته الله رب العالمین جهاد کبیر ویلی، دا قوي جګړه ده، نو په همدې اساس دا قوي جګړه همداسې ستر زحمتونه غواړي او باید چې استقامت وکړو او د دوی د هرې جګړې په وړاندې کلک ودرېږو او د اجر په نیت ورسره وجنګېږو، الله ﷻ چې په دې آیات کې د جهاد کبیر امر کوي په سر کې څه وايي:

﴿فَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ﴾.

**ژباړه : اې پیغمبره! د کافرانو خبره هېڅکله مه منه ...**

یعنې د کافرانو شاته منډې مه وهه، مطلب دا چې هغوی هر څه ووايي هغه مه منه، چې بس ته په هر څه کې د هغوی د اغېزې لاندې يې،نقشه درته هغوی جوړه کړي،پیسې درته هغوی راولېږي، نور د هر څه کنټرول دې د کافرو لاس کې وي، نه داسې نده په کار، بلکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله را اوچت شه،په خپلو مټو ورسره مبارزه وکړه، شريعت شته، نور مصادر موجود دي،د هر څه په اړه نقشه، هدايت، اوامر او طرحې شته، احاديث چې وحې خفي ده هر څه پکې شتون لري،له نورو کيسو تېر شه،په هر صورت کې په خپل قوت وجنګېږه او هر چېرته په نظامي ميدان کې د هر ډول حالاتو سره مخ شې نو دښمن ته تسليمي مه ورکوه بلکې ورسره تر آخره وجنګېږه.

**ورونو!** زموږ دين يو کامل دين دی، مکمل ورداخلېدل په کار دي، لکه اللهﷻ فرمايي:﴿ **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ ادْخُلُواْ فِي السِّلْمِ كَآفَّةً وَلاَ تَتَّبِعُواْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ** ﴾[ **208 - البقرة**]

**ژباړه: اې مؤمنانو! تاسې په هر اړخيز ډول په اسلام کې ننوځئ او د شيطان پيروي مه کوئ چې هغه ستاسې ښکاره دښمن دی.**

دا آيت بايد د خپلو سترګو په وړاندې کېږدو،په هره برخه کې مسلمانان دعوت او سيکولرانو سره مبارزه وکړو، خپله هم پوره په اسلام کې داخل شو او نور خلک هم د پوره اسلام داخلېدو ته راوبلو، کله چې په اسلام کې پوره داخل شو، نو بيا مونږ ته د اسلام د تطبيق په ټولو اړخونو کې عملي ځايونه معلومېږي او نورو ته پرې هم ښه قناعت ورکولای شو.

**ورونو!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هغه موضوع ده چې په دې معاصر وخت کې نه پرې چا پوره او مدلل ليکل کړي او نه هم موجوده حالاتو کې د اسلام د سياسي نظام په تطبيقي اړخ کوم مؤثر بحث شته، په دې اړه چې څه تاسې مطالعه کړئ نو زياتو کې به **د اسلام سياسي نظام** داسې مغلق او پيچيده معرفي شوی وي چې نه يې بيا د چا تحقيق او مطالعې ته زړه کيږي او نه هم ورسره نوره دلچسپي پيدا کوي، فکر کوي دا خو د زړو قرنونو زړې او پېچلې کيسې دي، داسې نه ده دا ډېر خوږ، ساده او عام فهمه نظام دی، زمونږ د ژوند ټولو امورو ته کامل او شامل قوانين لري، همدې نظام سره الله ﷻ محبت او د همدې نظام د قيام امر کوي، په دې لار کې رسول الله ﷺ او ملګرو يې سختی ګاللي، د دې نظام د عملي تطبيق خواږه چې چا کتلي نو د ژوند نور خوندونه بيا مزه نه ورکوي، تاسې وګورئ کله چې په عراق او شام کې د اسلام همدا سياسي نظام د اسلامي خلافت مجاهدينو قائم کړ، نو خلکو څومره د پراخيو او خوشحاليو ډک ژوند درلود، ورځ تر بلې د دې نظام په سيوري کې د شته خلکو د ژوند د هرې برخې سطحه لوړيده او نورو خلکو چې لېده نو دې ته يې زړه کېده چې د همدې سپېڅلي نظام سيوري ته پناه واخلي او دا د سيکولرانو په مخ هم کلک ګذار و چې ويل به يې د اسلام سياسي نظام اوس د تطبيق وړ نه دی، عملاً

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسلامي دولت مجاهدينو ټولې نړۍ ته وښوده چې څنګه **د اسلام سياسي نظام** سل په سله د تطبيق وړ دی، نو په همدې خاطر وايو چې د اسلام سياسي نظام موضوع عامول او عام فهمه کول غواړي، په دې مسئله درسونه، بيانونه او نور دعوتي پروګرامونه کول ډېر پکار دي تر څو چې د سيکولرانو دا طلسم مات شي.

الله رب العالمين فرمايي: **﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولاً أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ﴾ [سورة النحل 36].**

**ژباړه: او موږ په هر امت کې يو پيغمبر لېږلې چې هغه ورته ويل تاسې د الله بندګي وکړئ، او د طاغوت له بندګۍ ځان وژغورئ.**

الله رب العالمين د ټولو انبياوو بعثت او د رالېږلو يو هدف ذکر کوي، هغه دا چې د الله رب العالمين عبادت او د طاغوت څخه اجتناب وشي او د طاغوت څخه خلک د بېزارۍ اعلان وکړي او د هغه څخه ځان او نور مسلمانان هم لرې وساتي.

**ورونو!**

نن سبا دښمن چې ډېر کار او هڅه کوي ترڅو ځينې خلک په يو ډول نه يو ډول د يو طاغوت په عبادت بوخت کړي نو همدغه د سياسي نظام برخه ده، چې دښمن د همدې لارې غواړي ځان هدف ته ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د افسوس خبره خو لا دا  ده  چې نن سبا ډېر نظامونه مسلمانانو ته د طاغوت په حيث جوړ شوي دي، او خلکو ترې اطاعت، عبادت او پيروي شروع کړې ده، څه پکې پوهيږي چې دا طاغوت دی، مستقيم او مباشر ورته خدمت کوي او څه خلک د ناپوهۍ او د جهل له امله د اسلام په نوم د هغه طاغوت په عبادت بوخت دي کوم چې کفريات او د طاغوت ارکان پدې نظام کې د کفارو له طرفه مخفي شوي دي او ډېری خلک پرې د پوهېدو هڅه هم نه کوي.

د انبياؤو د راتګ يو هدف همدغه دی چې خلکوته طاغوت روښانه او تشريح کړي او د طاغوت د عبادت څخه خلک د رب العالمين عبادت ته راوګرځوي، يعني په نړۍ کې چې دغه کوم طاغوتي نظامونه دي، بايد د دوی د مقابلې لپاره راولاړ شو او نور خلک هم د دې مقابلې لپاره راوبلو او همدا راز د الله رب العالمين قانون او نظام ته هم د خلکو لار ښوونه وکړو، مخکې چې علماؤو د طاغوت کومه تشريح کړې ده، اکثره تشريح يې په نظام باندې کړې، چې الله رب العالمين انبياء راليږلي د دې لپاره چې د طاغوت نظام حاکم وو، هغه نظام سره مقابله او مبارزه وکړي او د الله رب العالمين نظام جاري او تطبيق کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوس د طاغوت ډؤلونه زيات دي لکه ځيني علماء د طاغوت پنځه ډؤله ښايي او ځيني علماء د طاغوت نور زيات ډؤلونه ذکر کوي.

خو په هر صورت علماؤو چې څومره ډؤلونه د طواغيتو او د طاغوت ذکر کړي، د هغوی ټولو په رأس کې شيطان راځي او بيا شيطان چې اکثريت مسلمانان دوکه کړي او د طاغوت په بندګۍ کې يې تړلي دي نو د طاغوتي نظام په چوکاټ کې يې دا کار کړی دی.

ځکه که د نظام په رأس کې که کوم کس وي هغه هم طاغوت دی، د نظام لپاره چې څوک خلک دعوتوي هغه هم د طاغوت عساکر دي او خپله نظام چې په خلکو باندې غواړي تطبيق کړي، دا هم د جاهليت يوه ډؤل او طاغوتي نظام دی، نو بناءً د هر طرف څخه چې د شيطان په فعاليتونو راتاو شې، خبره په نظام راځرخي، که نظام اصلاح وي د شيطان فعاليتونه هم محدود کېدلای شي ان شاءالله.

ځکه د سلفو نه نقل دي چې چا هم خپل نفس د خير کار کې مصروف نکړ نو شيطان يې د باطل په خدمت کې مصروفوي او که څوک د الله د دين عسکر (مجاهد) ونه ګرځي نو شيطان يې بيا د طاغوت عسکر جوړوي الا ماشاءالله که يو نيم کس ته الله متعال نجات ورکړي خو تاسو عملاً يو ځل وګورئ چې نن سبا چا د اسلامي نظام قيام لپاره کار ندی کړی، نو يو نوع باندې د طاغوت په خدمت کې بوخت دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library


اعتراض به د اسلامي نظام په يو مجاهد باندې کوي خو خپله به بيا په همدا غټ سر د کفارو معاش خور او د طاغوتي نظام يو ذليله عسکر او فرد به وي.

## ورونو!

د مجاهدينو دا مسؤليت دی، دا يې داعيه ده، د دې لپاره مونږ او تاسې جګړه شروع کړې ده، چې د طاغوت سره مبارزه وکړو، طاغوت ړنګ او د الله رب العالمين نظام په ټوله نړۍ حاکم وګرځوو چې دا مبارزه همدا د سياسي نظام د حاکميت لپاره ده.

سياسي نظام درته دښمن (**طاغوت**) جوړوي او په مسلمانانو باندې تطبيقوي او تحميلوي چې د دې ښخه پيروي او اطاعت وکړې، اما دې طاغوت سره به مونږ په هرميدان کې ان شاءالله مبارزه کوو که د تورې مبارزه وي په توره يې کوو، ځان ورباندې ټوټه ټوټه کوو، که د علم، دعوت، اعلام، اقتصاد، داخلي او بهرني سياست خلاصه په هر ډګر کې دوی سره مبارزې ته تيار يو باذن الله.

اول قدم کې مکمل طاغوت پېژنو، او په دې ځان پوهوو، تحقيق او مطالعه کوو يې او بيا نور هم ورباندې پوهوو، ترڅو اکثرو ته دا معلومات وشي چې دغه.. دغه.. طرفونو کې طاغوت کار کړی دی، د اسلام په نوم يې مسلمانانو ته دغسې دامونه او جالونه ايښي دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


خلکو ته بايد قناعت ورکړو چې دغه طاغوت دی، دغه د طاغوت لارې دي او دغه نظام طاغوتي دې، د دې په مقابله کې دغسې بهترين نظام لرو، بهترين بهترين سياستمداران لرو، بهترين سياست لرو نو لازمه ده چې مجاهدين سياسي نظام باندې ځان پوه کړي.

ځکه دا زمونږ اصلي او آخري مرام او داعيه ده، چې طاغوت سره مبارزه کوو، او دغه مبارزه د اسلام په سياسي نظام باندې حاصلېږي، دښمن غواړي چې دغه خپل طاغوتي سياسي نظام درباندې د اسلام د سياسي نظام په نوم حاکم وګرځوي که چېرته د دښمن همدغه طاغوتي نظام ومنل شي نو نوره بيا جګړه خپله معنا له لاسه ورکوي، بيا نو ټول لوري او طرفونه يو ډول ګرځي، ټول سره يو ملت شي او په خپلو کې يې نور د جګړې ضرورت نه پيدا کيږي، لکه د اوسنيو تش په نوم د اسلام دعوه دارانو په څېر، د دوی کشرانو هم هماغه طاغوتي نظام چې کفارو سره برائت نلري او د کفري نړۍ يو جز او عضوه ځان حسابوي د اسلامي نظام په حيث او نوم قبول کړ نو جګړه ختمه شوه، تر پرونه يې چې څوک دښمنان ګڼل نن ورسره دوستي او راشه درشه کوي، اوس يې همغه دښمنان، دښمنان نه دي او نه يې دښمنان ګڼي، اوس ورسره موالات کوي، هغوی ورسره اوس د جګړې په ځای مرستې کوي، که زه او ته هم الله مکړه همدغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


طاغوتي نظام قبول کړو نو کفار بیا مخالفت نه کوي بلکې بیا به موږ ته هم ډالرې رالیږي، ځکه چې هغه طاغوتي نظام یې تا ومانه بس نور نو د جګړې علت او معنا ختمه شوه، بیا له دې څخه موږ او تاسې دا استدلال کوو چې دښمن تر هغه پورې تا سره جګړه کوي چې خپل دغه طاغوتي سیاسي نظام دربانديې حاکم وګرځوي، ولو چې په هر نوم وي که اسلامي روستاړی او مختاړی ولري که یې ونلري، خو چې داخل کې د کفارو درکول شوي اصول او خبرې ومنل شي، د کفارو جوړ شوي طاغوتي قوانینو ته دې د بین الملل په نوم احترام وکړ او د هغه شمولیت لپاره دې ورته خواری او زاری وکړه، نو چې کله یې دربانديې حاکم کړ، بس نور درسره جګړه ختموي ،ورورې، دوستي، انډیوالي، همکاري، مرستې، تفاهمونه، ډیالوګونه، مجلسونه او مشورې... درسره په یو چینل او ګروپ کې جاري ساتي او اخطارونه، بندیزونه، تورلېستونه او تهدیدونه ټول له یوه مخه ختموي او د انډیوالۍ سیستم درسره شروع کوي.

تر هغه چې تا ورسره مبارزه کوله او دغه سیاسي نظام دی منحیث د یو حاکم نظام نه مانه، دښمن به دربانديې د بمونو مور هم استعمالوي، دښمن به دربانديې اتوم هم استعمالوي ډوَل ډوَل بندیزونه به هم دربانديې لګوي ، فشارونه هم دربانديې واردوي، ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library


په ضد به ډول ـ ډول فعاليتونه ترسره کوي ترڅو دې د خپل طاغوتي نظام منلو ته اړ کړي.

د همداسې طاغوتي نظام منلو او ورسره جوړجاړي لپاره رسول الله ﷺ ته ډېر وړانديزونه وشول چې حد اقل که زموږ سياسي نظام نه حاکموې، نو بد رد ورته مه وايه، خو رسول الله ﷺ دا هم ورسره نه مني، بلکه ورته وايي چې ستاسې نظام باطل او زموږ نظام په حقه دی، ځکه رسول الله ﷺ پوهيږي چې له بعثت څخه همدغه زما هدف دی چې د دوی طاغوتي نظامونه بايد ړنګ کړم، دې سره مبارزه وکړم، نو که چېرې زه تنازل او نرمي وکړم، مشرکينو سره راشه، درشه معاملات او خنداګانې شروع کړم، نو زما د هغه رسالت مفهوم له منځه ځي.

## بناءً ورونو!

د دې بحث څخه زموږ هدف همدغه دی چې رب العالمين موږ او تاسې په دې باندې مکلف ګرځولي يو چې د دغسې طاغوتي نظامونو جرړې وباسو، بيخ کندي يې وکړو او داسې طاغوتي نظامونه چې په يوه ټولنه کې د يو سياسي نظام په حيث حاکم دي او يا يې د حاکمېدو هڅې کيږي، خلکو ته يې تشريح کړو، په بېلا بېلو برخو يې ورته رڼا

(c) ketabton.com: The Digital Library


واچوو، خلک په دې پوره پوهه کړو چې دا طاغوتي نظامونه دي، د طاغوتي نظامونو دا... او دا... نښې دي، په دې... او دې... دلائلو دا طاغوتي نظامونه دي او د دغه طاغوتي نظام سره مبارزه الله رب العالمین په مونږ باندې فرض کړې ده، بدیل یې هم ورته لرو، داسې نه ده چې یوازې دا طاغوتي نظام د حاکمیت وړ دی، نه بلکې دا طاغوتي نظامونه له پراخه هر اړخیزو مفاسدو او نیمګړتیاو ډک دي، مونږ د حاکمیت لپاره د اسلام سیاسي نظام لرو چې ټولو برخو ته کامل او شامل نظام دی، نو خلکو ته د اسلام د سیاسي نظام په اړه د هر اړخیزو معلوماتو په ورکولو مونږ مکلف یو، باید په ټولو خواو یې ورته وغږیږو، د تطبیق او عملي کېدلو خبرې هم ورته وکړو، د اسلام په جامه کې دښمنانو چې د اسلام په سپېڅلي سیاسي نظام کومې خاورې او دوړې غورځولې وي هغه باید ورڅخه لرې او د هغې اصلي څهره مسلمانانو ته روښانه کړو او د رسول الله ﷺ په مبارک لاس د جوړ شوي اسلامي نظام اصیل فهم ته په بشپړ اخلاص او صداقت سره دعوت وکړو، ټولو خلکو ته یې ورسوو او په دې ټولو موضوعاتو مسلمانانو ته لله الحمد مجاهدین قناعت هم ورکولای شي.

زه او ته هم ذهناً په دې مسئله مطمئن یو چې یقیني زمونږ او ستاسې مبارزه په حقه ده، او یوه ورځ به الله رب العالمین مونږ او

(c) ketabton.com: The Digital Library


تاسې ته فتحې راکوي، دا طاغوتي نظامونه به ړنګيږي او الله رب العالمین به په درسته نړۍ اسلامي نظام قائموي باذن الله.

## ورونو!

اسلام داسې یو دین دی چې له نورو ټولو نظامونو یې سیاسي نظام ډېر جامع، کامل او شامل دی او الله رب العالمین دې سیاسي نظام ته ډېر لوړ اهمیت ورکړی دی، په دې دین کې سیاسي نظام شته دی چې هم د عمل او تطبیق وړ دی او هم خپلې ځانګړنې، پراخه ښېګنې او ښه صفات لري، ځانته اهداف او مقاصد لري، هم یې د دې اهدافو ترلاسه کولو طرز او طریقه په ډېر روښانه شکل بیان او واضحه کړې او هم یې په نورو ټولو خوا وو پوره رڼا اچولې ده، داسې یو نظام دی چې تاریخ کې بار بار عملي تطبیق شوی هم دی، کلونه، کلونه یې په نړۍ باندې حاکمیت کړی دی، داسې نه ده چې د نورو نظامونو په څېر یوازې یې اهداف او مقاصد بیان کړي خو بیا د همدې اهدافو او مقاصدو لاس ته کولو طرز او شېوه یې په معیاري شکل سره چې د ټول عالم په کچه وي نه ده بیان کړی او نه به یې تر قیامته بیان کړای شي.

عام مسلمانان او بیا په ځانګړې ډول مجاهدین باید د اسلام د سیاسي نظام له ټولو اړخونو څخه پوره پوهه ولري او د اسلام د سیاسي نظام

(c) ketabton.com: The Digital Library


ټول اړخونه باید پوره وپېژني، هم یې په اهدافو او مقاصدو ځان پوهه کړي، هم یې د تطبیق او عملي کېدو په مراحلو معلومات ولري، ځکه چې په تېر کې د اسلام د سیاسي نظام د راتللو او حاکمېدو په نامه ډېرو خلکو سوء استفاده کړې، په دې برخه کې په ډېرو ارزښتونو لوبې شوي، د خلکو په قربانیو، اوښکو او آرمانونو سوداګري شوې ده، ډېر تنظیمونه، ډلې او ټپلې هم خپله په دې برخه کې خطا شوي او هم یې نور خلک خطا کړي، دوی په احسنه طریقه د اسلام د سیاسي نظام د اهدافو او مقاصدو د ترلاسه کولو وړتیا هم نه درلوده ، فقط په تیوري شکل یې د اسلام د سیاسي نظام ځینې اهداف بیانول خو د تطبیق په برخه کې یې نه خپله کومه پوهه او علمیت درلود او نه یې هم په دې اړه تحقیق کاوه، ځکه یې نو یو قدم د اسلام د سیوري لاندې اخیست او لس قدمه به د دیموکراسۍ او طاغوت په لاره تلل او د طاغوت په بندګۍ به ورننوتل.

حقیقي اسلامي نظام ځانته مفاهیم او ځانته معناګانې لري، نو دا زمونږ او ستاسې تر مخ چې کوم باطل پرست تنظیمونه دي او ځانونه هم اسلام ته منسوبوي،ناړې د اسلام وهي خو نور د طاغوت له بندګۍ ځانونه نه شي ویستلای، دوی په خوله او کتابونو کې د اسلامي نظام خبرې کوي خو عمل یې بیا د هماغه ګنده قومیت،

(c) ketabton.com: The Digital Library


وطنيت او د بين الملل د سيوري لاندې پنځوس سلنه اسلامي نظام قايمولو لپاره دی، نو تاسې به ان شاء الله د دې کتاب په مطالعې سره د دغه راز طاغوتي تنظيمونو په کمزورۍ، په دې برخه کې له کفارو څخه د دوی په مجبوريتونو، د دوی په کړو منهجونو او کفارو سره د دوی د دوستۍ په لاملونو او نورو ډېرو حقيقتونو او واقعيتونو پوهه شئ ان شاء الله.

## په اسلام کې د سياسي نظام اهميت

اسلامي نظام تل د جاهليت په نوي او زاړه افکارو او نظرياتو **لکه:**سيکولاريزم، صهيونيزم، هندويزيم، لبراليزم، نشنليزم، کمونيزم ،سوسياليزم،کاپيټاليزم،صليبيت،يهوديت،قاديانيت،رافضيت،صوفيت او د وخت په بدعاتو او خرافاتو سخت ګوزارونه کړي، دا يې چلېنج کړي او امت يې له د درانه خوبه راويښ کړی دی.

کله چې موږ د خپل سلفو تېر تاريخ ته نظر اچوو، وينو چې زموږ سلفو په تېرو کلونو کې له سختيو او کړاؤنو ډکه لار وهلې ده او د وخت په تېريدو سره دغه غم لړلې لاره نور هم پېچلې او غم لړلې کيږي، د کلونو راهيسې د امت يوه ستونزه نه وي حل شوې، چې هره ورځ بيا يو بلې ستونزې سره مخ کيږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


سلګونه کلونه کیږي چې اسلامي خاوره د نړیوالو زبرځواکونو د سیالۍ په ډګر آوښتې او د دې سیالۍ زیان یوازې مسلمانانو ته رسیږي، په دغه څو سوه کلنه غمیزه کې اسلامي امت خپله مادي او معنوي پانګه له لاسه ورکړه او نظام یې په مادي او معنوي کنډواله واوښت، خو په تاسف سره نن هم د ویجاړۍ دغه بهیر لا تر ناڅرګند وخت روان دی او اکثره نه پوهیږي دغه ناورين به کله پای ته رسیږي.

نو زموږ دنده څه ده او څه باید وکړو ترڅو خپل اسلامي نظام د پیړیو له دې روان بحرانه وباسو؟

دا هغه پوښتنه ده چې ټول هڅه کوي ځواب یې پیدا کړي ، خو دغې پوښتنې ته لا تر اوسه اکثره خلکو سم ځواب نه دی موندلی.

او دا چې ولې داسې یو ځواب چې ټول امت ته د منلو وړ وي نه دی موندل شوی علتونه یې ډېر دي، خو یو علت دا هم دی چې موږ د سیاست اړوند اړینه علمي پوهه نه لرو او نه شو کولای د پېښو بهیر سم ارزیابي کړو، نو له همدې امله یو شمیر تش په نوم ملایان او سیاستمداران د ستونزمنو پېښو په تړاو ناسم ، ناسنجول شوي او د غرب د فکر نه سرچینه اخیستونکې څرګندونې کوي.

چې دې کار په پرله پسې ډول امت په کړکېچ کې ډوب کړ، دا یو پیچلی او ډېر ستونزمن حالت دی، دا حالت له مسلمانانو څخه د زیاتې پوهې، ځیرکتیا او مسؤلیت غوښتنه کوي، دا موضوع باید سمه

(c) ketabton.com: The Digital Library


وشاربل شي ترڅو مسلمانانو ته يو روښانه مسير په آسانۍ سره ښکاره او معلوم شي.

موږ چې کله چاته ووايو مطالعه وکړه ترڅو فهم او پوهه مو لوړه شي، نو د ډېرو فکر ديني مطالعې طرف ته لاړ شي، همداسې عامو خلکو ته که ووايې چې تعليم او يا مطالعه وکړه بيا د هغوی ذهن نيغ عصري علومو ته روان شي، خو مونږ د دې عصر مسلمانو ځوانانو ته او خصوصاً مجاهدينو ته وايو چې تاسې د ديني او نورې مطالعې تر څنګ د سياسي نظامونو په اړه مطالعه وکړئ، سياسي علم هم حاصل کړئ، خصوصاً شرعي سياست مطالعه کړئ او د اسلامي سياست باندې ځان خبر کړئ، ترڅو بصيرت مو لوړ شي، همدا رنګه د اسلام د سياسي نظام د جوړښت او د تطبيق په اړه يې بشپړ معلومات ترلاسه کړئ، په دې اړه مطالعه او تحقيق وکړئ که مو په دې اړه چاسره کله کوم بحث راشي چې ښه پوره استدلال ورسره وکړای شئ.

په دې برخه کې مو خپل علم زيات کړئ چې په آينده کې له دې لارې اسلامي امت ته خدمت وکړئ، د اسلام د سياسي نظام په ټولو اړخونو مو چې کله پوهه او علم زيات شو نو بيا د نورو پوهول او يا نورو مقابلو لوريو سره بحث په ښه توګه کولای شئ.

**ورونو!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله رب العالمین د خپل دین د ترقۍ او پرمختګ لپاره په هره زمانه کې داسې قومونه پیدا کړي چې د دې دین څخه یې دفاع کړې، نو څکه الله ﷻ فرمايي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَن يَرۡتَدَّ مِنكُمۡ عَن دِينِهِۦ فَسَوۡفَ يَأۡتِي ٱللَّهُ بِقَوۡمٖ يُحِبُّهُمۡ وَيُحِبُّونَهُۥٓ أَذِلَّةٍ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ يُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوۡمَةَ لَآئِمٖۚ ذَٰلِكَ فَضۡلُ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴾ [سُورَةُ المَائدة : 54]

**ژباړه: اې مؤمنانو! که ستاسې څخه څوک له خپل دین څخه واوړي (نو وا دي وړي) الله به نور ډېر داسې خلک پیدا کړي چې الله ته ګران وي او الله هغوی ته ګران وي، چې له مؤمنانو سره به نرمي کوي او پر کافرانو سختي، چې د الله په لار کې به جهاد وکړي او د هېڅ ملامتوونکي له پړې اچولو څخه ونه وېرېږي، دا د الله فضل دی، چا ته یې چې خوښه شي ورپه برخه کوي یې، الله د پراخه وسایلو څښتن او پر هر څه پوهیږي.**

که چېرته یوه ډله د دین څخه مرتده شي، اللهﷻ به بل قوم پیدا کړي، همېشه ډېرى داسې ډلې د اسلام او د جهاد په نوم راپورته شوي، خو د خپلو کړو منهجونو له کبله نومورې ډلې او تنظیمونه بیا مرتد او د اسلام څخه وتلي، نو اللهﷻ بل داسې یو قوم راپیدا کوي چې د الله

(c) ketabton.com: The Digital Library


ﷻ په لاره کې جهاد کوي او د چا له ملامتیا څخه نه وېرېږي، اللهﷻ سره محبت کوي او اللهﷻ دوی سره محبت کوي، د اللهﷻ د دښمنانو سره له سختۍ څخه کار اخلي او د مؤمنانو سره ډېر نرم وي.

**وروڼو!** تاسې مطمئنه اوسئ، اللهﷻ به د خپل دین د نصرت لپاره نا آشنا قومونه را پیدا کوي، دا به داسې قومونه وي چې دغه صفات به ټول پکې موجود وي او داسې قومونه به اللهﷻ په خپل فضل او کرم سره زموږ او ستاسې مرستې ته راولاړوي.

نو نن سبا د صبر او استقامت ورځې دي، اللهﷻ به داسې خلک هرومرو پیدا کوي، خو چې د داسې قومونو د رهبرۍ کولو لپاره باید مجاهدینو سر له اوسه یوه انګېزه موجوده وي چې له قومونو او خلکو څخه په راتلونکي کې د اللهﷻ په لاره کې په سالمه توګه ګټه پورته شي، ترڅو د اللهﷻ د دین د نصرت سبب وګرځي.

نو د همدې لپاره په **سیاسي نظام** بحث شروع کوو، ځکه مجاهدین باید خپله انګېزه قوي کړي او دا صلاحیتونه ځان کې پیدا کړي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


هم اسلامي نظام مطرح، هم تطبيق او هم ترېنه هر ډګر کې ساتنه او دفاع وکړای شي.

**ورونو!** تاسې د اسلام د سياسي نظام اهميت له دې ښه معلومولای شئ چې الله تعالی فرمايي: ﴿وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِ...﴾

**ژباړه : له دې کافرانو سره تر هغې پورې وجنګېږئ چې فتنه پاتې نشي او ټول دين د الله لپاره شي.**

دلته الله رب العالمين مجاهدينو ته په دوه برخو کې د دوی مسؤليت او وظيفه په ډاګه او تشريح کړې ده.

- **چې هغه يو د قتال برخه ده:** ﴿وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ...﴾
- **او بله يې هم د نظام برخه ده:**﴿وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِ﴾ .

مجاهدينو ته چې الله ﷻ د قتال امر کړی په همدې هدف يې کړی چې د شرک او کفر فتنې له منځه لاړې شي، کله چې فتنې ختمې شي نو بيا د شريعت تطبيق د يو نظام په چوکاټ کې شونی وي او د ټولو نظامونو که هغه اجتماعي او دعوتي نظام دی که اقتصادي او عسکري دی، نو د دې ټولو رهبري او کنټرول بيا د يو سياسي نظام له لورې کيږي، دې ټولو ته سياسي نظام اهداف تعيينوي او د دوی څارنه او کنټرول ټول د يو سياسي نظام په لمنه کې کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د اکثره مسلمانانو په ذهن کې د سياسي نظام په اړه داسې تصور پروت دی، چې اصلاً د دوی ورسره ډېره نه لګيږي، که د سياسي نظام نوم ورته واخلې نو تربنه يې کرکه کيږي، د سياست په نامه د مسلمانانو مصالح او ارزښتونه پايمال شول، **د اسلام د سياسي نظام** په نوم چې کوم طاغوتي او ديموکراتيک نظامونه واکمن کړای شوي، نو دوی نه يوازې دا چې د اسلام هغه شکل او تصوير يې خلکو ته غلط ورمعرفي کړ، بلکې ډېری خلک اوس فکر کوي چې اسلام د تطبيق لپاره کوم نظام نه لري او د اسلام په نوم راپورته شويو سياستمدارانو يا په بله اصطلاح تش په نوم جهادي قائدينو د اسلام په تخريب کې له هر چا ستر رول ولوباوه، علت يې دادی چې نه دغه مشران او نه يې هم تنظيمونه د اسلام د سياسي نظام په تُول پوره ول، نو په کار ده چې زمونږ مجاهدين نهايي هڅه وکړي چې د اسلام سياسي نظام په تمامه مانا وپېژني.

کومه تګلاره چې الله رب العالمين د قتال لپاره تعيين کړې ده، نو په عمومي توګه يې دوه عمده اهداف ټاکلي چې هغه يو د فتنې ختمول او بل د نظام تطبيقول دي.

هر کله چې مجاهدين په عمومي جنګونو کې شکست خوري، نو په اصل کې دوی په سياست کې شکست خوړلی وي، کومه تګلاره يې

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې د اسلام سياسي نظام په نوم په نظر کې نيولې دغه د ماحول او د محيط سره مناسب نه وي، ځکه شکست رامنځته کيږي، نو که چېرته غواړئ چې په نظامي ډګر کې پرمختګ وکړئ باید د سیاسي نظام د تطبیق لپاره چې کومه طرحه وړاندې کوئ نو دا دوه اصله پام کې وساتئ.

- **اول قدم کې باید ټول په ټوله شرعي اصل ولري.**
- **او دویم قدم کې د ماحول او محیط، قوت او قدرت شرایطو ته په کتلو طرحه وي.**

یعنې چې کله هم تاسې د جګړې په ډګر کې د شکست سره مخ شوئ، نو په دې کې پره ستا همغه لومړنیو اقداماتو ته ورګرځي چې تا له جګړې وړاندې ایښې وي، یعنې هغه اقدامات د حالاتو سره مناسب نه و چې تا له جګړې وړاندې په لومړیو کې اخستي، ځکه یې نو په هغه اساس دوه دري کاله وروسته مجاهدین له شکست سره مخ کیږي.

نو تاسې باید دې خبرې ته متوجه اوسئ چې په هره برخه کې اقدام کوئ ستاسې لومړني اقدامات، یعنې له پیل وړاندې چې کوم ګامونه اخلئ په هغې کې به ډېر له دقت او ځیرکتیا څخه کار اخلئ، په هره برخه کې چې تاسې فعالیت کوئ که هغه دعوتي، نظامي، اقتصادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا نوري برخې وي، چې یو کار شروع کوئ نو لومړني کارونه او قدمونه مو باید ښه ارزولي او ټولې خواوې مو سنجولې وي، که داسې نه وي او د هر کار شروع ډېره سطحي وکړئ، پرته له دې چې په لومړنیو اقداماتو یې هر اړخیز غور او دقت وکړئ او کار پیل کړئ نو په دې پوهه شئ چې ستاسې پای پرته له شکست څخه بل څه نه ده. ځکه په نړۍ او په ټولنه کې درې ډوله انسانان دي.

❖ **لومړی طبقه:** هغه خلک دي چې د کار د پیلېدو ډېر شوق ورسره وي،خو نور د کار په نتایجو،جریان او ثمرې د لاس ته راوړلو په اړه یې نه کوم فکر کوي او نه یې هم په کیسه کې وي فقط همدې ته وارخطا او شله وي چې بس زر یو کار پیل کړي.

❖ **دوهمه طبقه:** هغه خلک دي چې کار پیلوي، ترختمه یې پورې رسوي، خو نور یې بیا د نتیجې په کیسه کې نه وي، چې پدې کار باندې څه نتیجه مرتب کیږي، داسې کسان یا د امیر د فشار له کبله یا د نورو لاملونو له امله کار پیلوي او پای ته یې هم رسوي، خو چې کار کله پای ته ورسیږي نو بیا یې د ثمرې ترلاسه کولو کیسه کې نه وي.

❖ **درېمه طبقه:** هغه خلک دي چې کار پیلوي، په ډېر ښه طریقه یې پای ته رسوي او ختموي یې او د دې ټولو سره سره د خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارونو ثمرې او لاسته راوړنو ته ډېر متوجه وي او په دې هرڅه ښه پوهیږي چې دا کارونه مې پیل کړي نو د دې عمده هدف همدا دی چې خه نتیجه یې ترلاسه کړم، ځکه یې نو د نتیجې لاس ته راوړلو په برخه کې ډېر حریص وي.

◆ **لومړی طبقه خلک هغه وي:** چې د کار په پیل کې عجله کوي، خو بیا چې کله د کار په منځ کې ورباندې کومه سختي راشي نو کار په نیمه کې پرېږدي او همداسې یې خوشې کوي ځکه چې ده سره د کار د نتیجې او ثمرې د لاسته راوړلو غم له لومړي سره نه وو.

نو له دې بحث څخه زموږ هدف دادی چې تاسې باید داسې با بصیرته سیاستمداره مجاهدین او مشران واوسئ چې د همدې قاعدې یا معلوماتو په بنا تاسې داسې خلک کټګوري او په ډاګه کړئ.

یو ډول وي چې درسره ګرمې، ګرمې رابطې کوي د یو کار د پیلېدو په اړه درته غوړې، غوړې وعدې درکوي او په همدې خبره شله وي چې دا فلانی کار شروع کوم،خو نور د کار د جریان او د کار د انجام په اړه ورسره نه کوم پلان وي او نه کومه خبره کوي، نو تاسې باید په دې پوهه شئ چې داسې خلک د کار په منځ کې تښتي او له لومړي سره باید تاسې داسې خلک وپېژنئ او داسې کسانو سره نه خپل وخت ضایع کړئ او نه پرې هم سرمایه ګذاري وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**مثال:** داسې کسان وي چې شپه او ورځ ګرمې، ګرمې رابطې کوي چې وسایل راکړه، اسلحه مې پکار ده، یا نور بخشونو کې غوارم خدمت وکړم، دا کار کوم هغه کار کوم، کله چې ورته زمینه مساعده کړې نو یا کوم کار نیم وکړي او یا هم که پرې چېرته لږ فشار یا سخته راشي، نو شروع کړی کار نیمایي کې پرېږدي او ځان بې رابطې او یو څنګ ته کړي، نو په داسې خلکو بیا هم وایو چې وخت مو مه ضایع کوئ.

♦ **دوهمه طبقه هغه خلک وي:** چې هم د کار پیل ته یــې لیواله وي، هم کار په ښه شکل تر پایه رسوي، مثال په یوه ساحه کې دښمن ته کمینونه هم ورکوي،ماینونه هم پرې راپاڅوي، نور نظامي سرګرمي هم لري، ساحه له دښمنه تر یوې اندازې پاکوي، خو دا ټول فعالیتونه چې د کوم هدف او کومې ثمرې ترلاسه کولو لپاره ترسره کوي، د هغې ثمرې او نتیجې ترلاسه کولو غم ورسره نه وي.

♦ **درېیمه طبقه هغه خلک وي:** چــې هــم د کار پیل ته یــې لیواله وي هم ورته د کار جریان مهم وي، ټولو اړخونو ته یې سوچ کوي، ټول مسائل یې ارزولي وي، د لومړۍ طبقې د خلکو په څېر د ځینو فشارونو له کبله کارونه نه پرېږدي او هم یې د کار په نتیجه له هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه زیات نظر وي، خپل ټول کارونه یې د همدې نتیجې لپاره شروع کړي وي.

لکه په یوه ساحه کې په دښمن کمینونه وهي، ماینونه او نور بریدونه پرې جاري ساتي د دې ټولو کارونو نتیجې ته ګوري چې دا ټول فعالیتونه یې چې پیل کړي هدف یې څه دی، نتیجه یې څه ده او څنګه ترلاسه کېدای شي، دا ورته ټول مهم وي، په دې پوهېږي چې د ده دغه راز فعالیتونو په نتیجه کې دښمن له ساحې ټولېږي، دوی ته د نورو دعوتي برنامو د پلي کولو، په سیمه کې مجاهدینو سره د نورو خلکو د یوځای کېدو او جلب وجذب د ادارې د فعالېدو او د خپلو نورو اړونده کارونو زمینه برابرېږي، نو د لومړیو دوه ډوله خلکو په څېر نه وي چې کومه خواري یې د کوم هدف لپار پیل کړي هغه هدف په ځای پرېږدي او ورته شا کړي، نه بلکې دریمه طبقه خلک یوه موقع هم له لاسه نه ورکوي او په درست شکل د خپلو کړیو خواریو ثمره ترلاسه کوي، خپل فعالیتونه غځوي او مخکې چې د دې کارونو لپاره ورته نورو مشرانو زمینه سازي کړې وه اوس ده خپله دا وړتیا پیدا کړې چې نورو سیمو کې نورو ملګرو ته دغسې زمینه سازي وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو زموږ ټول مجاهدین ورونه باید له دغه درېم ډول خلکو څخه وګرځي او په ډېر دقت سره د کار له پیله وړاندې په ټولو اړخونو پوره سوچ وکړي او د خپلو کارونو د نتایجو ترلاسه کولو ته هم د یو کار په نظر وګوري.

که چېرته ته غواړې چې ستا د کار نتیجه ډېره ښه په لاس درشي، نو دا خبره حتمي ده، چې ته باید پوره صبر او استقامت ولرې، په **بې صبرۍ او د ثبات او استقامت** په نه درلودو سره جنګ مخ ته نشي وړلای.

**ورونو!** د تبوک غزا د هجرت په نهم کال د رجب په میاشت کې وشوه، تقریباً اوه کاله د رسول الله ﷺ په جنګ کې تېر شوي وو، د بدر، خندق او نورو غزواتو څخه خبره راځي او د تبوک تر غزوې رسېږي، که څه هم په نورو غزواتو کې غنایم ترلاسه شوي ول خو بیا هم رسول الله ﷺ په سختو ستونزو کې دی،ټولو ملګرو ته اسلحه نشي رسولی او نور ستونزې یې هم خورا زیاتې دي، خو په همدغه وخت کې ورته د الله ﷻ له لورې سخت امر راځي، سخت اصول ورته وړاندې کوي او ورته وایي چې:**﴿ٱنفِرُواْ خِفَافًا وَثِقَالًا وَجَٰهِدُواْ بِأَمْوَٰلِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾**.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ژباړه: که سپک یاست که درانه (غزا) ته ووځئ او د الله په لاره کې په خپلو مالونو او خپلو سرونو سره جهاد وکړئ دا ستاسې لپاره ډېره خه ده که پوهیږئ.**

یعنې اې مجاهدینو! تاسې سره که څه شته او که څه نشته، تاسې باید دې جنګ کې ګډون وکړئ، سخت جنګ مخې ته راغلی او سخته مرحله ده، تاسې باید سخت صبر او استقامت ولرئ، حال دا چې تاسې سره اسباب هم ډېر لږ دي، خو باید جنګ ته مخکې شئ، که مالداره یې او که غریب یې تاسې باید له جګړې مخ ونه ګرځوئ، نو کله چې صحابه و د الله رب العالمین د دین نصرت او په دغه سخت وخت کې یې صبر او استقامت وکړ، سختي یې په ځان قبوله کړه او د رسول الله ﷺ ملا یې ورمضبوطه کړه، نو الله ﷻ په نتیجه کې ورته ښه کامیابي او پراخي ورکړه،هغه دا چې د رسول الله ﷺ په ژوند کې چې څومره پرمختګونه راغلي، نو اکثره یې د تبوک له غزا څخه وروسته راغلي دي، له همدې غزوې وروسته ګڼ قبایل په اسلام کې داخل شول او نور ډېرو یې وفدونه راولیږل. په رسول الله ﷺ او ملګرو یې تبوک کې ډېر سخت حالت راغی او د دې ستونزو سره یې همداسې سخت صبر او استقامت وکړ، نو ځکه الله رب العالمین ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library


نتيجه هم ورکړه چې د همدې نتايجو په پايله کې اسلام ډېر پرمختګ وکړ.

**لولمړۍ خبره دا ده:** هغه وخت مونږ او تاسې يو کار په ښه طريقه پيلولای او پای ته رسولی شو چې کله مونږ يو ښه پلان او ستراتيژي په لاس کې ولرو او د همدغې پلان او ستراتېژۍ مطابق مخکې لاړ شو، ځکه چې زما او ستا په پلان او ستراتېژۍ کې هر څه له مخکې څخه په ډاګه شوي دي، همدا رنګه ما او تا راتلونکی د نظر لاندې نېولی دی، هرڅه مو پکې په ډاګه کړي دي، کله چې موږ د همدې پلان مطابق کار پيل کوو نو بيا اللهﷻ موږ ته ښه نتيجه هم په لاس راکوي.

**دوهمه خبره داده:** چې هغه وخت کؤلای شو چې يو کار ښه پيل او په سمه طريقه يې پای ته ورسوو چې دې کار ترڅنګ د کار په ختم، لاس ته راوړنو او د نتيجې په اهميت باندې پوهه شو.

ځينې ورونه د کار د شروع په اهميت باندې پوهيږي، خو د کار د انجام او نتيجې په اهميت يې سرخلاص نه وي، تاسې بايد داسې سياستمداره مجاهدين واوسيږئ که خپل امير ته د خپل کار يوه نقشه مخ ته کوئ، نو په هغې کې مو د کار د پيل او جريان څخه واخله د

(c) ketabton.com: The Digital Library


کار د انجام او نتیجې په اهمیت مو هم باید رڼا اچولې وي او د کار د خلاصون اهمیت مو هم ورته تشریح کړی وي.

زمونږ ټول سوچ، غم او فکر باید د کار د ښه نتیجې لاس ته راوړو لپاره وي، کله چې مجاهدین د کار له شروع څخه وړاندې د کار او د هغه د پایلو په اهمیت او ارزښت پوهه وي نو د دې نتیجه او ښېګڼه داده چې مجاهدین بیا دا کار په ډېر شوق او لېوالتیا سره ترسره کوي او د ځینو فشارونو له کبله خپل کار نیمایي کې نه پرېږدي.

## مجاهده وروره!

د کار د نتیجې په اهمیت پوهیدل له دې کبله هم اړین دي چې ډېر کله مجاهدین عملیات کوي او ښه په کامیابۍ سرته ورسیږي خو مخکې له دې چې د دې عملیاتو نتیجه ترلاسه کړي، شکست سره مخ کیږي، علت همدا دی چې د کار د ختمیدو په اهمیت یې ځان نه وي پوه کړی، نو کله چې مجاهدین ورونه د یو کار لپاره پلان لیکي او ستراتیژي ورته برابروي باید د کار څخه وروسته د کار په پایلو یې هم نظر وي، که یو څوک پلان جوړؤنه کوي هغه نو په اصطلاح درې سترګې باید ولري، په یوه سترګه تېر حالات وګوري د همغه تجربو او حالاتو په رڼا کې پلان جوړؤنه وکړي، یوه سترګه یې موجوده حالاتو ته ځیر وي او په بله درېمه سترګه د کار آینده او نتیجه تر سترګو

(c) ketabton.com: The Digital Library


لاندې وساتي او په یوه وخت دا درې مختلف مراحل د خپل نظر په دائره کې راونغاړي، یعنې ته په درېمه سترګه د راتلونکي ټول اړخونه د نظر لاندې وساتې چې راتلونکي کې کومې ستونزې تاته راولاړېږي د دې ستونزو د حل په برخه کې ته باید څه وکړې او د کومو لارو چارو څخه کار واخلې چې ته د خپل کار نتیجه په درست شکل واخلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جګړې جهتونه

وروڼو! تاسو باید تل په دوه جبهو کې جګړه مخ ته یوسئ، که چېرته تاسو په جنګ او قتال کې مصروف یاستئ، نو دوه جبهې باید په نظر کې ولرئ، چې یوې جبهې ته بېروني یا ظاهري جبهه وايي او بلې ته یې دروني یا داخلي جبهه ویل کیږي، یا په عامه اصطلاح (داخلي جبهه) او (خارجي جبهه)، نو تل باید دا دواړه جبهې تاسو د خپل نظر لاندې وساتئ، په داخلي جبهه کې ځینې خلک دي، چې د دوست، همکار او د ملګري په جامه کې تاسې ته ځان معرفي کوي، لېکن ستاسې د نابودۍ لپاره کار کوي، تاسې ته دسیسې جوړوي، تاسې ته خنډونه ایجادوي، ستاسې رازونه دښمن ته ورکوي او د دوست په جامه کې د دښمن کار مخ ته وړي او تاسې نه پرېږدي چې اصلي هدف ته ورسېږئ، بناءً باید دغه داخلي جبهه په هر حال کې ستاسې د نظر لاندې وي او دې برخې ته تر هرڅه ډېر دقیق واوسئ او ټول تمرکز مو په همدې وي چې څنګه دا داخلي جبهه د دوست په نامه او جامه د پټ دښمن له ضررونو څخه خوندي وساتئ، تاسې باید دغه راز افراد په ډاګه او معلوم کړئ او وخت په وخت د دې اشخاصو تعقیب دوامداره وساتئ چې وروسته به د دغه راز خلکو نښې درپه ګوته کړو ان شاء الله.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بلې خواته خارجي جبهه ده چې په هغې کې ټول مجاهدين مصروفه دي، نو هر امير بايد دا سوچ او فکر ولري چې نن سبا زه په دوه جبهو کې مصروفه يم چې يوه زما خارجي او بله داخلي جبهه ده، خارجي جبهې سره به تاسې ښکاره جګړه کوئ يا د ترور له لارې يا د ماين له طريقه، يا به اخطار ورکوئ، يا به اسيران نيسئ او يا به انغماسي او استشهادي عمليات وربانديې کوئ، يا به يې په دعوت او اعلام کې مخاطب کوئ، دا زمونږ او ستاسې د جګړې يوه برخه ده، لېکن د داخلي جګړې په مقابل کې بايد مجاهدين مخفي (**پټه**) جګړه پرمخ يوسي، ځکه دغه خلک چې مونږ سره په داخلي جبهه کې جګړه کوي، نو د دوست او همکار په جامه کې زما او له تا څخه مصارف او نور امتيازات هم اخلي، يعنې د نظام په پيسو او امکاناتو ببرته زمونږ په مقابل کې مخفي جګړه هم مخ ته وړي.

هر وخت چې تاسې دغه داخلي جبهه د پامه وغورځوله، بيا ستاسې د نظام عمر ډېر لنډيږي،دا تجربو ثابته کړې چې داخلي دښمن نظام کې لکه د وياني (موريانه) په شکل خپل فعاليت ترسره کوي.

لکه څنګه چې وياني (موريانه) د لرګي په داخل کې خپل کار مخ ته وړي، د لرګي ظاهري بڼه جوړه ښکاري خو داخل کې د لرګي هغه مغز هسې بوس ګرځولی وي، که په اول وخت کې د وياني په کار او

(c) ketabton.com: The Digital Library


تخریب پوهه نشئ، نو د ټولې کوټې چت به مو راپریوزي، یانې د نظام تیر به مات وي، داخل کې به پکې هېڅ هم نه وي او همداسې به یو وه ورځ د ټول نظام چت راړنګ شي، نو په داخلي جبهه کې چې څوک زمونږ په مقابل کې جګړه کوي همدغه مثال یې دی، نظام د داخل نه داسې تخریبوي چې بېرته بیا د جوړېدلو امکان یې هم کېدای شي نه وي، ځکه که لرګی همداسې مات شي، نو کېدای شې بل ځای کې تربېنه استفاده وشي یا یوه ستن ورکول شي او یا هم بیرته میخ شي، خو که وینې یې ووهي نو هسې بوس ترې جوړوي چې له داسې لرګي څخه نوره ګټه اخستل به بیا ډېر سخته وي.

همدا مثال د داخلي دښمن هم دی چې زمونږ او ستاسې په منځ کې په ډېر مهارت او قوت سره داسې قوي او بېخ نړونکی کار کوي چې که د دې د تخریب له امله یو ځل نظام ولوېد او ونړېد، بیا نو بېرته پورته کېدل به یې ډېر ستونزمن کار وي.

هر کله چې مجاهدین د اسلام د سیاسي نظام په ټولو اړخونو په مکمل شکل ځان پوهه او سیاسي بصیرت ځان کې پیدا کړي، نو بیا کوښلای شي چې ډېر په آسانه داسې مضر اشخاص چې په داخلي جبهه کې د نظام په خلاف په جګړه بوخت دي وپېژني.

ورونو! که موږ او تاسې فکر وکړو نو نظام هم په همدې دوه برخو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړ دی چې یو یې داخلي برخه ده چې د موټر د ماشین سره به مشابهت ورکړو او یو یې خارجي برخه ده چې د موټر باډی او بهرنی هیکل به یې ونوموو.

که د یوه موټر باډی هر څومره هم خرابه وي، خو چې داخلي ماشین یې جوړ وي تا تر خپل هدف پورې رسوي، خو برعکس که چېرته د یو موټر باډی هر څومره هم نوې وي، خو چې ماشین یې زوړ او پُرزې یې خرابې وي، تر یو ځای پورې به دې یوسي خو په نیمه لار کې دې پرېږدي، نه دې منزل ته رسوي، نه درته بار وړي او نه دې پرې نوره ښېګڼه کیږي، بلکې همدا تاته به درپه شاه وي، همداسې مثال د نظام هم دی که زموږ او ستاسې داخلي جبهه منظمه او قوي وي، نو موږ به د نظام د موټر انجڼ ساتلی وي، خیر که له بهره د نظام باډی زړه او له کاره لوېدلې ښکاري خو داخل کې به ښه قوي او غښتلی وي، چې بهر باډی رغول یې بیا د اللهﷻ په فضل آسانه ده، خو که ظاهري باډی یې جوړه وي مثال موقتي فتحې وي، پیسې وي، هسې موقتي د څو ورځو تمکین وي، خو داخل د نظام ګډوډ او د مختلفو ستونزو ښکار وي، دښمن یې هرې برخې، هر شخص او هر راز او پلان ته د خپل داخلي زور په وسیله په آسانه لاس رسی ولري نو بیا به دا ظاهري باډی یې هم ډېره زر له منځه لاړه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دې په اهميت بايد پوه شئ، هغه دا چې هر مجاهد او امير د دوه جبهو په مقابل کې جګړه پرمخ بوځي او جنګ داسې نقشه کړي، چې په داخلي جبهه او خارجي جبهه يې ووېشي، ستاسو د اميرانو دا دنده وي چې داخلي جبهه د دوربين او ذره بين لاندې ونيسئ، بايد نظام له داخله داسې کلک وساتئ چې هېڅکله هېڅوک په دې ونه توانېږي چې د تخريب په موخه د نظام داخل ته لاس رسی ولري او نظام کمزوری کړي، بيا تاسې د اللهﷻ په فضل او مرسته زر خپل هدف ته رسېږئ.

## څنګه موږ په داخلي جبهه کې خپل دښمنان وپېژنو او تشخيص يې کړو؟

❖ **لومړۍ خبره:** دا ده چې بايد د خپلو افرادو نه همېشه دقيق معلومات ولرو، کوم ملګري مو چې په ادارو کې مصروفه کړي دي، روزانه د نظام راز ورځي او يا راز ترېنه اخلو بايد د دې ملګرو څخه دقيق شناخت او معلومات ولرو، دغه راز ملګري ښه بنيادي وپېژنو، د سابقې په اړه يې پوره معلومات ولرو او د داسې ملګرو په اړه بايد تازه تازه راپورونه ترلاسه کړو.

**ورونو!** دې برخه کې يوه قاعده ځان سره په ياد وساتئ چې کله هم په يو ملګري امتحان راغی، وروسته له امتحانه يې معلومات وکړئ چې آيا نوموړی ملګری په خپله عقيده او دريځ د پخوا په څېر

(c) ketabton.com: The Digital Library


همغسې کلک پاتې دی که نه یا په خپل پخواني فکر او منهج باندې ولاړ دی که نه؟

ځان ښه پوره مطمئن کړئ، بیا ترېنه د خدمت غوښتنه وکړئ او یو مسؤلیت او صلاحیت ورته وسپارئ.

❖ **دوهمه خبره:** داده چې څومره توان لرئ نو داسې ملګري له نږدې تعقیب کړئ، الله جل جلاله مونږ او تاسې ته عقل راکړی، که یو کس د ورځې اته ساعته د الله جل جلاله لپاره کار وکړي، ډېر کار کوي، تاسې باید پوه شئ چې یو کس په اته ساعته کې د دین لپاره څومره خدمت کولی شي او یا یو کس د دین لپاره په دوه ساعتونو کې څومره خدمت کوي نو د دې کس د یوې هفتې کار خپلې مخې ته کېږدئ که چېرته د یوې هفتې کار یې دلسو دقیقو د کار سره سمون نه خوري، نو ته پوهه شه چې په دې کس کې هرومرو څه ستونزه شته، دا چې د الله جل جلاله په لاره کې په داسې کمزورې روحیه او ماته ملا کار کوي او د کار د سستوالي نور لاملونه یې هم موجود نه وي نو مالومه ده چې د دغه راز خلکو ترشا کوم فساد شتون لري.

❖ **درېیمه خبره:** هغه داده چې هر چاته او هر مجاهد ته د هغې د وس مطابق کار وسپارئ او هدف ورته تعیین کړئ، نن نه پس امیره

(c) ketabton.com: The Digital Library


وروره خپل ځان او خپل ملګري پوره پوره مصروفه کړه، دا اوس د یو امیر کمال دی چې هم خپل ځان او هم خپل ملګري که هغه ډېر وي او که لږ وي چې په اړوند کارونو کې داسې مصروف کړي چې یو ترې هم سر اوچت نه کړي، ټول ستړي، ستړي وي، اونۍ او میاشتې خو لا څه کوې چې د ورځې په تېرېدو یې د کارونو د پرمختګونو اندازه تاته ولګېږي نو ته بیا پوهه شه چې هم دې ځان د اللهﷻ د نظام په خدمت کې خؤله کړی او هم دې ملګري بېکاره نه دي پرېښي او د اللهﷻ د دین د خدمت لپاره دې د دوی له وړتیاوو اعظمي ګټه اخیستې ده.

او دا اعظمي ګټه ترېنه کله پورته کولای شې؟

هغه وخت به موږ ملګري په درست شکل استعمال کړای شو کله چې موږ ورته د کار ترڅنګ د کار **هدف** د کار **اهمیت** او د کار **ثمره** هم ورپه ګوته کړو او دا هله کېږي چې مشران ورونه خپلو کشرانو مجاهدینو ته وخت په وخت ترغیب او تشویق ورکړي،د دوی مورالونه لوړ وساتي، په همتونو یې کار وکړي، دوی ته د ثبات او استقامت لارې چارې وښایي، دوی داسې وروزي چې که پرې د امیر څار او تعقیب هم نه وي، که ترېنه د کارونو په حواله د امیر غوښتنه هم نه وي خو دوی دومره روحیه اخیستې او دا احساس ورسره وي

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې شپه او ورځ په کار بوخت اوسي خو بيا هم د سترېيا احساس او غفلت ونه کړي، نو دا هر څه په دې کيږي چې مشران ملګري خپل کشران ورونه په معنوي بډايې شتمن کړي.

بيا به ستا له اړخه ملګرو ته د کار اړوند کومه غوښتنه هم نه ځي، خو ملګري به دې داسې روزلي وي چې هغوی به په خپل احساس داسې کار کوي چې تا به حيران کړي، وخت په وخت به تا او نور مشران د خپلو کارونو په راپورونو خوشحاله ساتي.

دې برخه کې علماء کرام ډېر مسؤل دي او دا ځکه د دوی مسؤليت دی چې دا د دوی مسلک دی، اوس يو ډاکتر به اته يا لس کاله په اړونده برخه کې زده کړې کړي وي خو که ورته د انجينرۍ کار وسپارې نو نه يې شي ترسره کولای،د يو تعمير نقشه نه شي جوړولای، همداسې يو انجنير به په خپله برخه کې ماسټري او دوکتورا کړې وي، خو که ورته يو ناروغ يوسې علاج يې نشي کولای ولې؟

بېسواده خو ندی سواد لري، اما دا کار يې د مسلک اړوند نه دی، يوه نيمه د سردردۍ دوايي به درکړي، خو که لوی امراض وي د انجنير نسخه نه يواځې چې ستا په ګټه نه تماميږي،بلکې بنيادي دې ختموي. نو هر څوک په خپل مسلک کې ښه کار کولای شي، بناءً د ټولنې اصلاح او دعوت د علماؤو مسلک دی، يو انجنير او يا ډاکتر به

(c) ketabton.com: The Digital Library


هم دا کار وکړای شي، دعوت برخه کې به کار وکړي، خو د ټولنې په نبض او علاج علماء کرام ډېر ښه پوهېږي، علماء د ټولنې ناروغۍ معلومولی شي او بیا د قرآن کریم او نبوي احادیثو څخه د هغې علاج ورته وړاندې کوي، نو همدا ده چې د علماؤو مسؤلیت په دې برخه کې له هر چا زیات دی. که تاریخ ته نظر وکړو هر وخت چې مسلمانان د کومو ستونزو سره مخ شوي نو علماؤو د هغې ستونزې څخه د وتلو په برخه کې عمده رول لوبولی دی.

❖ **څلورمه خبره:** په داخلي جبهه کې د تخریب کوونکو اشخاصو د پېژندنې په اړه دا ده چې هغه ملګري نوي راځي او له مختلفو لارو نظام کې راداخلېږي، نو د دې کسانو تېر حالت باید مطالعه او ځان ترېنه خبر کړئ، دا په دې مانا نه ده چې ګوندي موږ عمومي بدګماني لرو یا بدګماني خپروو، نه! بلکې د هر څه لپاره خپل اصول وي، ډېر داسې کسان راځي، چې یا د دښمن غړي وي او یا هم د نورو اهدافو لپاره د ځان مطرح کولو علاقمند وي، یا به مخکې نظام کې پاتې شوی وي خو څه وخت به له نظامه ناست وي خو بیا به د یو څو اهدافو په خاطر رامخته شي او تاته به خپل تېر کارونه مخې مخې ته کوي، چې ما دا کړي او زه داسې او هغسې کارونه کؤلای شم، او تا ته به ډؤل ډؤل ذهني نقشې مخ ته کوي، خو کله چې پخوانۍ سابقه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې وګورې نو سم کار به يې په خپله مشرۍ کې هم نه وي کړی، پرته له دې چې په صف کې يې اختلاف خپور کړی وي، په مشرانو يې کشران بدګمانه کړي وي، د مجاهدينو ترمنځ يې بزدلي او داسې نورې تخريبي کړنې ترسره کړې وي، نو دغه راز خلک هم بايد تشخيص شي، هېڅکله کوم مسؤليت ورته ونه سپارل شي، بلکې د اصلاح هڅه يې وشي او په انفرادي شکل استعمال شي.

❖ **پنځمه خبره:** داده مجاهده وروره چې ته بايد ډېر ځير او ځيرکه واوسې، ته د نظام په داخل کې تخريب کوونکي اشخاص له يوې ورې نقطې څخه معلوملای شې که هغه جواسيس وي او يا هم د دښمن د نورو اهدافو پالونکي مخربين وي.

تاسې تل متوجه اوسئ کله مو چې داسې اشخاص په نظر درغلل چې يا يې په مشرانو کشران بدګمانه کول، يا يې د منهج په اړه منفي خبرې کولې، چې ګوندې ډېره سختي کوي، يا يې دښمن سره د مذاکراتو او سولې په اړه کله کله نظر ورکاوه او يا يې هم ستاسې د فکرخلاف نورې څرګندونې کولې او هڅه يې دا وه چې مجاهدينو ته په شاتو کې زهر ورکړي، نو کله چې د داسې خلکو سره مخ شوئ او خبرې يې کولې، خبرو ته يې ښه دقيق او ځير واوسئ، دا منفي خبرې يې ټولې نوټ کړئ او همدا کس د څارنې لاندې ونيسئ، تاسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



به وګورئ چې له همداسې کسانو نور هېر څه ترلاسه کوئ، لله الحمد له همداسې وړو، وړو خبرو ډېر ستر جواسیس الله جل جلاله مجاهدینو ته په لاس ورکړي دي. دا خبره به لږه نوره هم واضحه کړو: مثال زموږ دریځ او منهج دا دی چې کفارو او مرتدینو سره سوله نه کوو،نه د دوی منځ ته ننوځو، نه د دوی په صف کې د نفوذي کارونو لپاره وظیفه اخلو او نه هم اړوند نور کارونه کوو، چې زموږ دا پالیسي ټولو خلکو ته واضحه ده او دښمن هم په دې ښه کې دی چې د سولې او مذاکراتو په پلمه مجاهدین تېر اوباسي،اوس یو کس دی چې همدا خبرې تکراروي چې یاره نن سبا خو ډېره سختي ده، له هر لورې فشارونه دي، مشران هسې سختي کوي، باید دښمن سره یې د جنګ په ځای د مذاکراتو لاره نیولې وای او یا به وایي چې یاره د دښمن منځ ته ننوتل ضرور دي، دا ننوتل نو ولې بند دي، پرېږده چې مجاهدین د دښمن په صف کې وظیفه واخلي او نفوذي کارونه وکړي، مشران نه پوهیږي هسې بېځایه سختي کوي.

نو داسې اشخاص خپل د امنیت ادارې ته وروپېژنئ، امنیت یې پلټنه کوي، کېدای شي ځینې داسې کسان وي چې هسې له ساده توبه دا خبرې کوي، ساده مخلص وي د بل چا د خبرو تر اغېز لاندې راغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library


وي، که هغوی څخه تحقیق وشي کېدای شي ددې خبرو اصلي سرچینه پیدا شي او یا به په شعوري توګه د یو دستور په بنا دا خبرې کوي.

## د اسلام د سیاسي نظام طرحه

هر وخت چې د نظام د مطرح کولو خبره راشي نو ستاسې ذهن باید دوه خبرو ته لاړ شي.

چې هغه یو **ساختار (جوړښت)** د نظام دی، مانا دا چې د نظام ډانچه او د جوړښت ډؤل یې باید څه قسم وي.

دوهم یې د **تطبیق او عملي کېدو** برخه ده، چې آیا دا نظام د تطبیق او عملي کېدو وړ دی، په څه طریقه، په کومو اصولو او تګلارو د عملي تطبیق امکان یې شته دی.

مجاهدین باید په دې دواړو برخو کې پوره علم ولري، هم د نظام د جوړښت په لحاظ او هم د نظام د تطبیق د بڼې په لحاظ یې هر اړخیزه پوهه او مطالعه ښه زیاته وي.

ډېر خلک اوس داسې دي، چې د یو نظام ساختار (جوړښت) مطرح کوي، خو د عملي کېدو او تطبیق په لارو چارو یې نه پوهېږي او نه هم په دې اړه کوم معلومات لري، تاسې د نظام د تطبیق په برخه کې هله ډېر پوهېدای شئ چې د جهاد په لاره کې سابقه او تجربه ولرئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډېر خلک ځان ته په نظام پوه خلک وايي، لېکن دغه خلکو په کتابونو کې د نظام د جوړښت په اړه مطالعه کړې او په تيوري شکل يې يو څه ياد کړي، خو په عملي شکل د نظام د تطبيق په اصولو او لارو چارو نه پوهيږي او په دې برخه کې بيا ناکام دي.

کفارو او د اسلام نورو دښمنانو د اسلام د سياسي نظام ساختار (جوړښت) په داسې شکل خلکو ته ورمعرفي کړی چې هغه په دې عصر کې د تطبيق وړ نه دی، يا يې په خپلو ديموکراتيکو نظامونو د اسلام نوم ايښی، چې د اسلام او سيکولريزم يوه ګډوله يې خلکو ته د اسلام په نوم وړاندې کړې ده، لکه د اوسنۍ ادارې په څېر چې له لسګونو نيمګړتياوو ډکه ده، د کفارو هڅه دا ده چې له يوه لوري د اسلام سياسي نظام دغسې تحريف کړي او همدا له نيمګړتياوو ډک نظام يې په خلکو د اسلام په نوم منلی چې نه په کې عدالت وي، نه په کې د مختلفو اقشارو د حقوقو تضمين وي او نه د اسلام د حقيقي نظام نورې ښېګڼې لري، نو د ناکامۍ په صورت کې خلکو ته بيا دا فهم ورکوي چې وګوره دا د اسلام سياسي نظام ؤ، د ټولنې په درد دوا نشو او ناکامه شو.

د کفارو هدف همدا دی چې د اسلام حقيقي سياسي نظام له خلکو ورک او بدنام کړي، همدا راز د اسلام د دښمنانو بله هڅه همدا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې دوی پوهيږي اوس د اسلام د حقیقي سیاسي نظام په اړه ډېری خلک پوهه نلري، نو دوی همدا نظام خلکو ته له دې موجوده عصر څخه ډېر نا آشنا، ناپېژنده او پېچلی معرفي کوي، ناقص يې ګڼي، ټولو خلکو ته يې دا فکر ورکړی چې دا نو د څو پېړيو پخوانی نظام دی او په دې ماډرن د ټېکنالوجۍ په دې دور کې دا نظام د تطبیق وړ نه دی، چې ډېرو خلکو ورسره په پټو سترګو دا خبره منلې او ډېری هغه کسان چې ځانونو ته مجاهدين هم وايي چې د اسلام د سیاسي نظام نوم ورته واخلې نو يو ډوّل تېښته ترې کوي، فکر کوي چې په دې نظام پوهېدل او پرې بحث کول زموږ کار نه دی، د اسلام د سیاسي نظام د اقامې لپاره به خپل سر او وينه ورکوي خو نه به پرې پوهېږي، چې همدا نه پوهېدنه د همدې باعث شوه چې په طالب کشرانو د هغومره سترياو وروسته امریکایانو شنه ديموکراسي د اسلام په نامه ومنله.

ډېری خلکو چې **د اسلام سیاسي نظام** د اقامې لپاره خوّله تويه کړې وه، خو متاسفانه اوس په دې خبره پوره وياړي او بار بار اعتراف کوي چې یاره اوس خو نو سل په سله اسلامي نظام نه تطبیق کيږي، اوس داسې دور دی چې بايد کفارو سره راشه درشه، موالات او معاملات ولرو، د وطنيت د کفري عقيدې په ډنډ کې بايد همداسې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډوب واوسو، اوس نو د مصلحت او حکمت وخت دی او دا د وخت ضرورت دی.

نو موږ ځکه وایو چې زموږ مجاهدین ورونه دا فکر له ځانه لرې کړي چې سیاسي نظام ډېر سخت او پېچلی نظام دی او په دې نظام پوهېدل د هر چا د وس کار نه دی، د تطبیق او د عملي کېدلو له اړخه هم ډېری ملګري دا تصور کوي چې د اسلام د سیاسي نظام مطرح کول او تطبیقول زموږ له وسه بهر ده.

## نه مجاهده وروره!

له نن څخه وروسته باید ته د اسلام د سیاسي نظام یو سیاسي کار پوهه واوسېږې، ته باید ډېر با بصیرته انسان واوسېږې، ته باید د اسلام د سیاسي نظام په اړه پوره پوهه ولرې او دا سپېڅلی نظام په داسې شکل مطرح او تشریح کړې، چې هم د تطبیق له اړخه او هم د جوړښت او ساختار له اړخه ټولو خلکو ته د منلو او قناعت وړ وګرځي او همدا زما او ستا مسؤلیت دی او ټولو کفارو سره مو په همدې برخه کې ستره مبارزه روانه ده.

تاسې پوهېږئ چې سیکولرانو اسلام فقط د فردي عباداتو په دایره او انحصار کې راګیر دین ګڼلی او په همدې شکل یې خلکو ته معرفي کړی، ډېری خلکو ته یې په دې قناعت ورکړی چې اسلام د همدې څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



عباداتو نوم دی، چې په فردي شکل باید ترسره شي، نور اسلام نه کوم نظام لري او نه د حکومتولۍ او د ټولنې د ستونزو د حل او د نړۍ د مدیریت او پرېږ د واکمنۍ کوم صلاحیت لري.

ځکه خو په پوره جرأت دا خبره کوي چې اسلام او سیاست سره جدا عناصر دي، د اسلام د سیاست سره کوم کار نشته، دا د فردي عباداتو دین دی، بس هر چا ته د فردي عبادت آزادي هر چېرته شته، نور اسلام کوم سیاسي نظام نه لري، مسلمانان دې خپل فردي عبادات کوي او د نظام په حیث دې دیموکراسي او سیکولریزم ومني چې په ټوله نړۍ رایج او حاکم دی.

دغه کم عقلانو د ځان په څېر ډېرو ته همدا فکر ورکړی او دوی یې په دې قانع کړي دي، خو لله الحمد د اسلامي دولت ویښ او بیداره مجاهدین نشي تېر ویستلی، موږ ورته وایو چې اسلام له سیاست څخه جلا کول خو داسې مانا لري لکه د اسلام لویه برخه چې له اسلام څخه جلا کوې، تاسې چې د ګوتو په شمېر په یوڅو فردي عباداتو کې اسلام رامنحصروئ نو د اسلام هغه احکام او عبادات چې د یو بې ساري او ستر نظام په سیوري کې مطرح کیږي هغې سره څه کوئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


دجهاد آياتونه، د هجرت احكام، همدا رنګه د قتال اړوند نصوص، د بيت المال موضوعات،د غنائمو، شهداؤ، امر بالمعروف، حدود، قصاص،قضاء او تحاكم، دوستۍ او دښمنۍ، عدالت، د مستضعفينو حقوق، د وينځو او غلامانو موضوعات او ګڼ نور مسائل مو ځنګه له يوه مخه محوه كړل؟

دغه ټول هغه مسائل دي، چې د اسلام د سياسي نظام په چوكاټ كې مطرح كيږي او د **اسلام د سياسي نظام** ځخه انكار له پورته يادو احكامو په شمول له ډېرو اصولو او مسائلو د انكار په مانا دی، دا ټول موضوعات چې قرآن را اخيستي نوځنګه موږ يې هم د سيكولرانو په خوله لكه د نورو تېر وتليو په ځېر هېر كړو؟

نه هېڅكله داسې نه ده، لله الحمد د اسلامي دولت مجاهدين بابصيرته او بيداره مجاهدين دي او ستاسې په هېڅ توطيه او پروپايګنډ به باذن الله خطا نشي.

په همدې اساس د اسلام د سياسي نظام **دوه عمده** برخې تر بحث لاندې نيسو. هم د اسلام د سياسي نظام د جوړښت په تړاو او هم يې د عملي تطبيق په برخه كې په ټولو قواعدو، اصولو او تګلارو بحث كوو او په دې دواړو برخو كې د رب العالمين په توفيق سره د اسلام دښمنانو ته دا چيلنج وركوو چې موږ د اسلام د سياسي نظام د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساختار او د عملي تطبيق داسې هيکل وړاندې کړلای شو چې ستاسو په لاسونو دا جوړ شوي وضعي کاغذي ديموکراتيک او سيکولر نظامونه يې ګرد ته هم نشي رسېدلای.

**مجاهدينو ورونو!** که چېرې د اسلام د سياسي نظام ساختار مطرح کيږي او يا د همدې نظام تطبيق او عملي کېدلو په برخه بحث کيږي، نو بايد په دواړو صورتونو کې موږ او تاسې څلور+څلور(جمله اته) محورونه په پام کې وساتو يا څلور، څلورو پوښتنو ته په دواړه بخشونو کې د شريعت په رڼا او دايره کې بايد ځوابونه ورکړای شو. چې لومړی به د اسلام د سياسي نظام په جوړښت باندې بحث وکړو.

## د اسلام د سياسي نظام ساختار(هيکل)

کله مو چې مخکې د اسلام د سياسي نظام د ساختار مطرح کيدلو نه دغه څلورو پوښتنو ته ځوابونه ورکړای شو او يا دا څلور محورونه په پام کې ولرو نو موږ به بيا په ډېر ښکلي او اعلی انداز د نظام د ترقۍ او اصلي هدفونو لاسته کولو لپاره سياسي ستراتيژي هم وليکلای شو او دغه ټول مسائل به په ډېر قناعت بخشه ډول مطرح کړای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ❖ اول محور او اصل هغه د کُلي اهدافو ټاکل دي:

مجاهدين چې کوم سياسي نظام مطرح کوي بايد د دې نظام د تأسيس او جوړولو لپاره دلايل ولري، په کوم دليل، په کوم فکر او انګېزه ته د اسلام سياسي نظام مطرح کوې؟

مانا دا چې ته کوم کُلي او جامع اهداف غواړې لاس ته راوړې او د دغه اهدافو د لاس ته راوړو لپاره ته د اسلام سياسي نظام مطرح کوې يا دغه سياسي نظام چې ته ليکې او غواړې بنياد يې کېږدې، د کومو مقاصدو لاسته کولو لپاره ته دا کار شروع کوې؟

د همدې پوښتنې جزئياتو ته بايد مخکې د نظام د مطرح کېدلو نه ځوابونه ولرو او دا ځوابونه بايد وليکو او خپله سره کرښه، اصل او اساس يې وګرځوو او هېڅ وخت بيا دې اصولو باندې چېرې معامله ونکړو همداسې نه يې هېر او نه ور ته شاه کړو. ځکه که چېرې دې اصولو ته مو شاه کړه نو بيا خو دومره ځواني اسلام سره وکړئ چې نوم يې خو مه بدوئ بس په خپل نظام مو بيا يو بل نوم کېږدئ.

## ❖ دوهم محور او اصل هغه د برترۍ اصل دی:

د برترۍ اصل بايد تاسو په اسلامي نظام کې تشريح کړئ، لکه څرنګه چې د يو اسلامي نظام د چتر لاندې مختلف اقشار ژوند کوي، ددې قشرونو يو پر بل د برترۍ معيار څه شئ دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځکه په دیموکراسۍ کې خو یو پر بل د برترۍ اصل نشته، کافر او مسلمان، هندو او رافضي، ښځه او نر،جاهل او عالم، متقي او فاجر، شیعه او سني...ټول د یو انسان په حیث ورته مطرح دي خو اسلامي نظام کې باید دا واضح او تفسیر شي. که چېرته موږ او تاسې څخه څوک پوښتنه وکړي چې ستاسې معیار څه دی؟ مختلفو قشرونو سره کوم ډول تعامل کوئ؟ یو ته پر بل څه ډول فضیلت ورکوئ؟ او یا ټولو اقشارو او افرادو ته په یو ډول حقوقو قائل یاست، د مشرک، د مرتد او مسلمان، د فاسق او متقي، د جاهل او عالم ددې ټولو په شمول د ټولو اقشارو ترمنځ په توپیر قائل یاست او که نه د امارت پاکستاني (!) په څېر ټولو ته په یوه سترګه ګورئ؟

باید مجاهدین ددې پوښتنې هر جزء او بند ته مدلل ځوابونه ولري.

## ❖ دریم محور او اصل هغه د اسلامي نظام د عناصرو مشخص کول او په پام کې نیول دي:

دنظام په تشکیل او ساختار کې ډېره مهمه او اساسي موضوع چې ده، هغه د اسلام د سیاسي نظام د عناصرو څخه عبارت ده.

عنصر مانا دا ده چې یوه ماده د څه شي څخه تشکیل شوې وي، یعنې د اسلام د سیاسي نظام تشکیل کونکي عناصر کوم دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اسلام د سياسي نظام عناصر څلور دي

- د قانون مرجع
- زعيم يا رهبر
- اسلامي قلمرو/اسلامي سرحدات
- رعيت

### 1. د قانون مرجع :

د اسلامي نظام لومړنی تشکيل کونکی عنصر هغه د قانون مرجع ده، تاسې بايد په دې پوه شئ چې د اسلامي نظام د قانون مرجع څه ده؟

که د نظام مرجع مالومه نه وي بيا هېڅکله هم دېته اسلامي نظام نشو ويلای ځکه دا تشکيلونکي عناصر دي.

که د دې اوسنۍ ادارې څخه پوښتنه وشي چې ستاسې د قوانينو مرجع څه شې ده ځکه نظام چې قانون ونه لري نو دېته خو نظام نه ويل کيږي.

د اسلام د سياسي نظام لومړی عنصر قانون دی او د قانون مرجع به قرآن او سنت وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځوک چې وايي د طالبانو نظام اسلامي نظام دی نو هغوی دې طالباني نظام د اسلامي نظام د لومړي عنصر سره پرتله کړي چې تر کومه حده د قرآن او سنّت سره برابر دی؟

او که نه د طالباني نظام د قانون مرجع او مصدر د امريکا تر ټولو په ستره استخباراتي هېډه کې ناست د سي آی اې (CIA) جنرالان او د هغوی په وړانديز وضع شوي قوانين (**د دوحې قراردادونه**) دي چې له امله يې دا دی دوی د اسلام دښمنۍ ته ملا تړلې ده چې په پايله کې يې د اسلام په نوم ديموکراسي حاکمه کړې، په همدې هدف ورته د ډالرو کڅوړې راروانې دي، ځکه يې نو د مؤحدينو سره دښمنۍ کولو ته متې رابډ وهلې دي، د قرآن او سنّت مدارس او د درسونو حلقات بندوي او مؤحدين د خپلو زنانه و او ماشومانو په ګډون په بې رحمۍ سره وژني.

**ورونړو!**

اسلام هغه نظام ته رسميت ورکوي چې د همدې نظام تشکيلوونکي عناصر(**له کومو چې دا نظام تشکيلېږي**) د قرآن او نبوي سنتو سره موافق وي، نو هله بيا اسلام اجازه او رسميت ورکوي، ياني چې دغه نظام منحيث د يوه سياسي نظام په ښه په ټولنه واکمن شي او که

(c) ketabton.com: The Digital Library


داسې نه وي نو له دې پرته ټول په ټوله نظامونه د جاهلیت او طاغوتي نظامونو کې داخلېږي، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي:

**﴿ أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ ۚ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ﴾ [سُورَةُ المَائدة: 50]**

**ژباړه: "که دوی د الله له قانون څخه مخ اړوي" نو آیا بیا د جاهلیت فیصله غواړي، په داسې حال کې کوم خلك چې پر الله باور لري د هغو په نزد له الله څخه بل غوره فیصله کوونکی هېڅ نشته.**

اسلام هغه سیاسي نظام ته مشروعیت ورکوي، چې ددغه نظام تشکیلوونکي (تشکیل دهنده) عناصر د قرآن او سنت سره برابر وي که چېرته د قرآن او سنت سره برابر نه وي نو قطعاً بیا دې نظام ته د اسلامي نظام نوم څوک نشي ورکؤلای.

د یو نظام شاته به یا د اسلام رسمیت وي او یا به د بین الملل، دواړه په یوه وخت کې یوه نظام ته رسمیت نشي ورکؤلای، طالبانو خو ډېر له پخوا څخه د حقیقي اسلام نه خپله بېزاري ښودلې وه، نو ځکه خو اوس د بین الملل کفري رسمیت ته په ډېره لیوالتیا منتظر دي او همدې ته غوږ په آواز دي چې کله به امریکا بین الملل ته ددوی د رسمیت پېژندلو امر کوي او دوی به په دغه کفري ملت کې خپله چوکۍ اشغال کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## 2. زعیم یا رهبر:

د اسلام د سیاسي نظام د تشکیل دوهم عنصر زعیم او رهبر دی.

د اسلام په سیاسي نظام کې هر څوک د امت زعیم او رهبر نشي ټاکل کیدای، بلکې د اسلامي امت عمومي رهبر او زعیم به قریشي النسل وي، د اسلام په سیاسي نظام کې قانون دا دی چې د دې نظام په رأس کې به قریشي وي یعنې رهبر به له قریشو څخه وي، داسې به نه وي لکه د طالبانو په څېر چې د خپل خواهش مطابق یې په خپل دستور العمل او لایحه کې د مشر او رهبر د ټاکلو لپاره کندهاریتوب او حنفیت شرط ګرځولی دی، دوی هم لکه د خوارجو په دې عقیده او فکر دي، چې که قریشي نه وي نو هم رهبر جوړېدای شي. لاحول ولا قوة الا بالله.

اوس که څوک راولاړېږي او خپل نظام ته د اسلامي نظام نوم ورکوي او رهبر یې قریشي نه وي نو د دې خلکو په تشو نارو بیا دا نظام اسلامي نشي کیدای،ځکه چې د اسلام د سیاسي نظام د تشکیل اساسي عنصر پکې شتون نلري، چې هغه د قریشي امیر رهبري او واکمني ده. صرف یوه استثنائي حالت چې امام متغلب خبره فقهاو ذکر کړې هغه یو اضطراري او استثنائي حالت دی خو د نظام اصل ساختار چې کله مطرح کیږي نو دلته به زعیم قریشي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځينې باطل او خواهش پرسته بيا د عمر بن عبدالعزيزرَحِمَهُ اللهُ خلافت باره کې وايي چې عمر بن عبدالعزيزرَحِمَهُ اللهُ نه امام متغلب وه او نه هم قريشي وه، څنګه بيا هم امير المؤمنين ياد شوی دی، د دې شبهې لنډ ځواب همدا دی چې امير المؤمنين عمر بن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللهُ يو قريشي نسبه خليفه و، هېڅوک د هغه د قريشيت څخه انکار نشي کولای مګر هغه سپين سترګي بې وقوفه او تش په نوم ملايان چې د طاغوت په دربار کې ډېر په لږه کونجاره ځلورويشت ساعته شخوند وهي.

**(أبوحفص عمر بن عبدالعزيز بن مروان بن الحکم بن أبي العاص بن عبد شمس بن عبدمناف ... الأموى القرشي)** دا د عمر بن العزيزرَحِمَهُ اللهُ نسب دی.

## 3. اسلامي قلمرو / اسلامي سرحدات:

د اسلام د سياسي نظام د تشکيل درېم عنصر د اسلامي نظام قلمرو او حدود دي.

په دې اړه بايد ځانګړی تعريف ولرو که يو څوک خپل نظام د اسلام د سياسي نظام په حيث معرفي کوي نو بايد هغوی د خپل نظام د جغرافيې او قلمرو يانې د اسلامي نظام د اراضي لپاره يو ځانګړی تعريف او حدود ولري، چې د دوی د نظام قلمرو کوم او تر کومه ځايه پورې دی، د دوی د نظام د واکمنۍ لاندې کومې ساحې دي او

(c) ketabton.com: The Digital Library


په کوم معیار دا سیمې د دوی په قلمرو کې شاملې دي، څومره د دوی مسؤلیت دی، که څوک دې پوښتنو ته ځواب ونلري نو د دوی نظام بیا اسلامي نظام نه دی بلکې یو ناقص او نیمګړی نظام دی.

څوک چې د اسلامي نظام ادعا کوي، باید د خپلې خاورې قلمرو هم وټاکي چې د دوی قلمرو تر کومه ځایه دی، ځکه چې اسلامي نظام خپل اصول، اساسات او عناصر لري، داسې نه ده چې د قطر خود ساخته نظام دې څوک د اسلامي نظام په حیث را معرفي کړي، په داسې حال کې چې د خاورې قلمرو او حدود هم ورته انګریزانو ټاکلي دي او د نورو کفرونو ترڅنګ یې د همدې جغرافیایي حدودو د عقیدې تر شاه د وطنیت په کفري عقیده هم ایمان راوړی وي.

اسلامي نظام کې د مسلمانانو قلمرو معلوم دی، چې تر هغه حده د اسلام ځمکه ده او ددې د آزادۍ لپاره زموږ خلفاوو او اسلافو ځانونه ټوټه، ټوټه کړي دي، نو زمونږ هم په لویو مقاصدو کې یو مقصد او بلکې زموږ د نظام یو اصل او محور به هم همدا وي چې د اسلامي خاورې قلمرو او حدود به تعریفوو او روښانه کوو، بیا به د دې د خپلواکۍ او ترلاسه کولو لپاره له تورې څخه کار اخلو، ان شاء الله.

د قطر په سالونونو کې د کفارو سره په یو مېز د ناستو تش په نوم مشرانو څخه باید دا پوښتنه وشي چې تاسې خو خپل نظام ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library


اسلامي نظام نوم ورکړی دی، د اسلامي خاورې قلمرو خو معلوم کړئ کنه، ځکه چې د دې له تعیین پرته او د دې خبرې د نه مراعاتولو له کبله خو یو نظام اسلامي نشي جوړېدای، بلکې دا یو وطني او قومي نظام وي، لکه ستاسې نظام چې دی .

د سیکولریزم او غربیانو ټوله مبارزه او جګړه د همدې لپاره ده، چې هغوی غواړي ترڅو اسلامي نظام په وطني او قومي نظام بدل کړي ، ټول کوښښ یې همدا دی چې اسلامي قلمرو د مسلمانانو له ذهنونو څخه بهر کړي او د وطنیت په عقیده ککړې پولې او کرښې ورته د نظام د اصل او اساس په حیث  وروپېژني.

**طالبه!**

تر څو چې خپل فکر بدل او تجدید یې نه کړې او د اسلامي خاورې د خپلواکۍ لپاره ناره اوچته نه کړې، دې قطري خود ساخته او وطني نظام ته چې ته هر څومره په خوله د اسلامي نظام نوم ورکړې بیا هم دا اسلامي کېدای نه شي، دا وطني نظام او اسلامي نظام په خپل منځ کې سره د ځمکې او آسمان په اندازه توپیر لري، دواړه په خپلو کې د اور او اوبو په څېر یوه د بل په ضد دي، چې هېڅ وخت هم دواړه سره یوځای جمع کېدای نشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی خو د بیت المقدس، اندلس، شرقي ترکستان، ماوراءالنهر، خراسان او جزیرة العرب په شمول د ټولې محکومې اسلامي خاورې او د همدې هېوادونو په محکومو مسلمانانو د اسرائیلو، چینایانو، غربیانو، روسانو او نورو کفارو په ظلمونو او وحشتونو هم د څو ورځو حاکمیت او واک لپاره سترګې پټې کړې دي او د دې منصب لپاره یې د نړۍ د محکومو مسلمانانو سره د مرستې پر ځای د مسلمانانو یرغمل کوونکو او اشغالګرو ته د دوستۍ لاسونه ورکړي دي، هغوی ته د امنیت په برخه کې ډاډ ورکوي، نو تش په شعارونو او لقبونو یو نظام اسلامي کېدای نشي، ترڅو چې د اسلام په اساساتو، ستنو او عناصرو ولاړ نه وي.

زمونږ د اسلامي قلمرو لومړی دېوال د اندلس څخه تر جنوبي افریقا پورې دی او دویم دېوال یې د جنوبي افریقا څخه تر اندونیشیا پورې دی، دریم دېوال یې بیا راغلی تر شرقي ترکستانه پورې **(دا په چین کې یو ولایت دی د سینکیانګ په نوم چې دلته وربانديې زمونږ اسلامي خلافت تېر شوی)** څلورم بیا اوږد دېوال غځیدلی دی په تاجکستان او ازبکستان او همدغسې آذربایجان ترکو پورې، چیچنیا او داغستان ته هم ورتاو شوی او پنځم دېوال یې د ترکو څخه بیا تر اندلس پورې ورغلی دی او منځني هېوادونه یې پاکستان، افغانستان او عربي ملکونه... دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا زمونږ اسلامي خاوره ده چې یو سرحد یې جنوبي فرانس، سپین(**هسپانیه**) یا اندلس دی او دوهم سرحد یې په انډونیشیا یا جنوبي افریقا کې اسټرلیا سره او دریم یې شرقي ترکستان کې چین، تاجکستان، ازبکستان، روسیه او داسي نورو سره، زمونږ دا سرحدونه د اصلي کافرو سره دي او نور چې کوم منځ کې هېوادونه دي دا هغه ملکونه دي چې مونږ وربانديې عملاً خلافت او خپل حکومت کړی دی، **دا د خلافت حصه وه، د دوی سره زمونږ شرعي حکم دا ترلی دی چې کله د مسلمانانو یو لوېشت ځمکه هم کفارو سره وي په هغه وخت کې جهاد په مونږ فرض عین دی، ځکه دا یو دفاعي جهاد دی، که په ظاهره شکل اقدامي جهاد ولی نه وي خو دا به زمونږ دفاعي جهاد وي، دا یو شرعي حکم دی، شرعي حکم هله تطبیق کولی شو چې تا ته خپل قلمرو معلوم وي، نو د قلمرو معلومول یو شرعي حکم شو؛ ځکه بیا تا ته دا پته نه لګیږي چې په ما تر کوم حد پورې جهاد فرض عین دی او تر کومه حده بیا فرض کفایي کیږي، اوس پکار ده مونږ خپل ملکونه له کافرو، مرتدینو او له کفري مذهبونو(سیکولریزم، رافضیت او الحاد) څخه آزاد کړو.**

ځوک مو په دی تېر ونه باسي چې جهاد دفاعي و او اوس خارجیان د افغانستان نه وتلي دي او جهاد دفاعي حالت نه وتلی دی، نه دفاعي

(c) ketabton.com: The Digital Library


او اقدامي جهاد يا په بل تعبير باندې فرض عين او فرض كفايي جهاد دا د اسلامي قلمرو اړوند تړلې موضوع ده نه د كفارو له لوري تعيين شويو د سايكس پيكو او ډيورنډ پولو او سرحد څخه.

د افغانستان په آزادۍ باندې جهاد نه فرض كفايي كيږي ترڅو ټوله اسلامي خاوره نه وي آزاده شوې.

يعنې جهاد نن هم فرض عين دی لكه څنكه چې پرون وه، تش د كابل په ارګ ورننوتل بايد ددې باعث نشي چې ټوله اسلامي خاوره دې كفارو ته وروبښو او سترګې ورباندې پټې كړو، څو ضمير پلورونكي كسان كه هر څومره بغارې ووهي خو لمر په دوه ګوتو نه پټيږي.

## 4. د اسلام د سياسي نظام څلورم عنصر رعيت دی.

هر يو نظام كې بايد رعيت تشريح، معلوم او تعريف شي، يعنې يو نظام چې د اسلامي نظام په حيث معرفي كيږي، نو اسلامي نظام په اول قدم كې خپل رعيت په ډاګه كوي، چې زما رعيت به څوک او چيرې وي؟

د اسلام په سياسي نظام كې ټول اسلامي امت د دغه نظام رعيت شمېرل كيږي او ټول امت په رعيت كې داخل دی يانې د اسلام د سياسي نظام رعيت **ټول عالم اسلام** دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


داسې نو نه کيږي چې تش د **(اسلامي)** په مختاړي او يا وروستاړي دې يو نظام اسلامي وبلل شي، ډېر کسان خپل حزب او نظام ته اسلامي نوم ورکوي، نو بيا خو بايد ټول عالم اسلام يې په رعيت کې راټول شي، خو د دوی اصول نامه او مشران يې ببېرته د خپلې ادعا تکذيب هم کوي او د يوه محدود قوم د رعيت ګڼلو لپاره مبارزه کوي او يو محدود قوم خپل رعيت ګڼي لکه يهودو به هم خپل نظام شرعي ګاڼه خو رعيت يې فقط يهود وو، همداسې طالبان هم خپل نظام ته **(اسلامي)** نوم ورکوي مګر رعيت يې بيا يوازې افغانان دي، په يوه مرکه کې يې د دفاع وزير څخه پوښتنه وشوه چې ستاسې اردو به په نوره نړۍ کې هم اسلامي مصالح په پام کې ساتي، د اسلامي ارزښتونو او مصالحو د ساتنې لپاره به هلته هم کار کوئ که نه؟ هغه ورته وايي چې ، نه!

زموږ اردو خپلې ملي موخې تعقيبوي، يعنې موږ ته افغانيت مهم دی، زموږ رعيت ټول اسلامي امت نه، بلکې يوازې افغانان دي او د واک ساحه مو ټوله اسلامي خاوره نه، بلکې يوازې افغانستان دی، نو چې ورته وويل شي بيا مو په خپل دې وطني نظام ولې دومره سټر نوم ايښی دی خو د اسلامي امارت په ځای ورته د وطني امارت نوم ورکړئ، ولې دومره غټ درواغ واياست؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


اسلامي نظام کې د رعیت لپاره موږ خپل تعریف لرو، دا ثابت الفاظ، تعیین شوې قاعدې او مشخص اصطلاحات دي چې هر یو یې په شریعت کې ځانګړې تعریفونه او معناوې لري. رهبر، زعیم، اسلامي خاوره، رعیت، قانون... دا هغه کلمات دي چې په شریعت کې د دې ترشا لوی لوی مفاهیم او مفکورې پرتې دي.

نو راځو او په دې عناصرو یو ځل بیا یوه لنډه کتنه کوو:

❖ **لومړی عنصر قانون و:** په اسلامي نظام کې د قانون وظیفه دا ده چې د سیاسي نظام صلاحیت او مسؤلیت تعیینوي، د اسلامي نظام صلاحیت او مسؤلیت دا دی چې د امت د مظلوم، مستضعف، اسیر، فقیر، کونډې، یتیم او د اسلامي امت د ټولو اقشارو حق اداء او د ټولو حقوقو ته رسیدګي وکړي، د اسلامي ارزښتونو لکه دین، قرآن او د اسلامي شعائرو عزت وساتي او د دغه ارزښتونو د توهینوونکو او بې احترامي کوونکو ته په توره قاطع او کلک ځواب ورکړي.

❖ **دوهم عنصر زعیم او رهبر و:** د ابراهیمي ملّت علماؤو هم پدې هېر درسونه کړي او د زعیم شروط یې بیان کړي دي، خو په اسلامي نظام کې د زعیم او رهبر یو ځانګړی او مهم شرط دا دی چې دا زعیم به تل د جهاد **قیادت** او **رهبري** کوي، جهاد ته به ادامه ورکوي، تشکیلونه به لېږي، او اساسي کار به یې همدا د قتال رهبري وي، دا به یې تلپاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنده وي، تر هغې به جهاد پر مخ وړي ترڅو له **فرض عین** څخه **فرض کفايي** ته راښکته شي، په ټوله ځمکه کې فتنه ختمه شي او يوازې د يوه الله ﷻ وحدانيت په ټوله ځمکه حاکم شي، که څه هم د دې مهم کار په ترسره کولو کې يوازې ځانته پاتې شي خو بيا به هم د جهاد څخه نه په شاه کيږي او جهاد ته به ادامه ورکوي.

د رسول الله ﷺ وفات څخه وروسته چې ابوبکر صديق رضي الله عنه تعيين شو اول قدم کې يې چې کوم کار وکړ هغه د اسامه رضي الله عنه د لښکر استول وو، په داسې حال کې چې رسول الله ﷺ تازه رحلت کړی و، په مدينه کې د هرج ـ مرج احتمال هم و، خو بيا هم ددغه ستر اقدام څخه په شا نه شو اودا لښکر يې په خپله تشکيل او رهبري کړ.

راشئ اوس د دښمن مشران په دې ترازو وتلئ، د دوی زعيم خو لومړی کفارو ته تسليمي ورکړه او د تعطيل الجهاد دا ستر جنايت يې ورسره په ابدي شکل امضاء کړ، د امام مهدي لښکرو ته به هم اجازه ورنکړي چې د افغانستان خاورې ته راشي او يا د افغانستان نه د نورې نړۍ د فتحه کولو لپاره تشکيلونه برابر کړي، ځکه دوی له کفري نړۍ سره همدا وعده او ژمنه کړې او په همدې تړون شوی دی چې هېڅ وخت به د افغانستان خاورې څخه د نړۍ کفارو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


خطر نه متوجه کيږي، ویاند يې په ښکاره ډول د خپل واک په لومړۍ ورځ اعلان وکړ چې نوره جګړه ختمه شوه، نور له هېچا سره زموږ دښمني نشته، عجيبه ده له دومره سترو کفري کړنو باوجود هم په ځومره سپين سترګۍ د اسلام دعوې کوي، تاسې د ابوبکر رضي الله عنه تاريخ ته ځير شئ چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات څخه وروسته خلک راولاړيږي او د زکات له ورکړې څخه انکار کوي، په دې وخت کې ابوبکر رضي الله عنه د جهاد رهبري په خپل لاس کې اخلي او د دوی پرضد اقدام کوي ، عمر رضي الله عنه ورته وايي: چې اې ابوبکره! ته اوس مسلمانان او کلمه ويونکي وژنې؟

ابوبکر رضي الله عنه ورته په ځواب کې وايي: والله که چېرته زه يوازې هم پاتې شم نو بيا به هم د جهاد رهبري کوم او ادامه به ورکوم ترڅو هېڅ يو شخص د لمونځ او زکات ترمنځ توپير ونکړي.

ابوبکر رضي الله عنه خپل ځان د جهاد د رهبرۍ مسؤل ګڼانه، ځکه چې هغه زعيم و او دا ورته خپل مسؤليت ښکاره کېده چې د جهاد رهبري وکړي او د تل لپاره يې همدا کوښښ کاوه چې په سمه توګه دغه مسؤليت ترسره کړي.

### ❖ درېم عنصر اسلامي قلمرو / اسلامي سرحدات و:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اسلامي نظام کې به اسلامي خاوره او سرحدونه تعریف شوي وي یانې اړینه ده چې د اسلام په سیاسي نظام کې د اسلامي خاورې سرحدات تشریح شي، ځکه ترڅو چې د اسلامي نظام د خاورې حدود مالوم نشي نو دې نظام ته د اسلامي نظام نوم څوک نه شي ورکولای، ځکه نظام کې د یوې معلومې خاورې څخه دفاع مطرح وي، ته چې د اسلامي خاورې تعریف نه کوې او دا قلمرو نه په ډاګه کوې، نو بیا د کومې خاورې څخه ساتنه کوې؟

جواب همدا دی له هغه خاورې څخه چې حدود یې انګریزانو ټاکلي او د سرحدونو او پولو په نامه یې سره د هېوادونو او وطنونو په جوړښتونو ویشلي.

اسلامي خاوره چې مسلمانانو په خپلو قربانیو او وینو باندې لاسته راوړې خاص، ښکاره او معلوم سرحدونه یې ورته ټاکلي دي، او دا وطني او د بین الملل د کفري اصولو موافق تقسیم شوې خاورې ته سیکولر دین سرحدات په ډاګه کړي، نو ته چې خپل نظام ته (**اسلامي**) نوم ورکوې، نو باید د هغه سرحداتو آزادۍ او ساتنې لپاره مبارزه وکړې، کوم چې درته اسلافو تعیین کړي، که چېرې د سیکولر دین موافق د وېشل شوې ځمکې سرحداتو نه دفاع کوې نو بیا شرم پکار دی او د مسلمانانو په سترګو کې د خاورې شیندل مه کوئ، ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library


اسلام يو عالمي دين دی، نو دغه راز نظام يې هم بايد عالمي وي او څوک چې غواړي خپل نظام په بشپړه توګه اسلامي نظام مطرح کړي نو بايد چې دا نظام عالمي وګرځوي، قومي او وطني به يې نه جوړوي، ځکه چې قومي او وطني نظام ته د اسلامي نظام نوم ورکول دا د شريعت د احکامو بدلول دي او د شريعت سره غدر او جفا ده.

خو په لنډو الفاظو هغه ناخبره مسلمانانو ته د خيرخواهۍ په بنياد دا وړانديز کوو چې د کومو سرحداتو د ساتلو لپاره چې تاسو کومه خؤله او وينه تويوئ نو د اتمام حجت په خاطر يو ځل تاريخ ته مراجعه وکړئ چې همدا د شمال نه تر جنوب او د غرب نه تر شرق پورې دا پولې او سرحدونه درته چا خط کشي کړي دي؟

همدا جواب به درته ميلاو شي چې نيم يې انګريزي او روسي کفارو او نيم نور يې ايراني او باقي کفري نړۍ درته تعيين کړي دي، نو افسوس او بيا افسوس چې د کفارو لخوا دا خط کشي شوو پولو په دفاع کې ځان وژنه کوئ او بيا د شهادت او د جنت هيله هم ساتئ!

د اسلامي نړۍ حدود بايد هر مسلمان خپل ذهن کې وساتي چې د هغه ساتنه او پالنه يې همېشنۍ ارمان وي.

همداسې بايد سيکولر حدود اربعه هم تشريح کړو ترڅو د مسلمانانو نه پوښتنه وشي چې اوس تاسې د کومې محدودې څخه ځان قربانوئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


تش په نوم د اسلام په جامه کې ملیشو ته وايو چې د کومو حدودو ساتنه کوئ اسلامي او که سيکولرستي؟

او بيا په خپل ځان ښتګه د مجاهدينو او فاتحينو نومونه ږدئ؟

څه مو فتحه کړي؟

هغه حدود چې روس او انګرېز درته تعيين کړي دي؟

د همدې د ساتلو لپاره جنګيدلئ؟

د همدې د فتح کولو لپاره دې ځان وژنه کوله؟

**هو!**

دوی ته اسلامي خاوره هغه ښکاري، کومه چې ورته بادار خط کښي کړې ده، ځکه دوی تل د کفارو له عينکو څخه حق ته ليدنه کړې، نو د همدې کفارو له لورې له ټاکلو حدودو څخه يوه لوېشت هم بهر د تللو يا مداخلې سوچ نه لري او په دې اړه فکر هم نه کوي عمل خو لرې خبره ده.

**عجيبه نده!** نن د محکوميت او اشغال څخه د اسلامي نړۍ د خلاصون په هدف د څو کسانو د اوښکو څڅولو او ځينې شعارونو ورکولو څخه پرته نور هېڅ کوم درونډ عکس العمل په نظر نه راځي ولې علت به يې څه وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


ولې مسلمانان نن د اشغال شوې اسلامي نړۍ او محکوم اسلامي امت د آزادۍ او همدردۍ څخه بې احساسه شوي او په خپلو منځونو کې د تربورولۍ رفتار سره کوي ؟

طالب ته وايو ته هم وايې تماميت ارضي، ايران او پاکستان هم وايي... او بيا دا بغارې هم وهۍ چې د خلکو مسائلو کې مداخله نه کوو، نو خلاصه دا ستاسې نوم چې په تاريخ کې د اجرتي مليشو په حيث ثبت نشي نو بل به په کوم نوم ياد شې؟

د بين الملل په قانون کې راغلي دي چې بايد يو د بل کورنيو مسائلو کې مداخله ونکړي، همدا خبره چې بار بار طالب کوي اصل کې کفارو ته د هغوی  قوانين وريادوي چې ستاسو د قوانينو په اساس دا خبره کوو کنه د شريعت او اسلاميت قانون همدا تقاضا کوې چې مشرق کې په يو مسلمانه زنانه او نارينه باندې ظلم وشي د مغرب نه به خلک مداخله کوي او ورځي به همداسې ترڅو چې اسلامي خاوره نه وي آزاده شوې نو د افغانستان په شمول د ټولو مسلمانانو حق او دوی باندې فرض عين دی چې جهاد وکړي، خو طالب دې هر څه ته شاه کړې ده او يو ساه باندې همدا نارې وهي چې رسميت، ډالرې او قدرت.

(c) ketabton.com: The Digital Library


❖ **څلورم عنصر رعيت و:** د اسلام په سياسي نظام کې رعيت معرفي شو چې د اسلامي نظام رعيت ټول عالم اسلام دی، ځکه له محمد رسول الله ﷺ څخه مخکې چې به کله يو نبي او رسول د الله ﷻ لخوا مبعوث کېده، نو يوې ځانګړې سيمې او يوه خاص قوم ته به رالېږل کېده، خو کله چې رسول الله ﷺ راغی او په پيغمبرۍ مبعوث شو نو خبره عالمي شوه، رسول الله ﷺ د يوه خاص وطن او خاص قوم لپاره نه دی راغلی، بلکې د ټولې دنيا د انسانانو او پېريانو په لور رالېږل شوی نبي دی، الله ﷻ فرمايي:﴿**وَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَٰلَمِينَ**﴾ [**سُورَةُ الأنبياء : 107**]

**ژباړه: موږ ته نه يې رالېږلی مګر د ټولو مخلوقاتو لپاره رحمت رالېږلی يې(موږ چې ته لېږلی يې، دا په اصل کې د نړيوالو په باب زموږ رحمت دی).**

الله ﷻ رسول الله ﷺ په دې خبره باندې پوهوي چې له مکې څخه مدينې ته راغلې او دلته دې اسلامي نظام تأسيس کړ، نو يوه خبره په ياد لره چې ستا کار صرف تر مدينې محدود نه دی، بلکې ټول عالم ستا رعيت دی او ته به د ټول عالم لپاره مبارزه کوې، ترڅو چې دا ټول ستا په امت کې داخل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


رسول الله ﷺ ته اشاره کوي، چې ستا دعوت او جهاد به تر یوه قوم او سیمې پورې محدود نه وي، بلکې ټولې دنیا ته به په ژبه دعوت کوې، که یې ونه مانه نو په توره به ورسره جهاد کوې، تر هغې به جنګیږې چې په ځمکه باندې فتنه پاتې نشي، دین ټول یوازې د الله لپاره شي تر څو دا ټول خلک د یوه اسلامي نظام رعیت جوړ او اسلامي اخوت قائم شي.

اوس راشه چې خپل نظام ته اسلامي نظام او خپل مشر ته امیر المؤمنین وایي، مګر بلې خوا ته بیا همدا نارې او چیغې وهي چې موږ تر افغانستانه محدود یو، نو په دغه عقیده او دغه خبره دوی له ایمان څخه خلاص دي او دغه راز نور هم ډېر د اسلام ماتوونکي نواقض په دوی کې راټول شوي دي، خو یو عمده ناقض د اسلام او د ایمان چې دوی یې په اونۍ کې یوځل خامخا ډېر په فخر ټولو کفارو ته د دې تلقین ورکوي، هغه دا دی چې دوی د کفارو لخوا د ځمکې په وېشلو او د هغو په پرېکړه راضي شوي دي او خپله ټوله مبارزه یې د اسلام په خلاف د همدې پولو او فرضي کرښو د ساتنې لپاره محدوده کړې ده.

د اسلامي نظام شعار دا دی چې د الله رب العالمین کلمه لوړه شي او دا وطني د قطر او اسلام آباد نه سرچینه اخیستونکی نظام همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library


لپاره قرباني ورکوي چې د کفارو د کال **(1916م)** د توافق کلمه چې د سایکس پیکو قانون دی عملي او پورته شي، نو اوس دې هغه خلک چې د کفارو دې توافق ته د عمل جامه وراغوندي او همدې لپاره قرباني ورکوي چې دا د **(1916م)** کال توافق نه دفاع وشي نو ځان دې خبر کړي چې د دوی او د اسلامي نظام شعار او قرباني سره جلا او تګلاره یې هم همداسې بېله ده.

څوک چې نن سبا ځان دهمدې کربښو په دفاع کې وژني دې باندې دې هم ځان خبر کړي چې د همدې توافق او کلمې په نتیجه کې اسرائیل رامنځته شوی ده، ته چې نن د کفارو په لاس تقسیم شویو پولو او سرحداتو نه دفاع کوې مطمین اوسه چې اسرائیل دې هم په رسمیت پیژندلی دی.

که له دوی څخه دا پوښتنه وشي چې تاسې خو خپل مشر ته امیر المؤمنین وایاست یانې د ټولو مؤمنانو امیر یې ګڼئ خو بیا هم ستاسو دغه امیر المؤمنین د ایغور، فلسطین، کشمیر، عراق، شام، پاکستان، چیچنیا او نورو ګڼو محکومو مسلمانانو پر ځای د هغوی له اشغالګرو او قاتلو کفري او طاغوتي نظامونو سره دوستي کوي، هلته خپل نظام اسلامي او خپل امیر د ټولو مؤمنانو امیر ګڼئ او هلته بیا وایاست چې له افغانستان څخه بهر مو چا سره کار نشته، ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کفارو او طواغیتو سره صمیمي اړیکې غواړئ، په نورو مؤمنانو چې په نورو هېوادونو کې هر وحشت کیږي نو تاسې ورسره کار نه لرئ او هغه وحشتونه یې د شته اشغالګرو نظامونو حق او د هغوی خپله داخلي موضوع ګڼئ، په همدې موضوع کې هم ډیر خلک د اسلام له دائرې څخه وتلي دي.

الله ﷻ فرمايي: ﴿إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ﴾ ژباړه: **مؤمنان ټول سره وروڼه دي.** دغه راز بل ځای فرمايي: ﴿وَٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ﴾ ژباړه: **مؤمنان سړي او مؤمنانې ښځې د یوه بل دوستان دي.**

رسول اللهﷺ فرمایي: د مؤمنانو مثال د یوه جسد دی؛ چې پښه يې درد وکړي نو سترګې ورسره ژاړي، که په سترګو درد وي له خولې ورسره فریادونه خیژي او که لاس مات شي نو غاړې ته ولوېږي، همدا مثال د ټول اسلامي امت دی که د نړۍ په شرق کې په مسلمان کوم درد وي او یا ظلم پرې کیږي نو د غرب مسلمان به پرې دردمند کیږي او له ظلمونو څخه به يې د ژغورنې کوښښ کوي او که په غرب کې کومه مؤمنه زنانه یا نارینه د کفارو په زندانونو کې اسیر وي، نو د شرق مسلمانان به يې د خلاصون او آزادۍ لپاره شپه او ورځ کار او

(c) ketabton.com: The Digital Library


مبارزه کوي، راشه تش په نوم اسلامي نظام ته چې د میلیونونو ایغوري مسلمانانو له قاتلانو او ناموس لوټونکو کمونیستو چینایانو سره د اړیکو پراخولو او اقتصادي تړونونو په نوم پټ استخباراتي مالومات هم سره تبادله کوي، په داسې حال کې چې دا هغه چینایان دي، چې د شرقي ترکستان اسلامي هویت یې دفن کړ او د همدې اسلامي خاورې په میلیونونو وګړي یې په ډله ایز شکل بندیان کړل، دغه راز له مساجدو او مدارسو یې ورته طبیلې جوړې کړې او هغوی یې د خپل دین پرېښودو ته اړ کړل، مګر د چینایانو برادر په ځای د دې چې له کمونیستو چینایانو څخه ددغه جنایتونو پوښتنه وکړي بلکې هغوی سره لکه کولنګي چرک وزرې جنګوي او خارجه وزیر پلن یې د دې په ځای چې چینایي اشغالګران له ګرېوانه ونیسي هغوی ته جلغوزې ډالۍ کوي او شیخ دلاور یې د خپلې خاورې کانونه پرې لوټ کړل.

د طالبانو له ویاند څخه د یوې رسنۍ خبریال پوښتنه کوي او ورته وایي: چې تاسې خو دعوه د اسلامي نظام کوئ او مشر مو ځانته امیرالمؤمنین هم وایي، اوس خو تاسو سره زور هم شته ساحه او نور امکانات هم لرئ، دا چې په چین کې پر مسلمانانو سخت ظلم روان دی د هغوی لپاره تاسې څه کولای شئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ورته په ځواب کې وایي دا د هغوی خپله داخلي مسئله ده موږ له افغانستان څخه بهر د هېڅا سره کار نه لرو او نه هم د چا داخلي امورو کې لاس وهنه کوو.

خو اسلامي نظام او مسلمانان بیا داسې نه وي لکه د طالبانو نظام او طالبان، ځکه چې د مسلمانانو د قانون مرجع به قرآن او سنت وي، رهبر به یې د کندهار صوفي نه، بلکې یو مؤحد قریشي وي، د اسلامي نظام سرحدات او پولې به معلومې وي، ټوله اسلامي خاوره زمونږ د قلمرو په تعریف کې شامله ده، د دنیا په هر کنج کې د هر قوم، هر رنګ، هرې ژبې او هر سمت مسلمانان د اسلامي نظام رعیت دي که هغه نارینه وي یا ښځینه چې د نړۍ په هر ګوټ کې وي پوښتنه او دفاع یې په ټول اسلامي امت او اسلامي نظام فرض ده.

**اوس د اسلام سیاسي نظام د جوړښت په شلورم محور باندې به خبرې وکړو ان شاءالله.**

## ❖ شلورم محور او اصل د نظام د ساختار (جوړښت) هغه د مراتبو د سلسلې اصل دی:

د اسلام په سیاسي نظام کې شلورم محور او د جوړښت اساس د رهبرۍ په شمول د تصمیم ګیرۍ د مراتبو د څرنګوالي، د قدرت او

(c) ketabton.com: The Digital Library


دریځونو د وېش په ډول راڅرخي یانې د اسلام په سیاسي نظام کې کوم ډول خلک مسؤلیتونو ته رسېدای شي؟

په کومو اصولو او کومو شرایطو مسؤلیتونو ته داخلېدای شي؟

د رهبرۍ په سطحه د تصمیم ګیرۍ مراحل او مراتب به یې څه ډول وي؟

د قدرت وېش به یې په څه ډول وي؟

دا ټول په څلورم محور کې شامل دي چې د دې لپاره باید مجاهدین د اسلام د سیاسي نظام په چوکاټ کې ځواب ولري.

هر وخت چې تاسې همدې څلورو محورونو ته دلایل او ځواب ولرئ، نو بیا تاسې ادعا کولای شئ چې مونږ د اسلامي نظام ساختار مطرح کولای شو.

وروښو دا د اسلام د سیاسي نظام د ساختار او تشکیل لنډه موضوع و، اوس راځو د اسلام د سیاسي نظام د تطبیق په برخه کې چې کوم څلور محورونه دي هغه بیانوو، بتوفیق الله تعالی.

## د اسلام د سیاسي نظام تطبیق او عملي کېدل

د اسلام د سیاسي نظام د تطبیق په برخه کې هم څلور محوره دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library


### ❖ لومړی محور:

د نظام د تطبیق لپاره لومړی محور دا دی چې د تصمیم ګیرۍ مرجع باید تعیین کړو، یانې د اسلام د سیاسي نظام د تطبیق په برخه کې لومړیو کې د تصمیم ګیرۍ موضوع مطرح ده، چې دغه تصمیم ګیري به څوک کوي؟

لومړی باید تاسې عمومي مرجع او د تصمیم ګیرۍ مرکز په ډاګه کړئ، وروسته بیا په هره اداره کې د تصمیم ګیرۍ مرجع معلومه او ښکاره کړئ، رسول الله ﷺ چې کله د مکې څخه مدینې ته ولاړ، نو لومړی کار یې دا و چې د تصمیم ګیرۍ لپاره یو مرکز جوړ کړي، د یوه مسجد په جوړولو یې اقدام وکړ، تر څو د مشورې، درس او د نورې روزنې او تربیت لپاره یو مرکز او ځای ولري.

د تصمیم ګیرۍ مرجع د نظام د تطبیق لپاره لازمي خبره ده، نو ځکه خو دا په تطبیق د نظام کې لومړی محور شمېرل کیږي، دا باید په ډاګه او معلوم شي چې د تصمیم ګیرۍ دا مرجع څومره صلاحیت لري یانې د صلاحیت کچه یې هم باید معلومه وي.

دا په دې مانا ده چې که د تصمیم نیولو مستقل صلاحیت درسره نه وي نو بیا اسلامي نظام نه تطبیق کیږي، چې د شریعت هر حکم د

(c) ketabton.com: The Digital Library


کفارو د خوشحالۍ او خفګان لپاره تعیین او یا هم تعطیل کړې بیا ته نشي کولای چې اسلامي نظام حاکم او تطبیق کړي.

څوک چې خپل نظام ته د اسلامي نظام نوم ورکوي، باید د تطبیق لپاره یې کافي او مستقل صلاحیت ولري، داسې نه چې نن یوه اعلامیه خپره کړي او سبا چې کفار درته غوسه او یا پرې خفه شي، نو بېرته دوهمه اعلامیه د لومړۍ په رد کې خپره کړي او بیا دا وضاحتونه او توجیهات ورته لټوي چې دا د یوه ریاست اعلامیه وه، عملي کول یې په خلکو جبري نه دي، د دې طالبانو حال ته وګورئ چې د امریکا او نورو کفارو له ډاره خپله یوه اعلامیه نشي عملي کولای او نه هم په آزاد ډول د یوې قاطع اعلامیې د لیکلو جرئت لري نو بیا به ټول اسلامي نظام څنګه تطبیق کړای شي؟

❖ **دوهم محور:**

دوهم محور چې تاسې یې باید د نظام په تطبیق کې ورته توجو وکړئ هغه دا دی چې د هرې ادارې د صلاحیت او مسؤلیت دایره، دکار اندازه، د فعالیت سیمه او دېته ورته نور اړوند مسائل ټول باید تشریح او تعیین شي او ټولو ادارو ته دا خبره وکړای شي چې د ټولو ترمنځ به د نظام په تطبیق کې هم **معنوي اتحاد** او هم **سیاسي اتحاد** موجود وي، او دا دواړه باید پام کې ونیول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د اسلام د سیاسي نظام په چوکاټ کې باید ټولې ادارې سره متحدې اوهمغږې وي، په یوه نظام کې چې ټولې ادارې سره ربط او اتحاد ولري نو دېته **سیاسي اتحاد وایي،** دا یوه ډېره مهمه نقطه ده، یو معنوي او فکري اتحاد دی چې هغه د افرادو اړوند وي، یعنې هر فرد باید د اسلام په سیاسي نظام کې په خپلو کې سره همفکره او هم عقیده وي، ټول به په یوه فکر وي، دویم هغه سیاسي اتحاد دی چې دا د یوې ادارې اړوند کیږي،یانې باید د نظام یوه برخه د نظام د بلې برخې سره اتحاد او همغږي ولري چې دې ته **سیاسي اتحاد** وايي.

داسې نه لکه دا اوسنی نظام، چې د هرې ادارې یې ځانته پاچاهي ده، د امر بالمعروف په نامه اداره یې یو امر کوي او نورې ادارې یې بیا بل ډول فرمانونه جاري کوي، یو یې په سمبولیک او نمایشي شکل د نامحرمه ښځو سره د ناستو څخه منعه کوي خو د اطلاعاتو وزارت یې بیا په کنفرانسونو، مجلسونو، تلویزونونو، دغه راز د تحصیلاتو او خارجه وزارتونو په شمول په یو شمېر نورو وزارتونو کې د نامحرمو ښځو سره ښه د زړه له تله خنداګانې، مجلسونه او مختلط بنډارونه په درز کې روان دي، اسلامي نظام کې باید داسې ماحول نه وي، بلکې اړینه ده چې ټولې ادارې په خپل منځ کې یو فکري او

(c) ketabton.com: The Digital Library


بل سیاسي اتحاد ولري، ځوک چې په خپل نظام کې دننه خپل حکم نشي تطبیق کولای نو هغه به ټول نظام څنګه عملي کړای شي؟

## ورونو!

د دښمن لومړی کار همدا دی چې د ادارو ترمنځ کوم سیاسي اتحاد دی دا له منځه یوسي، یوه اداره د بلې ادارې سره په ضد کې واقع کړي، اصل کې خو په نظام کې د شاملو ادارو اهداف، مقاصد او مرام یې یو دی، د یوه نظام په سیوري کې په خدمت بوختې دي او لکه د یوه بدن د غړو په څېر هر یو یې خپل مسؤلیت اداء کوي، مګر د دښمن کوښښ دا دی چې سیاسي اتحاد خراب کړي.

که ټولې ادارې د دښمنانو دغه شومو پلانونو ته متوجه نشي، نو له دې سره سره چې د ټولو هدف یو دی، مګر د یوه هدف د ترلاسه کولو لپاره به بیا هم د یوه بل په خلاف اخته وي.

تاسې وګورئ ځینې وخت د دوه ادارو ترمنځ بې اتفاقي وي، علت یې همدا دی چې سیاسي اتحاد ورته دښمن خراب کړی وي، حال دا چې د یوه هدف لپاره کار کوي، مرام یې یو وي، دواړه قرباني ورکوي، خو بیا هم په خپلو کې بې اتفاقه دي، دا د دښمن دسیسې دي چې د مجاهدینو ترمنځ بې اتفاقي خپره کړي، ډول ډول حربې په کار واچوي ترڅو د دوی سیاسي اتحاد له منځه لاړ شي او په دې طریقه

(c) ketabton.com: The Digital Library


مجاهدين ضعيفه کړي، د اسلام په سياسي نظام کې به د ادارو ترمنځ کلکه هماهنګي او محبت موجود وي، بايد يو بل تقويه کړي او د دښمن دسيسو ته ډېر متوجه واوسي.

تاريخونه ليکي چې د اوس او خزرج د قبيلو ترمنځ تقريبا (120) يو سل شل کاله دښمني تېره شوې وه، د دوی په منځ کې بيا ډېرې جګړې شوې وې، له يوه بل څخه يې بې شمېره کسان وژلي و، مګر رسول الله ﷺ د دوی ترمنځ داسې اتحاد رامنځته کړ چې بيا به يو له بله قربانېدل، داسې يې ونه ويل چې موږ دواړه قبيلې په خپل ځای د رسول الله ﷺ څخه متابعت کوو خو نوره دښمني به مو په خپل ځای باقي پاتې وي، نه! بلکې رسول الله ﷺ د دوی تر منځ داسې اتحاد قايم کړ چې بيا د کارونو په پرمختګونو کې هم دوی يو له بله سره فکري اتحاد درلود او هم د سياسي اتحاد څخه برخمن ول.

## ورونو!

سياسي اتحاد ته به ډېر زيات کار کوئ، کچېرته ستاسې د اداراتو ترمنځ سياسي اتحاد قوي نه وي، نو د عمومي امير په شهادت سره نظام بيا ډېر ژر پاشل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يؤه نقطه په ياد ولرئ د دې لپاره چې د ادارو ترمنځ مو سياسي اتحاد خراب نشي او هره يوه اداره خپل مسؤليت وپېژني، نو هرې ادارې ته به خپل خپل صلاحيت روښانه کوئ، چې د هغه حد څخه اضافه لاس وهنه او يو د بل په کارونو کې مداخله سره ونکړي.

## ❖ درېم محور:

د اسلام د سياسي نظام د تطبيق په برخه کې درېم محور دا دی چې د هرې ادارې **د کار پيل** بايد تاسې ورته په ډاګه کړئ، هرې ادارې ته بايد تاسې پلان ورکړئ چې دغه مو افراد، امکانات او بوديجه شوه او دغه دې کاري پلان شو، تکره شه نور نو خپل کارونه مخ ته يوسه چې دا د اسلام د سياسي نظام په تطبيق کې ډېره مهمه موضوع ده. له ډېرو خلکو څخه د کار پيل نادرکه وي، نه پوهېږي چې کار له کومه ځايه پيل کړي او کوم ځای کې يې ودروي، دا تفکيک نشي کولای چې څه وخت د کار راپور آماده، نتيجه ارزيابي او لاسته راوړنې تحليل يا حساب کړم، دغه خبرې له اکثرو ورکې وي، نور ماشين چې حرکت وکړي نو د يوې ادارې امير يې چلولی شي، خو يوې ادارې سره ماشين ته په حرکت ورکولو کې بايد نظام همکاري وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


### ❖ څلورم محور:

د اسلام د سیاسي نظام په تطبیق کې څلورم اصل د کاري راپور د ارزونې څخه وروسته د **مکافاتو او مجازاتو** د ورکړې محور دی.

دا هم ډېر مهم عنوان دی، د نظام په تطبیق کې مکافات او مجازات به تاسې هغه مهال ټاکئ کله چې راپور او نتیجه ګیري راغله او نتیجه ګیرئ کې د مکافاتو او مجازاتو اصل په **لاسته راوړنو** باندې حسابېږي، مانا د دې خبرې دا ده چې هره اداره باید لاس ته راوړنې ولري، ترڅو د راپور په نتیجه ګیرئ کې د مکافاتو وړ وګرځي، کله کله د یو شمېر خلکو خو بیخي راپور نه وي بیا که راپور یې راشي هم نو راپور کې لاسته راوړنې نه وي، نو امیر به بیا د کوم اصل له مخې دیته مکافات ورکوي؟

نو عام مجاهدین باید کوښښ وکړي، کارونو کې لاسته راوړنې ولري ترڅو چې د مکافاتو وړ وګرځي.

**ورونو!** کله چې یو چاته کار ورکوئ لومړی باید ورته تصمیم ګیري تشریح کړئ، دوهم به ورته د اړونده اداري صلاحیتونه او د کار سیمه واضحه کړئ او دا به هم ورته په ډاګه کړئ چې نورو ادارو سره تر کومه بریده د مداخلې حق لري او د دې هر څه ترځنګ به یې په سیاسي اتحاد هم د ټولو سر ورخلاصوئ، چې د ټولو ادارو ترمنځ

(c) ketabton.com: The Digital Library


باید څه ډول همغږي، همکاري، متقابل احترام، ګډ کار او نور اړونده مسائل په پام کې وساتي، دریمه خبره دا چې د کار د پیلولو نېټه به ورته تاسې په خپله تعیینوئ او ورته به وایې چې وروره له دې ځایه دې کار پیل کړه او په هغه نقطه یې پای ته ورسوه، بیا ترېنه وخت په وخت راپور وغواړه، د راپور په پایله کې که نوې لاسته راوړنې موجودې وې نو مکافات ورته ورکړه او که لاسته راوړنې یې نه درلودې نو څېړنه یې وکړه چې علت څه دی او ولې یې کارونو کومه نتیجه نه ده ورکړې او هېڅ کومه لاسته راوړنه نه لري، که یې کومه ستونزه او علت درلود نو د ستونزې په ختمېدو کې ورسره همکاري وکړه او که یې بیا هم غفلت کاوه نصیحت ورته وکړه، د کار ارزښت او اهمیت ورته واضح کړه، تشویق او ترغیب یې کړه، ترڅو دوهم او دریم راپور یې له لاسته راوړنو ډک شي او د مکافاتو وړ وګرځي.

**وروڼو!** دغه اته محورونه د یوه نظام مهم محورونه دي (څلور محورونه  د نظام د ساختار لپاره دي او څلور نور د نظام د عملي کولو لپاره) که چېرته د الله په ځانګړي فضل ستاسو ذهنونه په دغه اتو محورونو باندې خلاص شي، نو بیا تاسې څوک تش د اسلام په نوم په طاغوتي نظامونو نشي دوکه کولای، دغه موجوده نظامونه چې لوبېږي او حاکم دي، دا ټول بیا تاسې ډېر ښه تحلیل او ارزیابي

(c) ketabton.com: The Digital Library


کؤلای شئ،چې آیا دا واقعي اسلامي نظامونه دي او کنه له ساختاره تر عمل پورې د دې ټولو بنیاد کوږ اېښودل شوی دی؟

که تاسې دغه اته محورونه وپېژندل نو بیا کؤلای شئ چې د دغه نظامونو له ساختار څخه د عمل تر پیل پورې په ټولو برخو یې ښه شرعي او منطقي رد وکړئ.

**اوس که یو څوک ووايي:** چې زموږ نظام اسلامي نظام دی، نو تاسې به ترې دا پوښتنه وکړئ چې تاسو دغه نظام د اسلام د کومو مقاصدو ترلاسه کولو لپاره تأسیس کړی دی؟

د اسلامي نظام بنیاد او اساس څه شی دی؟

او که له همدې فعلي ادارې څخه همدا پوښتنه وشي چې تاسې د اسلامي نظام دعوه کوئ د دې نظام اساس او بنسټ مو څه دی؟

تاسې د کومو شرعي مقاصدو د ترلاسه کولو لپاره کوښښ روان کړی او هدف مو څه دی؟ هر کله چې تاسې همدې اته محورونو ته په شریعت برابر ځوابات ورکړل او همدا ځوابات مو خپل اصل او اساس وګرځول، نو بیا همدې اصولو او اساساتو نه تېرېدل په دې مانا ده چې ستاسو د اسلامي نظام دعوه باطله ده، ځکه هر هغه څوک چې د اسلامي نظام دعوه کوي نو اړینه ده چې هغه باید دې اته محورونو ته چې څلور عناصر هم پکې شامل دي ځوابونه ووايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اسلامي سياست او اسلامي نظام تعريفونه

د سياست په اړوند د خلکو نظريې سره توپير لري، هر څوک د خپلې پوهې، تولنيز دريځ او ګټو پر بنسټ هغې ته يو تعريف ورکوي، د کور ښځه چې نا لوستې ده د سياست په اړوند يو ډول تصور لري، يو بزګر او کارګر بل ډول اند لري، تعليم يافته قشر يې په اړه يو رقم سوچ او فکر کوي علماء او مدارسو کې د سياست بل تعريف چليږي، څوک سياست ناوړه، کرغېړن او بد بولي او له سياست څخه ډډه کوي، څوک د سياست اډانه ټاکي او هر چا ته په سياست کې د ګډون حق نه ورکوي، ددې خبرو په پام کې نيولو سره په کار ده ځان پوه کړو چې په پای کې سياست څه ته وايې چې خلک يې په اړه داسې مختلف نظرونه لري.

موږ هڅه کوو سياست داسې تعريف کړو چې ترڅو يوه انګېزه راکړي، هسې خو د سياست تعريفونه په کتابونو کې ډېر زيات شوي دي چې په ډېرو باندې يې په آسانۍ سره ذهن هم نه خلاصېږي، او دا تعريفونه هرچا د خپل ايډلورې مطابق کړي دي، خو مونږ کوښښ کوو چې د ساده فهم مطابق يې تعريف کړو ترڅو د سياست مفهوم او مانا آسانۍ سره وپيژنو، که تاسې په دې تعريف ځان پوهه کړئ نو ډېر څه به ستاسې په ذهن کې کېني ان شاءالله.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ورونو!

سیاست هغه تدابیر دي چې د کارونو او امورو د اداره کولو لپاره په پام کې نیول کیږي، په بل تعبیر د سیاست مانا دا ده چې یو فرد یا یوه اداره هغه تدابیر پیدا کړي چې په تطبیق یې خپل کارونه په ډېر منظم ډول مخته یوسي او د خپلو کارونو غوره نتیجه ترلاسه کړي.

هر څوک چې خپل کار وپېژني،دخپل کار په مفهوم او مقصد باندې پوهه شي، نو کار ډېر په ښه ډول سرته رسولای او نتیجه یې هم ډېر ښه ډول لاسته راوړلای شي، د همدې کړنو د ترسراوي لپاره اړینه ده چې یو داسې امیر د ځان لپاره وټاکئ چې هغه سیاستمداره امیر او مشر وي ترڅو تاسې د داسې یو امیر د سېوري لاندې خپل هدفونه لاسته راوړئ.

نو باید زموږ امیر، عالم او مجاهد یو سیاستمداره امیر، مجاهد او عالم وي او د ددوی ټولو بصیرت باید ډېر لوړ اوسي.

هر وخت چې تاسې په منظمه طریقه یو کار شروع کړئ او په منظم ډول مو خپل کار پای ته ورساوه او په پای کې مو یوه ښه نتیجه لاسته راوړه، نو دغه مهال بیا تاسې یو کامیابه سیاستمدار یاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سیاسي نظام تعریف

د شریعت په چوکاټ (چارچوب) کې د کارونو محتوا تعینول او په ښه توګه اداره کول په داسې حال کې چې د اسلامي امت لوړې ګټې او منافع پکې پام کې نیول شوې وي او بیا له همدې منافعو او ارزښتونو څخه پکې دفاع او ساتنه هم مطرح وي او په هر ډګر کې د دښمن د هر اړخیزو حملو څخه بچ وساتل شي نو همدې ته د اسلام سیاسي نظام ویل کیږي.

ورونړو! کچېرته دا اوسني ټول تش په نوم اسلامي نظامونه د اسلام د سیاسي نظام په همدې تعریف وتلو، نو پایله به یې خامخا صفر وي، ځکه چې دا سیکولر او طاغوتي نظامونه دي، هېڅکله دوی د اسلامي نظام نمایندګي نشي کولاۍ، ځکه چې موږ وګورو نو همدې نظامونو کله د اسلامي أمّت لوړې ګټې(منافع علیا) پام کې ساتلي؟

ترې یې دفاع کړې یا یې په همدې برخه کې مبارزه او کار کړی او آیا دوی به په راروان وخت کې هم د أمّت د لوړو ګټو (منافع علیا) څخه دفاع وکړي؟

او که یوازې د خپل یوه محدود قوم او د بین الملل لخوا د ورکړل شوې خاورې لپاره به همداسې بغارې وهي، نو مالومه خبره ده چې دوی سره د اسلامي امت ټولنیزې ګټې، لوړ اهداف او ارزښتونه مطرح نه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دي بلکې د ملل ملحده له لورې ورته ټاکل شوي حدود او اهداف مهم دي چې لاس ته يې راوړي او بس! د اسلام د سياسي نظام په تعريف کې د امت ګټې مطرح کيږي نه د يو قوم او يو هېواد.

## د اسلامي نظام پنځه اصلي ځانګړتياوې

1. اسلامي نظام يو رباني نظام دی.
2. اسلامي نظام يو ثابت نظام دی.
3. اسلامي نظام يو عالمي نظام دی.
4. په اسلامي نظام کې ټولې برخې او اړخونه سره همغږي لري.
5. اسلامي نظام کې امر بالمعروف او نهی عن المنکر شته دی.

دا پنځه عمده اساسات او اصول دي،په همدې اسلامي نظام له نورو نظامونو سره توپير لري، په همدې يې بېلولای او له نورو نظامونو جلا کيږي، همدا د اسلامي نظام ځانګړتياوې او امتيازات دي چې دا نور نظامونه يې نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


راڅو او په همدې پنځه اصولو لنډ بحث کوو ان شاء الله:

## 1. د اسلام مبین دین یو رباني دین دی:

یعنې منبع او مأخذ یې د الله ﷻ کلام دی،دلته هر څه د خپل مصدر څخه اخستل کیږي او تبصره به وربانديې کیږي.

د هر عمل اصل به د الله ﷻ کتاب او د رسول الله ﷺ سنتو کې موجود وي، له خپله ځانه به ابداع في الدین نه کوئ، بلکه د هرې مسئلې اصل به د خپل اصلي مصدر څخه اخلې، چې اصلي مصدر یې قرآن او سنت دی.

یوه اسلامي ټولنه ده او بله د جهل ټولنه ده، هر هغه ټولنه کې چې اسلام حاکم وي او قوانین د خپلې اصلي مرجع او مصدر (قرآن او سنت) څخه اخیستل شوي وي، نو بیا دې ته اسلامي ټولنه ویلای شو، که چیرې د قوانینو مصدر د بلې مرجع څخه واخیستل شي، نو دا بیا جاهلي ټولنه ده، ځکه دلته قوانین بیا اسلامي بڼه نه لري، بلکه خود ساخته قوانین دي، چې انسانانو جوړ کړي او حاکم کړي یې دي. همداسې کومه مفکوره چې لرې، دا باید اسلامي مفکوره وي، یعنې که هر څوک غواړي چې خپله مفکوره د حکومت په چوکاټ کې عملي کړي نو دا باید اسلامي بڼه ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


اسلامي مفکوره د سیکولر مفکورې په مقابل کې ولاړه ده، اوس نو که یو کس ووایي زما مفکوره اسلامي ده نو باید دده د مفکورې د اخذ مصدر قرآن او سنت وي، یعنې مفکوره یې باید د قرآن او سنت څخه سرچینه واخلي، کله چې وایو زموږ مفکوره اسلامي ده، بیا داسې نه کیږي، چې له خپله ځانه داستان جوړ او بیا یې اسلام ته نسبت ورکړو، دلته به ته هر څه له خپلې سرچینې څخه اخلې او بیا به په هغې کې فکر او یوه د حل لاره به یې د تطبیق لپاره وړاندې کوې.

ځکه الله ﷻ حتي خپل خوږ محبوب رسول الله ﷺ ته وایي چې له خپله ځانه به خبرې نه جوړوې او ماته به یې نسبت نه کوې، څه چې وایم همدا به نقل کوې:﴿ وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْأَقَاوِيلِ ﴿44﴾ لَأَخَذْنَا مِنْهُ بِالْيَمِينِ ﴾[45 سورة الحاقه]

**ژباړه: او که دغه (پیغمبر) له ځانه کومه خبره جوړه کړې، زموږ لوري ته یې منسوبه کړې وای. نو مونږ به د ده ښي لاس نیولی وای (چې هېڅ ونشي خوځېدای).**

(c) ketabton.com: The Digital Library


سید قطب چې کله د لا اله الا الله تفسیر کوي، نو وايي چې د لا اله الا الله مانا همدا ده، چې باید د ویلو سره ټول هغه خود ساخته او د بشر د ذهن څخه سرچینه اخیستونکي مفکورې رد او باطلې اعلان شي، په بل تعبیر لا اله الا الله سره ټولې هغه مفکورې چې د انسان ناقص عقل یې مصدر وي، نفې کیږي، نو کله چې لااله الا الله وایو باید هر څه چې له دې وروسته کوو، هغه کار باید اسلامي اصل او اساس ولري که نه صرف د لا اله الا الله ویل به کومه فایده راونه رسوي.

## 2. د اسلامي نظام د برترۍ دویم معیار (اصل) ثابت والی دی.

د اسلام سپېڅلی دین داسې یو دین دی، چې هره زمانه کې د عملي کولو لیاقت لري، داسې نه ده چې یو کار دې پرون حلال و، او نن دې حرام شي، او یو کار نن حرام دی سبا دې حلال شي او یا یو کار که یو نکټایي والا او بې رږیرې کس کوي هغه ته حرام دی او که هماغه کار سبا د پګړۍ، رږیري او څڼو والا کوي نو هغه ته به حلال وي، نه داسې نه ده، اسلام کې قوانین او اصول د ټولو لپاره یو شان او دا ثابتې قاعدې دي.

قال تعالی: **فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا فِطْرَةَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ [30 سورة الروم].**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ژباړه: نو په یو لوري کیدو سره خپل مخ د دغه دین خواته برقرار وساته، پر هغه فطرت محکم شه چې پر هغه باندې الله تعالی انسانان پیدا کړي دي. دالله جوړ کړی فطري دین نشي بدلېدای، همدغه بیخي سم صحیح دین دی، خو زیاتره خلك نه پوهیږي.**

د الله ﷻ لومړنی او وروستنی فرمان یو او نه بدلېدونکی فرمان دی، ټول خلک په دې مکلف دي چې دا قوانین او اصول مراعات کړي او هره زمانه کې ترېنه دفاع وکړي.

ځکه د اسلام سپېڅلی دین یو کامل او تکمیل شوی دین دی، تشریعي او تقنیني مسائلو کې د یوې وړې اختراع او ابداع اجازه هم دین کې نشته دی، چې یو کس دې راشي او نوې فتواوې دې له خپله ځانه صادرې کړي او د اسلام احکام دې تغییر او بیا یې نسبت هم اسلام ته ورکړي، نه داسې نه کیږي! بلکه هر کار چې کوې او هر قدم چې د دین په نوم ږدې، نو اول به ګورې چې شریعت تاته د داسې کار اجازه درکړې که نه؟

او که اجازه یې ورکړې وه نو بیا به ګورې چې آیا مطلق اجازه یې ورکړې ده که د څه شروطو په پام کې نیولو سره یې دې کار ته اجازه ورکړې ده، ځکه دا داسې یو دین دې، چې د حساب په ورځ بیا د

(c) ketabton.com: The Digital Library


زرې، زرې حساب کیږي که د خیر ذره وي او که د شر ذره ، تاته مخ ته ایښودل کیږي او اثرات یې عمل نامه باندې مرتب کیږي.

نو چې دلته زرات هم د حساب وړ دي، مانا یې همدا ده چې دا دین همدومره دقیقه برنامه ریزي هم لري او همداسې یې ستا شیبه - شیبه او قدم، قدم ژوند ته برنامه او اصول جوړ کړي او راوړاندې کړي، چې سبا د آخرت په ورځ بیا درڅخه د قدم، قدم او زرې، زرې حساب واخستل شي.

اسلامي نظام خپل ځانته ځانګړی او ممتاز نظام دی او د بشریت لپاره پوره علاج لري او هره زمانه کې د عملي کولو لیاقت الله رب العالمین ورکړی دی.

### 3. د اسلامي نظام د برترۍ دریم معیار دا دی چې دا دین نړیوال دین دی.

په دې هر مسلمان اعتراف هم کوي چې هو اسلام د ټولې نړۍ او ټول بشر لپاره راغلی دین دی، خو بیا کله چې میدان د عمل کې واقع شي نو بیا یې ملا ماته او د وطنیت په نشه کې خپل د وطن د آبادۍ سندرې وایي، په همدې پلمه ورسره د خپل جیب او خیټې سوچ وي او د نورو مسلمانانو غم او فکر ورڅخه هېر وي.

رسول الله ﷺ هم په لومړیو کې کۀلای شول چې په عربي جزیره کې یو عربي سلطنت اعلان کړي، د هغه وخت د سترو امپراطوریو فارس

(c) ketabton.com: The Digital Library


او روم سره ځان ښکېل نه کړي بلکې د اوسنیو مرتدینو په اصطلاح همدې کفارو سره یې ډیپلوماتیکې اړیکې ټینګې کړې وی او په آخره کې یې نوم هم امارت اسلامي جزیرة العرب ورکړی وی، خو دا کار رسول الله ﷺ ولې ونه کړ؟

ځکه د اسلام د سپېڅلي دین په نورو ادیانو یوه ځانګړې برتري همدا ده چې دا دین د ټول بشر لپاره راغلی دی، ټول بشر باید د همدې دین په ټغر راټول شي، دا یو عالمي دین دی، دې دین سره د نړۍ غم دی، د نړۍ اصلاح غواړي او دا دین راغلی تر څو په نړۍ حکومت وکړي.
هو! باید چې ویې کړي، ځکه همدومره قدرمند او جامع دین دی، څوک چې د اسلام دین او قانون یو هېواد ته محدودوؤي، دوی سره اصل کې د اسلام ارزښت نشته دی، دوی سره د نړیوالو مسلمانانو غم او احساس شتون نلري، د دین په حقیقت باندې نه دي پوهه، دوی سره د اسلام د مبین دین قدر او قیمت نشته دی، دا دین باید په ټولې نړۍ باندې حاکم شي، اسلام سره نور ادیان او نظامونه باید بیخي مقایسه او پرتله نشي، ځکه ددې دین مشر او رهبر جناب رسول الله ﷺ دی، هغه په دې دین باندې خپله وینه تویه کړې ده، نو موږ هم د هغه امتیان یو دا دین به په نړۍ باندې حاکموو ان شآءالله، ولو که دې کار کې ډېر خلک مونږ یوازې پرېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


اسلامي نظام کې د ورورولۍ رشته ايمان قايمؤي، برعکس په سيکولريزم کې بيا دا رشته د قوم او هېواد په اساس قايميږي، تعينيږي او پام کې نيول کيږي، اوس تاسې هر نظام کې وګورئ چې دې نظام کې دا د أخوت رابطه په کوم اصل او معيار باندې ولاړه ده، بيا به تاسې ته د يوازې په نوم اسلامې نظام حقيقي څېره روښانه شي. اسلام عربي او يا افغاني دين نه بلکه نړيوال دين دی، دلته اساس د الله رب العالمين حاکميت منل دي او اسلام سره متضاد نظامونو کې حاکميت د بشر او بين الملل په لاس کې دی چې دا دواړه سره نه يوځای کيږي. هغه اسلامي نړۍ چې د مسلمانانو د مټو په زور، د وينو په قيمت او د جهاد په برکت آزاده شوې وه نن پکې د سور او تور صليبي ځواک واکمني او مستي ده.

خو تش په نوم اسلامي نظامونو ته بيا ټوله اسلامي نړۍ هغه ښکاري کوم چې ورته کفارو مشخص او خط کشي کړې وي، نور خو د هغه نه بهر د يوې لوېشت په انداز هم نه سوچ لري او نه به آينده کې د هغه لپاره فکر وکړي او عمل خو لا لري خبره ده ځکه همداسې تړون شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## 4. د اسلامي نظام د برترۍ څلورم معیار دا دی چې پدې دین کې همغږي او هماهنګي موجوده ده.

په نورو ادیانو کې بس رهبانیت دی، څوک چې عبادت کوي، هغه دنیا سره اړیکې قطعه او ځان ګوښه کوي، یا دین د سیاست څخه جلا حسابوي، ولې اسلام کې د الله عزوجل عبادت او د رزق ترلاسه کولو لپاره حلال کارو بار کول، دا ټول د یو مسلمان وظیفه ده، داسې نه ده چې صرف دا دین د عباداتو دین وي او یا یې مونږ صرف عباداتو ته خاص کړو او په معاملاتو، ژوند برابرولو، دولتدارۍ او نور اړوندو کارونو کې کار ونه لري، نه! دا انګېزه د غربیانو ده چې بس اسلام د خپل لمونځ او جومات سره کار ولري نور حکومتولۍ کې دې کار نه لري، بلکه چې ځانته مسلمان ووایې نو بیا اسلام ستا هر څه کې کار لري، د ړوړې خوړلو څخه شروع تر نکاح، خوب او تر کفن پورې ، حتی وروسته د جنازې نه دې هم ستا مربوط چې کوم اموال دي، د هغې لپاره یې هم اصول وضع کړي دي.

نو دا د اسلام یوه برتري ده، چې په ټولو اعمالو کې سره هماهنګي لري، داسې نه ده چې مونځ او اودس د اسلام مطابق وکړې او بیا حکومتولي دې د سیکولریزم مطابق وي، یا دا چې فردي عبادات دې د الله لپاره وي خو حکومتولۍ کې بیا الله هېر کړې، حرامو او حلالو

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته نه ګوري فقط خېته ډکوي، نه! کله چې دي کلمه  په شروطو سره برابر وويله نو ته د الله مؤمن بنده شوې او د الله په بندګۍ کې وتړل شوې، هر قدم کې درته اصول وضع شوي او قدم په قدم به همدغه اصول تعقيبوې.

## ورونو!

د همغږۍ اصل هغه وخت د تطبيق او توجو وړ دی چې کله د رهبرۍ قومانده او مرکز يو وي او فرمان له يوه مرکزه راځي.

په بل تعبير هغه وخت کؤلای شو چې ټولو ادارو او د ژوند په مراحلو کې هماهنګي ولرو چې په کوم قانون او اصولو عمل کوو نو دا به د يؤې عقيدې او يو دين څخه سرچينه اخلي، داسې به نه وي چې نيم اصول د اسلام ومنې او نيم اصول د غرب او بين الملل، بيا داسې حال کې ځانته مسلمان هم وايې، نه داسې نه کيږي! ته بيا نشې کؤلای د هماهنګۍ اصل برقراره کړې، که ځان ته مسلمان وايې نو بايد ستا ټول اعمال د يو دين څخه سرچينه واخلي.

که غواړې اسلامي نظام قايم کړې، نو دا نظام ټول بايد سره هماهنګ وي، هر اداره کې بايد اسلامي قوانين مراعات شي، داسې نه کيږي چې خارجه وزارت دې په اسلام معاملې رواني کړې وي او بيا د امر

(c) ketabton.com: The Digital Library


بالمعروف وزارت دې د خلکو د ذهنیت سازۍ لپاره د حجاب مسئله ټینګه کړې وي.

نه! له حجاب څخه مخکې ایمان مهم دی، نور وزارتونه دې لګیا دي د ایمانونو د خرڅلاو کاروبار کوي او دا سودا یې خه ګرمه روانه کړې او ته لګیا یې حجاب پسې نښتی یې، چې دلته د همغږۍ اصل د سوال لاندې راځي او په حقیقت کې د اسلام د برترۍ یو اصل دې په قصدي توګه شاته غورځولی دی.

په اسلامي نظام کې باید د ټولو ادارو په منځ کې د شریعت د تطبیق لپاره همغږي موجوده وي، داسې به نه وي چې یو د اسلام چېغې وهي او بل دې بیا اسلام شاته غورځولی او د بین الملل اوامرو ته لاس په نامه ولاړ وي.

په داسې حال کې بیا دې ته اسلامي نظام نه،بلکې ماډرن ډیموکراټیک نظام وایي،دا نو هسې یو ګپ دی چې د بل کار کې کار نه لرو(!) ...

امر بالمعروف دې لګیا وي خلکو ته دې عذرونه کوي، د خارجه او نورو وزارتونو کارمندانو ته د ډېرې اولنګوټې سپارښتنې کوي، او نور وزارتونه دې بیا کفارو سره مجلسونه کوي هغوی سره دې د مسلمان وژنې او د اسلام د بېخ کندۍ طرحې جوړوي او د بین الملل د قوانینو د مراعات کولو او تطبیقولو ډاډ دې ورکوي، همدا ماډرن

(c) ketabton.com: The Digital Library


ديموكراسي يا په بل عبارت په دوحه كې نوۍ ډيزاين شوۍ امريكايي اسلام دى چې دلته يې د اسلامي نظام په نوم په خلكو مني.

### 5. د اسلامي نظام د برترۍ پنځم اصل دا دى چې په دې نظام كې به امر بالمعروف او نهې عن المنكر وي.

اسلام يو مړ دين نه دى چې بس په زړونو كې به مړ پروت وي، نور به نو ټولنې سره كار نه لري، نه! دا يو ژوندى او د ټولنې په اصلاح كې دخيل دين دى، دا يو جمودي دين نه دى بلكه د ټولنې د رهبرۍ لپاره اصول وضع كوي او ټولنې ته مثبت طرف حركت وركوي.

اسلامي نظام به په نېكيو امر كوي او هم به د بديو څخه خلك منعه كوي چې په همدې كې د اسلامي نظام ټوله داخلي وظيفه خلاصه كېږي.

اوس راځو دې ته چې، آيا دې اوسني تش په نوم اسلامي نظام دا پنځه اصله چې د اسلامي نظام د نورو نظامونو سره پرې توپير راځي پام كې ساتلي كه نه؟

اول اصل دا وه چې د اسلامي نظام مصدر قرآن او سنت دى، هر څه له دې ځايه سرچينه اخلي، د خپلې خبټې فتواوې به اسلام ته نه منسوبوې، آيا د اوسني نظام مصدر قرآن او سنت دى؟

آيا دلته فيصلې د الله په قانون كېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دوی له خارجي تګلارې راونیسه تر داخلي مسائلو پورې چې نظام وربانديې ولاړ وي، په یوه برخه کې هم دوی اسلامي اصول سم نه دي تطبیق کړي او نه يې وربانديې عمل کړی دی، بس له خپل خواهش څخه یوه خبره وکړي او بیا اسلامي وروستاړی ورته ورکړي او غواړي چې د خلکو په سترګو کې خاورې واچوي، چې مهمه مسئله ددوی د قضا ده، اسلام کې چې دومره قربانۍ ورکول کیږي، د همدې لپاره ورکول کیږي چې قضا باید حاکمه شي او د الله ﷻ په دین بانديې فیصلې وشي، د جهاد ستر هدف همدا دی چې باید قضا حاکمه شي او د الله ﷻ دین تطبیق کړي، تاسو وګورئ د دوی قضا کوم وخت او چېرته د الله تعالی دین تطبیق کړی دی؟

بس د قریشو مشرکینو په څېر حال يې دی، چې چاته يې زړه وشي نو تعزیرات پرې د حدودو په نوم تطبیقوي او نور نو د خپلې ډلې د حدودو د تطبیق ور کسانو ته هغه تعزیر هم نه ورکوي د حدودو تطبیق قصاص، رجم، او دلاس قطعه کؤل خو لا لرې خبره ده.

هو! د قریشو د مشرکینو هم همدا قانون وه چې القوي؛ يأكل الضعيف قوي خلکو به د کمزورو حقوق پایمال کؤل، دا کوم کار چې نني نظام کې يې بیا تکرار وینو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د اسلام په تطبیق کې به چاسره نرمي نه کوئ، رسول الله ﷺ فرمايي که زما لور فاطمه بنت محمد هم غلا وکړي، نو لاس به يې ورته قطع کړم، خو د دوی خپلو لپاره اول امر بالمعروف درک نه لري، سبمولیک وزارت دی، یو امر يې هم تر اوسه په کوم طالب نه دی تطبیق کړی او نه دوی د زور نه کار اخلي او د امر بالمعروف څخه يې د تبليغيانو وزارت جوړ کړی دی، چې ټوله ورځ خلکو ته عذرونه کوي، چې خیر دا کار که وکړئ خه ده او مشر خو يې ټوله ورځ کفارو سره ملاقاتونه او هغوی ته دخپلو فرمانونو سپیناوی کوي او راپورونه ورکوي او دا صفايي ورته کوي چې ګوره کوم کار مو ستاسې د قوانینو خلاف نه دې کړی.

ډېره عجيبه نه ده ؟

چې د دوی تش په نوم د امر بالمعروف وزیر وايي کله چې مونږ د اروپايي ټولنې استازي ته د امر بالمعروف وظائف تشریح کړل نو هغه وویل چې دې ته خو اروپا کې هم سخت ضرورت دی! دوی د اسلام رعب، دبدبه، حیثیت او وقار واخيست او په ځمکه يې وويشت هر څه يې بې ارزښته او بې حیثیته کړل.

الله ﷻ د ټولنې د اصلاح لپاره د قهریه قوې په تطبیق او اصل دومره ټینګار کړی چې په بل څه يې نه دی کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


یوه ورځ یو نارینه ذمي د یوې مسلمانې زنانه سره زنا وکړه، په همدې علت باندې چې ذمي عهد مات کړی دی، عمر رضي الله عنه ذمي اعدام کړ، نو نهې د منکر کې به هم کوم قوت چې الله جل جلاله درکړی له هغې څخه به کار اخلې.

**لکه:** څنګه چې اشغال سره نظامي مبارزه کوې، همداسې به د دین اقامه هم په زور کوې، د تبلیغیانو په بسترو او تشکیلونو د دین اقامه نه راځي او نه هم اسلامي خاوره آزادېږي، د تبلیغیانو په څېر به خلکو ته عذر او زارۍ نه کوې چې خیر داسې وکړئ او خیر هغسې وکړئ، د الله جل جلاله دین به چاته نه ذلیله کوې، قاطع امر به ورته کوې، د نه منلو په صورت کې به ورسره تُند چلند کوې، دا دین په ګدایي باندې نه عملي کیږي، بلکه شاته به خلکو سره یو ډار وي، چې خلک بې دینۍ ته زړه خه نه کړي او د الله اوامرو ته پابند اوسي،د زور په ځای به زور او د نرمۍ په ځای کې به له نرمۍ څخه کار اخلې.

دویم اصل هغه د ثابت والې اصل وه چې د الله جل جلاله د نظام احکام او اصول ثابت دي، په هره زمانه کې د تطبیق وړ دي او یو شانته به عملي کیږي، **زمان** او **مکان** د الله جل جلاله احکام نه شي بدلولای، چې پرون غرونو کې وې دشریعت نعرې به دې وهلې، خو نن چې په نرمو

(c) ketabton.com: The Digital Library


چوکېو کېناستلې، نو دادې د شریعت په تطبیق شرمېږي، د الله رضا دې هېره کړه او دخلکو د رضایت په فکر کې یې.

آیا دې تش په نوم اسلامې نظامونو کې چېرې هم د مرجع له لحاظه تل یو دریځ او یو منهج ساتل شوی دی؟

که نه داسې نظامونو کې پادشاهي د بل چا لخوا کیږي او فرمانونه یې هم یو د بل نقض کوي، کله چې ډالر بند شي نو بیا ورسره د فرمانونو حکم او شېوه هم بدله شي.

دوی د دین څخه د وسیلې په حیث تر هغې استفاده کوي چې دوی وربانديې ځان قدرت ته ورسوي، نور بیا دین شاته ګذار کړي او د کفارو دساتیرو لپاره په زمینه سازۍ بوخت شي او د هغوی چوپړ ته مخه کړي.

دوی اول ځل هم رباني ته دا خبره کلکه نیولې وه چې اداراتو څخه دې کمونستان لرې کړه، خو کله چې خپله دوی راغلل نو صرف وزیران د طالبانو ول، لاندې ټول هماغه د سابقه حکومت معینان او رئیسان ول، کوم کسان چې طالبانو رباني ته دلیل نیولی وو چې باید دا کسان د خپل نظام څخه لرې کړې، خو دوی خپله چې راغلل بس هماغه خرک او درک وه، ادارو کې د افرادو له لحاظه کوم بدلون

(c) ketabton.com: The Digital Library


رانغيږ او که کوم بدلون هم راغی فقط د وزيرانو په سطحه وو، نور لاندې ټول هماغه پخواني کسان وو.

طالب چې کوم علتونه د خلکو دکفر لپاره وړاندې کوي، سبا چې خپله پکې واقع شي نو هماغه کارونه خه په سپين سترګی ترسره کوي او بيا ورته ځان فاتح او د جنت مستحق هم ښکاري، ځانته فاتحين او نظام ته اسلامې نوم هم ورکوي!

نه طالبه! يهودو او نصاراو هم ځانته نومونه ورکړي وو، چې نحن اولياء الله، په نوم باندې څه نه کيږي ترڅو دې چې عمل قرآن او سنت سره برابر کړی نه وي.

طالبه! د چا په رد چې کوم دليل وړاندې کوې او بيا سبا ته د هغه لاره تعقيبوې نو بيا ستا او د هغه صرف په قوارو کې توپير دی بس، نور اللهﷻ سره ستاسې او هغوی معامله بيا يو شان ده او دواړه د يو دريخ خاوندان ياست.

همداسې دوی دويم ځل د واک ترلاسه کولو لپاره بيا د دين نه يو وسيله جوړه کړه او د يوې پوړی په حيث يې ترې استفاده وکړه، چې ځان يې ورباندې قدرت ته ورساوه، همدا خبرې يې کولې چې خارجيان د عيسويت د ترويج لپاره ډالرې مصرفوي او دلته کفار ګرځي او اسلامي خاوره اشغال ده، خو کله چې د همدې دين په

(c) ketabton.com: The Digital Library


معامله کولو قدرت ته ورسېدل، بیا د دوی شعار د هغه دیموکراتانو څخه ډېر ذلیل او پست شو، بیا یې هرځه هېر کړل او کفارو سره یې اندېوالي شروع کړه، له یو بل څخه جارېږي او قربانېږي، اوس دوی ته میلوني ډالري کڅوړې رالېږي او یو له بله سره یې خه پخه وروري شروع کړې ده.

اللهﷻ فرمايي: **تَرَى كَثِيراً مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِينَ كَفَرُواْ لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ أَنفُسُهُمْ أَن سَخِطَ اللّهُ عَلَيْهِمْ وَفِي الْعَذَابِ هُمْ خَالِدُونَ ﴿80﴾وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِالله والنَّبِيِّ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَاء وَلَكِنَّ كَثِيراً مِّنْهُمْ فَاسِقُونَ[81ـ سورة المائدة]**

**ژباړه: ته له هغوی څخه زیاتره داسې خلك وینې چې د مؤمنانو په مقابله کښې د کفارو ملاتړ او ملگرتیا کوي. په یقیني توگه ډېر بد عاقبت دی چې د هغوی نفسونو د هغوی لپاره تیار کړی دی دا چې الله پر هغوی په غضب شوی دی او هغوی په همېشني عذاب کښې لتاړېدونکي دي. که په ریښتیا سره دا خلك د الله، پیغمبر او هغه څه منوونکي وای چې پر پیغمبر نازل شوي وو؛ نو هېڅکله به یې د مؤمنانو په مقابله کښې کافران خپل دوستان نه نیول؛ مگر له هغوی څخه زیاتره خلك د الله له اطاعت څخه وتلي دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو طالبه د الله عزوجل له اطاعته وتلي خلک یاست مهرباني وکړئ د الله رب العالمین دین ته رجوع وکړئ ،که نه انجام به مو ډیر تریخ او بد وي .

## یوه پوښتنه او د هغې څلور (۴) ځوابونه

د یوه مجاهد ورور پوښتنه داده چې سیاسي نظام خو د مسلمانانو خلیفه او امیر تطبیقوي، دا خو د امیر المؤمنین او د مشرانو کار دی، نو څنګه تاسې دا خبره کوئ چې زموږ هر مجاهد باید سیاستمداره مجاهد وي او هر مجاهد باید په سیاست باندې ځان پوهه کړي، دېته څه ضرورت دی؟

### 1. لومړی ځواب:

**مجاهده وروره!** کچېرته موږ او تاسې د اسلام د سیاسي نظام په اهمیت پوهه شو نو دا پوښتنه خپله ځواب وبوله، مګر راځو اوس د همدې پوښتنې ځواب ته ان شاءالله،هغه دا چې یو د اسلام د سیاسي نظام تطبیق دی، او دوهم د اسلام د سیاسي نظام دفاع ده، یعنې یو تطبیق او بل دفاع خبره شوه، دا سمه ده چې د اسلام د سیاسي نظام تطبیق د مشرانو پورې اړه لري، مشران باید دا عملي او تطبیق کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو د همدې سياسي نظام دفاع بيا د هر مجاهد فريضه ده چې له دې نظام څخه په هر ډګر کې بايد دفاع وکړي.
نو مجاهده وروره! په نظامي ډګر کې د دغه نظام دفاع په تا باندې هم فرض ده او د مجاهدينو قتال او جهاد د همدغې سياسي نظام د حاکميت لپاره دی.

له دې نظام څخه به په نظامي، دعوتي، اقتصادي، اعلامي او سياسي ډګرونو کې د تل لپاره دفاع کوې، نو د اسلام په سياسي نظام به لومړی ځان مطمين کړې او دومره به پرې ځان پوهه کړې چې نورو ته پرې هم قناعت ورکړای شې، هم به خپله په دې قانع يې چې دا د اسلام حقيقي سياسي نظام دی او ستا مبارزه او دفاع په حقه ده او هم به نور په دې قانع کړلای شې، نو هله به ته د اسلامي نظام د مدافع په بڼه تصور شې.

**ورونو!** کله چې تاسې د کوم نظام په دفاع کې خپل سر ورکوئ نو لازمه ده چې د دغه نظام په حقيقت، ارزښت او اهميت ځان پوهه کړئ، نو کله چې تاسې په دې مطمين نه ياست چې د کوم نظام څخه ته دفاع کوې، آيا دا رښتينی د اسلام سياسي نظام دی او که نه د اسلام د سياسي نظام په نوم چېرته په دوحه کې ډيزاين شوی موجوده نظام دی؟ نو کله چې ته مطمين نه يې نو بيا نه خپله په سمه توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library


مبارزه مخ ته وړلای شي، نه خپلو نورو ورونو ته دا تلقین ورکولای شي او نه هغوی ترغیبولی شي، نه هم خپل دښمن سره په دې اړه مبارزه او مناقشه کولای شي او نه هم نور خلک دغه حقیقي اسلامي نظام ته دعوت کولای شي.

اي زما مجاهده وروره! کچېرته ته د اسلام سیاسي نظام ونه پېژنې نو اړینه ده چې بل څوک به دربانديې د اسلام د سیاسي نظام په نوم یو طاغوتي نظام حاکموي، لکه اوس چې د امارت اسلامي (!) په زرګونو کشران په دوحه کې د آي ایس آي (ISI) او امریکایي څواکونو لخوا په ډیزاین شوې دیموکراتیک موجوده نظام غولېدلي دي، چې ګوندې دا هم اسلامي نظام دی او که زه او ته هم د خپل حقیقي اسلامي نظام په اړه هر اړخیزه مالومات ونلرو نو زموږ انجام به هم بیا د طالبانو د کشرانو په څېر وي، اعاذنا الله.

## 2. دوهم ځواب:

کچېرته تاسې ته دښمن ووایي چې ستاسې دا مبارزه او دا جګړه بې معنا ده، یانې کومې قرباني چې ورکوئ دا کومه نتیجه نه ورکوي هسې مو قرباني ضایع کیږي، ځکه یو تعداد ملحدین وایي چې تاسې د تطبیق لپاره کوم داسې کامیاب سیاسي نظام نه لرئ، یو تعداد یې بیا وایي چې سیاسي نظام مو شته هسې د جوړښت او ساختار په

(c) ketabton.com: The Digital Library


شکل موجود دی، د نظام حکمونه مو شته خو په اوس وخت کې د تطبيق وړ نه دي، ځکه دا په پخوانيو پېړيو کې جوړ نظام دی او اوس خو ماډرن دور دی، د اوس عصر سره بايد د همدې عصر نوی نظام چې ديموکراسي ده هغه بايد تطبيق شي او د اسلام سياسي نظام په اوسني عصر کې د عملي کېدو وړ نه دی.

نو ته که له مخکې څخه د اسلام د سياسي نظام په اړه پوهه او مطالعه ونلرې نو مجبور يې چې ورته غلی پاتې شې او يا به ورته ووايې چې ته صبر وکړه زموږ ددې نظام تطبيق کوونکي خو خليفة المسلمين، واليان او داسې نور مشران دي زه لاړ شم او له هغوی څخه ستا د دې شبهاتو ځواب راواخلم؟

نو وروره په هر ډګر کې له دې نظام څخه دفاع په ما او تا فرض ده، ځکه د همدغه نظام د حاکميت لپاره جهاد فرض شوی، نو د داسې ملحدينو شبهاتو څخه دفاع کول هم په موږ فرض ده، د دوی د ځواب لپاره لازمي ده چې هر مجاهد بايد په سياست او اسلامي نظام باندې پوهه شي، ترڅو هر ډګر کې داسې ملحدينو ته غاښ ماتونکی ځواب ورکړي.

مجاهدينو ورونو د هر فکر او هرې عقيدې لپاره چې نن يو څوک مبارزه کوي، نو شاته يو هدف خامخا لري، چې هغه هدف يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library


همدغې عقیدې حاکمیت دی، څوک مبارزه کوي چې سیکولریزم حاکم کړي، څوک د کمونیزم د حاکمیت لپاره قرباني ورکوي او څوک هم د نورو طاغوتي نظامونو لپاره خپل سرونه خاورې کوي، ځینو بیا د بین الملل طوق لعنت په خپله غاړه کې اچولی دی او لګیا دي ځان د بین الملل طاغوتي قوانینو عملي کولو ته تیاروي، اما د مجاهدینو قتال او فعالیت د دې لپاره دی چې شاته د اسلام سیاسي نظام حاکم شي، نو ځکه د اسلام په سیاسي نظام باندې باید هر مجاهد پوه شي ترڅو مو سبا د اسلامي نظام په نوم څوک دوکه نه کړي.

### 3. دریم ځواب:

زموږ دین د نصیحت او خیرخواهۍ دین دی، په دې اصل د نصیحت کې مشران هم شامل دی **"الدین النصیحة... لله ولرسوله ولأئمة المسلمین وعامّتهم" [الحدیث].**

**ژباړه: دین خیرخواهي ده د الله، د هغه د رسول ﷺ د مسلمانانو د واکمنانو او د عامو مؤمنانو لپاره.**

**دغه راز الله ﷻ فرمایي: ﴿وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ ۖ وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾ {سُورَةُ المَائدة: 2}**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ژباړه: کوم کارونه چې د نېکۍ او الله پالنې دي، په هغو کې له ټولو سره مرسته وکړئ؛ او کوم کارونه چې د ګناه او تېري وي، په هغو کې د هېچا ملاتړ مه کوئ.**

ما او تا ته د نېکیو په تعاون امر شوی دی، همداسې د اسلام په سیاسي نظام کې یو بل سره په همکارۍ امر شوی دی، چې ما او تا په یوه مسئله پوهه نه شو نو څنګه به له یوه بل سره همکاري وکړو؟ څنګه به د یوه کس لاس د منکر څخه لنډوو؟

او څنګه به د اسلام د سیاسي نظام په اړه خپلو نورو ملګرو ته نصیحت، دعوت او ترغیب ورکوو، په داسې حال کې چې خپله هم د نظام په اړه خبر نه یو او له بل چا څخه هم په دې اړه کومه پوهه نه ترلاسه کوو؟

نو په همدې اساس لازمي ده چې ټول مجاهدین د اسلام د سیاسي نظام په ساختار (جوړښت)، تطبیق (عملي کولو) او نورو ټولو اړخونو ځان پوره پوهه کړي، دغه راز له دې کبله هم د اسلام د سیاسي نظام په اړه د مجاهدینو پوهېدل لازمي دي چې په دغه نظام کې د کوتاهۍ کولو او یا نورو نیمګړتیاوو په لیدو خپل امیران پوهه کړي او هغوی ته د هغوی کمزوریانې ورپه ګوته کړي، د اصلاح کوښښ یې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ابوبکر رضي الله عنه چې کله خلیفه کیږي نو په لومړۍ خطبه کې دا خبره کوي؛ اي مسلمانانو! که چېرته ما په نېکۍ امر کاوه نو زما همکاري او مرسته وکړئ او کچېرته ما په شریعت عمل نه کاوه او په درست شکل مې د اسلام سیاسي نظام په عمل کې تطبیق نه کړ او په غلطه لاره باندې روان شوم، نو زما اصلاح وکړئ، نو اوس تاسې چې د اسلام د سیاسي نظام په اړه پوهه او معلومات ترلاسه نه کړئ نو تاسې به څنګه د همدې نظام په اړه د خپلو مشرانو نیمګړتیاوې درک کړئ، څنګه به په دې پوهه شئ چې ستاسې مشران په فلان برخه کې دا نظام په درست شکل نه عملي کوي، څنګه به تاسې د خپلو مشرانو اعمال د دې نظام په تله وتلئ او ارزیابي به یې کړئ، څنګه به دوی ته په نېکۍ باندې امر وکړئ، څنګه به یې د یوه منکر څخه را منعه کړئ، څنګه به هغوی ته لارښوونه وکړئ او کچېرته د اسلام د سیاسي نظام په اړه پوهاوی ولرې، نو ته به ورته ووایې چې ورو‌ره! دغه ځای کې ته په خطا روان یې یا موږ غلط پوهه شوي یاستو تاسو راته قناعت راکړئ او یا تاسو خطاء شوي یاست نو د ځان اصلاح وکړئ.

دلته درسره دا یوه قاعده په یاد ولرئ چې دا مسئله درته سمه روښانه شي او هغه قاعده دا ده چې د اسلام په سیاسي نظام کې د مشرانو د کارونو او امورو څخه نظارت او څارنه دا د هر مسلمان او مجاهد

(c) ketabton.com: The Digital Library


حق دی، دا ځکه چې له انسان څخه اجتهادي امورو کې کله خطا او تېروتنه کیږي او کله هم چې مشران په شریعت پوهه خلک وي، نو ستا په سالمه نیوکه هغوی نه خفه کیږي، بلکې ډېر ژر له خپلې ناسمې کړنې رجوع کوي او له خپل منکر او تېروتنې څخه راګرځي.

کله چې رسول الله ﷺ وفات شو او عمر رضي الله عنه خبر شو، نو راپاڅېده او ویې ویل: که هر چا وویل چې رسول الله ﷺ وفات شوی دی، نو په دې توره به ترېنه سر غوڅ کړم، نو په دې وخت کې ابوبکر رضي الله عنه د عمر رضي الله عنه د خبرې په مقابل کې د قرآن او سنت څخه دلیل ورته وړاندې کړ، نو عمر رضي الله عنه قناعت وکړ او له خپلې خبرې څخه په شاه شو، بیا دا خبره همداسې مبهمه نه پرېښودي، بلکه سبا ته چې کله د ابوبکر رضي الله عنه سره مسلمانان بیعتونه شروع کوي او ابوبکر رضي الله عنه لومړۍ خطبه ورکوي نو مخکې له دې چې خطبه پیل کړي عمر رضي الله عنه پاڅیږي او وایي: چې اې مسلمانانو! پرون چې ما کومه خبره کړې وه زه په غلطه وم، په دې خبره نه وم پوهه شوی، نو زه له خپلې خبرې څخه رجوع کوم، پرون چې ما کومه خبره کړې وه ما له خپل ځانه کړې وه، شریعت له دې څخه بري دی او بیا د ابوبکر رضي الله عنه توصیف کوي او بیعت ته یې خلک رابلي، هدف له دې خبرې څخه همدا دی چې که چېرته په اوس وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې هم مشران کله نا کله تېروتنه کوي، نو که د قرآن، سنت او د رسول الله ﷺ د سیرت په دلایلو ورته قناعت ورکړو او د لارې حل ورته وښایو دا به ډېره غوره وي له دې څخه چې د همدې مشرانو همدا نیمګړتیاوې پرته له دې چې هغوی ورته متوجه شي هر مجلس او د هر چا غوږونو ته په دې نیت ورسوو چې تخریب او شخصیت وژنه یې وکړو، مشران چې د دې اسلامي نظام لپاره خپلې وینې ورکوي، نو خامخا د خپلو تېروتنو څخه رجوع هم کوي او په بدل کې یې د حق لاره انتخابوي.

### 4. څلورم ځواب:

د خلافت څو کاله کیږي چې قایم شوی دی او له دې څخه وړاندې په همدې افغانستان کې د اسلامي نظام د قیام لپاره څومره وینې وبهېدلې، مګر هېڅ سمه نتیجه یې ورنکړه ولې؟

دا ځکه چې خلکو سره د اسلام د سیاسي نظام په اړه معلومات نه وو، یا خو ورته نه و رسېدلي او یا هم په زوره د اسلام د حقیقي نظام له پوهاوي څخه لرې ساتل کېدل، د یو نیم میلیون خلکو وینې تویې شوې او نور په میلیونونو خلک خپل کور،کلي او مال پرېښودلو ته اړ شول، دا هر څه یې د اسلام د حاکمیت لپاره قربان کړل، خو که دې خلکو د اسلام په سیاسي نظام باندې پوهه لرلای، نو همدا د کفارو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروژو تطبیقونکي رهبران او مشران به یې له ګرېوانه رانیولي وای، چې د اسلام سیاسي نظام یو څه غواړي مګر تاسې بل څه غواړئ او د نورو اهدافو لپاره لګیا یاست، همداسې دا په دې شل کلنه دوره د امریکایي اشغال کې وګوره څومره د اسلام په نوم خلک استعمال شول، که دا مسلمانان د اسلام د سیاسي نظام په اړه په ټولو مسائلو پوهېدای نو خامخا به د حق طرف ته راغلي وای، خلافت سره به ټولو بیعتونه کړي وای، مګر داسې ونه شول او د روسانو په وړاندې د مقاومت د مشرانو تاریخ بیا تکرار شو، څنګه چې هغو رهبرانو د ملت په قربانیو تجارت کړی و، دېته ورته د دوی مشرانو هم د ټول افغان ولس په قربانیو تجارت پیل کړی او لګیا دي په دوحه کې هېزاین شوې مړ ژواندې دیموکراسي چې د ارګ په تخته پرته ده او د امریکایي ډالرو سیروم ورته چالان دی په خلکو د اسلامي نظام په حیث ومني او خلک چې هم د اسلام د حقیقي سیاسي نظام په اړه پوهاوی نه لري دا دی په پټو سترګو ورسره دا هر څه د اسلامي نظام په نوم مني او لکه د ړندو چرګانو د خپلو مشرانو پسې روان دي، دانه ګوري او دام نهویني، الله ﷻ فرمايي:﴿إِذْ تَبَرَّأَ الَّذِينَ اتُّبِعُواْ مِنَ الَّذِينَ اتَّبَعُواْ وَرَأَوُاْ الْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الأَسْبَابُ ﴿166﴾ وَقَالَ الَّذِينَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتَّبَعُواْ لَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّأَ مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّؤُواْ مِنَّا كَذَلِكَ يُرِيهِمُ اللّهُ أَعْمَالَهُمْ حَسَرَاتٍ عَلَيْهِمْ وَمَا هُم بِخَارِجِينَ مِنَ النَّارِ ﴾ [البقرة: 167]

**ژباړه:** کله چې هغه کسان چې اتباع يې شوې وه، له هغو کسانو څخه بېزاره شي چې اتباع يې کړې وه، عذاب ووينې او پر دوی (ټولې) وسيلې غوڅې شي، او چا چې پيروي کړې ده، هغوی به وايي: ارمان! که زمونږ لپاره (دنيا ته) بيا تلل وی، نو له دوی نه به مونږ بېزاره شو لکه چې دوی له مونږ نه بېزاره شول، همدارنګه به الله دوی ته خپل عملونه په دوی باندې د حسرتونو لپاره ښکاره کوي او دوی له اور نه کله هم وتونکي نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ديپلوماتيکه جګړه

د اسلام سياسي نظام يو داسې نظام دی، چې د هرې برخې او هر حرکت لپاره يې خپل اصول او اساسات ټاکلي دي،نو کله چې د اسلام د سياسي نظام په تړاو يوه اصطلاح ذکر کوو بايد د هغې اصطلاح تعريف او شروط هم خپله د اسلام مبين دين تعيين کړي وي، داسې نه ده چې يوې اصطلاح سره يوازې د اسلام نوم ذکر شي، خو بيا لاندې اصول، قوانين، تګلاره او اساسات يې ټول د اسلام خلاف او د بين الملل په وضعي او کفري قوانيو برابر وي.

يوازې د اسلام په نوم ورکولو باندې يو شئ اسلامي کېدای نشي، ترڅو چې کوم اصول او حدود اسلام د هغې اصطلاح لپاره تعيين کړي وي د هغې ټولو لحاظ ونه ساتل شي.

ديپلوماتيکې اړيکې يا په بله اصطلاح سياسي ديپلوماسي دا هغه عناوين دي، چې تاسې به ډېرو کتابونو کې کتلي او لوستلي وي او روزمره به هم ستاسې تر غوږونو در رسېږي، نن سبا ډېر خلک د اسلام په نوم کفري ديپلوماسي او طاغوتي ديپلوماتيکې اړيکې پالي، خو بيا هم خپل کفري نظام ته د اسلامي نظام نوم ورکوي، په ډېره سپين سترګۍ وايي چې: زموږ نظام اسلامي او زموږ سياست شرعي دی، خو بلې خوا بيا د دوی ټولې اړيکې د کفري ديپلوماسۍ څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې منبع یی د بین الملل طاغوتي اورګان دی سرچینه اخلي.

دغه باطله ډله چې یوې خوا ته د اسلامي نظام دعوه لري بلې خوا ته بیا وایي چې: موږ د ټولو کفارو او مرتدینو سره دوستانه او دیپلوماتیکې اړیکې غواړو، عام مسلمانان په دې دوکه کوي چې زمونږ نظام اسلامي دی په داسې حال کې چې اور او اوبه هېڅکله هم سره نه یوځای کېږي.

## ورونړو!

نن سبا یوې خوا ته د بین الملل کفري قانون دی چې غلیظه کافرو او د اسلام سره سرسخته دښمنانو وضع کړی او بلې خوا ته د اسلام قانون دی چې الله رب العالمین رالیږلی دی، د هرې سیاسي اصطلاح لپاره بین الملل ځانګړی تعریف او اصول لري او اسلام ځانته د هغه لپاره اصول او تعریف وضع کړی دی.

اسلام چې کوم سیاست غواړي او عملي کوي یې هغه د بین الملل خلاف دی او کوم چې نن سبا بین الملل غواړي تطبیق او حاکم کړي، نو دا د اسلام خلاف قوانین او حاکمیت دی، یا به د اسلام قوانین او سیاست منې یا به د بین الملل کفري قوانین او سیاست، په یوه وخت کې د دواړو منل امکان نه لري لکه طالب چې په یوه وخت کې دواړو ته جواز ورکوي، هم دعوه کوي چې اسلامي نظام مو حاکم کړی او هم

(c) ketabton.com: The Digital Library


اعتراف کوي چې د بین الملل اصولو او قوانینو ته احترام لرو او منو یې، نو داسې نشي کېدای، ځکه چې د کفر او اسلام یوځای کول تاسې ځنګه ارزوئ؟

د دواړو یو ځای والی په یوه وخت کې امکان نلري، ځکه چې یو شرعي منهج او سیاست دی او بل طاغوتي،یو کس هغه وخت مسلمان او مؤمن حسابېږي چې شرعي منهج او سیاست قبول او په همدې وخت کې د طاغوتي تګلارې او دریځ څخه برائت وکړي، الله ﷻ فرمایي: ﴿فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىَ لاَانفِصَامَ لَهَا وَاللّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾ [البقرة: 256]

**ژباړه: نو چا چې په طاغوت کفر وکړ او په الله یې ایمان راوړ، نو بېشکه چې هغه منګولې ښخې کړې په کلکه رسۍ باندې چې شکېدل یې نشته، یقیناً الله اورېدونکی او پوهه دی.**

الله رب العالمین ټول انبیاء د همدې لپاره رالېږلي دي چې کفري او طاغوتي قوانینو او سیاست سره مبارزه وکړي او اسلامي قانون او سیاست عملي او تطبیق کړي چې نن سبا دا د اسلامي امت دنده ده او څوک چې غواړي اسلام ته خدمت وکړي باید طاغوت سره مبارزه وکړي، الله ﷻ فرمایي: ﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولاً أَنِ اعْبُدُواْ اللّهَ

(c) ketabton.com: The Digital Library


﴿وَاجْتَنِبُواْ الطَّاغُوتَ فَمِنْهُم مَّنْ هَدَى اللّهُ وَمِنْهُم مَّنْ حَقَّتْ عَلَيْهِ الضَّلالَةُ فَسِيرُواْ فِي الأَرْضِ فَانظُرُواْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ﴾ ﴿النحل: 36﴾

**ژباړه: موږ په هر اُمت کي يو پيغمبر پيدا کړ (ولېږه)، او د هغه په وسيله مو ټول خبر کړل چې: د الله بندگي وکړئ او د طاغوت له بندگۍ څخه ځان وژغورئ. نو وروسته له هغو څخه چا ته الله لاره وښودله او پر چا گمراهي مسلطه شوه. نو په ځمکه کې وگرځئ راوگرځئ، وگورئ چې درواغ گڼونکي له کوم برخليك سره مخامخ شول.**

هېڅکله اللهﷻ ته مکس او چکني شانته گډوله دين او سياست قبول نه دی، هر څه بايد صفا او خاص د اللهﷻ لپاره وي.

څوک چې له اسلامي سياست څخه پرته د بين الملل قوانين ومني او خپلې فيصلې همدې کفري قانون ته يوسي، يقيني ده چې داسې ډلو بغير د اسلام څخه بل دين قبول کړی دی، چې الله رب العالمين ته دا دين د منلو وړ نه دی ځکه زمونږ دين سياست او سياست مو دين دی چې له اسلامي سياست (دين) څخه پرته بل دين قبلول کفر دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library


لله ﷻ فرمايي: ﴿وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الإِسْلاَمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ﴾ [آل عمران:85] .

**ژباړه: د اسلام څخه پرته چې که هر څوک بل کوم دين غوره کړي، هېڅکله به ورڅخه قبول نه کړای شي او په آخرت کې به هغه ناکام او زيانمن وي.**

**دغه راز الله ﷻ فرمايي: ﴿أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ﴾ ﴿المائده: 50﴾**

**ژباړه: (که دوی د الله د قانون څخه مخ اړوي)، نو آيا بيا د جاهليت فيصله غواړي؟ په داسې حال کې کوم خلک چې په الله باور لري د هغوی په نزد له الله څخه بل غوره فيصله کونکی نه شته دئ .**

زمونږ دين ټول سياست دی، څوک چې له اسلامي سياست څخه پرته کفري سياست ته پناه يوسي او خپله پرېکړه په داسې حال کې بين الملل ته وړي چې الله رب العالمېن د داسې قوانينو سره مبارزه په مسلمانانو باندې فرض کړې ده، نو دا کس د اسلام څخه په شا او مرتد شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


الله ﷻ فرمايي:﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُواْ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُواْ إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُواْ أَن يَكْفُرُواْ بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلاَلاً بَعِيدًا﴾{سُورَةُ النِّسَاء: 60}

**ژباړه: اي پيغمبره! آيا تا هغو خلکو ته نه دي کتلي چې دعوه کوي چې موږ پر هغه کتاب چې تا ته راغلی دی او پر هغو کتابونو چې له تا څخه مخکې نازل شوي ول ايمان راوړی دی، خو غواړي چې خپلې چارې د فيصلې لپاره د طاغوت لوري ته وړاندې کړي. حال دا دی چې هغو ته له طاغوت څخه د منکرېدو حُکم شوی و، شيطان غواړي هغوی وغولوي او د سمې لارې څخه يې ډېر لرې وباسي.**

تاسې د هغه بې دينه او منافق صفته کسانو خبرو ته وګورئ چې د کفر راضي کېدلو لپاره يې د خلافت په خلاف په درواغو شل رقمه تهمتونه وتپل، خو بيا خپله په دومره فحشا او ګناه کې ډوب شول، چې ټوله نړۍ يې حيرانه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسې خلک الله رسوا کړل، دګمراهۍ بېلګې، مثالونه او لسګونه ثبوتونه يې رسنيز شول، خو دوی اوس دا هر څه توجيه کوي، حال دا چې دې ته سوچ نه کوي وايي چې د هرې محکمې تللو ته تيار يم







تاسې ولولئ ، وايي چې د اسلامي امارت محکمي ته راسره ځي او که بلې محکمې ته، دواړو ته چمتو يم، ياني د امارت محکمه که له يوې خوا اسلامي ګڼي او بل لور ته بيا وايي چې که په دې محکمه مخالف لورى باور نه لري نو که هرې محکمې ته ځي ورسره تللو ته تيار يم، ياني دوی د هرې کفري محکمې په پريکړو او فيصلو راضي دي، چې دا صراحتاً کفر دی.

خپله فيصله کې کفار او مرتدين حاکمان او قاضيان مقرر کول دا صراحتا کفر دی او څوک چې خپلې فيصلې بغير د اسلامي محکمې نه بل طرف وړي او دې باندې راضي کيږي دا کس مرتد دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**الله ﷻ فرمايي:﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُواْ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُواْ إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُواْ أَن يَكْفُرُواْ بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلاَلاً بَعِيدًا﴾ ﴿سُورَةُ النِّسَاء: 60﴾**

**ژباړه: اي پيغمبره! آيا تا هغو خلکو ته نه دي کتلي چې دعوه کوي چې موږ پر هغه کتاب چې تا ته راغلی دی او پر هغو کتابونو چې له تا څخه مخکې نازل شوي ول ايمان راوړی دی، خو غواړي چې خپلې چارې د فيصلې لپاره د طاغوت لوري ته وړاندې کړي. حال دا دی چې هغو ته له طاغوت څخه د منکرېدو حُکم شوی و. شيطان غواړي هغوی وغولوي او د سمې لارې څخه يې ډېر لري وباسي.**

بل ځای کې الله رب العالمين قسم کړی دی چې هغه څوک مسلمان نه دی کوم چې د الله له دين پرته بل څه قاضي او حاکم نيسې.

**الله ﷻ فرمايي: ﴿فَلاَ وَرَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتَّىَ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُواْ فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا﴾ ﴿النساء: 65﴾**

**ژباړه: نه، اې محمد ستا په رب قسم چې دوی هېڅکله مؤمنان کېدای نشي، ترڅو چې په خپل منځي شخړو کې تا فيصله کوونکی ونه مني.**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**بيا چې ته څه فيصله وکړې، پر هغې باندې په خپلو زړونو کې هم څه تنگي احساس نه کړي؛ بلکې سر تر پايه يې ومني.**

**قال المفسرون: يقسم تعالى بنفسه الكريمة المقدسة أنه لا يومن أحد حتي يحكم الرسول  في جميع الأمور، فما حكم به فهو الحق الذي يجب الانقياد له باطنا وظاهراً ﴿التفسير﴾**

**ژباړه: مفسرينو ويلي دي: الله تعالی په خپل عزتمند پاک نفس قسم کړی دی په دې خبره چې هېڅوک مؤمن نه دی تر دې چې رسول الله ﷺ په خپلو ټولو کارونو کې حاکم کړي نو پر څه چې هغه (رسول اللهﷺ) فيصله کړې، هغه حق دی چې په ښکاره او پټه يې تابعداري واجب ده.**

د ده په څېر په لسګونو نور مشران يې داسې دي چې حتی په خپلو خبرو باندې هم نه پوهېږي چې دې خبره باندې زه مرتد کېږم، خو بيا هم راولاړېږي او په مبارک صف باندې تهمتونه لګوي، اوس يو عادي مسلمان هم په دې پوهېږي چې د اسلامي محکمې څخه پرته بلې محکمې ته فيصلې وړل کفر او ارتداد دی چې د دوی ډېر مشران په دې کفر کې نښتي دي.

دوی صرف د ظاهري ځو ورځو قدرت او چوکۍ لپاره چې د دې چوکۍ مهار يې هم د بل چا په لاس کې دی، د الله رب العالمين په

(c) ketabton.com: The Digital Library


رالېږل شوي دين او سياست باندې معامله وکړه او د کفارو له سياست څخه يې اطاعت شروع کړ او اوس په علني شکل دغه کفر ته په فيصلو وړلو اعتراف کوي، ترڅو د نړيوالو په وړاندې خپل برباد حيثيت راجوړ کړي، خو دوی ته وايو چې عزت يوازې الله رب العالمين سره دی د کفارو غېږ کې نه حاصلېږي.

**اللهﷻ فرمايي: ﴿الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاء مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ العِزَّةَ لِلّهِ جَمِيعًا﴾ {النساء:139}**

**ژباړه: هغه کسان چې مؤمنان پرېږدي، له کافرانو سره د دوستۍ اړيکې ټينګوي، آيا دا خلك د عزت لاس ته راوړلو لپاره هغو ته ورځي، په داسې حال کې چې هر راز عزت يوازې د الله لپاره دی.**

عامو مسلمانانو ته وايو چې تاسې بايد د اسلام له سياسي نظام څخه پوره شناخت او معلومات ولرئ، داسې نه چې د اسلام په نوم مو څوک د اسلام په ضد او د بين الملل په رضايت کې استعمال کړي، هره اصطلاح او خبره چې يوازې په نوم اسلامي نظامونه کاروي، بايد د اسلام د سياسي نظام په هنداره کې وکتل شي چې دې اصطلاح او نظم ته اسلام په کوم نظر ګوري او کوم اصول يې ورته ټاکلي دي چې له دې څخه يوه اصطلاح او مسئله د ډيپلوماتيکو اړيکو ده، چې دلته مونږ د **ډيپلوماتيکې جګړې** نوم ورکوو، ځکه دا اړيکې نن سبا

(c) ketabton.com: The Digital Library


د اسلام د سياسي نظام د محوه کولو لپاره جوړې شوي او عملي کيږي، دا يوه پټه او سري جګړه ده چې د اسلامي نظام مقابله کې خپل اصول او شرايط لري.

**ورونو!** موږ او تاسې د اسلام د سياسي نظام په تړاو دا خبره کړې وه چې دا نظام په دوه بعدو کې مطرح کيږي،چې يو يې داخلي او بل يې خارجي دی،په سياسي نظام کې خارجي سياست او اړيکو کنټرولولو ته ديپلوماسي وايي.

لومړی د ديپلوماسۍ هغه تعريف کوو چې دښمن هم همدغه تعريف د ديپلوماسۍ لپاره مني او هماغه تعريف يې مراد وي، مګر دا تعريف په عامو الفاظو باندې بيانوو،چې ذهن مو پرې سم خلاص شي،ډېر وخت به مجاهدين دې سره مخامخ شي،چې د دښمن لخوا ورته د مذاکراتو وړانديزونه يا د سولې خبرې رامخ ته شي، دا د سولې باب او د مذاکراتو مسائل دا ټول د اسلام د سياسي نظام د خارجي برخې پورې مربوط مسائل دي، چې په سياست کې د ديپلوماسۍ په باب کې تشريح کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسلام په سیاسي نظام کې ډيپلوماسي

ډيپلوماسي د اسلام په سياسي نظام کې درې اساسي شروط، ارکان، محور، ستنې، او اصول لري چې د دغه درېو اصولو يا ارکانو له مراعتولو پرته د اسلام سياسي نظام کفارو سره د هېڅ ډول اړيکو اجازه نه ورکوي.

- ♦ **لومړی: د دعوت ستراتېژۍ ته لاره هوارول.**
- ♦ **دويم : د اسلامي قلمرو د پرمختګ ستراتېژۍ ته کار کول.**
- ♦ **درېيم : د قتال استراتېژۍ لپاره لاره جوړول.**

د اسلام د سياسي نظام په ډيپلوماسۍ کي لومړی رکن او محور هغه دا دی چې دا ډيپلوماسي بايد د دعوت ستراتېژۍ لپاره زمينه مساعده کړي چې ډېر په ښه ډول تطبيق شي او ترېنه په درست شکل دفاع وشي.

د اسلام په سياسي نظام کې د ډيپلوماسۍ دويم رکن او اساس دا دی چې د اسلام د قلمرو د پرمختګ ستراتېژۍ لپاره زمينه مساعده کړي چې په ډېر ښه شکل دا ستراتيژي تطبيق او ترېنه دفاع وشي چې په نتيجه کې د اسلام حدود او قلمرو پرمختګ وکړي او پراخوالی ومومي (دا د سولې/جزيې د برخې ستراتيژي ده)

(c) ketabton.com: The Digital Library


د اسلام په سیاسي نظام کې د ډیپلوماسۍ دریم رکن او اساس دا دی چې د قتال ستراتېژۍ لپاره زمينه مساعده شي،چې دغه ستراتیژي هم په ښه ډول تطبيق شي او ترېنه دفاع وشي.

## د مسلمانانو په سیاسي نظام کې ډیپلوماسي په همدې درېو محورونو باندې راڅرخېږي.

**لومړنی محور:** د اسلام په سیاسي نظام کې د دعوت ستراتېژۍ لپاره زمينه سازي کول دي.

په بل تعبير د اسلام سیاسي نظام هغه وخت ډیپلوماتیکو اړیکو ته اجازه ورکوي چې دا درې شرطونه يا ستراتیژیانې عملي او يا ورته زمينه مساعده شي چې **لومړی محور او رکن** يې د اسلام د دين نشر او دعوت دی.

**دوهم محور:** يې د اسلامي خاورې د پراخوالي ستراتیژي ده او دغه ستراتیژي به څنګه لاسته راوړو؟ نو کفارو ته پيغامونه لېږل کيږي، خلک به دعوت کيږي او ځينې وخت کفار پرته له جګړې د دعوت په قبلولو جزيه ورکولو ته غاړه کېږدي چې دلته د جزيي ورکولو په نتيجه کې د اسلامي نظام قلمرو پراخيږي، څکه چې کفار که جزيه ورکولو ته تيار شول نو بيا دلته ټول د اسلام نظام قائميږي او فيصلې هم اسلامي نظام کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library


**دریم محور: د قتال ستراتیژي ده.**

نو په همدې اساس ویلی شو چې د اسلام په سیاسي نظام کې دیپلوماسي په درېو ستراتیژیو ولاړه ده، یانې زه غواړم چې د دعوت ستراتیژي تطبیق کړم او پکې پرمختګ وکړم، نو د دې دیپلوماسۍ څخه کار اخلم او که زه غواړم د اسلامي خاورې د پراخوالي ستراتیژي تطبیق کړم له همدې دیپلوماسۍ څخه کار اخلم او که زه غواړم د جهاد او قتال ستراتیژي تطبیق کړم نو بیا هم له همدې دیپلوماسۍ څخه کار اخلم،له دې څخه پرته نور دیپلوماتیکې اړیکې د کفارو سره په هېڅ صورت جواز نلري.

یانې هر وخت چې ستاسې اړیکو کې د اسلام د دین دعوت کېدلو او یا د اسلامي قلمرو پراخېدلو او یا د قتال لپاره زمینه مساعده کېدله نو بیا تاسې کؤلای شئ چې د همدې درېو ستراتیژیو د عملي کولو لپاره خپلو اړیکو ته د دیپلوماتیکو اړیکو او یا د سیاسي دیپلوماسۍ نوم ورکړئ.

د اسلامي نظام دیپلوماسۍ کې همدا درې رکنه دي، نور دا خبرې نشته چې کفارو ته عذرونه او زارۍ وکړې، چې هله زما پیسې را خوشې کړه او ما په رسمیت وپېژنه او موږ د تور لېست څخه اوباسه، موږ ته په ملل ملحده کې غړیتوب او چوکۍ راکړه، موږ د کفر په ملت

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې رسمي ومنئ، مونږ سره متقابلې اړیکې ټینګې کړئ، مونږ د چا داخلي چارو کې کار نلرو(یعنې نه دعوت درکوو نه اسلامي قلمرو پراخولو نیت لرو، نه قتال درسره کوو نه د مسلمانانو او مظلومو اسیرانو پوښتنه درنه کوو) بناءً دا کیسې به پکې نه کوې.

**هو! دا کیسې او غوښتنې د غربي ډیپلوماسی او ډیپلوماتیکو اړیکو اجزاء او ارکان دي.**

کچیرې تاسو دښمن سره د مذاکراتو په میز کېناستئ، په مذاکراتو کې به د چوکۍ ترلاسه کولو او کفارو څخه د رسمیت اخیستو او هغوی سره د تعاملاتو او دوستۍ په فکر کې به نه کېږئ، بلکې یوازې د شریعت لومړنی منافع (منافع علیا) به په پام کې ساتئ چې هغه همدغه درې منافع دي، کوم چې مخکې بیان شول، چې د دعوت، قلمرو او د قتال ارکان او اساسات دي، دا د اسلامي نظام د پراخوالي او د تطبیق ستراتیژیانې دي.

**آیا کفار په دې درې اصولو مجاهدینو سره د مذاکراتو میز ته حاضریږي؟!**

نه! هېڅکله هم نه! صرف هغه وخت به حاضر شي چې ښه سم وځپل شي، کبر یې مات او نور د جګړې توان ونلري نو بیا به ووایي چې د اسلامي اصولو سره سم سولې ته آماده یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځکه خو اسلام امر کوي، چې دښمن وځپئ، وځپئ ترڅو دې درې خبرو ته غاړه کېږدي، شریعت وایي چې تاسو همدغه د قتال ستراتېژۍ ته تر هغه دوام ورکړئ، چې دښمن مو دومره ذلیل شي، چې خپله تاسې ته د تسلیمۍ او یا د سولې د خبرو وړاندیز وکړي، داسې نه لکه د طالبانو په څېر چې هلته یو طرف لاپې وهي چې مونږ امریکې ته ماته ورکړه، خو بل لور ته بیا همدې ماتې امریکې دا بیچاره ګان په دیپلوماتیکه جګړه کې داسې راخملولي او په خېټه ورته ناسته ده چې هره ورځ ورته یو یو شرط وړاندې کوي ترڅو پرې سوچه کفر قبول کړي، لکه څنګه یې چې پرې قبول کړی دی او دا منافقانه ارتداد هم ورسره نه مني، خو د اسلام په مبین دین کې تر هغې تاته د دیپلوماتیکو اړیکو اجازه نشته چې ترڅو دې دښمن ښه سم ځپلی، ذلیله، له هر لوري محاصره، بې وسه او د برې تمه دې ورپرې کړې نه وي تر هغې به فقط د قتال په ستراتېژۍ عمل کوې او بس.

کوم وخت چې د دښمن لخوا تاسې ته د مذاکراتو وړاندیز کیږي، نو ستاسې ذهن ته باید راشي چې دا خو د اسلام د سیاسي نظام خارجي سیاست دی او د دیپلوماسۍ په باب کې دا مورږ ته تشریح شوې چې د دښمن هدف د مذاکراتو څخه څه شی دی؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دېته مو د ديپلوماتيکي جګړې عنوان ځکه ورکړ چې نن سبا په نړۍ کې د نظامي جګړې ترڅنګ د مسلمانانو د ذهنونو او افکارو د تسخير لپاره او همدارنګه د مسلمانانو د سياسي نظام او حاکميت د ختمولو لپاره دا ډېر لوی او پراخه جنګ دی چې د کفارو له طرفه له ډېره وخته شروع شوی دی.

خلک ورته ديپلوماتيکي اړيکې وايي، خو دا اصل کې ديپلوماتيکه جګړه ده، د دوی مشران ښه پدې خبره پوهه دي چې نن سبا د ديپلوماتيکو اړيکو مانا څه شئ ده؟

دا ديپلوماتيک جنګ دی چې د دې عنوان لاندې بيا سوله، مذاکرات، کفارو سره راشه درشه دا ټول په دې کې شامل دي.

## وروڼو!

ډېر خلک به دېته خوشحاله وي، چې د دښمن سره بايد سوله وشي، ذهن ته يې داسې خبرې راځي چې کېدای شي د جګړې او د قتال د لارې نه موږ ډېر په ستونزو سره خپل هدف ته ورسېږو، راځه له دغې لارې ځان ورمخکې کړئ، د مذاکراتو او د ډيالوګ له طريقه به د اسلام سياسي نظام حاکم کړو او د بين الافغاني او بين الکفار والامريکايي مذاکراتو څخه وروسته به اسلامي نظام راشي او د اسلام سياسي نظام باندې به فيصلی وشي (!) هم به مو چوکۍ ترلاسه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library


وي او هم به مو نومونه له تورو لېستونو وتلي وي، هم به له کفري هېوادونو سره راشه درشه، اړيکې او دوستي ولرو، هم به په اونۍ کې د ميليونونو ډالرو کڅوړې راروانې وي او هم به اسلامي نظام (!) حاکم کړو... آيا دا هر څه د يوه سالم عقل په دايره کې راتلای شي؟ ځينې د اسلام په نامه راپورته شوي د کږو منهجونو لرونکي او د استخباراتي کړيو کرايي جنګيالي چې کله په جګړه کې شکست وخوري او نا اميده شي، بيا سوچ کوي چې راځه نوره دا لاره خپله کړه چې يو څه لاس ته راوړو او څو ورځې د واک او چوکۍ په نشه کې هم تېرې کړو.

## ورونو!

تل چې ميدان سيکولريزم‌او ديموکراسۍ ګټلی دی نو په ډيپلوماتيکه جګړه کې يې ګټلی دی، دښمن په مذاکراتو کې هغه څه لاس ته راوړي چې د نظامي جګړې د لارې څخه يې نشي لاسته راوړی، د دښمن سره د مذاکراتو خبرې دا ساده خبرې نه دي، دښمن په مذاکراتو کې په سلګونه ډول چل، دوکه او مکر استعمالوي چې له تا څخه يو شی زيات لاسته راوړي مګر نظامي جګړه نسبت ډيپلوماتيکې جګړې ته ډېره آسانه او لاسته راوړنه يې هم پوره روښانه او واضح دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ولې د مذاکراتو په مېز کې دښمن د چل، دوکه او مکر څخه زيات کار اخلي؟** ځکه کوښښ کوي چې د جانب مقابل اعتماد په ځان پیدا او لاسته یې راوړي.

د مذاکراتو په مېز مهمه خبره دا ده چې دواړه طرفونه پر يو بل باندې اطمینان نه لري او يو د بل باور او اعتماد نشي درک کولای او دا اندېښنه ورسره وي چې آيا جانب مقابل به خپلو وعدو ته ژمن پاتې شي که نه؟

او ګمان یې همدا وي چې مقابل جانب زما د دوکه کولو لپاره نقشه برابره کړې ده.

د دښمن سره خبرې دا يو ځانګړې مهارت غواړي، هرڅوک دا کار نشي کولای، بيا د مذکراتو په جريان کې دا ډېره مهمه مسئله ده چې ته معلومه کړې چې آيا دښمن په خپلو خبرو کې صادقه دی او که نه؟ په عهد وفا کوي او که نه؟ ځکه چې يو ځل دې مذاکراتو کې شکست وخوړ، دکلونو کلونو کوښښ به دې په يوځل له منځه لاړ شي او معنوي سرمايه دې په همدې ختمیږي، ظاهر کې به يو څه لاس ته راوړې، خو ټول معنويت به دې له لاسه ورکړی وي، معنوي لاسته راوړنې هغه دي چې دا کلونه کلونه د هغې د لاسته راوړلو او د هغې نه د دفاع لپاره تاسې نظامي ميدان کې مبارزه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


اما دښمن سره د دښمن د قوانینو په چوکاټ کې د مذاکراتو نتیجه به همدا شي چې د کلونو کلونو قربانیو په پایله کې ترلاسه کړې معنوي لاسته راوړنې به دې په سیند لاهو شي، د کفارو د نظارت او د هغوی د حکم اخیستو لاندې به په مؤقت ډول چوکۍ او یو څه قدرت ترلاسه کړې، مګر دا به ډېر مؤقت وي چې روښانه مثال یې دغه سیکولر اوسنۍ اداره ده.

ډېر کله په نظامي جګړه کې به دې میدان ګټلی وي خو په دیپلوماتیکه جګړه کې به یې وبایلې،ډېرى خلک کفارو سره مذاکرات ډېره آسانه چاره ګڼي، خو داسې نه ده! بلکې دا ډېر ژور مسائل دي، تاسو وګورئ کفارو د سولې په نوم د مذاکراتو له لارې طالب ته په کومه طریقه ماته ورکړه، څنګه یې له خپلو دعوو څخه په شا کړل، او د بین الملل قوانینو ته یې ژمن کړل، نو ځکه خو دغه دى نن سبا یې مشران ډلې، ډلې بې له کوم خوف او خطره هر چېرته روان دي او په غاړو کې یې د امریکا له لوري د بین الملل د کفري قوانینو د وراچول شوي زنګ شرنګاری وي.

د حقیقي مجاهدینو کامیابي په همدې کې ده چې مذاکرات هم د نظامي ستراتېژۍ د سیوري لاندې د همدې ستراتېژۍ یوه برخه وګرځوي، نه دا چې مذاکرات یو جدا او مستقله تګلاره او ستراتیژي

(c) ketabton.com: The Digital Library


وي. د دې خبرې مانا داده چې مجاهدین غواړي خپل اهداف ترلاسه کړي، د مذاکراتو شرایط یې پوره کړل،اوس د مسلمانانو د امیر په اجازه د دې لپاره چې نور هم ښه تېز او دقیق نظامي اهداف پلي کړي، یو طرف سره د مؤقتي اوربندۍ لپاره مذاکرات کوي،یعنې سیاست کې باید د مذاکراتو په نوم مستقل فصل نه وي، دا باید د نظامي ستراتېژۍ برخه وي.

رسول اللهﷺ هم غوښتل چې نظامي ستراتیژي د مؤقتې سولې له لارې ښه تطبیق کړي او د هغې د لا پرمختګ لپاره مؤقت سوله کوي د دې لپاره چې اصل هدف خو د نظامي ستراتېژۍ رشد او پرمختګ دی، نو د هغې د چټکوالي او هغې ته د پراخۍ ورکولو په فکر کې دی، رسول اللهﷺ حدیبیه کې یوې خوا ته له قریشو سره مؤقته سوله کوي، ترڅو هغه اصلي هدف چې د قتال ستراتیژي ده قوت او پرمختګ وکړي او همداسې یې هم وکړل، له حدیبیې څخه چې کله مدینې ته راغی، نو تقریبا په دوهمه میاشت کې یې د خیبر یهودو باندې حمله وکړه او باقي زیات غزوات یې وکړل، یانې د یوه جهت سره د مؤقتې اوربندۍ باوجود یې د خپل اصلي هدف (نظامي ستراتېژۍ) د تطبیق او لا پرمختګ لپاره کار واخیست.

مخکې مو وویل: چې د اسلام په سیاسي نظام کې مذاکرات باید د

(c) ketabton.com: The Digital Library


نظامي ستراتېژۍ يوه برخه وي، يانې که مجاهدين غواړي چې د قتال سيمه پراخه کړي او خپلې دغه نظامي ستراتېژۍ ته پرمختګ ورکړي، نو اميرالمؤمنين به دېته ګوري چې د دوی لپاره مصلحت په څه کې دی؟ د خپل اصلي هدف د ترلاسه کولو لپاره چې هغه د نظامي ستراتېژۍ پرمختګ دی د موقت وخت لپاره به د کفارو يو جهت سره د سولې اجازه ورکوي.

کفارو د ديپلوماتيکې جګړې په لړ کې څو څو ځله مسلمانان دوکه او مات کړي دي، ځکه هغوی دې جګړې ته يو پراخه باب پرانيستی دی او د نظامي جګړې ترڅنګ يې دا يوه د حل لاره معرفي کړې ده، ځکه کله چې په دښمن نظامي فشار راشي، يانې په نظامي ستراتېژۍ کې يې مات کړې، نو دلته دښمن غواړي د جګړې لوری بدل کړي، بيا نو وايي چې جنګ د حل لاره نده راځئ چې د مذاکراتو، ديپلوماتيکو او دوستانه اړيکو او يا نورو تجارتي او سياسي لارو چارو څخه مخې ته لاړ شو او خبرې وکړو.

د اسلام په سياسي نظام کې بايد د مذاکراتو لپاره د دښمن د اړيکو جالونه او دامونه ډېر محدود کړای شي او عام طور سره مجاهدينو باندې د کفارو سره مذاکرات کول بند وي او د جګړې دا باب چې کفار په کې ډېر مهارت لري د اوس لپاره بند ښه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه نو خلیفة المسلمین په والیانو او امیرانو باندې د دې خبرې پابندي لګولې ده چې تاسو باید دښمن سره د سولې خبرې ونکړئ او صرف د قتال ستراتیژۍ مخته یوسئ، ځکه هغوی پوهیږي چې دا د سولې خبرې دښمن سره هر څوک نه شي کولای.

صحیح ده چې یو کس به نظامي تجربه ولري، ښارونه او ملکونه به یې فتحه کړي وي، نظامي جګړه به یې ګټلې وي، تر یو حده افغانستان به یې هم نیولی وي، خو د ډیپلوماتیکې جګړې په نتیجه کې به یې دښمن بیا په سینه ناست وي.

نو د اسلام په سیاسي نظام کې دا د هر چا کار نه دی، چې یې هر څوک وغواړي نو دغسې به د ډیپلوماتیکو اړیکو په نوم کفارو سره پټې اړیکې او دوستانې پیل کړي.

په شریعت کې د دې (ډیپلوماتیکې) جګړې لپاره یو اساسي اصل دی او هغه دا چې تاسو به هغه وخت کې دښمن سره د سولې او مذاکراتو خبره کوئ چې تاسو سره یو نظامي قدرت وي، که چېرته جانب مقابل عهد مات کړي نو بیا ورته صبر ونشي بلکې انتقام ترېنه واخستل شي.

**خه طالبه!**

(c) ketabton.com: The Digital Library


که ستاسو د مذاکراتو نتیجه منفي راووځي نو بیا به د کفارو په وړاندې څه عکس العمل لرئ؟

## فاتحینو ته وایو!

دا تاسې چې ورته د حدیبیې سوله وایاست نو آیا امریکا په مکرر ډول ستاسې دا کاغذي تړون مات نه کړ؟

په وړاندې یې ستاسو عکس العمل څه و؟

یوازې د خبرو غبرګون ... که نه کوم د رسول الله ﷺ په څېر تاسې هم نظامي اقدام وکړ!

نه هېڅکله هم نه.

یوازې مو په مظاهرو او سوال زاریو کې د تړون د نه ماتولو نارې ووهلې او همدا خبره مو ورته ټول په ټوله تلقین کړه چې اې ماته خوړلې امریکا! خیر دی د دوحې تړون ته ژمنه پاتې شه.

اوس چې پاکستان مو بار بار همدا ستاسې په منلو بین المللي کرښو او حقوقو تیرى کوي او بیا همدا نارې وهئ چې موږ کمزوري یو، ښه چې کمزوري یاست نو بیا ولې مو جګړه ختمه اعلان کړې ده، ځکه چې د قوت یواځینی مرجع خو همدا قتال دی او دا خبره هم تاریخ ځان سره ثبت کړې ده چې تاسو په عمر کې هم د پاکستان په لور پورته نه دي کتلي او نوره جګړه کول خو لا ډېره لرې خبره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


قال تعالی: ﴿فَتَرَى الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يُسَارِعُونَ فِيهِمْ يَقُولُونَ نَخْشَى أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٌ فَعَسَى اللّهُ أَن يَأْتِيَ بِالْفَتْحِ أَوْ أَمْرٍ مِّنْ عِندِهِ فَيُصْبِحُواْ عَلَى مَا أَسَرُّواْ فِي أَنْفُسِهِمْ نَادِمِينَ﴾(المائده 52).

**ژباړه: ته ګورې چې د چا په زړونو کې چې د نفاق ناروغي ده، هغوی په همغوی کې په منډو ترړو اوړي را اوړي، وايي موږ وېرېږو چې په کوم غم اخته نشو، خو لرې نه ده چې کله الله تاسې ته غوڅ بری درپه برخه کړي، يا له خپلې لورې څخه کومه بله خبره څرګنده کړي نو دا خلک به په خپل دغه منافقت چې په زړونو کې يې پټوی پښېمانه وي.**

**ورونو!** د يوه نظام تهداب چې خراب وي نو بيا همداسې غلام ترېنه جوړېږي او تر ابده غلامان پاتې کيږي لکه دوی چې دي.

موږ وايو چې ديپلوماتيکه جګړه بايد د نظامي جګړې يو جزء وي، که چېرته مو پکې شکست وخوړ نو بيا له نظامي لارې کار اخيستل خو چا وړی نه دی.

د دښمن سره په مذاکراتو کې يو اساسي اصل هغه دا دی چې مجاهدين بايد په قدرت کې واوسېږي، که چېرې دښمن ترون مات کړي او اسلامي نظام ته په هره برخه کې ضرر ورسوي، نو بايد سخت انتقام ترې واخيستل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دوی سره خو څو ځله همدې کفارو عهد مات کړ او ځومره مسلمانان يې د دوی د درواغجنې سولې بلکې د دوی د تسليمي څخه وروسته شهيدان کړل او څو څو ځله يې په همدوی هم تېری وکړ، مګر بيا هم دوی مرې سترګې ورته نيولي او د تړون د نه ماتيدو ډار را اخيستي دي او هره اونۍ يې د څلويښت ميليوني ډالرو کڅوړو ته خوله اوبه کوي.

**وروڼو!** د جګړې په ډګر کې کولای شو چې د دښمن سره يو څه نرمي وکړو، اسيران يې د امير په امر خوشې کړو، مګر په ميدان د مذاکراتو کې د دښمن سره نرمي داسې مانا لري لکه خپل ځان دې چې پخپله په دار راځوړند کړی وي. د مذاکراتو په باب کې بايد دښمن سره هېڅکله او هېڅ چېرې نرمي ونشي، ځکه چې دا د کفارو له لورې ډېره پيچيده مسئله ده، د کفارو کوښښ همدا دی چې مسلمانان د خپلې معنوي تګلارې څخه وښويوي او خپل دام کې يې را ايسار کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ډیپلوماتیکې جګړې د ستونزمنتیا علت څه دی؟

علت يې دا دی چې ته د دښمن په اراده باندې نه پوهېږې چې څه اراده لري؟ آیا اراده کې تا سره ریښتونی دی او که نه د دوکې نیت لري؟

ځکه کافر دښمن هېڅکله له تا څخه نه راضي کېږي ترڅو د هغوی خبرو ته غاړه کېنږدې او که د هغوی خبرو ته دې غاړه کېښودله د دې لپاره چې له تا څخه خوښ او راضي شي، بس همدا ستا د هلاکت لمړنی ګام وو چې پخپله دې کېښود.

**الله ﷻ فرمايي: ﴿وَلَن تَرْضَى عَنكَ الْيَهُودُ وَلاَ النَّصَارَى حَتَّى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ قُلْ إِنَّ هُدَى اللّهِ هُوَ الْهُدَى وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءهُم بَعْدَ الَّذِي جَاءكَ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَكَ مِنَ اللّهِ مِن وَلِيٍّ وَلاَ نَصِيرٍ﴾ ﴿البقرة: 120﴾**

**ژباړه: یهود او نصارا به هېڅکله له تا څخه خوشحاله نشي، ترڅو ته د هغو په لاره (دین) لاړ نشې. دوی ته په کلکه ووایه چې سمه لاره یوازې هماغه ده چې الله ښودلې ده او که ته له هغه علم څخه وروسته چې درکړای شوی دی د هغو په خواهشونو پسې لاړ شې؛ نو ستا هېڅ دوست او مرستندوی نشته چې د الله له نیونې څخه دې وژغوري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library


وروڼو! قطعاً په اوسني وخت کې دې ډيپلوماتيکې جګړې ته مخ او خپل سنګر خوشې نه کړئ، د مجاهدينو لخوا څخه نظامي سنګر او د دښمن لخوا ډيپلوماتيک سنګر انتخابيږي، که کله هم د دښمن ډګر او سنګر ته ورځې چې تاسره خو يوه وسله وي کنه، چې له خپله ځانه خو پرې دفاع وکړای شې، ځکه مونږ وويل چې خپل نظامي سنګر کې مبارزه کوو او د کفارو پرانيستل شوي سنګر ته نه داخليږو، ترڅو مو چې دا کافران سم نه وي ځپلي.

ډيپلوماتيک سنګر او ډګر هغه ميدان دی چې نن پکې طالب شکست خوړلی او بيا خلکو ته وايي چې مونږ امريکا ته شکست ورکړی دی، خو بل طرف يې همدا مشران ورته په سوال او زاريو بوخت دي چې مونږ سره مرسته وکړئ او مونږ په رسمياتو وپيژنئ او دلته خپل سفارتونه خلاص کړئ او حتی چې ورته وايي مونږ اوس تاسې ته د دښمن په سترګه نه ګورو، بلکې په ځان دا حتمي بولو چې له تاسې څخه دفاع وکړو.

الله رب العالمين دې هيڅ مسلمان دومره نه ذليله کوي لکه نن چې يې دوی کفارو ته ذليله کړي دي. دوی د ذلت آخري حد ته رسيدلي دي او ورځ تربلې نور هم رسوا کيږي، د امريکايانو څخه په دفاع کې دوی وژل کيږي، د روسانو په دفاع کې دوی وژل کيږي، د هندوانو

(c) ketabton.com: The Digital Library


او د درمسالونو او ګېرجو په دفاع کې دوی وژل کیږي، د روافضو او کمونیستو چینایانو په دفاع کې دوی وژل کیږي، کوم کفر دی چې دوی وربانديې صرفه کړې وي، بس هر څه ډېر په ډاډ سرته رسوي او بیا نوم ورکوي چې زمونږ نظام اسلامي نظام دی.

کچېرې دښمن تاسې سره په دیپلوماتیکه جګړه کې نرمي او خنداګانې کوي، نو د دوه علتونو څخه به خالي نه وي.

**لومړی:** د دې وجې نه تاسې سره نرمې خبرې کوي چې په چل ول له تا څخه خپل کفري ملت لپاره منافع ترلاسه کړي.

**دوهم:** دا چې تا د جګړې په میدان کې مجبوره کړی دی، دښمن دې دومره کمزوری کړی دی چې پرته له سولې ورته بله لاره نه ده ورپاتې.

په دې برخه کې په شریعت کې بله قاعده د مذاکراتو لپاره دا ده چې باید تا دښمن دومره ټکولی او بی زړه کړی وي چې د دښمن له طرفه درته د مذاکراتو وړاندیز او بیا مذاکراتو کې چې ته هره خبره ورته وکړې، هغه یې درسره ومني.

دیپلوماتیکه جګړه یوه داسې جګړه ده چې د دې په واسطه دښمن غواړي فکرونه او ضمیرونه تسخیر کړي، له همدې لارې ستاسې له منځه ډېر کسان خپل ځانته په قسما قسم حربو جلبوي او بالاخره په

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډېر ماهرانه طریقه یې د ایمانونو څخه خلاصوي او د ځان غلامان یې ګرځوي.

دا داسې خطرناکه جګړه ده چې امریکا په خپله تر ټولو ستره استخباراتي هډه قطر کې لومړی دوی ته په عصري هوټلونو کې دفترونه خلاص کړل، په مرور د وخت سره یې ورته هملته کورونه ورکړل او د لوڅو او نیمه بربندو انجونو سره یې د ژورنالیستانو په جامه کې ښه د مزې خلوتونه او مجلسونه ورباندې وکړل، بالاخره یې خپل شرطونه ورباندې ومنل او د یوې معاملې په صورت کې یې ورته افغانستان وسپاره، دا ټول کارونه یې د یوه منظم پلان له مخې سرته ورسول، نن همغه اهداف چې کفارو ورته مستقیم کار کولو او ملیاردونو ډالر یې پرې مصرفول، همدوی ورته همغه اهداف د ډېرو کمو پیسو په مقابل کې پرمخ وړي.

کله چې دښمن د جګړې په میدان کې د مذاکراتو وړاندیز وکړ چې جنګ بس دی نوره سوله یا خبرې درسره کوم چې تاسو څه غواړئ همغه به کیږي، نو دې وخت کې به د مسلمانانو امیر د نورو مشرانو په مشوره ژر تر ژره خبره راټولوي، داسې وخت چې دښمن ځپل شوی او د تسلیمۍ یا سولې وړاندیز درته کوي، باید چې نور زیات

(c) ketabton.com: The Digital Library


وخت او فرصت ورنکړای شي، ځکه دښمن چې له تا څخه د جګړې درولو او خبرو کولو لپاره وخت غواړي، نو دې تر شا څو هدفه لري.

**لومړی هدف:** یې دا دی چې حقیقت کې دښمن د جګړې میدان کې ضعیفه او د نورو کفارو نه یې تمه قطعه شوې، مرسته ورته نه راځي، خپله هم نور د جګړې توان نه لري او ستړی شوی دی نو ځکه تاسو سره د سولې خبرې کوي او مؤقت وخت لپاره د جګړې ودرول غواړي.

**دوهم هدف:** یې دا دی چې د سولې او مذاکرې په نوم ستاسو څخه وخت اخلي او په همدې وخت او فرصت کې دویم ځل لپاره خپل ځان اکمالوي، شاته مرستندویه ګروپونو سره اړیکې قایموي او خپل ځان هم قوي کوي، بیا که د مذاکراتو صحنې ته هم راشي نو داسې خبرې او وړاندیزونه به درته وکړي چې ګواکې تا ترینه وخت اخیستی و او داسې شرایط به در مخکې کړي چې بیا به د دې شرایطو د نه منلو په وخت کې به تاسې جګړه هم نه شې کولای، ځکه اوس هغه ځپل شوې دښمن بېرته ځان اکمال کړی دی او د یوه قوي دښمن په حیث درسره مبارزه کوي.

**درېیم هدف:** یې دا دی چې کله دښمن د جګړې په میدان کې ښه وځپې او دوی درته د مذاکراتو وړاندیز درکړي او په مذاکراتو کې د وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخیستو غوښتنه وکړي، نو ځیني وخت د دښمن هدف رښتیني سوله نه وي بلکې د دغه مذاکراتو له لارې غواړي چې ستاسې په منځونو کې هغه مرجفین او منافقین ومومي چې تل دښمن سره د بې شرطه مذاکراتو غوښتونکي وي، نو د همدې مذاکراتو څخه دښمن استفاده کوي او دغه راز خلکو سره راشه درشه او اړیکې قايموي، کوښښ يې همدا وي چې له همدې طريقه دغه منافقين او مرجفين اکمال کړي، هغوی وروزي، خپلې برنامې او طرحې ددې لپاره ورکړي چې له داخل څخه د مجاهدينو نظام تخريب او د شکست زمينه برابره کړي.

سعد بن أبي وقاصؓ د قادسيې په جګړه کې د دې لپاره چې د اسلام په سياسي نظام کې د ډيپلوماسۍ لومړنی رکن چې دعوت دی تطبيق کړي دښمن ته وړانديز کوي او ورته وايي چې اسلام قبول کړئ، با وجود ددې چې د دښمن تعداد ډېر زيات دی، په تاريخ کې راځي چې تنها دښمن درې ديرش غټ فيلان لرل چې دا په حساب د دوی ثقيله وسله وه او بل طرف ته مسلمانانو سره يو دانه هم نشته، يزدګرد په جګړه کې ډېر مهارت درلود، د جګړې په تکتيک باندې پوه کس و، نو يزدګرد په زغرده دعوت رد نکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


موږ وویل چې دښمن په دې وخت کې څو اهدافه تعقیبوي که چېرته یې هدف مغرضانه هم نه وي نو پدې وخت کې مسلمانان باید زیات فرصت ورنکړي، خبره ډېره ژر راټوله کړي، ځکه چې د وخت په اخیستلو کې دښمن خپل اهداف لري، دا به یې ویل چې نن وخت راکړه سبا وخت راکړه، دوه ورځې وخت راکړه، درې ورځې وخت راکړه، په دې چل سره یې غوښتل چې د مسلمانانو حالت معلوم کړي، ځکه چې د مسلمانانو صف یو متحد او قوي صف و، نو جرأت یې نشو کولای چې پر مسلمانانو حمله وکړي، د یزدګرد یو هدف دا هم و چې د مسلمانانو په صف کې کوم منافقان یا مرجفین پیدا کړي ترڅو پدې طریقه د مسلمانانو په صف کې اختلاف واچوي او شکست سره یې مخ کړي، چې بدبختانه همداسې وشول په شروع د جګړه کې د ثقیف قبیلې نه یو کس د مسلمانانو څخه جدا او کفارو ته تسلیم شو، نتیجه دا شوه چې اوله ورځ جګړه د دښمن په ګټه تمامه شوه، دې جګړې درې شپې او ورځې دوام وکړ، په آخري ورځ ډېره قوي جګړه او معرکه وشوه، تاریخ کې راځي چې په یوه شپه او ورځ کې شپږ زره مجاهدین شهیدان شول، خو ولې بیا هم مجاهدینو سنګر خوشې نه کړ، سست او تسلیم نه شول، تر دې چې د اسلام یو زمري هلال بن علقمه د رستم خېمې ته ځان ورساوه او رستم یې

(c) ketabton.com: The Digital Library


مردار کړ، کله چې د هلال بن علقمه په لاسونو رستم مردار شو، نو د فارسیانو روحیه ضعیفه او انګېزه یې ختمه شوه، نور ورسره د جګړې مورال نه و، بالآخره دښمن په تېښته شو او جګړه د مسلمانانو په ګټه تمام او الله رب العالمین فتحه ورکړه، د دښمن ډېر زیات کسان اسیران شول، تاریخونه لیکي چې مجاهدینو دومره زیات د فارس مجوسیان اسیران کړي ول چې په قتلولو یې ستړي شول، نو آخر کې به مسلمانانو یو اسیر ته وویل چې دا بل اسیر قتل کړه، الله رب العالمین دښمن دومره سخت ذلیله او رسوا کړ او الله ﷻ دومره رعب د هغوی په زړونو کې واچاوه چې یوه ډله اسیرانو ته به مجاهدینو وویل چې دا بله ډله ووژنئ او هغوی به دا چاره عملي کوله.

ځکه اول رکن د دیپلوماسۍ (د دعوت ستراتیژي) کې دښمن د چل ول څخه کار واخیست، نو بیا په هغوی باندې نظامي اقدام وشو او داسې جګړه ورسره مسلمانانو وکړه چې په یوه شپه ورځ کې شپږ زره مجاهدین په شهادت ورسېږي، خو بیا یې هم پښې نه سستېږي.

ځکه د لومړني او دوهم رکن د نه منلو په صورت کې به بیا له کفارو سره داسې سخته جګړه کوي چې له خپل تصمیم څخه په شا شي او یا دعوت او جزیې ته غاړه کیږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکي د قادسیه د جګړې واقعه ذکر شوه د عمرﷺ د خلافت په دوران کې د قادسيې جګړه رامنځته شوه د مسلمانانو امیر سعد بن ابي وقاص ﷺ سره په دې جګړه **کې شپږ دیرش زره** مجاهدین یو ځای کیږي او ګډون پکې کوي، په پیل کې یې کوښښ وکړ چې د مذاکراتو له لارې دښمن ته خبر ورکړي چې زموږ د سولې یا مذاکراتو څخه درې اهدافه دي، یانې زموږ دیپلوماسي د نظامي ستراتیژۍ یوه برخه ده، غواړو دا ستراتیژي دربانديې تطبیق کړو، که مذاکراتو ته تیار یاست، نو اول اسلام منل دي چې باید دعوت قبول کړئ یا خو دا ده چې جزیه راکړئ او که دا دواړه نشئ کولای نو بیا دریم نمبر کې جګړه کول دي.

سعد بن أبي وقاصﷺ اصلاً غواړي چې د اسلام قلمرو پراخه کړي، نو ځکه د دښمن سره د دیپلوماسۍ څخه کار اخلي او لومړنی رکن د دیپلوماسۍ چې دعوت دی همدا ورته مخ ته کوي او ورته وایي اسلام قبلوئ که دوهم رکن د دیپلوماسۍ څخه کار واخلو، بیا سولې ته تیار شئ او جزیې ته غاړه کیږدئ، که دېته هم تیار نه شئ نو بیا دریم رکن د دیپلوماسۍ دربانديې تطبیق کوم چې هغه جګړه او قتال دی.

نو کله چې بیا په دغه جګړه کې چې د فارسیانو سره مخ کیږي تاریخ وایي چې د دښمن لښکر دغه وخت **دوه لکه او څلویښت زره**

(c) ketabton.com: The Digital Library


(240000) و او ځینې تاریخونه وایي چې **یو لاک او شل زره کسان** (120000) و، په هر صورت د دښمن د لښکرو تعداد یو په درې له مسلمانانو څخه زیات و، چې د فارسیانو د لښکر عمومي مشري یزدګرد کوله او د جګړې قومانده او رهبري یې د رستم پهلوان په غاړه وه، سعدرضي‌الله‌عنه دښمن ته د دعوت وړاندیز کوي چې اسلام قبول کړه، خو مقابل لورى نه مني،بیا ورته وایي جزیې ورکولو ته تیار شه بیا یې هم نه مني،نو بالاخره ورسره د دیپلوماتیکې جګړې د درېم رکن څخه چې قتال دى کار اخلي او هغه ورسره عملي کوي.

د اسلام په لومړیو کې دغه دیپلوماتیکې اړیکې په ټولو جګړو کې پام کې نیول شوي دي، هرې غزوې ته چې رسول الله ﷺ مخکې شوى نو له مخکې څخه یې پر دښمن غږ کړى چې اسلام قبول کړه که یې نه قبلوئ نو بیا جګړې ته تیار شه.

مګر چې دلته مو یوې کلیدي خبرې او نقطې ته پام وي، هغه دا چې یو دښمن **سره به په یوه وخت کې درې واړه ستراتیژیکې مادې نه عملي کوئ** یا به پرې دعوت منې، یا به یې سولې ته اړ کوې او جزیې ته به یې تیاروې او یا به ورباندې جنګ کوې، داسې منافقت به ورسره نه کوې چې یو طرف ته دې ورسره جګړه روانه کړې وي او بل طرف ته همدې کفارو سره راشه درشه او د سیاسي دفترونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library


نوم دې ورسره کلونه پخه ملګرتیا، دوستي او د اسلام په سر معاملې شروع کړې وي.

عامو مسلمانانو ته وایو چې څوک به تاریخ کې داسې دلیل وړاندې نکړي او یا شرعي سیاست کې به داسې کوم څه ونه لیدل شي چې یو طرف ته دې له همدې دښمن سره جګړه روانه کړې وي او بل طرف ته دې ورسره مجلسونه او خنداګانې شروع کړې وي او کلونه کلونه دې د سیاسي دفتر په نوم کفارو ته حسابي ورکړې او د کفارو اعتماد د ځان په لور راجلب کړې، نه! که چېرته دښمن سره د سولې خبرې کوې،نو دې وخت کې به دې نظامي ستراتیژي ودرولی وي که چېرې دښمن جزیې ته تیار شو،نو نظامي ستراتیژي به دې همدې دښمن سره درولې وي او که چېرته دښمن سره نظامي جګړه کې ښکېل وې، نو بیا چې دې ترڅو دښمن سم نه وي ځپلی د سولې او جزیې ورکولو خبره به همزمان د قتال د ستراتېژۍ سره یوځای مخ ته نه وړې، چې یو طرف ته دې قتال شروع وي او بل طرف ته دې د کفارو له همدې ډلې سره مجلسونه او خنداګانې روانې وي.

په ځانګړي ډول دفاعي حالت کې چې دښمن دربانديې تعرض وکړ، نو دلته بیا نور مجلسونه ، خبرې او عذرونه شرعي سیاست نه دی، بلکې دلته به بیا هر څه یوازې د قتال له لارې دښمن سره حل کوې

(c) ketabton.com: The Digital Library


او که چېرته جګړه بیخي تعرضي وي یعنې ستا لخوا پر کفارو شروع شي، نو بیا به هم یو وخت کې د کفارو یوې ډلې سره یوه ستراتیژي باندې به عمل کوې او مخ ته به ځې.

دې فاتحینو(!) چې امریکا باندې حمله کړې او هلته یې جګړه روانه کړې وی او بیا یې امریکا ته ویلي وی چې که جزیه راکوې نو سوله درسره کوو او یا به اسلام قبلوې او که دواړه صورتونه نه منې نو بیا مونږ جګړې ته ادامه ورکوو ترڅو د اسلام قلمرو پرمختګ وکړي، نو بیا به دوی یوه د اوږو پوزه خپل نظام ته جوړه کړې وی او دا ادعا یې بیا کؤلای شوه چې زمونږ نظام اسلامي دی.

خو چې ترڅو اسلامي خاوره د کفارو لخوا اشغال وي نو د دغه خاورې آزادي به یوازې په نظامي ستراتیژۍ سره ترلاسه کوو، کله چې مو دا ټوله اسلامي خاوره آزاده کړه نو بیا کفارو باندې تعرض شروع کوو، بیا دلته دیپلوماتیکې اړیکې د خپلو درې ارکانو مطابق پام کې نیول کیږي (یا دعوت منل، یا دېته اړ کول چې اسلامي نظام ته جزیه ورکړي او یا جګړه جاري ساتل) او د همدې ارکانو مطابق به یې مخته بیایو، همدا زمونږ سیاسي دریځ او تګلاره ده، له الله رب العالمین څخه ځانته او بیا خپلو ټولو مشرانو ته په همدې دریځ باندې د ثبات او استقامت غوښتنه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


کفارو باندې د تعرض په حالت کې لومړی دوی ته دعوت ورکړلای شي که يې قبول نکړ نو د سولې خبرې به ورسره کوې، خو په دې شرط باندې چې يا جزيې ته تيار شي ترڅو د حملې نه خلاص شي او يا به مؤقته ېزبندي وي، ترڅو بل طرف ته کفار وځپل شي او يا به ورسره مستقيم د دعوت او د سولې د نه منلو په صورت کې قتال پيل کيږي.

که د يوه لور کفارو ته دعوت ورکړې او د بل لور کفارو سره د جزيې خبرې رواني کړې او په يوه دريم محاذ کې نورو کفارو سره جګړې ته دوام ورکړې، نو همدغه غوره پلان دی، داسې به نه کوې چې ټولو کفارو سره د سولې خبرې وکړې او نور به د جزيې نه انکار کوې او تر ابده د جګړې خاتمه اعلانوې، ځکه چې دا شرعي سياست نه دی او دا هغه څه دي چې د بين الملل کفري سياست يې درڅخه غواړي.

ځکه چې کفارو ته دعوت او په کفارو جزيه منل دا د اسلامي ديپلوماسۍ دوه رکنه دي، چې په اصل کې بايد دا درې رکنه او اساسات مراعات شي.

ياني دعوت بايد دوامداره وي، کفارو سره به جګړه همېشه وي، د يو طرف کفارو سره چې مؤقته سوله کوو د هغې نه مو هم هدف دا دی چې بايد بل طرف ته نور کفار وځپل او ووهل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


فی الحال طالبان چې د کومو ډيپلوماتيکو اړيکو چيغې وهي دا اړيکې بايد عام ولس ته تشريح کړو چې د طالبانو دا اړيکې په کوم اصل او اساس دي او دې اړيکو کې فيصلې کوم قانون ته وړاندې کيږي؟ اسلامي قانون ته که د بين الملل کفري قانون ته؟

کومې اړيکې چې نن سبا د ډيپلوماسۍ په نوم د بين الملل د کفري قانون تر چتر لاندې قايميږي مانا يې دا ده چې د يوه هېواد اړيکې، سلوک او تګلاره (خارجي سياست) د بل هېواد سره د بين الملل د کفري قوانينو مطابق عيار کړي چې آينده ټول ملاقاتونه او خبرې اترې د همدې بين الملل له لورې د ورکړل شوي او تعيين شوي صلاحيت او چوکاټ مطابق ترسره شي، دېته وايي د بين الملل تر چتر لاندې ډيپلوماسي.

څوک چې نن سبا وايي موږ ډيپلوماتيکې اړيکې غواړو او خپلې خبرې اترې بل هېواد سره د ډيپلوماسۍ له لارې حل او فصل کوو، مانا يې همدا ده چې بين الملل د دوو هېوادونو ترمنځ د اړيکو کوم چوکاټ چې تعيين کړی، په همغو قوانينو اړيکې ټينګول غواړو که ته هم وغواړې چې د بين الملل په همدې تعيين کړي چوکاټ کې د بل هېواد سره اړيکې ټينګې کړې او ټولې اړيکې په همدې اصولو وپالې، نو له ايمانه به ځان کنګال کړې، ځکه چې دېته وايي د بين الملل له لوري

(c) ketabton.com: The Digital Library


وضع شوې سیاسي دیپلوماسي، چې نن سبا یې طالبان ډېر په شوق او ذوق زمزمه کوي او ډېر ورته خوشحاله دي چې مونږ کفارو سره دیپلوماتیکې اړیکې غواړو.

دا د دیپلوماسی او دیپلوماتیکو اړیکو الفاظ باید پوره وسپړو او د یوه مجاهد او مسلمان ذهن پرې خلاص کړو او د مخالفینو د لاس لاندې کشرخېل پرې پوهه کړو چې ستا مشران داسې خبرې کوي، د دې په مانا تاسو پوهېږئ چې دوی څه وایي او که نه؟

دیپلوماتیکو اړیکو مانا هم دا ده چې د یوه هېواد نه یو هیئت لاړ شي بل هېواد ته او د دې هیئت هدف د خپل دولت او وګړو د عامو تامو منافعو او ګټو ساتل او ترلاسه کول وي، نور پرته له دې دا اړیکې هېڅ مانا نه لري، دا چې وایي چې زه د امریکا سره دیپلوماتیکې اړیکې غواړم او امریکا نه هم همدا تقاضا لرم، یاني کچېرته د امریکا دیپلوماتان راغلل افغانستان ته د دوی کار او وظیفه څه ده؟ کار یې د خپل دولت **(امریکا)** او د خپلوخلکو **(د امریکایي وګړو)** چې هر ځای کې وي د هغوی تحفظ او هغوی ته ګټه رسول دي، همدې هدف لپاره د جانب مقابل نه تضمین واخلي، خبرې او بحثونه ورسره وکړي. یاني طالبان به په دیپلوماتیکو اړیکو کې هر کافر ته وایي چې موږ ستاسو د ملت او حکومت د تحفظ لپاره امضاګانې او دا تضمین

(c) ketabton.com: The Digital Library


درکوو چې تاسې ته به هېڅ ضرر نه رسېږي او همداسې يې هم وکړل.

د دوه هېوادونو ترمنځ ډيپلوماتيکې اړيکې د بين الملل په اصولو جوړېږي، اصول ورته بين الملل ټاکي، ياني هله به ستا د نورو هېوادونو سره ډيپلوماتيکې اړيکې ټينګېږي چې کله د بين الملل کفري قانون ته غاړه کېږدې او دا ښکاره خبره ده چې د بين الملل قانون يو کفري قانون دی.

دلته به د دې اړيکو يو بل کفر راښکاره کړو، هغه دا چې د کفارو سره دوستانه اړيکې د همدغه ډيپلوماتيکو اړيکو په سبب رامنځته کيږي همدا اړيکې د کفارو سره دښمني په دوستۍ بدلوي، ځکه د بين الملل ټول قانون به ته منې بيا به ډيپلوماتيکو اړيکو ته داخليږې، د طالب مشرانو ته موږ وايو چې نور کفرونه مو پرځای پرېږدئ، يوازې دغه کفارو او مرتدينو سره د ډيپلوماتيکو اړيکو کفر مو هم ستر کفر او ښکاره کفر دی چې ستاسې دښمني يې کفارو سره په دوستۍ بدله کړه، چې دا هم لکه د لمر په څېر د اسلام يو ماتونکی ناقض دی.

قال تعالی: **إِنَّ الَّذِينَ ارْتَدُّوا عَلَى أَدْبَارِهِم مِّن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى الشَّيْطَانُ سَوَّلَ لَهُمْ وَأَمْلَى لَهُمْ -25- ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا لِلَّذِينَ كَرِهُوا مَا**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**نَزَّلَ اللَّهُ سَنُطِيعُكُمْ فِي بَعْضِ الْأَمْرِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِسْرَارَهُمْ ﴿26 سورة محمد﴾**

**ژباره: حقيقت دا دی کوم کسان چې د هدايت له روښانه کېدو څخه وروسته په شا وګرځېدل، د هغوی لپاره شيطان دغه کړنلاره آسانه کړې ده او د درواغجنو هيلو لړی يې د هغو لپاره اوږده کړې ده.**

**دا ځکه چې دوی وويل هغه خلکو ته چې دا نازل شوی کتاب (قرآن) بد ګڼي موږ ستاسو اطاعت کوو ځينو خبرو کې، يقيناً الله د دوی راز باندې پوهيږي.**

الله رب العالمين هغه چاته د مرتد خطاب کړی دی چې کفارو او هغه کسانو ته چې د الله رب العالمين رالېږل شوی دين (سياست) بد ګڼي، هغوی ته ووايي چې موږ ځينو (ډيرو لږو) کارونو کې ستاسې خبرې منو.

**افسوس!** د هغه چا په حال چې اونۍ کې يو ځل کفارو ته دا حامخا وريادوي چې موږ ستاسې د بين الملل ټولو کفري قوانينو ته ژمن يو.

الله اکبر! الله رب العالمين مسلمانان منع کړي دي چې ظالم طرف ميلان ونکړي، دا لا پرېږده چې يو کس دې ځانته مسلمان ووايي او بيا د کفارو طرف ميلان وکړي او د هغوی له قوانينو  راضي شي، دا بلکل د يو مسلمان شان سره نه جوړيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**قال تعالی: وَلاَ تَرْكَنُواْ إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُواْ فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللّهِ مِنْ أَوْلِيَاء ثُمَّ لاَ تُنصَرُونَ ﴿113سورة هود﴾**

**ژباړه: ددغه ظالمانو لورې ته يو بخری مه کږېږئ، که نه نو دوزخ به مو ونغاړي او تاسې به کوم داسې دوست او سرپرست ونه مومئ چې د الله څخه مو وژغورلای شي او له هېڅ يو ځای څخه به تاسې ته مرسته ونه رسيږي .**

مفسرين وايي (**الرکون معنی الرضا**) ده يعنې الله رب العالمين مومنان د ظالمانو د خبرو او فيصلو باندې راضي کېدلو څخه منع کړې دي، دا خو بيخي عجيبه ده چې يو کس د اسلام په نوم را اوچت شي او بيا د کفارو قوانينو ته ژمن پاتې شي او د هغوی په فيصلو باندی راضي شي.

**طالبه!** دا خبرې د الله رب العالمين د کلام څخه را اخيستل شوي دي، يو وخت به همدا آيتونه تا تفسيرول، هغه پرونی کوم تفسير د همدې آياتونو چې تاسې کاوه، نن تاسې ورباندې مرتد شوي ياست، والله خير مو غواړو د الله دين ته رجوع وکړئ، د څو ورځو واک په نشه کې خپل ابدي ژوند مو مه خرابوئ، سم کلک ايمان راوړئ، پوره اسلام قبول کړئ، کفارو سره موالات خوشې کړئ، د هغوی لپاره مسلمانان مه وژنئ، قسم په الله که يواځې تاسې سره زموږ جګړه په دې وي چې ولې خلافت سره بيعت نه کوئ، همدا واک ستاسې بيخي بيعت

(c) ketabton.com: The Digital Library


مه کوئ، خو اسلام سره دښمني او کفر سره مو دوستي بنده کړئ، مسلمانان مه تعذیبوئ، که مو اسلام او مسلمانانو ته خیر نه رسیږي نو د کفر خوشحالۍ لپاره شر هم ورته مه رسوئ.

**وروڼو!** همېشه چې یو باطل درسره مبارزه کوي، د باطل په نوم یې نه کوي،بلکې ظاهراً به دوی د اسلام چغې وهي، خو شاته یې د اسلام په ضد ډېر اهداف پراته وي، خپل تور مخ ته سپین رنګ ورکوي، په ظاهره به سپین ښکاري مګر په اصل کې به تک تور وي، د فعلي دښمن مثال همدغسې دی، لاندې به یې ټول د سر نه تر پښو کفر پټ وي، لېکن دغه کفر به یې په سپینه جامه، غټه ږیره او غټه لونګۍ او یو جوړ تسپو کې پټ کړی وي.

کفارو سره د هغوی په قوانینو باندې فیصله کول او دېته راضي کېدل چې ته دهغوی خودساخته قوانین عملي کړې،نو بیا دا صراحتاً کفر دی، ځکه کفر هېڅکله د اسلام خیر نه دی غوښتی او نه یې غواړي.

**الله تعالی فرمايي: ﴿"وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا"﴾ ﴿سُورَةُ البَقَرَة: 217﴾**

**ژباړه: هغوی به ستاسې سره تل په جنګ اخته وي، ان تر دې چې که یې وس ورسېږي، نو تاسي به له دې دین څخه واړوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library


ددې لپاره چې زه او ته په دغه ډګر کې ناکام نشو نو دغه ډيپلوماتيکه جګړه ډېره منحصره او را لنډوو، په ځانګړې توګه د خپلې نظامي جګړې يو جزء يې ګرځوو،که نظامي جګړه کې موږ غواړو مخکې لاړ شو نو د دې يو جزء به زموږ ډيپلوماتيکه جګړه وي او بس.

**ورونو!** رسول اللهﷺ هم د ډيپلوماتيکو اړيکو لپاره سفيران لېږلي دي، لېکن ډېر د محدود کار لپاره يې لېږلي او په ځانګړو شرطونو سره يې استولي و، يو اساسي شرط د اسلام په سياسي نظام کې دا دی چې د دغه سياسي ماموريت لپاره چې کوم کس ټاکل کيږي، نو د نوموړي وظيفه به ډېره محدوده او د يوه ځانګړي کار لپاره به وي، کوم سفير چې د اسلام د سياسي نظام په چوکاټ کې لېږل کيږي، د دې کس همغه وظيفه ده کومه چې د امير لخوا ورته سپارل کيږي، د کار د ختمېدو سره به متصل خپل طرف ته ځان رسوي، ياني يوازې پيغام به رسوي او بس! نور به بېرته د اسلام مرکز ته راګرځي، په بل تعبير ستا سياسي دفتر او مرکز به دارالاسلام کې وي نه د کفارو ملکونو او يا د هغوی استخباراتي هډو کې.

او همدا راز د اسلام د سياسي نظام له لورې چې کوم پيغام لېږل کيږي، دا بايد ډېر لنډ، شفاف، صريح او په قاطعو الفاظو باندې وليکل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


فارس چې د هغه مهال یوه ستره او قدرت منده امپراتوري وه، رسول الله ﷺ ورته په لنډو الفاظو کې په پوره فصاحت ځو کرښې ولیکلې او بس.

رسول الله ﷺ په اسلامي نظام کې دیپلوماتیکه جګړه د نظامي جګړې یو مختصر او محدود جزء و،ځکه نو هغه مهال د اسلام قلمرو ورځ تر بلې پراخوالی مونده،په څو لسیزو کې د اسلام قلمرو له شرقي اروپا څخه تر شمالي افریقا، ایران، هند او ماوراءالنهر ته ورسېد، نو د اسلام سیاسي دیپلوماسي هغه وخت د هېڅ کفري قانون پیروي کوونکې نه وه او نه به آینده کې وي، ان شاء الله.

لېکن اوسنۍ دیپلوماسي ټوله د بین الملل د کفري قوانینو د چتر لاندې راځرخي، نو اوس پوښتنې دا دي چې آیا بین الملل زما او ستا خیر غواړي؟

آیا بین الملل په نړۍ د اسلامي نظام حاکمیت غواړي؟

نو مالومه شوه چې ترڅو چې اسلامي نظام حاکم نشي، تر هغې د کفارو سره دیپلوماتیکې اړیکې نه مطرح کیږي، کله چې د اسلام د سیاسي نظام مرکزیت تعیین،د اسلام قلمرو پراخه شو، بیا نو کفارو سره دیپلوماتیکې اړیکې مطرح کېدای شي او نتیجه یې هم بیا ډېره ښه راوځي، ډېر خلک به بیا پرته له جګړې تاسې ته تسلیمیږي او یا

(c) ketabton.com: The Digital Library


به اسلام قبلوي، ځکه چې ستاسې ډيپلوماسي به د هېڅ کوم کفري نظام تابعداره نه وي، بلکې د اسلام د سياسي نظام له اوامرو او قوانينو به سرچينه اخلي او همدغه ډيپلوماسي به مو د اسلامي نظام څخه اصول او صلاحيت ترلاسه کوي چې دا اصول په اسلامي نظام کې همغه د درې ستراتيژيو تطبيق ته زمينه سازي ده، چې د دې په پايله کې به يا دعوت ته زمينه مساعديږي، کفري هېوادونه به اسلام قبلوي او يا به جزيې ته غاړه ږدي او د اسلام قلمرو به پراخيږي او يا به هم قتال جريان مومي لکه مدينه يې خه مثال دی.

**ورونو!** نن سبا ډيپلوماتيکې اړيکې پرته له دې چې تاسې د ارتداد کندو ته ګذار کړي کومه ښېګڼه نه لري، نن سبا کفار په قدرت کې دي، قوانين هم د هغوی د تطبيق وړ دي او هر څه ته اصول هم همغوی تعيينوي، دا د بين الملل کفري غوجل خو څه ددوی په واک کې نه ده چې قوانين به يې همدوی جوړ کړي وي بلکې د ملل ملحده ټول واک، اختيار او دا هر څه کفارو سره دي، که هغه د نړۍ د هېوادونو لپاره د قوانينو تصويب او توشېح ده او که د نړۍ نوره بدماشي ده، ټوله د کفارو سره ده.

اوس که څوک په دې ګمان وي چې کفار د اسلام خير غواړي او بين الملل کې راټول او نور ټول کفار چې دي، دا د اسلام سره کومه دښمني

(c) ketabton.com: The Digital Library


نه لري او دوی او ټول کفار چې کوم اصول تعیینوي دا د اسلام او مسلمانانو په ضرر نه دي، نو د داسې خلکو په ارتداد کې یوه ذره شک هم نشته،ځکه چې د داسې نظریې والا د الله او د هغه د رسول محمد ﷺ تکذیب کوي، ځکه چې الله ﷻ لخوا رالېږل شوی شریعت او دین همدا خبره په ښکاره الفاظو بیانوي چې کفار ستاسې خیرخواه نه دي، دا د الله رب العالمین او د مسلمانانو دښمنان دي.

همدا د بین الملل قوانین هېڅ وخت د اسلام او مسلمانانو په ګټه نه دي، د دې هر څه باوجود چې بیا هم نن سبا هر څوک کفارو سره د بین الملل د اصولو او قوانینو لاندې د مذاکراتو په مېز کېني، پرته له شکه مرتدین دي او د اسلام سره هېڅ ډول اړیکې نه لري.

**الله ﷻ فرمایي: ﴿تَرَى كَثِيراً مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِينَ كَفَرُواْ لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ أَنفُسُهُمْ أَن سَخِطَ اللّهُ عَلَيْهِمْ وَفِي الْعَذَابِ هُمْ خَالِدُونَ (81) وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِالله والنَّبِيِّ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَاء وَلَكِنَّ كَثِيراً مِّنْهُمْ فَاسِقُونَ﴾ {المائده: 81}**

**ژباړه: نن، ته له هغوی څخه زیاتره داسې خلك وینې چې د مؤمنانو په مقابله کې د کفارو ملاتړ او ملګرتیا کوي. په یقیني توګه ډېر بد عاقبت دی چې خپلو نفسونو یې ورته تیار کړی دی؛ دا چې الله پر**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**هغوی په غضب شوی دی او هغوی په تلپاتې عذاب کې اوسېدونکي دي، که په رښتیا سره دا خلك د الله، پیغمبر او هغه څه منوونکي وای چې پر پیغمبر نازل شوي ول؛ نو هېڅکله به یې د مؤمنانو په مقابله کې کافران خپل دوستان نه نیول مگر له هغوی څخه زیاتره خلك د الله له اطاعت څخه وتلي دي.**

شیخ الاسلام ابن تیمیه رَحِمَهُ اللَّهُ د بره آیت تفسیر کې فرمایي چې:

**فدل على أن الإيمان المذكور ينفي اتخاذهم أولياء ويضاده، ولا يجتمع الإيمان واتخاذهم أولياء في القلب، ودل ذلك على أن من اتخذهم أولياء، ما فعل الإيمان الواجب من الايمان بالله والنبي وما أنزل إليه»**

**ژباړه: آیت په دې دلالت کوي چې دا کوم ایمان په آیت کې ذکر دی، دا د کافرانو دوستانه له منځه وړي او ورسره ټکراو لري، نو ایمان او د کافرانو سره دوستانه په زړه کې نه جمع کیږي، نو دا په دې دلیل شو: چا چې دوی په دوستۍ ونیول نو واجب ایمان یې عملي نکړ چې په الله، د هغه په نبي او په هغه کتاب چې پرې نازل شوی ایمان لرل دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library


داسې نه ده چې هر کفر به کوي او بيا به وايي چې دا خو ډيپلوماتيکې اړيکې دي، داسې اړيکې خو په اسلامي نظام کې ځانته خپل شرايط لري، د رسول الله ﷺ له لورې به يواځې د يوه ځانګړي پيغام د رسولو او بېرته به د پيغام وړونکي د اسلام مرکز ته د راستنېدو پورې منحصرې اړيکې وي.

دوی که رجوع ونه کړي نو په دې تشو شعارونو يوازې د دوی په څېر يو څو کسان به دوکه کړي، نور نو د عقل او علم خاوندان خو نشي تېر ايستلای، د الله ﷻ په توفيق سره به مجاهدين د دوی دا باطلې څېرې نور هم مسلمانانو ته بربنډوي، هر مسلمان بايد پدې ځان پوهه کړي، ځکه طالبان به درته وايي چې ولې رسول الله ﷺ سفيران نه وو لېږلي؟

نو بايد ستاسې ذهن په دې مسئله خلاص وي چې رسول الله ﷺ که سفيران لېږلي، نو د يوه خاص هدف لپاره يې لېږلي و. هملته د کفارو په منځ کې د هغوی د اهدافو پاللو لپاره يې ورته سفارت او سياسي دفتر نه دی جوړ کړی، چې هملته د هغوی د قوانينو د سيوري لاندې پاتې شي او د سفارتونو په نامه استخباراتي مراکزو کې د مسلمانانو د نابودۍ طرحې جوړې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


رسول اللهﷺ خو به سفیران د یوه ځانګړي پیغام د رسولو په هدف لېږل، همدا یې وظیفه وه چې پیغام ورسوي او بېرته دارالاسلام ته راستون شي، اوس نو د رسول الله ﷺ له لورې د سفیرانو د لېږلو مسؤلیت او بیا په اوسني وخت کې د کفارو د قوانینو تر سیورې لاندې د هغوی د ګټو لپاره له هغوی سره دوستي او اړیکې ساتل، پالل، هغوی سره راشه درشه، د مسلمانانـو په خلاف تړونونه کول، کفارو سره په شریکه مسلمانان ترهګر ګڼل او بیا د کفارو په مرسته د مسلمانانو سره جګړه کول، هغوی سره پټې ناستې، مجلسونه، خنداوې، بنډارونه، خوراکونه او هغوی ته ضمانتونه ورکول، خو په خپل منځ کې سره ډېر توپیر لري.

حدیث کې راځي: **عن أبو هريرة أن رسول الله ﷺ قال: (لا تبدؤوا اليهود بالسلام، ولا النصارى بالسلام، فإذا لقيتم أحدهم في الطريق، فاضطروه إلى أضيقه.)**

**ژباړه: رسول الله ﷺ فرمايي: تاسو يهودو او نصاراو ته په سلام کې مه ورمخکې کېږئ او کله چې تاسو د دوی څخه يو کس سره په لار کې مخامخ شئ نو تنګې لارې ته يې مجبور کړئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library


یهودو ته به اول ته سلام نه وراچوې! بیا دا نو چېرته روا ده چې هر چېرته ورته لاس په نامه ودرېږې، عذرونه ورته هم کوې، مېلمه پالنه یې هم کوې، په خپلو ساحو کې یې د یو نازولي مېلمه په څېر قدر کوې، امن یې ساتې او ددوی په ملت کې د شاملېدو غږیتوب ترې غواړې.

**ورونړو!** د اسلام په سیاسي نظام کې د ډیپلوماسۍ دا درې ارکان په مکمل ډول د بین الملل له قوانینو سره په ټکر کې دي.

دا درسره کفار قطعاً نه مني، ځکه موږ ورته د ډیپلوماتیکې جګړې نوم ورکړی، چې موږ یې عملي کوو او هغوی یې نه مني چې د هغوی د نه منلو په صورت کې دلته بیا موږ بله ستراتیژي هم لرو!

چې هغه **د قتال استراتیژي ده.**

طالب خو دغه فعلي افغانستان څخه یو لوېشت مخکې حق نه لري چې یو قدم واخلي او یا یوه خبره هم وکړي، بلکې خپل سفیران بار بار لېږي او ټولو کافرو، مرتدو هېوادونو ته دا خبره په تکراري ډول کوي چې موږ هېڅکله د خپل قلمرو د پراخېدو دعوه نه لرو او نه یې کوو، بلکې څه اصول چې د بین الملل دي، هغې ته احترام لرو، هغه زموږ قبول دي او موږ د اسلامي نظام ډیپلوماسي نه تطبیقوو او نه یې تطبیقولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


تاسې بېغمه اوسئ، موږ خو هسې د اسلامي نظام دعوه هم دا ستاسې د اهدافو د ښه پاللو په خاطر کړې ده، لېکن عمل کې په هغه اصولو چې اسلام وضع کړي، یو قدم هم عمل نه کوو، تاسې چې کوم اصول وضع کړي، په همدې درسره مخکې روان یو، خو موږ صرف په رسمیت وپېژنئ!

نو دې فاتحینو (!) دا هر څه په عمل کې ثابت کړي، ټولې نړۍ ته دا معلومات دی او دا څه پټه خبره نده!

ابوبکر صدیقؓ د خارجي سیاست (دیپلوماسۍ) په برخه کې لومړی قدم دا واخست چې شام ته یې د اسامه ؓ لښکر ولېږه، ابوبکر صدیق ؓ د مدینې څخه شام او عراق ته مجاهدین ولېږل، په هغه وخت کې عراق د فارس د امپراطورۍ د حکم تابع و او شام د روم د امپراطورۍ څخه متابعت کاوه او د هغې د اثر لاندې و، خو بیا هم ابوبکر صدیق ؓ دا خبره ونکړه چې اوس مصروف یو او رسول الله ﷺ تازه وفات شوی دی، نو خیر لږ صبر به وکړو ځکه دا دواړه امپراطورۍ د هغه مهال قوي او قدرت والا امپراطورۍ وې، نه! داسې نه کوي، بلکې لومړی قدم چې خارجي سیاست کې اخلي همدا دی چې د پولو او کرښو غم نه کوي، له مدینې څخه شام او عراق ته پوځونه لیږي ترڅو د اسلامي خاورې قلمرو پراخه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دغه دوه لويو امپراطوريو د مقابلې لپاره يــې د اسلام لښکرې ولېږلې، څکه د ابوبکر او عمر رضي الله عنهما ديپلوماسياني د تورو په سيورو کې راڅرخېدلې، موږ مخکې ويلي وو چې ديپلوماسي د اسلام د سياسي نظام په چوکاټ کې د نظامي جګړې يو جزء شمېرل کېږي، که همداسې وشي نو بيا به تاسو ډېر زر د اسلام برم او عظمت بېرته واپس کړئ او کفار به ذليله شي.

ځينې خلک مرتدينو سره د سولې خبرو کولو لپاره د ابوبکر ﷺ سوله او خبرې اترې دليل وړاندې کوي او وايي چې مرتدينو سره خبرې او مذاکرات جائز دي او دليل د امام شوکاني رحمه الله هغه کوم فهم چې د ابوبکر رضي الله عنه دې موقف نه اخيستلاى هغه وړاندې کوي نو د الله متعال په خاص فضل سره لږ رڼا به په دې موضوع باندې هم واچه وو.

لومړۍ خبره دا دى چې امام شوکاني رحمه الله هم يو انسان دى ممکن خپل اجتهاد کې خطا شوى وي لکه دا د سلف علماوو کې عامه خبره

دى چې کله کله هغوى خطا کېږي او موږ ته پکار دى چې هر کله حق خبره په قوي دلايلو راته بيان او ښکاره شوه نو بيا شخصيت پرستي په ځاى بايد حق ته غاړه کېدو نو ابوبکر صديق رضي الله عنه چې کومو مرتدينو سره خبرې کړي دا دې د بزاخه وفد و چې (دا د طليحة بن خويلد الاسدي قوم و، نوموړي د نبوت دعوه کړې وه او خپل قوم يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره ملګرى شوى و او ټول مرتد شوي و نو خالد ﷺ ورسره د یمامې والاو نه وروسته جنګ وکړو او شکست یې ورته ورکړ چې بیا د ابوبکر ﷺ خوا ته راغلي و او د صلح غوښتنه یې تربې کوله نو صلح یې ورسره وکړه...) نو له دې څخه د مرتدینو سره د صلح په اړه استدلال کول صحیح نه دى، وجه یې دا ده: چې دوى د توبې لپاره راغلي و او اسلام یې قبلوو، او داسې نه و چې دوى به د صلح نه وروسته په خپل کفر پاتې وي، نو ابوبکر ﷺ ورله د توبې قبلولو لپاره دا شرطونه وویل: اسلحه به نه ګرځوي، د خپلو مړه شوو مرتدینو په اړه به دا منئ چې دوى جهنمیان دي، د اوښانو څرووونکو سره به پاتې کیږئ... او دا شرطونه یې ددې لپاره لګولي و چې د دوى ریښتنوالى ورته راښکاره شي چې په توبه کې ریښتوني دي او که دروغجن.

**ددغه اثر په اړه ابن بطال :وایي: كانوا ارتدوا ثم تابوا، فأوفدوا رسلهم إلى أبي بكر يعتذرون إليه فأحب أبو بكر أن لايقضي بينهم إلا بعد المشاورة في أمرهم، فقال لهم: ارجعوا واتبعوا أذناب الإبل في الصحاري، انتهى. والذي يظهر أن المراد بالغاية التي أنظرهم إليها**

(c) ketabton.com: The Digital Library


أن تظهر توبتهم وصلاحهم بحُسْن إسلامهم. [فتح الباري210/13 211]

ژباړه: دوی مرتد شوي و بیا يې توبه وویستله، نو خپل استازي يې په یو وفد کې س ته ولیږل چې عذر يې ورته وړاندې کوو نو ابوبکر س دا خوښه وګڼله چې د دوی په اړه وروسته له مشورې فیصله وکړي، بیا يې دوی ته وویل چې لاړ شئ صحراوُنو ته او هلته اوښان څروئ..(ابن حجر وايې:) د دغه مهلت نه يې مراد دا و چې د دوی د توبې حقیقت راښکاره شي او د اسلام رېښتنوالی يې معلوم شي.

شیخ الاسلام ابن تیمیه وایې: فَهَذَا الَّذِي فَعَلَهُ الصَّحَابَةُ بِأُولَئِكَ الْمُرْتَدِّينَ بَعْدَ عَوْدِهِمْ إلَى الْإِسْلَامِ يُفْعَلُ بِمَنْ أَظْهَرَ الْإِسْلَامَ وَالتُّهْمَةُ ظَاهِرَةٌ فِيهِ ، فَيُمْنَعُ أَنْ يَكُونَ مِنْ أَهْلِ الْخَيْلِ وَالسِّلَاحِ وَالدِّرْعِ الَّتِي تَلْبَسُهَا الْمُقَاتِلَةُ، وَلَا يُتْرَكُ فِي الْجُنْدِ مَنْ يَكُونُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا وَيُلْزَمُونَ شَرَائِعَ الْإِسْلَامِ حَتَّى يَظْهَرَ مَا يَفْعَلُونَهُ مِنْ خَيْرٍ أَوْ شَرٍّ وَمَنْ كَانَ مِنْ أَئِمَّةِ ضَلَالِهِمْ وَأَظْهَرَ التَّوْبَةَ أُخْرِجَ عَنْهُمْ، وَسُيِّرَ إلَى بِلَادِ الْمُسْلِمِينَ الَّتِي لَيْسَ لَهُمْ فِيهَا ظُهُورٌ. فَإِمَّا أَنْ يَهْدِيَهُ اللهُ تَعَالَى، وَإِمَّا أَنْ يَمُوتَ عَلَى نِفَاقِهِ مِنْ غَيْرِ مَضَرَّةٍ لِلْمُسْلِمِينَ .[الفتاوى الكبرى لابن

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تيمية ٣/ ٥١١، و مجموع الفتاوى ٣٥ (١٥٨) و مختصر الفتاوى المصرية ص: ٤٧٧]**

**ژباړه:** کوم کار چې صحابه و د دغه مرتدينو سره وروسته له اسلام راوړلو کړی دی، داسې کار به له هغه چا سره کيږي چې اسلام راښکاره کړي خو تهمت ورباندې وي نو له اسونو، اسلحو او زغرو څخه چې جنګيان يې اچوي، ترې منع کيدلی به شي او د مسلمانانو په لښکر کې به داسې څوک نه پريښودل کيږي چې يهودي يا نصراني وي او په دوی به د اسلام د احکامو پابندي کيږي دې لپاره چې د دوی ښه او بد راښکاره شي او څوک چې د ګمراهانو له مشرانو څخه وي او توبه راښکاره کړي نو له دوی څخه به جدا کيږي او د مسلمانانو هغه علاقې ته به بوتلل کيږي چې د دوی قوت په کې نشته نو يا خو به ورته الله هدايت کوي او يا به مسلمانانو ته له ضرر رسولو پرته په خپل نفاق مړ کيږي.

او په بل ځای کې شيخ الاسلام وايي: " **وَلَا اسْتَعْمَلَ عُمَرُ قَطُّ، بَلْ وَلَا أَبُو بَكْرٍ عَلَى الْمُسْلِمِينَ: مُنَافِقًا، وَلَا اسْتَعْمَلَا مِنْ أَقَارِبِهِمَا ، وَلَا كَانَ تَأْخُذُهُمَا فِي اللَّهِ لَوْمَةُ لَائِمٍ؛ بَلْ لَمَّا قَاتَلَا أَهْلَ الرِّدَّةِ وَأَعَادُوهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ مَنَعُوهُمْ رُكُوبَ الْخَيْلِ وَحَمْلَ السَّلَاحِ حَتَّى تَظْهَرَ صِحَّةُ**

(c) ketabton.com: The Digital Library


تَوْبَتِهِمْ، وَكَانَ عُمَرُ يَقُولُ لِسَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ وَهُوَ أَمِيرُ الْعِرَاقِ لَا تَسْتَعْمِلْ أَحَدًا مِنْهُمْ، وَلَا تُشَاوِرْهُمْ فِي الْحَرْبِ فَإِنَّهُمْ كَانُوا أُمَرَاءَ أَكَابِرَ : مِثْلُ طُلَيْحَةَ الْأَسَدِيِّ، وَالْأَقْرَعِ بْنِ حَابِسٍ، وَعُيَيْنَةَ بْنِ حِصْنٍ، وَالْأَشْعَثِ بْنِ قَيْسٍ الْكِنْدِي، وَأَمْثَالُهُمْ، فَهَؤُلَاءِ لَمَّا تَخوَّفَ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ مِنْهُمْ نَوْعَ نِفَاقٍ لَمْ يُوَلِّهِمْ عَلَى الْمُسْلِمِينَ.[الفتاوى الكبرى لابن تيمية

٣/ ٤٥٠، ومجموع الفتاوى ٣٥/ ٦٥]،

ژباړه: هېڅکله هم عمر او ابوبکر رضي الله عنهما په مسلمانانو کوم منافق نه دی مشر کړی او نه يې د منافق له خپلوانو څخه څوک مشر مقرر کړی او نه د الله د دين په باره کې د چا له ملامتيا ويريدلي،بلکې هر کله چې دوی د مرتدينو سره جنګ وکړ او هغوی يې اسلام ته راوګرځول؛ په اسونو باندې له سپريدلو او له اسلحې ګرځولو يې منع کړي دي تر دې چې د توبې صحيحوالې يې راڅرګند شي، عمر رضي الله عنه به سعد بن ابي وقاص ته ويل چې د عراق امير و: له دوی څخه هېڅا ته مشري مه ورکوه او مه ورسره د جنګ په اړه مشوره کوه ځکه چې دوی د ګمراهۍ غټ مشران پاتې شوي و لکه طليحه الاسدي، اقرع ابن حابس، عيينه بن حصن، اشعث بن قيس الکندي

(c) ketabton.com: The Digital Library


**او د دوی په څېر نور، نو هر کله چې ابوبکر او عمر له دوی څخه په یو ډول نفاق ویریدل نو مسلمانانو مشري یې ورته ورنکړه.**

نو دا خبره راڅرګنده شوه چې دوی د توبې لپاره راغلي و او له توبې وروسته په خپل ارتداد نه دي پاتې شوي او د توبې وړاندې شوي شرطونو ته یې غاړه ایښې ده نو بیا ورسره صلحه شوې او توبه یې منل شوې ده.

که داسې حال وس هم موجود شي چې مرتدین توبه وباسي او صلحه کوي؛ امیر ته جایز دی چې صلحه ورسره وکړي. او دا د الله عام قانون دی چې کوم مجرم قبل القدرة د خپل جرم نه توبه وباسي؛توبه به یې قبوله وي لکه الله تعالی فرمایې: **إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِن قَبْلِ أَن تَقْدِرُوا عَلَيْهِمْ ۖ فَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ [سورة مائده: 34]،**

**ژباړه: مګر هغه خلک چې مخکې له دې چې تاسو پرې برلاسي شئ، توبه وباسي، نو الله ښونکی مهربان ذات دی.**

او بل ځای کې شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله په دې خبره اتفاق رانقل کړی چې د مرتدینو سره به صلح نه کیږي لکه هغه وایې: **هَؤُلَاءِ أَعْظَمُ جُرْمًا عِنْدَ اللَّهِ وَعِنْدَ رَسُولِهِ وَالْمُؤْمِنِينَ مِنْ الْكَافِرِ الْأَصْلِيِّ مِنْ وُجُوهِ كَثِيرَةِ. فَإِنَّ هَؤُلَاءِ يَجِبُ قَتْلُهُمْ حَتْمًا مَا لَمْ يَرْجِعُوا إِلَى مَا خَرَجُوا**

(c) ketabton.com: The Digital Library


عَنْهُ لَا يَجُوزُ أَنْ يُعْقَدَ لَهُمْ دَمَّةٌ وَلَا هُدْنَةٌ وَلَا أَمَانٌ وَلَا يُطْلَقُ أَسِيرُهُمْ وَلَا يُفَادَى بِمَالٍ وَلَا رِجَالٍ وَلَا تُؤْكَلُ ذَبَائِحُهُمْ وَلَا تُنْكَحُ نِسَاؤُهُمْ وَلَا يسترقون؛ مَعَ بَقَائِهِمْ عَلَى الرِّدَّةِ بِالاتِّفَاقِ [مجموع الفتاوى ٢٨/ ٤١٣]،

ژباړه: دوی د اصلي کافر څخه د الله، رسول او مومنانو په نزد ډېر غټ مجرمان دي له ډیرو لاملونو په اساس: څکه چې د دوی وژل فرض دي ترڅو چې دوی هغه څه ته نه وي راګرځيدلي له څه شي چې وتلي دي (يعني دين ته نه وي راګرځيدلي) دوی سره د ټکس پريکړه صحيح نه ده او نه ورسره د صلح پريکړه صحيح ده او نه د امان، او د دوی بندي به همداسې(احسانا) نه آزاديږي او نه به هم د پيسو يا سړيو په بدل کې آزاديږي او د دوی حلالې به نه خوړل کيږي او نه يې د زنانه و سره نکاح کيږي او نه به غلامان کيږي ترڅو چې دوی په خپل ارتداد پاتې وي؛ په اتفاق د علماو.

نو په دې قول سره دا خبره نوره هم واضحه شوه چې د مرتدينو سره صلح کول د سلفو د صحيح فهم خلاف دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د یوه مجاهد ملګري پوښتنه او د هغې تفصیلي ځواب:

**پوښتنه : د حدیبیې په سوله او د طالبانو په صلحه(!) باندې که خبره وشي او د حدیبیې د مبارکې سولې او د طالبانو په تسلیمی کې توپیر څه دی؟**

آیا د طالبانو دا استدلال صحیح دی چې زموږ سوله د حدیبیې د سولې په څېر ده؟ ځکه طالبان دا خبره کوي چې رسول الله ﷺ هم سوله کړې او په دلیل کې یې د حدیبیې سوله وړاندې کړې ده، که دغه دواړو موضوعاتو باره کې خبره وشي او دا وویل شي چې د حدیبیې سوله کې کومه ستراتیژي،(دعوت،د اسلام د قلمرو پرمختګ او یا قتال) تطبیق شوې وه، ځکه موږ مخکې ویلي وو، چې د اسلام د سیاسي نظام په دیپلوماسۍ کې به دا درې اصول مراعات کیږي.

**جواب : بسم الله الرحمن الرحیم** قال الله تبارک تعالی: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ عَدُوِّى وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَآءَ تُلْقُونَ إِلَيْهِم بِٱلْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُوا۟ بِمَا جَآءَكُم مِّنَ ٱلْحَقِّ يُخْرِجُونَ ٱلرَّسُولَ وَإِيَّاكُمْ ۙ أَن تُؤْمِنُوا۟ بِٱللَّهِ رَبِّكُمْ إِن كُنتُمْ خَرَجْتُمْ جِهَٰدًا فِى سَبِيلِى وَٱبْتِغَآءَ مَرْضَاتِى ۚ تُسِرُّونَ إِلَيْهِم بِٱلْمَوَدَّةِ وَأَنَا۠ أَعْلَمُ بِمَآ أَخْفَيْتُمْ وَمَآ أَعْلَنتُمْ ۚ وَمَن يَفْعَلْهُ مِنكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ﴾ [سُورَةُ المُمتَحنَة:1]

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه : اې ایمان راوړنکو! که تاسې زما په لاره کې د جهاد او زما د رضا ګټلو لپاره وطن پریښی (له کورنو څخه وتلي یاست)نو زما او ستاسې دښمنان خپل دوستان مه نیسئ، تاسې له هغوی سره دوستانه اچوئ په داسې حال کې کوم حق چې تاسې ته راغلی دی، د هغه د منلو څخه هغوی انکار کړی دی او د هغوی چلند دا دی چې پیغمبر او په خپله تاسې په دې جرم له وطن څخه وباسي چې تاسې په خپل رب الله باندې ایمان راوړی دی، تاسې په پټه هغوی ته دوستانه پیغامونه مه لیږئ، په داسې حال کې څه چې تاسې په پټه کوئ او څه چې په ښکاره کوئ، په هر څه زه پوهیږم، هر څوک چې ستاسې څخه داسې وکړي هغه په یقیني توګه د سمې لارې څخه بې لارې شو.**

## درنو لوستونکو!

د امارت په تنظیم کې اوس هر کفر په ډاګه شوی او د دوی ناکامه هڅه دا ده چې خپل هر کفر توجیه کړي، خپله هره کفري کړنه د شریعت یو حکم وګڼي، چې د دغه کفري کړنو له ډلې یو هم کفارو سره د سولې په نوم کفارو ته د تسلیمۍ تړون دی، دوی دغه ذلیله کړنه په اسلام او مسلمانانو معامله د حدیبیې د مبارکې سولې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library


مقایسه کوي، که څه هم خبره ډېره ښکاره ده او د هېڅ ډؤل توجیه، مقایسې او مقارنې وړ نه ده،خو بیا به هم موږ هڅه وکړو په همدې ځواب کې د حدیبیې د مبارکې سولې او په دوحه کې کفارو ته د طالب د تسلیمېدو د تړون مقارنه وکړو، په دی به رڼا واچوو چې د حدیبیې د سولې لاس ته راوړنې څه وې او د طالبانو د تسلیمۍ تړون اسلامي امت ته کوم زیانونه ورسول؟

د ډېرو کسانو سره دا پوښتنه ده چې د طالبانو د تسلیمۍ او د رسول الله ﷺ او قریشو ترمنځ د شوي تړون حدیبیې توپیرونه واضح شي.

طالبان کفارو ته د تسلیمۍ تړون د تائید لپاره د حدیبیې سوله په دلیل کې وړاندې کوي، نو د دوحې د تړون او د حدیبیې د سولې په تړاو به د الله ﷻ په مرسته یوه مقارنه او تحلیل وړاندې کړو:

لومړی به په دې خبره وکړو چې د حدیبیې په سوله کې کومه ستراتیژي (دعوت، د اسلام د قلمرو پراخوالی او یا قتال) ددې په پایله کې پرمختګ وکړ که په ټپه ودریده، پایلې یې څه وې؟

له دغه دریو ستراتېژیو کومه یوه یې د حدیبیې په سوله کې تطبیق شوه؟

لکه څنګه چې تاسې ته مالومه ده، چې د اسلام په سیاسي نظام کې کفارو سره سولې او خبرو ته هغه وخت اجازه شته دی چې دې درې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستراتېژیو ته لکه (دعوت، د اسلامي نظام د قلمرو پرمختتګ او قتال) ستراتېژیو ته زمینه مساعده شي او یا پکې پرمختګ وکړي، لکه څنګه یې چې د حدیبیې د سولې څخه وروسته وکړ.

**ورونـو!** یو د اسلام د سیاسي نظام ساختار او بل د اسلام د سیاسي نظام تطبیق باندې مخکې پاڼو کې بحث وشو.

د اسلام د سیاسي نظام د ساختار په برخه کې هغه وخت د دیپلوماتیکو اړیکو اجازه شته چې دغه درېو ستراتیژیو ته پکې زمینه مساعده شي:

1. **د دعوت ستراتیژي**
2. **جزیه/د اسلامي قلمرو پرمختګ ستراتیژي**
3. **د قتال ستراتیژي**

او د اسلام د سیاسي نظام په تطبیق او عملي کېدلو کې د خارجي دیپلوماسۍ تطبیق ته هغه وخت اجازه شوې چې دغه دوه شرطونه پوره کړو.

1. **یو نظامي قوت او پراخه ملاتړ درلودل.**
2. **بل قوي، خپلواک داخلي نظام او نظم درلودل.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس همدا قواعد چې ستاسې ذهن کې کېناستل، بیا تاسې څوک د ډیپلوماتیکو اړیکو په نوم نشي دوکه کولای ان شاءالله.

لکه رسول اللهﷺ چې کله د حدیبیې طرف ته روان شو، نو مدینه کې یې داخلي قوي او مستقل نظام برابر کړی، چې بار بار ټولو کفارو سره هم لاس او ګریوان شوی او هم یې په بدر، اُحد او نورو غزواتو کې کفارو ته د خپل قوت نمایش وړاندې کړی،همداسې یې یو مجهز لښکر هم تیار کړی و.

د یو مثال په لړ کې به یــې واضحه کړو چې په دې مسئله تاسې لا زیات دقیق پوهه شئ یو انجینر دی د یو تعمیر نقشه جوړوي، ډیزاین یې کوي، برابروي یې، د تعمیر ټولې خواوې سنجش کوي، څېړي یې او طرحه کوي یې.

اوس دا نقشه که وکتل شي او ټولې خواوې یې وڅېړو، نو هېڅ عیب به پکې په ظاهر کې ونه وینو، له مختلفو اړخونو دا یو کامله نقشه ده! د طرحې، قوت، ساختمان، مقاومت او ټولو اړخونو له نظر څخه مکمل ده! اوس نو ددې نقشې د عملي تطبیق لپاره لومړی څه شي ته ضرورت دی؟

**جواب: بودیجې ته.**

(c) ketabton.com: The Digital Library


نقشه کې هېڅ عیب نشته، خو خپله نه تطبیقیږي، یعنې ددې غوره نقشې تطبیق بودیجې پورې تړاو لري، چې بودیجه نه وي، نو دا ښه او غوره نقشه به همداسې بېکاره پرته وي.

د اسلام سیاسي نظام کي هم همدا خبره ده! چې تاسې هغه وخت د سولې خبرې کولای شئ، چې تاسې یوه بودیجه عیاره کړې وي چې دا بودیجه د اسلام سیاسي نظام کې دوه بخشونه لري:

1. نظامي قــوت (لښکر):
2. خپلواک نـظام:

چې پدې دواړو باندې د هېڅ کافر اثر نه وي، یعنې اسلام یو خپل قوت ترلاسه کړی وي او هره برخه کې مستقل نظام ولري او د ساختار برخه کې اسلام هغه وخت موږ ته اجازه راکوي چې موږ خارجي دیپلوماسي مطرح کړو ترڅو ددې دریو ستراتېژیو د تطبیق لپاره لا زیات پرمختګ ترلاسه کړو. نو په همدې اساس هر وخت چې په دې دریو ستراتېژیو کې د پرمختګ په ځای شاتګ راغی، نو دا بیا سوله نه بلکې تسلیمي ده! لکه د طالبانو تش په نوم سوله کې چې نن سبا د دعوت،د اسلامي قلمرو د پرمختګ او قتال ستراتېژیاني په ټپه ولاړې دي،بلکه هغه ډله چې غواړي دا ستراتېژۍ پرمختګ وکړي وژل کیږي. خلاصه د کلام دا چې هر وخت تاسې د دیپلوماتیکو اړیکو

(c) ketabton.com: The Digital Library


خبره مطرح کوئ، مخکې له مخکې باید یو نظامي قوت او یو مستقل نظام ولرئ چې دېته بودیجه ویلی شو، کله چې بودیجه تیاره شوه بیا تاسې د دې لپاره چې په دې درې ستراتېژیو کې لازیات پرمختګ وکړئ، د اسلام سیاسي نظام تاسې ته د ډیپلوماتیکو اړیکو اجازه درکوي، د دې چوکاټ او قالب نه هغه خوا تلل بیا د صراط المستقیم نه وتل دي. اوس راځو د حدیبیې په سوله لږ بحث کوو ان شاءالله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حديبيې صلحه

لومړی باید په دې پوهه شو چې د مجاهدینو اصلي او اساسي هدف کفارو سره سوله کول نه دي، بلکې دا اهدافو ته د رسېدو یوه مشروطه وسیله او لاره ده، یعنې هغه وسیله ده چې موږ اصلي هدف ته پرې رسېږو، تاسو څه ګمان کوئ چې آیا د مجاهدینو دا دومره زحمتونه، ولږې، تندې، بې کورۍ، تکلیفونه، زندانونه، زخمونه، شهادتونه او نور ډول، ډول کړاؤنه صرف ددې لپاره دي چې آخر کې دې کفارو سره سوله وکړو؟

نه! هېڅکله هم نه!

د دې قربانیو او کړاؤنو د تېرولو هدف دا نه دی.

کفارو سره سوله د اسلام په سیاسي نظام کې یو اضطراري او یو موقت حالت دی، دا اصل هدف نه دی، که زه او ته کفارو سره یو وخت سوله کوو، نو ددې لپاره یې کوو چې له دې لارې خپل اصلي اهداف ترلاسه کړو، نو زما او ستا اصلي اهداف څه دي؟

د اسلام د سیاسي نظام په ساختار کې د مجاهدینو ګُلي (ټولیز) اهداف د کلمې لوړاوی، د اسلامي امت او د جهاد د لوړو منافعو او ګټو ساتل او لاس ته راوړل دي.

د اسلام په سیاسي نظام کې سوله اصل نه دی، یعنې یو داسې رکن

(c) ketabton.com: The Digital Library


نه دی چې ددې په نه کولو زمونږ اسلام نیمګړی پاتې شي او یا موږ اصلي هدف ته نه شو رسېدلای.

طالبانو دې خبرې ته ډېر زور ورکړی چې زمونږ سوله د نبيﷺ د مبارکې صلحې حديبيې په څېر ده! طالبان خپلې سولې ته شرعي رنګ ورکوي او ډېر په تکلف سره دا ثابتول غواړي چې امريکايانو سره د سولې په نوم ترسره کړې پروسه د اسلامي نظام د قيام تمثيل دی، خو حقيقت دا دی چې دا سوله سراسر په غیر مشروعه بنيادونو باندې ولاړه او د ملت د قربانيو په سر سودا وه!

## ورونـــو!

اللهﷻ مونږ ته اسلام یو مکمل ظابطه حیات رالیږلی چې تر قیامته د هرې یوې لویې او وړې قضیې بیان پکې په احسنه توګه موجود دی ، شریعت داسې جامع کلیات بیان کړي چې په مسائلو کې هېڅ فرد ترې خارج نه دی، اللهﷻ دا اعلان کړی دی چې فرمايي:

﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا﴾ [المائدة: 3]

**ژباړه: نن ورځ ما ستاسې لپاره ستاسې دین پوره کړ او په تاسې مې خپل نعمت تمام کړ او اسلام مې ستاسې لپاره دین خوښ کړ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دې پورې چې مشرکانو به صحابه و ته پېغور ورکاوه چې ستاسې رسول تاسې ته د هر څیز بیان کوي تر دې چې د استنجاء چل هم درته ښايي لکه: **عَنْ سَلْمَانَ، قَالَ: قِيلَ لَهُ: قَدْ عَلَّمَكُمْ نَبِيُّكُمْ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلَّ شَيْءٍ حَتَّى الْخِرَاءَةَ (وَهُمْ يَسْتَهْزِئُونَ بِهِ في رواية مسند أحمد) قَالَ: فَقَالَ: أَجَلْ لَقَدْ نَهَانَا أَنْ نَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ لِغَائِطٍ... {صحيح مسلم}**

**ژباړه: سلمان فارسي وايي، هغه ته وويل شول: تاسې ته ستاسې نبي ﷺ د هر څه ښودنه کړې، تر دې چې د اودس ماتې چل يې درته هم ښودلی. (بل روايت کې راځي چې هغوی ټوقې کولې) هغه ورته وفرمايل: هو، يقيناً هغه ﷺ مونږ د اودس ماتې پر وخت قبلې طرف ته د مخ ګرځولو څخه منعه کړي يو.**

داسې مسئله نشته، مګر دا چې اسلامي شريعت کې يې بيان شوی، راځئ! د ابوذر څخه يې واورو:

**عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: تَرَكَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَمَا طَائِرٌ يُقَلِّبُ جَنَاحَيْهِ فِي الْهَوَاءِ، إِلَّا وَهُوَ يُذَكِّرُنَا مِنْهُ عِلْمًا، قَالَ: فَقَالَ: صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا بَقِيَ شَيْءٌ يُقَرِّبُ مِنَ الْجَنَّةِ، ويُبَاعِدُ مِنَ النَّارِ، إِلَّا وَقَدْ بُيِّنَ لَكُمْ». المعجم الكبير للطبراني.**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ژباړه: ابوذر وايي: مونږ رسول اللهﷺ پداسې حال کې پريښني يو چې نشته يو مارغه چې په هوا کې وزرې اړوي را اړوي، مګر هغه مونږ ته د ده علم هم بيان کړی ، نبي عليه اسلام وفرمايل: ندی پاتې هېڅ يو شی چې جنت ته مو نږدې کوي او د جهنم څخه مو لرې کوي، مګر تاسې ته بيان شوی دی.**

همدا خبره قرآن کريم کې اللهﷻ فرمايلې ده: **(وَمَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا طَائِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلَّا أُمَمٌ أَمْثَالُكُمْ مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِنْ شَيْءٍ ثُمَّ إِلَى رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ) (سورة الأنعام: 38)**

**ژباړه: په ځمکه کې خوځېدونکی کوم ساکښ او په هوا کې په وزرونو سره الوتونکی مارغه، دا ټول همدا ستاسې په څېر انواع او ډولونه دي، موږ پدې کتاب کې د هېڅ شي کمی نه دی کړی، بیا به هغوی خپل رب ته ورغونډېږي.**

غرض مې دا دی چې کوم دين په اړه رب لايزال دا اعلان کړی وي چې کامل دی، کوم دين کې چې د استنجاء مسائل په تواتر سره ثابت وي، کوم دين کې چې په هوا کې د مرغانو مسائل هم بيان شوي وي، نو آيا هغه دين کې به د نظام چلولو مسائل او قوانين په کامله توګه نه وي بيان شوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


**عزتمندو!** خامخا بیان شوي دي، نو مونږ تاسې ته د طالبانو هر سیاسي فعالیت د شریعت تلې ته اچوو که برابر و ډېره ښه ده او که برابر نه و نو دغه عمل او دغه فعل به مردود وي.

سوله په شریعت محمدي کې په اجماع د مسلمانانو سره روا ده، خو په خپلو معتبرو شرطونو سره!

**الله ﷻ فرمايي:﴿ وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا﴾[الأَنْفَال: 61]**

**ژباړه: که چېرې هغوی (کافر) سولې ته غاړه کېږدي نو ته هم ورته غاړه کېږده.**

نو د طالبانو سوله به هم د کتاب او سنت په تله باندې وتلو.

**تنبيه:** دا خبره یاد ساتل پکار دي چې طالبانو کې لسګونه نواقض موجود دي، نو که دا یوه سوله يې په شریعت برابره هم شي، نو هېڅ فائده نه ورکوي،یعنې دوی پرې نه مسلمانیږي،خو د دومره نواقضو سره د طالبانو څخه هېڅکله د شرعي سولې تمه هم نه کیږي.

زمونږ دعوه دا ده چې د طالبانو سوله غیر شرعي بلکې د کفارو موالات، ارتداد او تسلیمي ده!

او د نبي عليه السلام مبارکې سولې سره زیات توپیرونه لري، ځینې يې مونږ د الله په توفیق سره ذکر کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د هجرت په شپږم کال د ذوالقعدې په میاشت کې رسول الله ﷺ خوب ولیدلو چې عمره به کوي، په دې اړه یې د صحابه و سره مشوره وکړه، صحابه خوشحاله شول او د عمرې په نیت یې مکې طرف ته حرکت وکړ، د سولې په نیت یې حرکت نه دی کړی، یعنې داسې نه وه چې رسول الله ﷺ ګنې له مدینې څخه د سولې په نیت روان شو او له پیله یې غوښتل چې لاړ شي حدیبیه کي سیاسي دفتر خلاص کړي او بیا قریشو سره د سولې خبرې وکړي.

**نه!**

بلکې نیت یې عمره کول و، ځکه یې د عمرې په نیت یې حرکت وکړ چې په مدینه کې شته منافقین ورسره په همدې خاطر لاړ نه شول، هغوی فکر کاوه چې دوی سره اسلحې دي، دوی عمرې ته نه ځي بلکې د جنګ نیت لري، د مکې په قریشو ځان خرابوي، که چېرته رسول ﷺ د سولې په نیت حرکت کړی وای نو بیا به خبره ښکاره وه او منافقینو ته به همدا معلومات شوي و چې راځه نو هسې هم سوله کوي ته به هم لاړ شې د مسلمانانو منځ کې به دې حیثیت لوړ شي، هغه د چا خبره د قصاب په دوکان نه، بلکې د حلوایي دوکان ته تلل دي. طالب چې اکثره د خپلو کړنو لپاره کوم دلایل وړاندې کوي فقط عناوین یې وړاندې کوي، نور یې جزیاتو ته نه ورځي، لکه خپل د

(c) ketabton.com: The Digital Library


تسليمۍ تړون د حديبيې سولې سره مقايسه کوي خو نور د حديبيې د سولې جزيات او شرايطو ته نه ورننوځي، ځکه بيا خپله همدا د حديبيې سوله د دوی په دې تړون د رد ستر دليل دی.

دوی يوازې خلکو ته په سترګو کې د خاورو وراچولو په خاطر همداسې عمومي وايي: چې د حديبيې په سوله کې رسول الله ﷺ د مشرکينو ځينې شرايط منلي و، نو موږ ته هم لازمه ده چې د کفارو شرايط ومنو.

نو راځئ! مخکې له دې چې دغه بحث ته ننوځو لومړی به د حديبيې په سوله وغږېږو ان شاءالله.

د حديبيې سوله د هجرت په شپږم کال وشوه، لکه مخکې مو وويل چې رسول الله ﷺ له مدينې څخه د عمرې په نيت وخوځېد، کله چې مکې ته نېږدې د (ثنيه) مقام ته ورسېدو چې مکې ته نژدې د يو ځای نوم دی، نو په همدغه ساحه کې د رسول الله ﷺ اوښه (قصواء) پرېوتله، صحابه و هڅه وکړ چې اوښه اوچته کړي خو ونه توانېدل، فکر يې وکړ چې ستړې شوې ده، صحابه و وويل اوښې ته نور مزل سخت شوی او ستړې شوې ده، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: اوښې ته مزل نه دی سخت شوی او نه يې دا عادت دی، بلکې دا هغه ذات

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنده کړې ده چې فيل يې بند کړی و، ددې مقصد دا وو چې اللهﷻ نه غوښتل چې نبيﷺ له دې ځايه نور مخ ته لاړ شي، د نبيﷺ او ابرهه ترمنځ يې تشبيه مقصد نه ده، مکې ته له تللو يې لکه څنګه چې فيل منعه کړی و دغسې يې دا اوښه هم منعه کړه.

بيا نبيﷺ اوښه پاڅوله او حديبيې ته يې روانه کړه او دوی ټول بيا حديبيه کې راټول شول، د بخاري په يو روايت کې دي چې نبيﷺ يوه خبره وکړه ويې فرمايل: (**والذي نفسي بيده لا يساءلون ...**)

**ژباړه: قسم په هغه ذات چې زما روح يې په لاس کې دی، دوی به له ما څخه د داسې يو خصلت غوښتنه نه کوي چې په هغې سره دوی د اللهﷻ د محارمو، بيت الله او د حرم تعظيم کوي، مګر زه به يې ورسره منم.**

نو نبيﷺ د اوښې له پرېوتلو دا خبره فهم کړه چې مکې ته بغير له سولې نشي داخلېدلی،نو ځکه يې دا خبره وکړه، کله چې حديبيه کې راټول شول نو لومړی د خذاعه له قبيلې ورته څه خلک راغلل، دغه خلکو په جاهليت کې د بنو هاشمو سره دوستي تېره شوې وه، په دغه وفد کې يو کس و چې نوم يې بُديل بن ورقاء الخذاعي و، نبيﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library


همده ته د مکې والا لپاره پيغام ورکړ، ځکه د مکې خلک په همدې نيت راوتل شوي وو چې د نبي ﷺ مکې ته ننوتلو مخه ونيسي، د طايف او غطفان قبيلې خلک اکثره راوتل شوي وو، نبي ﷺ بُديل ته وويل چې مکې والاو ته ووايه چې موږ د جنګ په نيت نه يو راغلي، بلکې د عمرې په نيت راغلي يو! قريش هسې هم ضعيفه شوي دي که د دوی خوښه وي نو زه به دوی سره سوله وکړم، ما دې پرېږدي چې د نورو مشرکينو سره حساب وکړم او که داسې نه کوي نو قسم په هغه ذات چې زما روح يې په لاس کې دی زه به په دې دين دوی سره تر مرګه وجنګېږم، بُديل د مکې خلکو ته د رسول الله ﷺ پيغام يوړ، د مکې بېوقوفانو د پيغام اورېدل نه غوښتل خو هوښيارانو يې وويل: پيغام يې را واوراوه! بيا بُديل ورته وويل: رسول الله ﷺ وايي: چې که تاسې ماسره تر يو وخته سوله وکړئ او ما پرېږدئ چې د نورو مشرکينو جنګ ته فارغ شم او که داسې نه کوئ، نو قسم په الله چې تاسې سره جګړې ته تيار يم.

د قريشو په منځ کې عروة بن مسعود الثقفي چې هغه وخت يې ايمان نه وو راوړی، وويل: دا خو د خير خبره ده، ورسره يې ومنئ او ماته اجازه راکړئ چې زه د رسول الله ﷺ څنګ ته ورشم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بيا ورته مشركينو اجازه ورکړه، چې کله د نبي عليه السلام څنګ ته راغی نو نبي عليه السلام دې ته هم همغه خبرې وکړې کومې يــې چې بُديل ته کړې وې.

د اسلام سياسي نظام په يوې سيمه کې سولې ته هلته اجازه ورکوي چې د اسلام قوت جانب مقابل باندې زيات او يا دواړه لورې په قوت کې يو شان وي، که چېرته کمزوری له زورور سره سوله وکړي نو زورور به خامخا خپل ټول شرطونه پرې مني.

نو قريشو ته دا مالومه وه چې اوس مسلمانان هغه پخواني مسلمانان نه دي! بلکې اوس د نبي عليه السلام قوت له دوی زيات دی، دوی د نبي عليه السلام د لښکرو سره د هجرت په دويم، دريم او څلورم کال کې هم جنګونه کړي و، د مسلمانانو د قوت اندازه ورته شوې وه او ددې جګړو په لړ کې دوی کمزوري شوي و، ځکه يې نو له مجبورۍ سولې ته غاړه کېښوده.

مسلمانان همغسې په خپل قوت او د الله په فضل مطمئن ول، هغه وخت يې هم تېته خبره نه کوله، له دې هم د مسلمانانو د هغه مهال لوړ مورال او قوت معلومولی شئ چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم عثمان رضي الله عنه يې ولېږه چې هلته قريشو سره خبره وکړي، عثمان لاړ او لږ وخت يې هلته زيات تېر کړ،نو دلته د صحابه و ترمنځ دا ګنګوسې وشوې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


عثمان یې شهید کړی، نو داسې یې ونګڼل چې بس خبره ختمه شوه او صحابه وېربېدلي وي چې یاره موږ خو کمزوري یو، عمرې ته راغلي یو، بیا به بل کال ته په قوت سره په پوره تیاري سره راشو، بس اوس ځئ چې بېرته وروګرځو، نه! بلکې د الله رسول ﷺ همدې حدیبیې مقام کې صحابه راټولوي او په مرګ ترې بیعت اخلي.

**قال تعالی:** **﴿لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا﴾**

**ژباړه : الله له مؤمنانو څخه خوشحاله شو، کله چې هغوی د ونې لاندې ستا سره بیعت کاوه، د هغو د زړونو حال هغه ته معلوم دی، له دې امله یې پر هغو ډاډینه نازله کړه او هغو ته یې په انعام کې نېږدې بری ورکړ.**

یعنې په مرګ بیعت اخلي چې په دې بیعت یې الله ﷻ راضي او خوشحاله کیږي، داسې نه ده چې عثمان رضي الله عنه پرېږدي او دوی ځي چې څه بل کال ته به له آمادګۍ سره راشو، نه! بلکې ټول په مرګ بیعت کوي چې یا به د عثمان انتقام اخلو او یا به پرې ټول ځانونه شهیدانوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو اوس د طالبانو څخه پوښتنه وکړئ چې د صلحې په جریان او د سولې څخه وروسته ستاسې په اصطلاح همدې ماتې امریکا څو ځله وویشتلئ او څومره یې ووژلئ، آیا تا د کوم خپل دوست او ملګري لپاره کفارو ته چېرته ټنډه تروه کړه که نه؟

**ورونو!** دلته مو دې خبرې ته پام راګرځوو، چې د طالبانو خبرې امریکایانو سره دا خو بیخي په صلحه حدیبیه باندې نه قیاس کیږي، دا خبرې او تړون هغه وړاندیز سره مقارنه کېږي کوم چې په لومړیو کې په مکه کې مشرکینو رسول الله ﷺ ته وکړ.

کله چې مشرکین د رسول الله ﷺ ورځ تربلې زیاتېدونکي نفوذ او قوت څخه په ډار او وارخطایۍ کې راغلل او هره وسه یې تمامه او زور یې ونه رسېده، نو د قریشو یو مشر عتبه بن ربیعه د دوی په استازولۍ رسول الله ﷺ ته راغی، تر څو ورته ځینې وړاندیزونه وکړي، رسول الله ﷺ باندې خپل زهر وچلوي د دنیا مال، متاع، واک، زر، ښځو او نورو غولونکو تمو په ګرداب کې یې راګیر کړي او له خپل مسؤلیت او دعوې څخه یې راوګرځوي، همغه و چې عتبه راغی د رسول الله ﷺ په وړاندې کېناست ورته یې وویل: وراره!

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته خو زموږ په منځ کې د اوچتې او قدرمنې کورنۍ د محترم او لوړ نسب خاوند یې، تا خپل قوم ته یوه لویه مسئله راوړې ده او په دې سره دې د ټول قوم په منځ کې جنجال جوړ کړی، بې اتفاقي دې راوړې ده، د دوی دین او معبودان توهینوې، عیب پرې پورې کوې، د خپلو پلرونو دین او عادات دې پریښي، نو وراره زه درته یو څو وړاندیزونه لرم، فکر پرې وکړه کېدای شي کوم یو دې خوښ شي، ته یې ومنې او دا شخړه ختمه شي، رسول اللهﷺ ورته وفرمایل: (**قل یا ابا الولید اسمع**). وایه ابوالولیده اورم.

عتبه وویل: وراره کوم دعوت چې تا اسلام ته شروع کړی او کومې هلې ځلې چې کوې او زموږ په منځ کې دې ستونزې راولاړې کړي که له دې څخه دې مقصد د مال ترلاسه کول وي، نو موږ به درته دومره مال او دارایي راټوله کړو چې له موږ ټولو به ته زیات مالداره او شتمن شې.

او که له دې لارې غواړې چې مشر شې نو موږ به دې سمدستي خپل مشر وټاکو او هېڅ فیصله به ستا له مشورې پرته نه کوو، ته به د مکې مشر شې، د ټولې مکې واک به تاسره وي، که پاچاهي غواړې نو پاچا به دې کړو، او که چېرې دا څه چې درته راځي جن یا پېری وي او ناروغه یې نو علاج به دې وکړو، که غواړې د خپل قوم ښایسته او

(c) ketabton.com: The Digital Library


غوره ښځه به درکړو، خو دا کومه دعوه چې لرې، دا کوم مشن چې دې روان کړی دی له دې تېر شه.

کله چې عتبه خبرې ختمې کړې رسول الله ﷺ ورته وویل: ستا خبرې خلاصې شوې؟ هغه ورته وویل: هو!

نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: (فاسمع مني) اوس ماته غوږ شه.

عتبه وویل غوږ مې دی. رسول الله ﷺ خبرې داسې پیل کړې،

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**﴿حمٓ (1) تَنزِيلٌ مِّنَ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ (2) كِتَٰبٌ فُصِّلَتْ ءَايَٰتُهُۥ قُرْءَانًا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ يَعْلَمُونَ (3) بَشِيرًا وَنَذِيرًا فَأَعْرَضَ أَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ.﴾**

**[سُورَةُ حٰمٓ السجدة/فُصّلَت: 1- 3]**

**ژباړه: حا، میم. (1) دا (قرآن) د خورا مهربان او پوره رحم لرونکي الله له خوا نازل کړی شوی دی؛ (2) یو داسې کتاب چې آیاتونه یې په تفصیل سره بیان کړای شوي دي او د عربي ژبې قُرآن دی د هغو خلکو لپاره چې علم لري؛ (3) زېرى ورکوونکی او وېروونکی دی،خو له دغو خلکو څخه زیاترو ترینه مخ واړاوه او غوږ ورته نه ږدي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library


رسول الله ﷺ قرآنکریم تلاوت کوي، عتبه لاسونه شاته ایښي تکیه یې کړې غلی ناست دی او غوږ یې ورته نیولی دی،رسول اللهﷺ د سجدې آیاتونه تلاوت کړل،سجده یې وکړه او بیا یې وویل: ابوالولیده وادې وریدل؟

اوس خپله فکر وکړه ته پوهه شه او کار دې.

عتبه پاڅېده خپلو ملګرو ته ورغی ملګرو یې وویل عتبه چې له موږ په کوم مخ تللی و په هغې نه دی راغلی، ترې ویې پوښتل څه کیسه ده؟

هغه ورته وویل: قسم په الله ما داسې خبرې واورېدې چې په ټول عمر کې مې نه وې اورېدلې، هغه نه سحر و، نه شعر و، نه جادو او نه مداریتوب. اې قریشو! محمد ﷺ په خپل حال پرېږدئ .

همدا راز د قریشو مشران ابو طالب ته راغلل او هغه یې مجبور کړ چې خپل وراره وپوهوي چې د دوی له دښمنۍ لاس واخلي، تره یې ورته وایي مشران راغلي و او داسې داسې... غوښتني یې درلودې، دا خبره هم وشوه چې ته زموږ آلهه وو ته بد او رد مه وایه مونږ به ستا رب پسې بد نه وایو، او یا به یو کال ستا د رب عبادت وکړو یو کال ته زمونږ د باطلو آلهه وو عبادت وکړه او یا به عقیدوي آزادي وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


هر څوک چې هر کار کوي نو يو به د بل په کار کې مداخله نه کوو، نو محمد ﷺ ورته وايي: قسم په الله اې تره! که لمر په يوه لاس او سپوږمۍ په بل لاس کې راکړې نو له دې دعوته او له دې مشن او مبارزې به لاس په سر نشم.

هو! د دوحې تړون د مشرکينو د همغې غونډې سره مقايسه کيږي، کله چې د امريکا په مشرۍ د نړۍ کفارو او طواغيتو د دوی له مشرانو وغوښتل چې دا څه د شريعت، شريعت ناري وهئ، موږ ته مالومه ده چې تاسې خپله په شريعت برابر نه ياست، راځئ له دې تشو نارو هم تېر شئ، ولې هم ځان او هم موږ ستړي کوئ، ستاسې چې څه مقصد دی په هغې موږ پوهيږو، تاسې د کابل واک غواړئ، موږ به مو په يوه مياشت کې دننه د کابل حاکمان کړو، وسلې، عرادې، تجهيزات او ټول امکانات به په واک کې درکړو، مزې به مو وي، ښځې به هم ښې پرېمانه وي، په مجلسونو، تلويزونونو او په نورو پټو او ښکاره ملاقاتونو کې به تاسې د فاحشو ښځو سره مشغول شئ، هره اونۍ به درته په ميليونونو ډالر هم درليږو، کفري او طاغوتي هېوادونو ته به زموږ او ستاسې د دوستۍ په لړ کې ښه آزاد سفرونه هم کوئ، دلته به زموږ په ساحلونو او هوټلونو کې د ژوند له رنګينيو خوند هم واخلئ، هېڅ ډول بنديز به دربانديې نه وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


نومونه به مو له تورو لېستونو څخه وباسو، د سفر بنديزونه به درباندې ختم کړو، په رسمي شکل به مو په خپل ملت کې ومنو، تاسې فقط د اسلام او شريعت د دې تش په خوله د اخيستونکو شعارونو او نومونو څخه هم تېر شئ، دا څه جنجال مو جوړ کړی دی، بس ټول به سره يو ملت شو، يو به مو قانون ، يو به مو هدف او يو به مو دريځ وي، د بين الملل په اصولو به سره راټول او دا شته ټولې ستونزې به مو ختم شي، نه به تاسې زموږ کار کې کار لرئ او نه به موږ په ظاهر ستاسې کار کې کار لرو، د يوه او بل امن به ساتو، زموږ دوست به ستاسې دوست وي او زموږ دښمن (اسلامي دولت) به ستاسې دښمنان وي او په شريکه به يې د محوه کولو لپاره کار کوو.

همغه و چې د دوی مشرانو خولې له اوبو ډکې شوې او دا هر څه يې ورسره ومنل، له خپلې دعوې، دين، ايمان، حياء، او غيرت څخه ورته تېر شول، د اسلامي امت په وينو او اوښکو يې معامله وکړه او اوس نو همغه مشرکينو سره شوی تړون دی چې د عملي کېدو او تطبيق په لار کې دا فاتحين(!) له مختلفو مرحلو تېرېږي.

نو لنډه دا چې طالب د دين آدرس غلط کړی دی او د دوحې تړون د حديبيې د سولې د تړون سره نه مقايسه کيږي، بلکې د مشرکينو له لورې رسول الله ﷺ ته د وړانديزونو هغه تړون دی، چې رسول الله

(c) ketabton.com: The Digital Library


ﷺ دا هر څه رد کړل او ورته يې انکار وکړ، خو دوی دا هر څه په پټو سترګو ومنل او عملاً يې ټوله نړۍ ګوري.

مشرکینو رسول اللهﷺ ته د دې هر څه وړاندیزونه وکړل، مګر رسول اللهﷺ ورته مکمل انکار وکړ، خو دوی دا هر څه په ډېره سپین سترګۍ ومنل. لکه مخکې مو چې ذکر کړل چې سوله د اسلام په سیاسي نظام کي د زورور او کمزورۍ ترمنځ نه وي، بلکې چې په قوت کې سره مساوي وي او یا د اسلام قوت اوچت وي، نو بیا به سوله کیږي، ځکه که زورور سره سوله وشي بیا هغه دربانديې خپل ټول شرایط د سولې په نوم مني، لکه څنګه چې زورورې امریکا په ماتو شویو او له خپلو دعوو او کړو وعدو په شاه شویو طالب مشرانو ومنل.

سره د دومره انحرافاتو، د کفارو او مشرکینو ترمنځ د وړاندیزونو د منلو او له خپلو دعوو له تېرېدو دا د تسلیمۍ تړون د حدیبیې په تړون قیاس کوي او وايي دلته هم موږ د مشرکینو شرایط منلي ځکه چې په حدیبیه کې هم رسول اللهﷺ د مشرکینو ځینې شرایط منلي وو.

اوس راځو دېته چې هغه شرطونه چې د حدیبیې په سوله کې پرېې موافقه شوې وه په هغې شرطونو کې د مشرکینو د دین د منلو څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره وه؟

یا زموږ د دین خلاف څه خبره په کې وه؟

یاني د شریعت خلاف کوم شرط په کې و که نه؟

## په دې شرطونو به لږه رڼا واچوو:

کله چې سهیل بن عمرو چې دا د قریشو وروستنی استازی و د دې لپاره راغی چې د سولې تړون خط ولیکي، نو کله چې رسول الله ﷺ ولید نو ویې فرمایل: ستاسې کار آسان شو، ځکه چې نبي عليه السلام به په ښایسته نومونو نیک فالي کوله، د حدیبیې د سولې یو شرط دا و چې تاسې به موږ بیت الله ته پرېږدئ چې موږ طواف وکړو.

نو سهیل ورته وویل چې: نه تاسې به راتلونکي کال کې راځئ هسې نه عرب داسې فکر وکړي چې تاسې په موږ په زور را داخل شوي یاست.

بل شرط دا و چې که بل کال ته عمرې ته راځئ نو د عربو د عادت موافق د یوه مسافر هومره وسله به له ځان سره هر کس راوړي، توري به ورسره په پوښونو کې وي او درې شپو څخه ډېر وخت به هم نه تېروئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نبيﷺ ورسره په دې شرطونو موافقه وکړه،نو دا شرطونه د مشرکینو په دین پورې کومه اړه نه لري، یانې دا یوازې د سولې یو شرط و د هغوی د دین او دستور منل نه دي.

بل شرط دا و چې که څوک له نبي ﷺ څخه مشرکینو ته راشي هغه به ورته بېرته نه واپس کوي او که د مشرکینو څخه څوک نبي ﷺ ته راشي، نو هغه به بېرته ورته واپس کولای شي.

د دې شرط د منلو وجه د مسلم په حدیث کې داسې بیان شوې ده چې رسول اللهﷺ فرمایلي دي: څوک چې زموږ څخه د دوی خواته ورغی یانې مرتد شو نو اللهﷻ دې هغه هلاک کړي او څوک چې د دوی څخه موږ ته راغی نو اللهﷻ به ورته څه لاره خامخا خلاصه کړي، یانې که موږ یې ورته واپس هم کړو، نو الله ﷻ به ورته څه لار خلاصه کړي، چې بیا همداسې وشول، کوم کس به چې نبي ﷺ مکې ته بېرته ستناوه نو هغه به هلته د هغوی په تاوان تمامېده، هلته به یې دعوت کاوه، د اسلام حقانیت به یې خلکو ته بیانوه او نور خلک به یې اسلام ته ترغیبول، ابو بصیر رضي الله عنه چې کله نبي ﷺ واپس کړ او هغه خپل جنګي معسکر خلاص کړ، نو چا چې به هم د مکې والاو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه اسلام قبلاوه نو د ابو بصیرؓ سره به یو ځای کېدل، مکې والا مجبور شول ځکه خو بېرته رسول الله ﷺ ته راغلل چې دا خو موږ ته بل سر خوږی پیدا شو، بس له ابو بصیر څخه تاسره ښه دي، ځوک چې راځي مه یې واپس کوه، همدلته به تاسره وي، ځکه نبي علیه السلام خو دوی سره سوله کړې وه جګړه یې ورسره نه کوله، خو دغه مؤمنان چې د سیف البحر په ساحه کې راجمعه شوي و، نو دوی به د مکې والاو قافلې لوټ کولې او هغوی ترې سم تنګ شول، هسې په کلاره نه وو ناست، بلکې د سولې له ترونه هم بهر و او خپل کار یې هم روان ساته، ځکه رسول الله ﷺ دا وړاندوینه کړې وه چې له مکې ځوک موږ ته راځي او موږ یې واپس کوو نو هغې ته به الله جل جلاله بله لاره خامخا خلاصوي، نو هغوی ته یقیني هم الله تعالی دا لاره خلاصه کړه چې ابو بصیر ؓ بېل محاذ خلاص کړ، هلته به دا ټول نوي مسلمانان ورتلل او هغه سره به راجمع کېدل او د مشرکینو په څټونو به سپرېدل، نو په دې شرطونو کې یوه خبره هم داسې نه وه چې د مشرکانو د دین موافق او یا هم زموږ د شریعت خلاف وي، له دې سولې دا هم ثابتېږي چې قریش په دغه وخت نسبت مسلمانانو ته ضعیف وو، ځکه خو رسول الله ﷺ ورته د دوو خبرو اختیار ورکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې یا به سوله کوئ او یا جنګ ته آماده شئ. طالب خو نه یوازې دا چې نور د جهاد نه کولو او په ټولو کفارو باندې د ډز نه کولو تړونونه یې ورسره امضاء کړي دي، بلکې هغه نور وطني او طاغوتي تنظیمونه چې دوی سره یوځای ول او د پاکستان د آزادۍ په نوم یې له ډېرو خلکو قرباني واخیستله ؛ نو هغوی یې هم راوستل مرتدینو سره یې کېنول، رسول الله ﷺ که یو طرف ته سوله وکړه خو بل طرف ته د ابوبصیر رضي الله عنه جبهه خلاصه وه، هلته مسلمانان ورتلل او منظم کېدل او په مشرکینو یې شپه او ورځ یوه کړې وه، رسول الله ﷺ خو داسې ونه کړل چې ابو بصیر رضي الله عنه منعه کړي، مګر طالب خو پخپله هېچاته دا وخت نه ورکوي چې یوه کافر ته په بده سترګه څوک وګوري او یا د دوی له ظلمونو څخه وروتښتي، دوی خو له ځانونو د کفارو ملیشې او عسکر جوړ کړي دي او د کفارو په نیابت باندې له کفارو سره د جنګېدونکو د اسلامي خلافت سرښندونکو غازیانو سره هم عملاً د همدې هدف لپاره په جګړه ښکېل دي چې کفار او د کفارو کټې او سرحدات یې وساتي.

**الغرض:** بله دا چې رسول الله ﷺ د سولې او د کفارو سره په تعامل کې د الله تعالی د امر پابندي یې کوله دلیل دا دی چې: کله د عقبه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ابن أبي معیط لور ام کلثوم مدینې ته هجرت وکړ، نو د سولې د شرطونو په اساس په کار و چې دا زنانه یې بېرته واپس کړې وه، ځکه چې ورور یې ولید بن عقبه ورپسې راغلی و، نو دغه وخت دا آیات نازل شو، الله تعالی فرمايي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا جَآءَكُمُ ٱلْمُؤْمِنَٰتُ مُهَٰجِرَٰتٍ فَٱمْتَحِنُوهُنَّ ٱللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَٰنِهِنَّ ۖ فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَٰتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى ٱلْكُفَّارِ ۖ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّونَ لَهُنَّ ۖ وَءَاتُوهُم مَّآ أَنفَقُواْ ۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَن تَنكِحُوهُنَّ إِذَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ ۚ وَلَا تُمْسِكُواْ بِعِصَمِ ٱلْكَوَافِرِ وَسْـَٔلُواْ مَآ أَنفَقْتُمْ وَلْيَسْـَٔلُواْ مَآ أَنفَقُواْ ۚ ذَٰلِكُمْ حُكْمُ ٱللَّهِ ۖ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ ۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ﴾ {الممتحنة: 10}

**ژباړه: ای مؤمنانو! کله چې مؤمنې ښځې هجرت وکړي، تاسې ته راشي، نو (د هغو د مسلمانۍ) څېړنه وکړئ او د هغو د ایمان په حقیقت باندې الله ښه پوهیږي، بیا کله چې تاسې ته معلومه شي چې هغوی مؤمنې دي، نو کافرانو ته یې بېرته مه لیږئ؛ نه هغوی د کافرانو لپاره روا دي او نه کافران د هغوی لپاره روا دي، د هغو کافر مېړونو چې کوم مَهر هغو ته ورکړی و، هغه هغو ته بېرته ورکړئ او له هغو سره په نکاح کولو کې پر تاسې څه گناه نشته کله چې مَهر یې**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ورکړئ او تاسې په خپله هم کافرې (ښځې) پخپله نکاح کې مه ساتئ، کوم مَهر چې تاسې خپلو کافرو مېرمنو ته ورکړی وو، هغه بېرته ځني وغواړئ او کوم مَهر چې کافرانو خپلو مېرمنو ته ورکړی و، هغوی دې هغه بېرته وغواړي، دا د الله حُکم دی، هغه ستاسې ترمنځ فیصله کوي او الله د پوهې او حکمت څښتن دی.**

نو نبي علیه السلام د الله په دې امر عمل وکړ او زنانه یې واپس نکړه، قریشو هېڅ حرکت ونکړ، نو دا هم په دې دلیل شو چې قریش ضعیف شوي و، خو بیا هم د نبي علیه السلام دلیل ورته برابر و، ځکه حق یې هم نه جوړېده، په تړون کې داسې لیکل شوي و (لایأتیك منا رجل ...) یانې سړي یې لیکلي وو، د زنانه و کومه یادونه پکې نه وه شوې، د مسلمانانو د قوت دلیل دا هم کېدای شي چې کله قریشو لوظ مات کړ او د خذاعه قبیلې په مقابل کې یې د بنو بکر قبیلې سره مرسته وکړه، نو نبي علیه السلام په دوی غزا وکړه.

راځئ! اوس د امریکا په تر ټولو ستره استخباراتي هډه کې د امریکا په مشرۍ د نړۍ کفارو ته د سولې په نامه د طالب د تسلیمۍ د تړون مادې د نبوی او شرعي سولې د شرطونو سره مقایسه او مقارنه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړی:** د نبيعليه السلام اوربندونه د طالبانو په څېر تلپاتې او دايمي نه و، چې له پيل نه پکې نه نيټه ذکر شوې وي او نه هم يو مالوم وخت، بلکې هغهﷺ به تر يوې ټاکلې مودې پورې موقتي تړون کاوه خو تاسې دلته د دوحې په تړون کې د طالبانو د دايمي اوربند په اړه ولولئ.

دوی د تړون په يوه ماده کې وايي: دايمي او هر اړخيز اوربند به د بين الافغاني ډيالوګ او مذاکراتو په اجنډا کې يوه موضوع وي.

ملا برادر قطر کې وايي: (او إسلامي امارت تعهد کړی چې د افغانستان خاوره به د کوم هېواد د امنيت پر ضد نه استعماليږي، چې دا په افغانستان کې تلپاتې سولې ته عملي زمينه برابروي).

جهاد به تر هغې پورې جاري وي چې ترڅو کافر باقي وي، خو دوی د دغه تلپاتې سولې سره جهاد ته د پای ټکی کېښودل غواړي، دايمي اوربند شريعت کې نشته، قريشو سره د حديبيې سوله کې نبيعليه السلام لس کاله اوربند کړی و، لکه په دې اړه يو حديث کې راځي: **عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ، وَمَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ، "أَنَّهُمُ اصْطَلَحُوا عَلَى وَضْعِ الْحَرْبِ عَشْرَ سِنِينَ، يَأْمَنُ فِيهِنَّ النَّاسُ وَعَلَى أَنَّ بَيْنَنَا عَيْبَةً مَكْفُوفَةً، وَأَنَّهُ لَا إِسْلَالَ وَلَا إِغْلَالَ" {سنن أبي داود وإسناده حسن}**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**مسور بن مخرمه او مروان بن الحکم وايي: هغوی (د قريشو مشرکينو او مسلمانانو) لس کاله جنګ بندی باندې سوله وکړه، چې خلک به په امن وي، او پدې خبره چې زمونږ ترمنځ به په عهد باندې سالم زړونه وي، او غلا او خيانت به نه وي.**

د سولې د انتهايي مودې په اړه د علماؤ ترمنځ اختلاف شته، لکه امام خطابي رحمه الله ذکر کړي چې د سولې د مودې په اړه مختلف اقوال دي:

- **لس کاله آخري موده ده.**
- **څلور کالو څخه زيات روا نده.**
- **درې کاله.**
- **دې لپاره حد ندی معلوم بلکې دامام فکر ته به پرېښودلی شي.**

**او حافظ ابن حجر : وايي: وَقَدِ اخْتَلَفَ الْعُلَمَاءُ فِي الْمُدَّةِ الَّتِي تَجُوزُ الْمُهَادَنَةُ فِيهَا مَعَ الْمُشْرِكِينَ فَقِيلَ لَا تُجَاوِزُ عَشْرَ سِنِينَ عَلَى مَا فِي هَذَا الْحَدِيثِ وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ وَالْجُمْهُورِ وَقِيلَ تَجُوزُ الزِّيَادَةُ وَقِيلَ لَا تُجَاوِزُ أَرْبَعَ سِنِينَ وَقِيلَ ثَلَاثًا وَقِيلَ سَنَتَيْنِ وَالْأَوَّلُ هُوَ الرَّاجِحُ وَاللَّهُ أَعْلَمُ."{فتح الباري}**

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژباړه: علماء کرامو د مشرکانو سره د سولې جائزې مودې په اړه اختلاف کړی دی، ويل شوي چې د لس کلونو څخه پورته روا نده لکه څنګه چې حديث کې دي، دا د امام شافعي او جمهورو قول دی، دوهم دا ويل شوي چې له دې څخه زياته موده هم روا ده، بل قول دا چې د څلورو کالو څخه زياته روا نده، چا ويلي درې کاله او چا دوه کاله خو اول قول راجح دی، (لس کاله موده) نور الله ښه پوهيږي.

امام ابن المنذر : له ځينو علماوو څخه ذکر کړی: "لَا يَجُوزُ مُهَادَنَتُهُمْ إِلَى غَيْرِ مُدَّةٍ، لِأَنَّ ذَلِكَ يُوجِبُ الْكَفَّ عَنْهُمْ عَلَى الْأَبَدِ، وَلَا يَجُوزُ ذَلِكَ، لِأَنَّ قِتَالَهُمْ مَتَى قُدِرَ عَلَيْهِ يَجِبُ إِذَا كَانُوا أَهْلَ أَوْثَانٍ حَتَّى يُسْلِمُوا، وَقِتَالُ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ يَجِبُ حَتَّى يُسْلِمُوا، أَوْ يُؤَدُّوا الْجِزْيَةَ، وَإِذَا هَادَنَهُمْ عَلَى غَيْرِ مُدَّةٍ، كَانَ ذَلِكَ عَقْدًا خِلَافَ ظَاهِرِ كِتَابِ اللهِ، وَذَلِكَ مَرْدُودٌ لِأَنَّ اللهَ أَمَرَ بِقِتَالِ الْمُشْرِكِينَ، وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَعْقِدَ عَقْدًا خِلَافَ أَمْرِ اللهِ."{الأوسط في السنن والإجماع والاختلاف ۱۱ج/ص ۳۱۱}

ژباړه: تر نامعلومې نېټې اوربند ناروا دی، ځکه دا د ابد لپاره له هغوی څخه لاس نيول دي، او دا جائز ندی، ځکه د هغوی په جنګ چې کله هم برلاسي شو نو جنګ ورسره واجب دی، ترڅو چې هغوی بتانو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


**عبادت کونکي وي (اهل کتاب نه وي) تر دې چې اسلام راوړي او د اهل کتابو جنګ هم تر هغه واجب دی چې اسلام راوړي یا جزیه ورکړي او کچیرې نامالومه مودې باندې سوله وکړي،نو دا تړون د الله د کتاب د ظاهر خلاف دی او باطل دی، ځکه اللهﷻ د مشرکانو په جنګ امر کړی دی او د الله د حکم خلاف تړون ناروا دی.**

دېته ورته خبره علامه ابن قدامه: هم کړې ده چې ابدي سوله ناروا ده.

راجح قول په اتفاق د علماؤ سره دا دی چې هر اړخیزه او دایمي اوربند په شریعت کې جواز نه لري، د مطلق اوربندونو خبره هم علماؤ کړې خو دایمي چې د ابد لپاره وي، پدې باندې د علماؤ اتفاق دی چې دا ناروا دی او د طالبانو اوربند دایمي اور بند دی نو ځکه ناروا دی.

نو تاسې ولوستل چې د حدیبیې په سوله کې مالوم وخت ذکر شوی وو او دایمی نه وه لکه د طالب د تسلیمۍ تړون چې وخت په کې ذکر نه دی او دایمي یې کفارو سره موالات شروع کړل، نه یې په تړون کې ورسره کوم مالوم وخت ټاکلی او نه هم دا مالومه ده چې ددوی دا تړون به په څه نقض کیږي، بلکې په تړون کې په همدې مورد مو د دایمي او تلپاتې سولې الفاظ خه واضح لیکلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وروڼو!** د اسلام په سیاسي نظام کې سوله موقته وي او تسلیمي تلپاتې او ابدي وي، ځکه کله چې دښمن ته تسلیم شې نو مجبور یې له خپلو ټولو اهدافو او دعوو ورتېر شې او د دښمن مزدوري پیل کړې، د سولې او تسلیمۍ ترمنځ عام طور سره توپیر همدا دی لکه څنګه یې چې طالب عملي کوي، طالب د تسلیمۍ ډېرې څرګندې بېلګې وړاندې کړې او لا یې هم وړاندې کوي، د طالب له خبرو همدا جوتیږي چې دوی د تسلیمۍ لفظ د تلپاتې سولې او اوربند په نومونو تعبیروي، خو افسوس دا چې د طالب د کشرخېلو عقل هېڅ کار نه کوي.

**دوهم:** مونږ مخکې هم ویلي و چې طالبان د سولې په نوم امریکایانو




له هرې خوا ټینګ وتړل، او پر طالبانو یې د تعطیل الجهادقباحت ومانه، داسې کیسې یې ورسره وکړې چې مکمل یې په خپلو دامونو کې راګیر کړل، اوس چې قدم اخلي نو هم یو وار دغه کفارو سره چینل کې رابطه کوي او معلومات ترې کوي، د وسله والې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبارزې ځای یې ورته ورک کړ او نبي عليه السلام سوله د خپل ځان د قوي کولو او نورو پوځي خوځښتونو لپاره ترسره کړې وه.

د اسلام پیغام یې د وخت سترو امپراطوریو روم او فارس ته ورساوه، خو هغه الهي دین یې ورساوه، د طالبانو په څېر د دیموکرات دین پیروي یې نه کوله.

د سولې څخه وروسته یې د نړۍ په نورو کافرو ،یهودو، د نجد په قبائلو او رومیانو پیل وکړ، لکه ځینې سترې او مشهورې غزاګانې یې په لاندې ډول دي:

1. **غزوة الغابة او غزوة ذي قرد:**
2. **غزوة خيبر او وادی القری:**
3. **غزوة ذات الرقاع:**
4. **معركة موته:**

او نورې سریې خو بې شمېره وې:

1. **سرية غالب بن عبد الله الليثي إلى بني المُلوِّحِ بالكَدِيد**
2. **سرية زيد بن حارثة إلى حِسْمي**
3. **سرية عمر بن الخطاب إلى تربة**
4. **سرية بشير بن سعد الأنصاري إلى بني مرة بناحية فدك**
5. **سرية غالب بن عبد الله الليثي**

(c) ketabton.com: The Digital Library


6. **د عبد الله بن رواحة سريه خيبر ته**
7. **سرية بشير بن سعد الأنصاري إلى يمن وجبار**
8. **سرية أبي حدرد الأسلمي إلى الغابة**
9. **سرية ابن أبي العوجاء**
10. **سرية غالب بن عبد الله إلى مصاب أصحاب بشير بن سعد بفدك**
11. **سرية ذات أطلح**
12. **سرية ذات عرق إلى بني هوازن**
13. **سرية ذات السلاسل**
14. **سرية أبي قتادة إلى خضرة**

دا او دېته ورته نور غزوات رسول اللهﷺ د حدېبيي له تړون وروسته کړي دي.

زمونږ پوښتنه دا ده چې طالبان به کوم ځای کې په کومو کفارو دېز کوي؟

چا سره به جنګ کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


معلومه خبره ده، د مسلمانانو په خلاف به یې کوي، ځکه له کافرو سره خو یې د تسلیمۍ تړون وکړ او بله پوښتنه ترې دا کوو چې آیا په کفري هېوادونو کې مو کوم کفري هېواد ته د اسلام دعوت ورکړ؟ چاته یې د اسلام د حقانیت خطونه ولېږل؟

او د کومو غزواتو پیل یې وکړ؟

آیا رسول الله ﷺ د حدیبیې نه وروسته مدینه کې شریعت وځنډاوه؟

آیا مکې والا ته یې سوال او زارۍ پیل کړې چې مونږ ته رسمیت او ډالرې راکړئ؟

او مونږ د تور لېست څخه وباسئ او معاف مو کړئ؟

او آیا د حدیبیې نه وروسته د رسول الله ﷺ او قریشو دښمني ختمه او په دوستۍ بدله شوه؟

چې نن د دوی مشران دا ناري وهي چې امریکا زمونږ دښمنه نه بلکه دوسته ده، طالبانو د امریکایانو سره له سولې وروسته په کوم کافر حمله وکړه؟

د کوم مظلوم مسلمان پوښتنه یې وکړه؟

او کوم خلک چې په کفارو بریدونه کوي د همغه سپېڅلو مجاهدینو وژلو، بندي کولو او کډوال کولو ته یې مکمل ملا ونه تړله؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


آیا رسول الله ﷺ ابو بصیر رضي الله عنه باندې رد وکړ؟

او فتوا یې ورکړه چې ابو بصیر نعوذبالله له خوارجو څخه دی او باید ووژل شي؟

آیا د هغه د وژلو اراده یې وکړه؟

چې نن طالب د خلافت په مجاهدینو باندې هر ځای کې ظلم او ستم شروع کړی او د امریکایانو په دستور هر طرف موحدین او مجاهدین شهیدانوي.

طالبانو سره به دا ومنو خیر تاسې امریکایانو سره د حدیبیې سولې په څیر سوله (!) وکړه، دا چینایانو سره مو څه کیسه روانه کړې ده؟

دا روسانو سره مو کومه خپلولي ده؟

د نورو کفارو سره مو کله او چېرته سوله وکړه؟

رسول الله ﷺ خو یو قریشو سره سوله وکړه نورو ټولو ته خو یې امن ورنکړ، بلکې په هر طرف یې غورځنګونه شروع کړل.

رسول الله ﷺ خو قریشو سره د محدود وخت لپاره ډز بندي کړې وه، چې ته به تر دغه ټاکلي وخته په ما حمله نه کوې زه به یې په تا نه کوم، رسول الله ﷺ چې له حدیبیې راغی لکه څنګه مو چې پورته یادونه وکړه د نورو غزواتو او سرایاوو په شمول یې خیبر فتحه کړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library


د حدیبیې نه وروسته کال پوره نه و چې رسول الله ﷺ خیبر باندې لښکر ته د پرمختګ امر وکړ، په دې سوله خو رسول الله ﷺ د خیبر د خلکو هغه قوت وپاشه، هغوی خو د قریشو په زور نازېدل، قریش یې ترې یو طرفته او د خیبر یهود یې ځانته کړل، رسول الله ﷺ چې له حدیبیې راغی نو پوهېده چې خیبر یې په آسانه لاس ته ورځي او هلته ښه پرېمانه غنایم دي، نو اعلان یې وکړ چې څوک ماسره د حدیبیې په سوله کې نه و (د عمرې په سفر کې راسره نه و) هغه خیبر ته ځان سره نه بیایم، هغه پوهېده چې اوس به دا کسان مفته د غنائمو ترلاسه کولو لپاره روان شي، بلکې دوی یې د تبوک غزوې ته یوړل چې هلته یې ایمانونه مالوم کړي، خیبر خو یو انعام و چې د حدیبې د سولې په پایله کې رسول الله ﷺ ته الله متعال ورکړ.

**طالبه !** بیا درباندې غږ کوو د رسول الله ﷺ سوله منې او خپل قبیح عمل ورباندې قیاس کوې، نو آیا د حدیبیې له سولې وروسته رسول الله ﷺ جهاد کړی که نه؟

او یا د جګړې خاتمه یې اعلان کړه؟

دښمن پسې یې لښکرې وویستلې او که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


**طالبه!** تا خو د تلپاتې او دايمي اوربند کيسې او تړونونه شروع کړي دي، رسول الله ﷺ د حديبيې له سولې وروسته خيبر ته لاړ.

طالبه! وايه کنه، ته چېرته او کوم طرفته د غزا په نيت لاړې او په کوم طرف يې پلان لرې؟

د حديبيې د سولې بله ستره لاس ته راوړنه د دعوت د ستراتېژۍ تطبيق و، مسلمانان آزاد او مکه کې راښکاره شول ښکته پورته يې سفرونه وکړل، راشه درشه يې زياته شوه، د دعوت لمن پراخه شوه همدا زمينه سازي وشوه چې بيا په اتم کال د مکې د فتحې آمادګي هم ونيول شوه.

**طالبه!** ته څه وخت د امريکا د فتحې تصميم نيسې؟

ستا په تسليمۍ خو مسلمانان نور هم ذليله او محدود شول، د توحيد دعوت بند شو، علماء شهيدان شول، په دعوتونو او د قرآن په درسونو تاسې خپله بنديزونه ولګول.

د حديبيې سوله خو د مکې د فتحې په خاطر وه، چې الله متعال ورته زمينه مساعده کړه، له دې مخکې خو مسلمانان چا نه منل، دې سولې سره خو د يو دولت په حيث راڅرګند او آزاد شول، سفرونه يې وکړل، له دې سولې وروسته زياتو خلکو اسلام ته غاړه کېښوده، يو کال وروسته رسول الله ﷺ عمره هم وکړه، همغه خپل مقصد يې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library


ترلاسه کړ، خو دا ځل له تېر څخه عمره ډېره متفاوته وه، د خيبر غنائم ورسره و، ښه په شان او شوکت او ښه ډک لاسونه باعزته لاړل او عمره يې وکړه، طالبه تا څه لاس ته راوړل؟

**طالبه!** د امريکا فتحې لپاره به اروپا ته مسلح ورغلی وای، بيا که امريکايانو سره دې سوله کوله د دې لپاره چې انګلستان، فرانسه، جرمني... او نور کفري هيوادونه فتحه کړې نو بيا دې قياس يو اندازه پرځای وه، کنه اوس خو تسليم شوی يې، بس خپل کفر باندې اعتراف وکړه، ضد مه کوه د کفر نه د ځان د ويستلو لارې وګوره که نه همداسې تور مخ به الله متعال طرف لاړ شې.

**طالبه!** له امريکا سره دې سوله وکړه، څه نو په چين ورمنډه کړه، هم به ترې غنايم ترلاسه کړې، هم به د ايغور مسلمانان آزاد کړې، د ايران په روافضو ورمنډه کړه د رسول اللهﷺ د ناموس انتقام واخله او د پاکستان مرتدين ځنګه شول؟

هغوی خو ستاسې مخکنی حکومت هم چپه کړی وه، ستاسې مشران يې بربنډ په امريکايانو خرڅ کړل، نور دې هم ډېر پورونه ورپورې دي، هغه خو شته په هغې ورشه!

ته خو ببرته همغه ماتې امريکا ته زاری کوې چې هله پيسې مې آزادې کړه، هله په رسميت مې وپېژنه هله هغه وکړه او دغه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دومره ذليله شوې چې امريکا ته خپله په نارو سترې شوې او کار ونه شو، اوس دې نو په ملت فشار واچوه او ملت دې امريکا ته په زارو او نارو سر کړ چې هله طالب په رسميت وپېژنئ، علت څه دی چې دومره کفارو سره د رسميت شوقي شوی يې؟

او دا راز هم که بيان کړې چې د نړۍ ملحدو کمونيستو چينايانو سره مو څنګه او په څه انډيوالي شروع شوه؟

څنګه دا ملحد او غليظ کافران له تاسې خوښ او راضي دي؟

هلته يې د ايغور په بې وسلې او مظلومو مسلمانانو باندې څه حال شروع کړی دی، دلته تاسې سوچه مجاهدينو(!) سره بيا انډيوالي کوې، دا راز به په څه کې وي؟

عقلمندو سره يې ځواب شته خو که خپل کشر خېلو لپاره تاسو ځواب وکړئ!

**دريم:** نبي عليه السلام څخه اجتماعي سوله ثابت نده، خو طالبانو د نړۍ ټولو کفارو او مرتدو سره د سولې په نوم مذاکرات وکړل.

ګاونډيان: پاکستان، ايران، هند، تاجکستان، اوزبکستان وغيره، د امريکا متحده اياالتونه او د هغې متحدينو ته امن او ډز بندي شوه، سعودي، مصر، عراق، شام، يمن وغيره ملکونو سره جنګ نه کوئ، اروپايي ټولنه هم د امريکا متحدين دي، هغې سره دې هم سوله ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library


د اسرائیل یهودو سره جنګ نه کوي، روس سره خو هسې هم جنګ نه کوي، هغوی خو تر اوسه اکمال کړي یاست او د خلافت خلاف یې پریمانه اسلحې درکړي دي، د مسکو په بندو کوټو کې مو مجلسونه بیخي تکراري شول، نو آخر به چا سره جنګ کوئ؟

ملا برادر وضاحت سره د امارت دریځ بیانوی: او اسلامي امارت تعهد کړی چې د افغانستان خاوره به د کوم هېواد د امنیت پر ضد نه استعمالیږي چې دا په افغانستان کې تلپاتې سولې ته عملي زمینه برابروي.

نبي‌ﷺ په یو وخت کې اجتماعي لسګونو کافرو بلکې د نړۍ ټولو کفارو سره سوله نده کړې، نبي‌ﷺ داسې ندي کړي چې د مکې مشرکانو سره یې سوله کړې وي، دغه رنګ یهودیانو سره یې هم سوله کړې وي، د نجد قبائلو سره، فارس سره، رومیانو سره دې ټولو سره دې په یو وخت سوله کړې وي.

او نه یې داسې تعهدونه قریشو ته ورکړي دي چې د مدینې خاوره به د ټولو کفارو خلاف نه استعمالیږي، بلکې ښه په نره یې د حدیبیه نه وروسته غزوات کړي دي او هم یې د مدینې خاوره دې ټولو کفارو په ضد استعمال کړې او همدې مدینې له خاورې څخه یې بیا د مکې آزادۍ لپاره ګټه پورته کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**طالبه!** ستا خو تاريخ کې دا خبره نشته چې له افغانستانه يو لوېشت اخوا د مسلمانانو غم درسره وي، شيخ مقبول تقبله الله وايي دوه زره نهم (2009م) کال کې د امارت په عربي (الصمود) مجله کې دا خبره راغله چې موږ له افغانستان څخه يو لوېشت هم بهر نه کوم سوچ لرو، نه کوم اقدام کوو او نه مو چاسره کار شته، کله مو چې دا خبره وکتله د سراج الدين حقاني په شمول د امارت د هغه وخت نورو مشرانو خوا ته لاړو چې ستاسې مقصد له دې خبرو څه دی؟

موږ خو دا جهاد، عالمي جهاد ګڼو... نه د قوم لپاره چاپېره يو او نه هم د بين الملل په کرښو کې د وطن په نوم د خاورې آزادۍ ته ژمن يو، موږ د نړيوال جهاد فکر لرو او تر څو چې دا د بين الملل کرښې پولې ماتې نشي د جهاد هغه مقصد نه ترلاسه کيږي.

شيخ مقبول تقبله الله وايي چې حقاني وويل: که موږ ووايو چې موږ دا کرښې نه منو، نو دا په دې مانا ده چې موږ خلافت اعلان کړی، نو د سرحداتو نه منل د خلافت اعلان دی او که دا کار وکړو نو بيا به په ځمکه کې ځای ونه لرو.

نو طالب د رسول الله ﷺ د شرعي سولې په ضد د ټولې نړۍ کفارو طواغيتو، مرتدينو، مشرکينو سره په يو ځل سوله (!) کړې، ټولو ته يې د امن ډاډ ورکړی او ښه پخه يې له جګړې توبه وويستله، البته

(c) ketabton.com: The Digital Library


کفارو سره له جنګه توبه ګار شول، بلکې د کفارو د ساتنې په هدف د مؤمنانو سره خو اوس هم په جنګ کې ښکېل دي.

**څلورم:** طالب ته وایو! کــه څــه هم ستاسې سولــه امریــکا سره دا تسلیمي ده سوله نه ده، خو که خپله دا تسلیمي د حدیبیې په سوله قیاس کوئ، نو د حدیبیې د سولې د ماتېدو اصول خو هم عملي کړئ کنه، ته که د سولې د کولو اصول د رسول الله ﷺ د سولې د اصولو سره سم ګڼې نو بیا د سولې د ماتېدو اصولو کې خو هم د هغه پیروي وکړه کنه، د سولې د کولو اصول منې او د ماتېدو اصول یې نه منې، دا کوم اسلام شو؟ هم مجرم او هم په خپله ځانته قاضي یې، ستاسې د اخیستو او ورکولو تلې جلا جلا دي.

د نبي علیه السلام سوله د یو حلیف په قتل باندې ختمه شوه، د قریشو امداد کول د بنو بکر سره د خزاعه خلاف د مکې د فتحې سبب وګرځېد، نبي علیه السلام خپلې لښکرې په مکه ورواچولې او د خپل حلیف انتقام لپاره یې د فتح مکې غزوه وکړه.

شهاب الدین دلاور وایي ډېر کمه موده کې امریکایانو 2500 تخطی وکړې او موږ یوه تخطي هم نده کړې، چې د دوحې ننګین قرارداد په درېم تلین کې یعنې دوه میاشت وروسته یې وویل: امریکایانو 3000 کرته تړون نقض کړی دی چې دا یوه میاشت کې څنګه 500

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ځله** دا نقض زيات شو؟ په هر صورت **2500 او يا 3000 څه چې سل زره کرته** هم مات شي خو طالب به خپل څټ چرته ونه ګروي.

دې ته حيران يو چې د دوی ذلت څخه په کومو الفاظو تعبير وکړو،

آيا د دې څخه زيات ذلت به هم چېرې وي ؟

د **3000** تخطيو باوجود هم د دوی دا تړون مات نشو ؟

د دومره تخطيو باوجود بيا دا حربي کفار امريکايان، چينايان او روسان وغيره دلته څه کوي؟

بيا تاسې د کوم شرعي اصولو په اساس د دوی امنيت ساتئ او د دوی منافع خوندي کوئ؟

چې نه تړون شته، نه جزيه درکوي، جګړه هم ورسره نه کوئ بلکې داېيني ورته ورکوئ، نو آيا دا امريکايان او خارجي کفار مو په کومه رشته کې راځي چې دومره ورباندې مين ياست؟

بيا خو له تاسې څخه بله ذليله ډله نشته چې مفته د حربي کفارو ساتنه کوئ ؟

د امريکا متحده ايالاتونو سره د مسلمانانو بې شمېره پېغلې بنديانې دي، عافيه صديقيه په شمول سلګونو عرب او نورې مهاجرې خويندې ورسره د اسارت شپې تېروي، خو د طالبانو پروا هم نشته، بې غمه ورسره د سولې په نوم د تسليمۍ تړونونه امضاء کوي، نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library


مؤمنو پیغلو د بار بار بې عزتۍ په وخت دغه کفارو سره سوله روا نده.

امریکا فلحال هم عراق، سوریه، افریقا او په نورو طرفونو کې عملي د مسلمانانو د دولت سره جګړه کې واقع دي.

یعني امریکا فلحال نړۍ کې په مستقیم او غیر مستقیم شکل مسلمانانو سره په جګړه کې واقع ده او په حقیقت کې د مسلمانانو په خلاف د جګړې رهبري کوي، امریکا همدا اوس د اسرائیلو تر شاه ولاړه ده او اسرائیلو د مسلمانانو اوله قبله یرغمل کړې ده او د فلسطین مسلمانان یې په خپلو ړندو بمبارونو کباب کړل، جزیرة العرب همدا اوس هم د امریکا مستعمره ده او دا عربي جزیره یې اشغال کړې ده، نو له جزیرة العرب څخه د امریکا ویستل په ټولو مسلمانانو فرض دي هېڅوک دوی سره د بین المللي کفري اصولو په اساس د معاهدې حق نه لري.

همدا راز امریکا سوریه کې د (پي کې کې) ملحدو کُردانو تر شا ولاړه ده او (پي کې کې) مستقیم د سورېې په مسلمانانو د ظلم او وحشت یوه توره تیاره راخوره کړې ده او د شام مبارکې خاورې ډېره برخه یې د خپل یرغل، الحاد او دیموکراسۍ د واک لاندې ساتلې ده، نو دا

(c) ketabton.com: The Digital Library


ټولې خبرې ددې دلیل دی چې امریکایان حربي کفار دي او دوی سره هېڅکله هم څو ضمیر فروشه د چوکۍ لپاره معاهده نشي کولای.

همدا شان امریکا د پاکستان تر شا ولاړه ده او مستقیم یې هلته اډې او نور استخباراتي مراکز موجود دي، نو د پاکستان ظلم او وحشت د مسلمانانو مقابل کې نه هېرېدونکی دی، دا څلور لسیزې د هر یرغلګر په وړاندې د افغان ولس د قربانیو ثمره پاکستان اخلي او د زرګونو او لکونو خلکو په وینو او اوښکو سوداګري کوي نو ویلای شو چې پاکستان په آسیا کې دویم اسرائیل دی، دوی سره هم د مسلمانانو دروند حساب پاتې دی، نو څوک چې د پاکستان ترشا ولاړ وي دا د مسلمانانو دښمن دی چې له دې ډلې یوه هم امریکا ده.

امریکا افغانستان کې داسې وحشت او دهشت وکړ چې په لیکلو یې ګوتې رېږدیږي او دا دې اوس یې نو دا د خپل وحشت او ظلم ماموریت طالب پایلوچانو ته سپارلی، نو دغه ټولو سره به مسلمانان د هر بم او هر کروز د وریدو او د هر وحشت د ترسره کېدو حساب کوي ان شاء الله، د امریکا بدماشي دې حد ته رسېدلې چې د نړۍ هر کنج کې یو مسلمان د اسلام د دفاع او اسلامي نظام خبره وکړه نو امریکا وریسې په زرګونو کیلو متره لار وهي او هغه مسلمان ځپي، نور نو کوم تفصیل او تفسیر ته اړتیا نشته، امریکا د ټولو مسلمانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library


په خلاف د جګړې اعلان کړی او هر مسلمان چې اسلحه پورته کوي او حقیقي اسلامي نظام غواړي نو هغه د امریکا په نظر ترهګر او تروریست دی او امریکا ورسره جګړه مخ ته وړي .

امریکا حقیقت کی هغه مکاره ګیدړه ده چې غواړي خپل باطل منهج (دیموکراسي) چې د صلیبیت له پوچو افکارو څخه سرچینه اخلي د مېډیا په زور په نړۍ حاکمه کړي.

د بشریت له سرسخته دښمنانو څخه یوه هم امریکا ده.

**هو!** امریکا ده،هغه امریکا چې زرګونه کسان یې په عراق او افغانستان کی شهیدان کړل.

**بلی!** هماغه امریکا چې هر ځای کې که اختلافات راپیدا شوي دي نو شاته یې ددوی لاس دی .

هغه امریکا چې د ابوغریب، ګونټانامو او باګرام په شمول یې په لسګونو زندانونو کې په زرګونو خلک شکنجه او تعذیب کړل.

هغه اشغالګره امریکا چې د خپلې سلطې او واک پراخولو په هدف اوس هم د زرګونو مؤمنانو وینې تویوي ..

نن سبا امریکا په نړۍ کې په یو معبود بدله شوې چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې یې خلک عبادت کوي او په اسلامي نړۍ کې یې عبادت کونکي بیا منافقین او مرتدین دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


او ځوک چې د امریکې عبادت نه سرغړونه وکړي هغه د تروریست په نوم وژني .

خپله امریکا همدا نارې او بغارې وهي چې د حقیقي اسلامي نظام دعوه دار او غوښتونکي یې هر چېرته هدف دي او ددغه رزیلو امریکایانو د وحشتونو داستانونه ډېر اورېده دي، خو ددې هر څه باوجود د امریکا د خبرو مفسرین لګیا دي او ددوی خبرې بل ډول تفسیروي او طالب مشران بیا همدې وحشي امریکایانو ته د شریف او نجیب قوم خطاب کوي .

امریکا حربي وه او حربي ده، نو دوی سره نه مسلمانان په عمومي شکل معاهده لري او نه په خصوصي توګه افغانستان کې کومه شرعي معاهده شته او نه هم هغوی معاهدې ته ژمن دي، بلکه حربي کفارو سره د اسلام اصول او رفتار یواځې قتال دی، همداسې چلند به ورسره کیږي ان شاءالله او یوه محدوده ډله هېڅ وخت هم دا حق نه لري چې امریکا سره د خپلو منافعو لپاره په خپل سر تړون وکړي او په کراتو کراتو ورته د امنیت ډاډګیرنې ورکړي.

**طالبه!** یو ځل د امریکا نه پوښتنه وکړه چې له تړون وروسته یې څومره مسلمانان شهیدان او څومره یې بندیان کړي؟

دا معلومات وکړه چې څومره مسلمانې خویندې او میندې ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library


بندیاني دي، نوره پوښتنه يې که نشي کولای خیر د یو لېست (**جدول**) غوښتنه خو ترې وکړه، دا خو به دې د بین الملل په اصولو کې ډيپلوماتیک حق هم وي چې يو لېست ترې طلب کړې، ګوندې دا لېست درکړي او په دې لېست دې دغه له غیرت، احساس، عاطفې او رحم  څخه خالي وجدان او ضمیر کې دې لږ درد او فکر پيدا شي چې څه کول په کار ول او تا څه وکړل، دومره رسوا يې چې اوس د خپلو کړنو يادونه هم علني کولای نشې، ځکه پوهېږې چې غیر له شرم او خجالت څخه بل څه نه درکوي.

**ملا داد الله وايي چې:** زمونږ خويندې ورونه دې کفارو سره په زندانونو کې بنديان وي، سیمې مو اشغال وي او څوک چې امريکا سره خبرې کوي نو دا به غدار او خائن وي، نو څه مو فکر دی، نن د دوی مشران خائنان او غداران نه دي؟

د رسول الله ﷺ سوله درې کاله وروسته د قريشو د سرغړونو په صورت کې ماته شوه، نو بيا يې آمادګي ونيوله او په قريشو يې حمله وکړه؟ او کله چې له سولې وروسته هم له حديبيې ستون شو نو کراري کېنناست، بلکې په خيبر يې بريد وکړ، داسې نه چې مکمل عالم کفر ته يې د امن ډاډ ورکړی وي، رسول الله ﷺ خو له يو اړخه ځان مطمئن کړ او په بل اړخ يې حمله وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د اسلام د سیاسي نظام قلمرو د پرمختګ ستراتیژي یې تطبیق کړه، د قتال ستراتیژي یې تطبیق کړه، راغې په آرام یې وانه ړول، بلکه تبوک ته یې مخه کړه.

سوچ وکړه چې د رسول الله ﷺ سوله په څه شي ماته شوه، د اسلام په سیاسي نظام کې سوله د اساسي هدف لاسته راوړو لپاره یوه مؤقته وسیله ده، طالبه ستا اصل هدف اوس څه شئ دی؟ چې د همغې لپاره دې سوله وکړه، ته اوس څه غواړې؟

ستا ټول هدف خو د چوکۍ او واک تر انحصاره دی او بس.

د سولې وروسته خو تا هر څه ختم کړل، جهاد ختم، پرمختګ ختم، هر څه ختم. رسول الله ﷺ خو مدینه کې قوي نظامي ملاتړ درلود، داخلي نظام جوړ دی، شریعت حاکم دی، فیصلې په قرآن کیږي او بیا غواړي چې عمرې ته لاړ شي، مکې ته مسلح حرکت کوي، بیا لاره کې د مؤقت او اضطراري حالت سره مخ کیږي او بیا مؤقت وخت لپاره سوله کوي، یعنې رسول الله ﷺ په اصطلاح بودیجه لري، بیا نو د دښمن خولې ته ورځې او هغه هم د سولې په نیت نه ځي، بیا هلته سوله کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د رسول الله ﷺ حرکت یو نمایشي حرکت و، خپل زور یې مکې والاو ته ښودلو، ورته یې په زغرده وویل: یا به سوله کوئ او یا زه عمره کوم کنه جنګ ته تیار شئ، په مرګ یې بیعت کړی و، دا یې ورته ښکاره کړه چې یا به دربانديې ځان د یو قوت په حیث منم او یا به عمره کوم.

خو د طالب دریغ همغه د مشرکینو وړاندیز و او طالب هم د مشرکینو ټول وړاندیزونه ومنل.

دغه سوله کې ډېر خلک تللي، راغلي، یو ځل چې د مشرکینو سفیر عروة بن مسعود الثقفي رسول الله ﷺ ته راغی او رسول الله ﷺ سره یې خبرې کولې، نو رسول الله ﷺ ته یې وویل دا تا چې راوستي دا درڅخه تښتي، ته ولې خپل قوم سره جنګېږې دا ستا خپل قوم دی، خپل عرب او قریش قوم خرابوې، لکه د طالبانو د قومیت او وطنیت له ګمراه فکر څخه یې خبرې شروع کړې.

ابوبکر رضي الله عنه ورته په غصه شو، ورته یې ویل: لاړ شه چرته د لات فرج وڅټه، موږ په رسول الله ﷺ ځان قربانوو.

**طالبه!** کله چې امریکا درته ویل چې زموږ او ستاسې ترمنځ وروري او پخه دوستي شوه، نور به زموږ امنیت تاسې ساتئ، ګوره چې زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library


د امريکا او نورې کفري نړۍ د هېوادونو سرحدونه ښه کلک وساتئ او د اسلامي خلافت مجاهدين درڅخه سر اوچت نه کړي، موږ به مو په ډالرو او نورو ډول ډول طريقو او پلمو هر اړخيزې مرستې کوو، نو طالبه تا به هم ورته ويلي واى چې څه وخه رزيلې امريکا چرته د خنځيرانو ګندګي وخښه، موږ دا کارونه نشو کولاى.

طالب خو همغه د مکې د قريشو کيسې کوي، چې وطن نه خرابوو، وطن کې نور جګړه نه غواړو، بس جنګ نور ختم شو، د مذاکرې په ميدان کې هم رسول اللهﷺ د سر تېيتې دريځ نه دى اختيار کړى، مغيرة بن شعبه زرې پوش د رسول اللهﷺ په سر ولاړ دى، ثقفي چې هغه وخت يې ايمان ندى راوړى د رسول اللهﷺ ږيرې ته د دې لپاره لاس وړي چې رسول اللهﷺ غصه کړي يا يې ميلان پيدا کړي، د عروة وراره، مغيره د عروه لاس په توره وهي، ورته وايي چې: دا نجس لاس دې لرې کړه او د رسول الله ﷺ مبارکې ږيرې باندې مه وهه.

**راشه طالب** ته ګوره چې نن سبا د کفارو په مجللو هوټلونو کې نجسو مشرکانو ته لاسونه او غاړې ورکول څه چې حتى خپل مخونه هم سره موښې، مستي ده، خنداګانې دي او ډول ډول اداګانې دي چې د کفارو او طالب مشرانو ترمنځ روانې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


رسول اللهﷺ هلته هم قاطع خبره کړې چې يا به خبره منئ يا به عمره يا جنګ کوم او يا سولې ته تيار شئ، رسول الله ﷺ چې کله عثمان رضي الله عنه د سفير په شکل ولېږه نو درې اساسي خبرې يې ورته وکړې چې دا قريشو ته وکړه:

1. **موږ جنګ ته نه، بلکې عمرې ته راغلي يو.**
2. **مکه کې چې څه مسلمانان په زندانونو کې دي، ورته ووايه صبر وکړئ فتحه راروانه ده، ستاسې غم موږ سره شته.**
3. **دا چې مشرکين اسلام ته دعوت کړه چې اسلام قبول کړي.**

کله چې عثمان رضي الله عنه لاړ نو ښه په وياړ جګې پاينڅې په مکه ورننوت، د مکې مشرکينو ورته وويل: چې ښنګه دې پاينڅې اوچتې کړي، عثمان رضي الله عنه ورته وايي: دا زموږ د رسول اللهﷺ حکم دی موږ د رسول الله ﷺ په حکم ځان وژنو.

**طالبه!** ته چې کله دوحه کې په هوټلونو کې د بربنډو انجونو سره مخ شوې، هلته مو په نوره نړۍ کې د کفارو په زندانونو کې د اسلامي امت بنديان ياد و که نه؟

چاته مو د اسلام دعوت ورکړ که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


د رسول الله ﷺ د سولې کوم شرط او خبره مو عملي کړه؟

مکه کې بنو بکر او بنو خزاعه قبیلې وې رسول اللهﷺ وویل: چې هر څوک دې خپل دریځ مالوم کړي د چا سره په عهد کې شاملیږي؟ خذاعه رسول اللهﷺ سره او بنو بکر قریشو سره عهد کې داخل شول، او دلته خبره فقط دا وه چې په یو بل دغه ټاکلې وخته پورې حمله نه کوو، کله چې رسول اللهﷺ سوله وکړه نو دلته بنو خذاعه د رسولﷺ په عهد کې او بنو بکر د قریشو په عهد کې داخل ول، بالاخره بني بکر په بنو خذاعه حمله وکړه او لکه مخکې مو چې ذکر کړه، رسول الله ﷺ ترون لغوه اعلان کړ، ویل یې سوله نوره نشته، سوله ختمه شوه، او په مکه یې حمله وکړه، اوس خبره داده چې که امریکا سره څوک په پیمان کې دي، نو که هر چرته یې په مسلمان حمله وکړه، بیا سوله ختمه ده او نور اعتبار نه لري، بیا لښکر کشي په کار ده، یعنې که برید وشو سوله ختمه شوه.

## نو طالب ته وایو:

چې دا ستا سوله به کله ماتیږي، دا ستاکاغذي ترون خو درته امریکا په ځلونو نقض کړ تا کوم عکس العمل وښود؟

کله یې چې په کابل واکمن کولې په همغه مهال یې د باګرام په زندان

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې همدا ستا له خولې تر دوه سوه کسان درته بمبار کړل تا څه وکړل؟

ببرته دې په امریکایانو برید وکړ که نه، له هغې وروسته دې هم د کابل په هوايي میدان کې د امریکایانو ساتنه کوله؟

چې لله الحمد په دې ساتنه کې هم پاتې راغلې او د اسلامي دولت یو اتل ستاسې د ټولو کفارو مرتدینو او مشرکینو وینې سره په شریکه وبهولې، له هغې راوروسته امریکا په کابل او جلال آباد کې د ډرون بریدونه وکړل، برید که ستا د سمبولیک واک لاندې و، خو تا پرې ځان ځکه غلی کړ چې هغه بریدونه د اسلامي خلافت د مجاهدینو په شک شوي و، نو همغسې دې د امریکا سره خپلې اړیکې تودې کړې چې هله تړون چېرته مات نشي.

وریپسې د امریکا ایتلافي مرتد پاکستان همدا ستا د وطن پولې بار بار نقض کړې او همدا ستا د منلو بین المللي اصولو څخه یې سرغړونه وکړه تا کوم غبرګون وښود؟

دفاع وزیر یې په میډیا کې یو دوه درې نمایشي چغې ووهلې خو مسکین بېچاره په دې خبر نه دی چې دا بې ځایه بغارې چې واک درسره نه وي او مستقل ونه اوسې بیا هېڅ مانا نه لري، دادی اوس یې تش په نوم اخیستلو باندې وېرېږي وایي چېرې بیا خبره خرابه

(c) ketabton.com: The Digital Library


نشي، افسوس په دومره ذلت باندې.

او یا د دومره تخطیو کولو با وجود مو چېرې امریکا سره دې تړون مات کړ که نه د تړون د ماتېدو وېرې نور هم امریکا ته نېږدې کړئ؟

او له همغه مهاله ستا هوايي حریم د امریکايي ډرونونو په وساطت د همغه قطر او پاکستان له لارې کنټرولیږي چې ته یې په دوستۍ نازیږې، کله قطر سره امنیتي او دفاعي تړونونه کوې او کله یې په سواحلو کې خرمستي او عیاشي کوې، پاکستان خو دې هسې هم رسمي بادار دی.

په هر صورت ستاسې په دې لوبو او له کفارو سره په شریکو ډرامو اوس ټول خلک پوهیږي او په دې هم پوهیږي چې په آخري اعلامیه کې مو دا تکراري اخطار ورکړ چې که بیا امریکا داسې نقض وکړي نو پایلې به یې ښه نه وي، د کوم هدف لپاره مو ورکړ.

مونږ فکر کاوه چې تاسې به په امریکا د برید تیاری نیسئ، خو خبر نه و چې په مختلفو ښارونو کې د همغې امریکا په پلان شوې طرحه په زوره خلک مظاهرو ته راوباسئ او ټولو ته همغه یو ډؤل بېنرونه په لاس کې ورکوئ او د امریکا دا له تړون څخه تکراري نقض په تشو نارو ورځوابوئ.

او د همدې مظاهرو سره متصل هم همدا نارې وهئ چې امریکا زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دوحې تسلیمي ومنه، نور مو درسره کار نشته دی موږ پرېږده.

خلاصه زمونږ د بحث دا ده چې اسلحه د امريکا، ډالرې د امریکا، ټانګونه او طیارې د امریکا،واک د امریکا، بندیزونه د امریکا، قومانده د امریکا، فضا د امریکا، (ډرونونه) یې ښه آزادې چکرې وهي او بریدونه یې جاري ساتلي، نو بیا ماته هم شوه امریکا! دا د دې پیړۍ تر ټولو ستر عجایب دي، چې په طالبانو کي نن لیدل کیږي.

**طالبه!**

د ټرون د نقض ځواب به خلک همداسې ورکوي لکه تا چې ورکړ.

اوس د طالب تسلیمي په کوم معیار د رسول الله ﷺ له سولې سره برابره ده؟

سوله د جنګ نه کولو ټرون ته وایي، هلته سوله کیږي چې مخکې له مخکې هلته قتال موجود وي ، هلته پر یو بل حملې شوې وي، نو بیا به د سولې ټرون کیږي، د اسلام په سیاسي نظام کې کفارو سره د سولې معنا همدا ده چې پر یو بل به تعرض نه کړو، د اسلام په قاموس کې یې بل تعریف نشته، دا خو نه ده چې سوله دې وکړه نو کفار دې ورونه شول او نوره نو دوستي شوه، خپلولي شوه، عهد خو فقط په نه جنګېدلو باندې دی او که تعرض وشو او یا که جنګ دې وکړ، نو سوله خو ختمه شوه، د نقل، عقل، شریعت، سیاست، تاریخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


او د هر څه منافي ده چې د سولې يو اړخ دې سوله ماتوي، تادې په سر سر وهي او ته وايې چې نه ما ورسره سوله کړې.

بله دا چې په سوله کې به د اسلام او مسلمانانو مصلحت پروت وي نه د افغان او افغانانو مصلحت.

که د اسلام او مسلمانانو مصلحت دا ايجاب کوي چې اوس سوله د ټولو په ګټه ده، تر اوسه مصلحت په قتال او جنګ کې و خو اوس مصلحت په دې کې دی چې سوله وشي، اسلام او مسلمانان له همدې لارې خپل هدف ته رسېږي، نو بيا به سوله د لوړو اهدافو د ترلاسه کولو په خاطر د يوې وسيلې په شکل د مسلمانانو د عمومي امير په اجازه باندې کيږي.

## ورونو!

نن سبا ديپلوماتيک هيئتونه د خپل هېواد د منافعو او د وګړو د ګټو د ساتنې په خاطر ځي راځي، د بين الملل په قوانينو کې د ديپلوماتيکو اړيکو مانا همدا ده چې يو هئيت کوم هېواد ته ځي نو هلته د خپل هېواد د وګړو د امنيت او ملي منافعو په اړه خبرې کوي.

اوس که د اسلام په سياسي نظام کې ځوک د سولې ستراتيژي تطبيقوي، نو هغه به بيا د اسلامي امت د منافعو په اړه غږيږي چې هغه کافر ديپلومات د خپلو وګړو (شهروندانو) منافع غواړي، نو تا

(c) ketabton.com: The Digital Library


سره به د اسلامي امت د منافعو غم وي، نه صرف د يو قوم او يو هېواد.

د سولې عقد ته د اسلام په سياسي نظام کې معين عقد وايي.

مطلب دا چې هر څه دې کړي، نظامي ملاتړ او داخلي نظم دې برابر کړي، نو هغه وخت دغه د سولې عقد تا ته بيا د لوړو اهدافو ترلاسه کولو په بنا اجازه ده، د دې په خاطر چې د کفارو يو لوري سره سوله وشي او بلې لوري کې د دعوت، د اسلامي قلمرو او د قتال ستراتيژيانې پرمختګ وکړي، نو ځکه د اسلام په سياسي نظام کې د سولې عقد ته عقد معين وايي.

معين عقد هغه عقد، پيمان او تړون ته وايي چې د هغه ټول اصول، شرايط او اوصاف د اسلام په سياسي نظام کې تعيين شوي وي، يعنې د اسلام سپېڅلي دين تعيين کړي وي نه د بين الملل کفري قوانينو دا د معين عقد تعريف دی.

**طالبه!** تا چې امريکايانو سره سوله وکړه د بين الملل کفري قوانينو باندې دې وکړه که دې د اسلام د مبين دين په قوانينو، او آيا امريکايانو دا درسره ومنله چې د اسلامي نظام په چوکاټ کې به سره خبرې وکړو؟

د طالبانو ټوله سوله صرف د افغانانو لپاره ده، نو دا يو متعصب

(c) ketabton.com: The Digital Library


وطني ګوند دی او د نبيﷺ صحابه وو کې مهاجر او انصار دواړه شامل وو، سوله يې ټولو مسلمانانو ته شامله وه.

**ملا برادر وايي:** (د سولې او د دواړو اړخونو ترمنځ د فاصلې د راکمولو لپاره بايد مقابل لوري هغه افغانان آزاد کړي چې د اسلامي امارت مجاهدين دي يا د مجاهدينو سره د تړاو په تور بنديان شوي دي)

**راتلونکي حکومت په اړه هم وايي:** (د افغانستان د خپلواکۍ نه وروسته اسلامي امارت د قدرت د انحصار په فکر کې نه دی، بلکې د ټولو افغانانو سره په ګډه، په ګران هېواد کې يو افغان شموله اسلامي نظام غواړي).

چې اسلامي شو نو د افغان قيد ته څه حاجت دی؟

خو دا د ديموکراسۍ يو مهم اصل څرګندوي چې قوميت دی، بس اسلام کافي دی که د هر ځای، هر قوم، نسل، رنګ، سمت مسلمان وي، هغوی ټولو ته شامليږي، خو طالبان او امريکا داسې حکومت هېڅکله نه غواړي.

که خبره د قوميت وای نو ابوجهل، عتبه، شيبه او دا نور کافر مشران خو د عربو معززو کورنيو څخه و، نو بيا خو د هغوی وژل هم نه و پکار، بلکه د مدينې او مکې نظام کې بايد دويته د طالبانو په دريځ

(c) ketabton.com: The Digital Library


وظیفه ورکړل شوې وی!

د طالبانو نعره دا ده: (د یوه آزاد، خپلواک، او سوله ییز افغانستان په هیله)

همدا نعره د پرچمیانو، خلقیانو، نیشنلیانو او دیموکراتانو ده، هغوی پرې کافر کیږي خو چې طالب یې په سپینو جامو او پټکي کې وهي دا پرې نه کافر کیږي، دوی ته دا پته نشته چې دا ایمان معنوي او عملي څیز دی، دا ظاهري لونګیو او سپینو جامو پورې اړه نه لري، عقیده او عمل ته مو متوجه شئ، د قرآن او سنت په تله خپل اعمال وتلئ، دا ظاهري اعمال په باطن باندې دلالت کوي چې د طالبانو سینو څخه ایمانونه وتلي دي، یو انسان ظاهره کې الله رب العالمین ته بد وایي او بیا ځان ته مؤمن هم وایي، څوک به یې ورسره ومني؟

نه، دا څنګه په رب مؤمن دی چې کنځلې ورته کوي؟

همدا شان دا طالب څنګه اسلام غواړي چې خپله اسلام پورې خندا کوي، د الله رب العالمین نظام په خلاف وضعي قانون جوړولو له امله د رب سپکاوی کوي، شیعه ګانو ته د مشرۍ ورکولو او ورسره تړون کولو له امله د محمد رسول الله ﷺ ناموس پورې خنداوې کوي او بیا وایي سوچه اسلامي نظام غواړو؟!

د طالبانو آزاد او خپلواک اصطلاحاتو څخه مراد: قومیت او وطنیت

(c) ketabton.com: The Digital Library


دی د بین الملل په جوکاټ کې حدود دي او سوله آییز لفظ د اصلي کافرو سره د جهاد د تعطیل ښکاره اظهار دی.

اما که چېرته د اسلام سیاسي نظام کې د سولې خبره راځي، نو دلته به د سیمې د ټولو مسلمانانو په نمایندګۍ خبره کېږي، یوازې د مشخص ګوند نه، بلکه ټول مهاجر، انصار او اعراب (بانډچیان) مسلمانان به په کې شامل وي د ټولو مسلمانانو مصالح به په پام کې نیول کیږي، نه یوازې د یو قوم او یو سمت او کوم عهد چې د مسلمانانو له لورې کفارو سره کیږي نو هغه کې باید دغه درې شرائط ذکر شوي او عملي شوي وي :

**اول:** ټولو کفارو سره په یو وخت کې په عدم قتال باندې عهد نه کیږي،یاني د کفارو طرف به مشخص او ډله یا (هېواد) به یي معلوم وي

**دویم:** دا عهد به د مؤقت وخت لپاره وي، یعنې وخت به پکې معین وي

**دریم:** چې دوی سره به د سیمې ټولو مسلمانانو په نمایندګۍ عهد تړل کیږي، داسې نه چې تا ورسره عهد وکړ او دوی له تا څخه ځان بېغمه کړي او ستا د واکمنۍ په ساحه کې په نورو مسلمانانو شروع وکړي، نه! دا اصل او هدف به د مسلمانانو وي چې یو طرف کفارو سره مؤقت عهد کوي، د دې لپاره چې بل طرف کفارو سره جګړه مخ ته یوسي، لکه کوم عهد چې رسول اللهﷺ حدیبیه کې وکړ، په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library


سوله کې اول طرف د رسول اللهﷺ معلوم وه چې د قریشو کفار وو، دویم وخت یې معین وو چې دا سوله او ېزبندي د لس کالو لپاره وه، دریم رسول الله ﷺ د قریشو له طرفه ځان مطمین کوي او راځي د خیبر په یهودو لښکر کشي کوي.

اما نن دا اصل کفارو په خپل لاس کې نیولی دی ، بس چې کله یې هم زړه وشي، نو تش په نامه مسلمانانو سره یو تړون وکړي، ځان هم په همدې مسلمان نما طواغیتو ساتي او له دوی څخه ځان هم مطمین کوي او بیا د بل طرف په مسلمانانو خپل یرغل ، وحشت او قتل عام ته سم کار وایي او خه په اطمنان دا هرڅه ترسره کوي ، نو که څوک د همدې درې شروطو نشتوالي په صورت کفارو سره تړون کوي، یعنې اول ټولو کفارو سره تړون کوي او دویم دائمي تړون کوي او دریم خاص د خپل قوم او یا ګوند لپاره یې کوي او د سیمې نور مهاجر یا انصار مسلمانان هېروي ، نو بیا دا کفارو ته حقیقت کې تسلیمي ده.

یعني که د افغانستان په محاذ د الله مشخص دښمن سره د معلومې نېټې لپاره سوله وشوه او بیا د سولې موده کې دغه معاهد کافر پدې سیمه کې اوسیدونکي هر مهاجر یا انصار باندې برید وکړ، لکه نن سبا چې پرې د ډرون بریدونه کوي یا د برید لپاره بې پیلوټه الوتکې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځلورویشت ساعته ګرځوي او د سیمې یو مسلمان څاري، تجسس يې کوي، ترڅو د برید هدف يې وګرځوي نو دغه صورت کې معاهده نقض ده او دغه کافر سره به بیا جګړه کیږي. ځکه د افغانستان ټولو مسلمانانو په نمایندګۍ سوله نده شوې.

همدا ډول کله چې د مسلمانانو خلیفه د نړۍ په سطحه د مصلحت په خاطر، د کفارو په غوښتنه د دوی معلوم جهت سره د مقررې نېټې لپاره سوله کوي نو دا به د نړۍ هر مسلمان ته شامله وي، بیا که چېرته همدا معاهد هېواد نوره نړۍ کې فرضاً: افریقا، عراق، شام، لیبیا، مصر، بیت المقدس وغیره کې یو مسلمان باندې تېری او ظلم وکړي، نو نوره معاهده ورسره باقي نه پاتې کیږي، د افغانستان څخه به د هغوی د دفاع لپاره لښکر ورځي او دا معاهد کافر په دې سره بیا حربي کافر شمېرل کیږي، د تړون حیثیت او مشروعیت ختمیږي، هر مکان او هر نقطه کې چې په لاس درغلل بې دریغه باید ووژل شي، کفارو سره تړون دا یو نازک او باریک تړون وي، چې د کفارو په معمولي سرغړونه او بې لارۍ ماتیږي او نور دوب ته بیا خه عبرتناکه سزا پکار وي.

ابن العربي رحمه الله تر دې پورې وایي چې د معاهدو کفارو په زندانونو کې د محبوسو بندیانو د راخوشې کولو لپاره به هم کوښښ

(c) ketabton.com: The Digital Library


کیږي. لکه د مثال په توګه د خراسان په خاوره د خلیفة المسلمین په اجازه د مسلمانانو والي کفارو سره سوله کوي نو د مسلمانانو بندیانو په اړه به هم ورسره خبره کوي. مفسر قرطبي د سورت انفال دې آیت د لاندې لیکي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوْا وَنَصَرُوا أُولَئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يُهَاجِرُوا مَا لَكُمْ مِنْ وَلَايَتِهِمْ مِنْ شَيْءٍ حَتَّى يُهَاجِرُوا وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ إِلَّا عَلَى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ﴾. [۷۲ سورة الأنفال].

**ژباړه: کومو خلکو چې ایمان راوړ او هجرت یې وکړ او د الله په لاره کې په خپل سر او مال وجنګېدل او کومو خلکو چې مهاجرینو ته ځای ورکړ او له هغو سره یې مرسته وکړه، هماغوی په اصل کې یو د بل دوستان دي. پاتې شول هغه خلك چې ایمان یې راوړی دی خو (دارالاسلام ته یې) هجرت نه دی کړی نو له هغو سره ستاسې کومه دوستانه اړیکه نشته تر څو پورې چې هغوی هجرت نه وي کړی. هو که هغوی ددین په باب له تاسې نه مرسته وغواړي نو د هغوی مرسته**

(c) ketabton.com: The Digital Library


کول پر تاسې فرض دي خو دیو داسې قوم پر خلاف نه چې له هغه سره ستاسې تړون وي. تاسې چې څه کوئ الله هغه ویني.

تفسیر قرطبي لیکي: (وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ) يُرِيدُ إِنْ دَعَوْا هَؤُلَاءِ الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ لَمْ يُهَاجِرُوا مِنْ أَرْضِ الْحَرْبِ عَوْنَكُمْ بِنَفِيرٍ أَوْ مَالٍ لِاسْتِنْقَاذِهِمْ فَأَعِينُوهُمْ، فَذَلِكَ فَرْضٌ عَلَيْكُمْ فَلَا تخذلوهم. إلا أن يستنصروكم عَلَى قَوْمٍ كُفَّارٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ فَلَا تنصروهم عَلَيْهِمْ، وَلَا تَنْقُضُوا الْعَهْدَ حَتَّى تَتِمَّ مُدَّتُهُ. ابْنُ الْعَرَبِيِّ: إِلَّا أَنْ يَكُونُوا [أُسَرَاءَ] مُسْتَضْعَفِينَ فَإِنَّ الْوَلَايَةَ مَعَهُمْ قَائِمَةٌ وَالنُّصْرَةَ لَهُمْ وَاجِبَةٌ، حَتَّى لَا تَبْقَى مِنَّا عَيْنٌ تَطْرِفُ حَتَّى تخرج إلى استنقاذهم إِنْ كَانَ عَدَدُنَا يَحْتَمِلُ ذَلِكَ، أَوْ نَبْذُلُ جَمِيعَ أَمْوَالِنَا فِي اسْتِخْرَاجِهِمْ حَتَّى لَا يَبْقَى لِأَحَدٍ دِرْهَمٌ. كَذَلِكَ قَالَ مَالِكٌ وَجَمِيعُ الْعُلَمَاءِ.

ژباړه: (که هغوی ددین په باب له تاسې نه مرسته وغواړي) د الله تعالی مراد دا دی کچېرې هغه مؤمنان چې د جنگ ساحې (دار الحرب) څخه یې هجرت نه دی کړی، د ځان خلاصون لپاره له تاسې څخه د جنگ لپاره نفر یا مال وغواړي نو تاسې ورسره مرسته وکړئ، ځکه دا په تاسې فرض دي نو یوازې (بې مرستې) یې مه پرېږدئ. مگر که د داسې قوم په خلاف درڅخه مرسته وغواړي چې ستاسې او د

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغو ترمنځ تړون وي نو بیا د دوی (معاهدینو) په خلاف هغه مسلمانانو سره مرسته مه کوئ او د مودې بشپړېدو پورې عهد مه ماتوئ. ابن العربي وايي: مګر که دوی (اسیران) بې وسه وي نو دوی سره دوستي قائمه ده او د دوی مرسته واجب ده، تر دې چې په مونږ کې هېڅ رپېدونکي سترګه پاتې نشي تر دې چې د هغوی خلاصون لپاره ووځي (یعني ټول مسلمانان ووځي) کچېرې زمونږ شمېر د دې توان درلود او یا به د هغوی راخوشې کولو لپاره ټول مالونه مصرفوو تر دې چې مونږ یو کس سره هم یو درهم هم پاتې نشي. همدغه شان امام مالک او ټولو علماؤ ویلي دي.

زهرة التفاسیر کې لیکي: (وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ إِلَّا عَلَى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ). إن هذه ولاية الايمان وهي توجب النصرة على أساس أن المؤمنين جميعا إخوة، كما قال تعالى: (إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ (10). فحيثما كان المؤمن فهو في ولاية المؤمنين مهما تختلف الديار، وتتباعد الأقطار، ولذلك إذا استنصر المؤمن وجبت نصرته في دفع عدوٍّ دَاهِم، أو في حرب عادلة؛ ولذا قال تعالى: (فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ) والاستجابة لطلبه، وقد استثنى الله حالا واحدا، وهي أن يكون ثمة

(c) ketabton.com: The Digital Library


ميثاق، والمعنى عليكم النصر، أي فإن دعوكم فعليكم الإجابة إلا أن يكون النصر الذي تنصرونهم فيه يكون على قوم بينكم وبينهم ميثاق، أي لَا تنصروهم على قوم لهم ميثاق، ولكن يجب أن تدفعوا عنهم كل من يعتدى عليهم، ولو كان بينكم وبينهم ميثاق، لأنهم ينقضون الميثاق بمجرد أن يعتدوا على مؤمنين، فلا عهد مع الاعتداء على أهل الايمان. [زهرة التفاسير]

ژباړه: دا د ايمان محبت دی او دا پدې اساس ملاتړ واجب وي چې ټول مؤمنان ورونه دي، لکه الله تعالی فرمايي: مؤمنان خو يو د بل سره ورونه وي، نو دخپلو ورونو په منځ کې جوړجاړی وکړئ او له الله نه وويريږئ دې لپاره چې پر تاسې رحم وکړای شي. نو چېرې چې مؤمن وي هغه د مؤمنانو په دوستۍ (ملاتړ) کې داخل دی، ولو که سيمې يې سره جدا وي او ځايونه يې لرې وي. او له همدې امله چې کله مؤمن مرسته وغواړي نو مرسته کول يې واجبيږي، په دفاع د اشغالگر دښمن کې يا هم د انصاف جنگ کې، او څکه الله تعالی فرمايي: (په تاسې يې مرسته لازم ده) او د هغه بلنې ته لبيک ويل هم لازم دي. خو الله تعالی يو حالت ترې مستثنی کړی دی او هغه دا چې کوم تړون موجود وي. معنا دا شوه چې په تاسې يې مرسته لازم

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ده يعني کچېرې يې تاسې راوبللئ په تاسې منل لازم شو مګر که دا تاسې چې د هغوی کوم مرسته کوئ دا د داسې قوم په خلاف وي چې ستاسې او د هغوی ترمنځ تړون وي يعني تاسې د هغه قوم په خلاف يې مرسته مه کوئ چې تړون يې وي. خو دا واجب ده چې څوک په هغوی زياتی کوي د هغوی څخه د دوی دفاع وکړئ. اګر که ستاسې او د هغوی ترمنځ لوظنامه وي ځکه دوی په مؤمنانو باندې زياتي کولو سره لوظ ماتوي نو مؤمنانو باندې زياتي کولو په صورت کې هېڅ عهد نشته.**

اوس راشئ د کفارو او طالب حالات او وضعيت د همدې بحث په هنداره کې وګورئ، د امريکا په تر ټولو ستره استخباراتي هډه قطر کې د سولې په نامه د طالب د تسليمۍ تړون ته هم نظر وکړئ او د کفارو د ملګرو ملتونو د قانون او منشور مطابق د وطنيت د عقيدې په بنياد کفارو سره د طالبانو راشه درشه، برخورد او تعامل هم د اسلام له نظره وارزوئ، نو د ټولو کفارو سره د کفارو د اصولو او قوانينو له مخې په يوه وخت تر نامعلومې نېټې د سولې په نامه د تسليمۍ ترسره کړي تړون په اړه طالبانو ته وايو:

طالبه ! ستا تړون خو:

**اول :** د افغانستان د ټولو مسلمانانو لپاره نه و، يانې نه ته مسلمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې او نه هم ته د افغانستان د ټولو مسلمانانو استازيتوب کولای شي.

**دويم :** ستا دا تړون چې د کفارو د قوانينو او اصولو په بنياد مو کړی، نه د شرعي احکامو او اصولو په بنياد، نو دا تړون مو مشخص (يوې ډلې) کفارو سره نه دی، بلکې د نړۍ ټولو کفارو سره مو کړی او ورسره دې جهاد څخه د تلپاتې توبې ويستلو غوړونه هم ورته نيولي دي

**درېيم :** کفار اوس هم ستاسې د واکمنۍ (!) ساحه کې خپلې څارګرې بې پيلوټه الوتکې ګرځوي او ستا د ساحې څخه خارج خو هسې هم هر ورځ مسلمانان وژني، زنانه يې بنديانوي، ماشومان يې په اورونو کباب کوي، د قرآن کريم او رسول الله ﷺ توهين خو تکراري او بيا بيا کوي ، په نوره نړۍ کې څه چې د همدغه تړون په لومړيو ورځو کې يې هم ستا جنګيالي په باګرام و غيره ځايونو کې دروووژل، ستا دا کاغذي تړون يې تکراري نقض کړ، نو ستا دې تړون ته نه پرون اعتبار وه او نه نن اعتبار شته او نه به آينده کې دا اعتبار پيدا کړي.

په بل تعبير ستا همدا تړون د تړون په ورځ هم د اسلام په شروطو برابر نه و او نه اوس کوم حيثيت او اعتبار لري، ځکه تا چې کومو کفارو سره عهد کړی هغه عملاً مسلمانانو سره په جګړه کې ښکېل دي، هم په افغانستان کې او هم له افغانستانه بهر خاورو کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بس که خپلې تسليمۍ ته د معاهدې نوم ورکوې، نو دا هسې چشم پوشي کوې او په زوره خپله خپل ځان ته دوکه ورکوې ، بلکې نور خلک نشې دوکه کولای ، اول خو دا تړون له پيله نه دی شوی ، کوم حيثيت او اعتبار نه لري او بالفرض که شوی وي نو لکه څنګه مو چې يادونه وکړه تکراري مات شوی او د دوه توته ارزښت هم ورپاتې شوی نه دی، خو دا چې ستاسې په کتاب کې نه ماتيږي او داسې کلک دی چې د تړون په يو قسم نقض هم نه ماتيږي نو دا بيا د سولې نه بلکې د تسليمۍ تړون دی، دا بيا د پاکستان او نورو مرتدو هېوادونو او امريکې ترمنځ تړون په څېر د بادار او غلام ترمنځ د آمريت او ماموريت معامله او وظيفه ده ، بس مجبوره ياست چې هر څومره مو کفار په دې څټ څټ کې ووهي نو همداسې مړه غوږونه ونيسئ ځکه غلام د خپل بادار په وړاندې د هيڅ ډول شکايت حق نه لري همداسې لاس په نامه به ولاړ ياست.

دې ته د سولې د تړون نوم مه ورکوئ يا د يو امنيتي تړون نوم ورکړئ يا د يوې پروژې د ډونرانو او تطبيقونکو ترمنځ د يوې معاملې د تړون نوم ورکړئ ، ځکه دا د سولې تړون نه دی ، امريکا په دې تړون سره له يوه لورې طالب له جګړې لاس په سر کړل بلکې ځان يې ترې هم مطمين کړ او د خپل امنيت ساتنې او د خپلو اهدافو

(c) ketabton.com: The Digital Library


د پلي کولو او پروژو د تطبيق مامورين او عسکر يې ترې جوړ کړل، نور نو امريکا هيڅ ډول ژمنتيا نه لري او نه ځان دې تړون ته مکلف ګڼي ځکه دا يو طرفه د امريکايي ګټو او د امريکا د امنيت ساتنې تړون دی او طالب د يو مامور په حيث امضا کړی، نور نو امريکا چې هر کله هر چرته خوښه وشي خه په پوره بدماشۍ مداخله کوي ، هم بمبار کوي هم ځار کوي او هم هر کار کوي خو طالب ورته مړې سترګې نيولي پورته ورته کتلای نشي.

رسول الله ﷺ د حديبيې سوله ولې ختمه کړه، دا سوله خو مکې والا ماته نه کړه، بلکې د دوی حليف دا سوله ماته کړه، نو رسول الله ﷺ په مدينه کې د مکې خلکو سره د جګړې اعلان وکړ، ټولې لارې يې بندې کړې چې له مدينې راپور هم مکې ته لاړ نشي، يعنې په دومره لوړ هوډ او قوت يې د دې نقض سزا ورکول غوښتل.

که سوله کيږي نو د افغان او ارګ په ګټو نه، بلکې د اسلامي امت په ګټو به وي، امارت که له امريکا سره سوله کړې وی او په چين او روس يې شروع کړي وای او امريکا ته يې ويلي واي چې تاسې که ځان وخوځاوه ستاسې به هم دا حال وي، نو يوه د ختو پوزه به يې ځانته ايښې وای، خو طالب يې داسې بند په بند تړلی چې له کفارو ځان نشي خوځولای. د نبي عليه السلام سوله د مؤمنانو د دفاع لپاره وه، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library


طالبانو د کفارو سره توافق په نتیجه کې د خلافت پر مؤمنانو جګړه شروع کړې دی او دا د سولې مهم شرط و، لکه: د امریکا خارجه وزیر کافر مایک پامپیو قطر کې طالبانو ته وایي، خپلې ژمنې به پوره کوئ او اسلامي خلافت ته د ماتې ورکولو لپاره به جګړه جاري ساتئ:

**Keep up the fight to defeat ISIS...**

او د طالبانو مخکنې بایلونکې ولسمشر ټرمپ ډېر په غرور سره دا ویل چې طالبان به ترهګر وژني:

**They will be killing terrorist**

کله چې طالبانو د خلافت په مقابل کې ناکامي حس کړه نو مجبوراً یې د "المدد یا أمریکا" په اصولو باندې عمل وکړ، زمیني مرسته یې د پاکستان، ایران، روس او چین څخه اخیستله، سي آی اې، آی ایس آی او کې جي بي استخباراتي ادارو ورسره مرستې وکړې او له پاسه امریکایي طیارو او کروزونو ورته زمینه سازي کوله او بریتونه به دغه طالبانو تاوول، لکه دا حقیقت اوس نړۍ ته هم راڅرګند شو.

لله الحمد. او نبي ﷺ فرمایي: **"وَلاَ يُقْتَلُ مُسْلِمٌ بِكَافِرٍ"{صحیح البخاري}**

**ژباړه: مسلمان به د کافر په بدل نه وژل کیږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو مسلمان به د کافر په بدل هم نه وژل کیږي، پاتې لا د امریکا، روسیه او چین په څېر غلیظو کافرو لپاره!

او د مسلمان خلاف د کافر مرسته کول په اجماع د امت سره کفر دی. مشهور ناقض د اسلام دی.

**(مظاهرة المشركين ومعاونتهم على المسلمين كفر بإجماع المسلمين)**

الله ﷻ فرمایي:﴿**أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ نَافَقُوا يَقُولُونَ لِإِخْوَانِهِمُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَئِنْ أُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ وَلَا نُطِيعُ فِيكُمْ أَحَدًا أَبَدًا وَإِنْ قُوتِلْتُمْ لَنَنْصُرَنَّكُمْ وَاللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ**﴾سورة المنافقون:11

**ژباړه: ته هغو کسانو ته نه ګورې چې د منافقت کړنلاره یې غوره کړېده؟ دوی خپلو کافرو اهل کتاب ورونو ته وایي: "که تاسې وویستل شوئ، نو موږ به هم ستاسې سره ووځو؛ او ستاسې په باب به موږ د هېچا خبره هېڅکله ونه منو؛ او که ستاسي سره جنګ وکړای شو، نو موږ به ستاسې مرسته وکړو." خو الله شاهد دی چې دغه خلك خامخا درواغجنان دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**نو ای طالبه!** ته سوچ وکړه چې د مسلمانانو په خلاف مرسته کولو درواغو لوظونو له امله الله رب العالمین دوی کافر وګرځول او دوی یې د کفارو ورونه وبلل، نو ستاسو به څه حکم وي چې د مسلمانانو خلاف کافرو سره مو امنیتي او افرادي مرسته وکړه؟

طالب اوس د سولې په نوم له کفارو مرسته اخلي او مسلمانانو سره جنګېږي نو دا بیا کوم اسلام شو، دا خو بیا صریح کفر دی.

د سولې په نوم امریکا طالبان ډیموکراسۍ ته ورننویستل، څکه کمونستان، خلقیان، پرچمیان، حزبیان، اخوانیان، روافض او نور ډیموکراتان او طالبان به په شریکه نظام جوړوي او همدا د جمهوریت هدف دی او همدا یې مفهوم دی.

او دیموکراسي کفر دی، ارتداد دی، دیموکراسي او جمهوریت کې نظام د بندګانو وي او شریعت کې د قانون واک د الله رب العالمین وي، بندګان به پکې نه شریکوې.**قال تعالی:** **﴿فَالْحُكْمُ لِلَّهِ الْعَلِيِّ الْكَبِيرِ﴾** **غافر:12** ژباړه: **د فیصلې واک د اوچت او لوی الله په لاس کې دی.**

دیموکراسي خو د نصرانیت، یهودیت او مجوسیت پشان یو مستقل دین دی، دا خو مونږ ته رب ندی رالیږلی، مونږ ته خو یې اسلام رالیږلی، د اسلام پرته بل دین خو الله ﷻ نه قبلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


او د نبيﷺ سوله هېڅکله داسې نه وه، نبيﷺ خپل نظام او قانون کې چا لپاره تغیر ندی راوستی، قریشو ته یې برخه نده ورکړې، مدینه کې عمومي واک د نبيﷺ و، د الهي قانون مطابق یې پرېکړې کولې ، مدینه کې هر څه مستقل و ، د مسلمانانو او مهاجرینو مرکز معلوم و.

**او طالبان تړون کې وايي:** د افغانستان اسلامي امارت چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پېژني او د طالبانو په نوم یې پېژني، مسؤلیتونه به یې په هغو سیمو کې وي چې د دوی تر ولکې لاندې دي، تر هغو چې د بین الافغاني ډیالوګ او مذاکراتو له لارې تر جوړجاړي وروسته نوی افغان اسلامي حکومت جوړ شي.

**ملا برادر وايي:** د خارجي لاسونو پرته به په داسې افغان شموله خپلواک نوی اسلامي نظام توافق وشي چې د اسلامي او افغاني ارزښتونو څرګندوی وي، ځکه چې خپلواک اسلامي نظام د هیواد د هر ډول پرمختګ، اسلامي عدالت او ملي یووالي ضامِن دی.

او تړون کې دا هم وايي: (متحده ایالاتونه به د بین الافغاني ډیالوګ او مذاکراتو له لارې تر جوړ جاړي وروسته د نوې افغان اسلامي حکومت لپاره د بیارغولو اقتصادي مرستې وغواړي او په کورنیو چارو کې به یې لاسوهنه نه کوي.)

(c) ketabton.com: The Digital Library


څه لاس وهنه به وکړي،هغوی ته پته ده چې داسې حکومت به جوړېږي لکه مرتد جمهوریت، همدغه رنګه د اسلام یو څو ظاهري شرائع به پکې آزاد وي او نور واک به ټول د پاکستان او امریکا په لاس کې وي! " نوی افغان اسلامي حکومت "!دا اصطلاح خو معروفه او مشهوره ده. دغه اسلام ټکی خو د افغانستان تېر حکومت هم ځان سره لګولی و، همدا رنګه پاکستان هم لرولی، د ایران په شان شیعه ګانو او د آل سلول په شان د امریکا غلامانو هم لرولي، چې د امریکا په خوښه اسلام وي نو دا به کوم اسلام وي؟

د نبي عليه السلام د سولې تړون له امله نظام کې قریشو ته هېڅ واک نه و ورکړل شوی، هېڅ اختیار یې نه درلود، د طالبانو خو پدې کې جنجال دی چې افغانستان کې به کوم نظام نافذوو، دا ښکاره ده چې سیکولر اسلام به نافذوي چې جهاد، هجرت، جزیه، وینځه جوړول پکې نه وي، وطنیت، قومیت، جمهوریت، د ښځو حقوق، د بشر حقوق، د بیان د آزادۍ په نوم کفریات پکې ښه آزاد وي، د بین الملل قوانینو ته رجوع کیږي، د هغه هر فرمان به منل کیږي، کفارو سره به موالات کیږي، سفیرانو په نوم د جاسوسۍ پوره عمله به دلته وي، زنانه وو ته به د مخلوط کار اجازه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حدیبیې له سولې وروسته خو رسول الله ﷺ هېڅ کوم کس د قریشو په فرمایش د وزیر یا مامور په حیث نه دی ګمارلی او نه یې هم ورته مدینه کې بل کوم دریځ د دوی په فرمایش او غوښتنه ورکړی او نه یې هم د مرتدینو د راستنېدو لپاره کمیسون جوړ کړی چې ټول غله، زانیان، رهزنان او د مرتدینو مشران راوبلي په غاړه کې ورته ګلونه واچوي، بې له توبې یې وبښي او ښه په عزت یې امنیت وساتي؟

**بله خبره دا ده** چې د طالب سوله: دا سوله د قانون وضعه کولو پر بنسټ ولاړه ده، چې دا صریح کفر دی، ځنګه پرون طالبان او افغان حکومت په ګډه نوی اساسي قانون جوړولو ته چمتو شوي وو. آزاد افغانستان کې بیا نوی اساسي قانون جوړوي سره له دې چې دا شرک في الحکم دی.


sungermedia سنګرمیډیا
4.9K subscribers

د افغانستان اهل تشیع افغانان دي او حقوق یې پر سر سترګو، نه یوازې اهل تشیع بلکې ټول اقلیتونه لکه اسماعیلیان، هندوان، سیکان او نور اقلیتونه ټول حقوق لري او په ازاد افغانستان کې جوړېدونکی اساسي قانون باید دغه حقوق ټول تضمین کړي، خو اوس ددغو اقلیتونو احوال شخصیه مربوط قوانینو اړتیا د مذاکراتو په طرز العمل کې هیڅ نه لیدل کیږي.

په دې وروستیو کې د حنفي فقه پر اساس د پریکړې پر خلاف ځینو رسنیو مغرضانه بحثونه را پیل کړي او د اساسي قانون هغه برخه نشروي چې هلته د اهل تشیع د احوال شخصیه قوانینو یادونه شوې، او بیا د احوال شخصیه قانون تر بحث لاندې نیسي خو دلته پوښتنه داده چې د اهل تشیع په خپل منځي احوال شخصیه پورې د مذاکراتي بهیر څه تړاو دی؟ ایا په مذاکراتو کې به پر دې بحث کیږي چې اهل تشیع به په خپل منځ کې نکاح پر کومو شرایطو تړي او یا به څرنګه میراث سره تقسیموي او یا به څرنګه پر اولادونو نفقه کوي وغیره.؟ د اخو ټول ددوی احوال شخصیه مربوط قوانین دي چې هیڅ کلهیوه حکومت یې مخالفت نه دی کړی، حتی د طالبانو د حکومت پر مهال شیعه ګانو خپل منځ کې د خپلو قوانینو پر اساس پریکړې او معاملات کول او هیڅ چا مداخله نه پکښې کول، اوس په

(c) ketabton.com: The Digital Library


قال تعالی:﴿أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ﴾ [الأعراف: 54]

**ژباړه: خبردار اوسئ! خاص الله لره پيدا کول دي او د هماغه واک دی.**

**قال تعالی: ﴿وَلَا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِ أَحَدًا﴾ [الكهف: 26]**

**ژباړه: او الله ﷻ خپل د پرېکړې واک کې هېڅوک نه شريکوي.**

نظام او قانون به د الله رب العالمين وي، د الله د نظام مقابل کې بل قانون جوړول په اجماع د امت سره کفر دی.

عجيبه دا ده چې امريکا ولې حمله کوله او اوس يې ولې درسره سوله وکړه، حمله يې ځکه وکړه چې تاسې هغه وخت د اسلام نوم اخيسته او داسې خلک درکې موجود وو چې د بين الملل ټول قوانين يې نه منل که څه هم هغوی هم ډېری منلي و او نن يې چې درته د ټول افغانستان واک وسپاره تاسې همغه ټول کفري قوانين ومنل د کوم د نه منلو په صورت کې چې امريکا بريد کړی و، اوس چې امريکا خپلو اهدافو ته ورسېده نو بيا جنګ ته څه اړتيا؟

طالبانو خپله دا خبر خپور کړ، چې د امريکا ولسمشر جوبايډن وايي: مونږ هدف ته رسيدلي يو، د دفاع وزير يې هم دا خبره کوي او د امريکا د بهرنيو چارو وزير انتوني بلېنکن هم وايي: پر امريکا تر بريد شل کاله وروسته يې په افغانستان کې خپل اهداف ترلاسه کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library


او اوس د دې وخت دی چې خپل سرتيري کورونو ته ستانه کړو.

دا کومې خبرې چې نن تاسو ومنلې که دا مو په هغه (کال 2001 ميلادي) کې منلې وای نو نن به هم ستاسو حکومت پاتې وای، ځکه هغه وخت هم امريکا ملا محمد عمر ته ويل چې ستا حکومت په بين الأقوامي اصولو برابر نه دی، دا د استاد ياسر د خولې اقرار دی. خو نن چې کله تاسو د غيرت او ايمان اسلحه کوزه کړه، نو ځکه مو ځان د بين الملل قوانينو سره برابر کړ.

که خبره د اشغال وه نو کله چې ستاسو حکومت چپه شو او امريکايي نظام حاکم شو نو بيا **2002** او **2003 کال** کې مو ولې امريکا ته د مذاکراتو وړانديزونه کول؟

ډېر مو ځانونه امريکې ته خم او چم کړل خو کله يې چې تاسو باندې نيکتايي داره لښکر ته برتري ورکړه نو بيا تاسو د آی اس آی لمنه ونيوله او د هغوی په اشاره مو د عامو مسلمانانو وينې د اسلامي نظام د راوستلو په نوم توی کړې چې نن نه اسلامي نظام راغی او نه د کفر بستر ورټول شو هماغه بی ديني او د کفارو مستي چې پرون وه نن هم ده.

**ستانکزی وايي:** که اکثريت د افغانانو په جمهوريت راضي کيږي نو مونږ ورته تيار يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د انتخاباتو نظام هم منئ.

نن سبا چې د طالبانو نه عام ژورنالیستان د انتخاباتو مطالبه کوي، ورته وايي چې تاسې د ولس د حمایې دعوه لرئ انتخابات وکړئ، نو طالبان ورته جواب کې وايي: چې مونږ داسې انتخابات نه غواړو چې برخه لیک یې بهر کې ټاکل کیږي او پایله یې دوه ولسمشران وي، سبحان الله! داسې نه وايي چې انتخابات کفر دی، شرک دی، بلکې دا نور علتونه یې بیانوي، معنا دا چې برخلیک یې که دلته ټاکل کیږي او پایله یې یو ولسمشر وي نو بیا ورته تیار دي.

آیا نبي عليه السلام قریشو سره انتخابات کړی وو؟

لنډه دا چې په ټولو حقوقو او مواردو سوله نه کیږي، چې ټول حقوق او حدود په کفارو خرڅ کړې چې ما سوله کړې، کفارو سره سوله د اسلام په قوانینو کې کیږي، د سولې مادې په دې شرط عملي کیږي چې د الله حدود په کې نقض او معامله نشي. هغه وخت به د اسلام سیاسي نظام کې په سوله سوچ کوو چې مونږ مکمل بودیجه تیاره کړې وي، نو بیا د لوړو اهدافو لپاره سوله کېدای شي.

کله چې رسول الله ﷺ ابتدا کې مدینې ته راغی نو غواړي چې مستقله بودیجه تیاره کړي او بودیجه باید ستا خپل واک کې وي، صلاحیت یې ستا خپل وي، داسې نه چې اسلحه د یو مرتد نه اخله، دریشي د

(c) ketabton.com: The Digital Library


بل کافر نه اخله او تر بوټ پورې د بل چا غلامۍ کې اخته اوسې، لکه د طالب تش په نوم د دفاع وزیر چې د امریکا تر ټولو سترې استخباراتي هډې قطر ته لاړ او په دې یې خپله اعتراف وکړ چې موږ قطر سره د خپلو پوځیانو د معاشاتو او د دوی د لباسونو او نورو اړونده شیانو په تړاو خبرې وکړې او له هغوی مو وغوښتل چې موږ سره مرسته وکړي او هغوی هم زموږ دا سوال زارۍ ومنلې، مطلب مخکې به امریکا د اشرف غربي پوځونه مستقیم تجهیز کول اوس یې نو د خلکو د ذهنیت سازۍ په هدف او په دې خاطر چې څوک په طالبانو ونه پوهیږي چې دا هم د زړو مامورینو په څېر د امریکا مزدوران دي، ځکه یې نو د قطر له لارې اکمالوي، خو زمونږ ستر رهبر رسول الله ﷺ مدینې ته لاړ او هلته یې د نظام په جوړولو شروع وکړه، عسکري نظام یې خپله جوړ کړ، قضاء یې حاکمه کړه، نظام یې مکمل برابر کړ او په نظامي برخه کې اول د مکې په مشرکینو شروع وکړه، د هغوی په کاروانونو یې بریدونه پیل کړل او وروسته خبره تر لومړۍ غزوې یعنې د بدر تر غزوې ورسېده، په بدر کې یې بیا کفارو ته د الله په مدد شکست ورکړ، ظاهري اسباب او قوت یې برابر کړی و، د هغې نه وروسته یې بیا غزواتو ته ادامه ورکړه، بالاخره د کفارو زور دومره اوبه کیږي چې د مکې مشرکین

(c) ketabton.com: The Digital Library


صلحې ته تیاریږي، رسول الله ﷺ د دوی سره صلحه کوي او په نورو کفارو نظامي بریدونه پیلوي، ترڅو د اسلام قلمرو نور هم پراخه او له کفارو څخه غنیمتونه تر لاسه کړي.

خو طالب چې د رسول الله ﷺ سولې څخه قیاس کوي تاسې وګورئ چې څومره د اسلام سره ضد اعمال ترسره کوي او بیا نوم هم ورکوي چې د دوی نظام اسلامي نظام دی، فکر کوي چې هر څوک د دوی په خبر واښه خوري.

همدا اوس په افریقا کې روسیه، امریکا او د نړی ټول کفار په مشترک ډول په مسلمانانو بمبار کوي او دوی ټول سره په دې وحشت کې شریکان دي.

په معاصر تاریخ کې چې د اسلام په خلاف کوم تحالف هم شوی نو امریکا او روسیه یې په سر کې واقع دي .

فلحال د خلافت د مجاهدینو خلاف **۸۵ مملکتونو** څخه زیاتو علني ائتلاف کړی دی او ښکاره یې د اسلامي نظام مقابله کې جګړه اعلان کړې ده او د مجاهدینو او مهاجرینو په وړاندې په دې جګړه کې هېڅ ډول اصول نه پېژني او څومره یې چې له وسه پوره وي همغومره وحشت کوي او ددوی په حمایه نور په سلګونو استخباراتي نهادونه او ادارې په مخفي ډول د اسلامي دولت په خلاف خپل فعالیتونه مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته وړي او له هر ډول دسيسو څخه کار اخلي.

څو مياشتې مخکې د غربي افريقا د مجاهدينو د مقابلې لپاره په مراکش کې **تقريباً ۸۰ مملکتونو يوځای ائتلاف وکړ، چې په دغه ائتلاف کې ۱۵ افريقايي هېوادونه، ۳۷ اروپايي هېوادونه، ۱۳ عربي هېوادونه، ۲ امريکايي هېوادونه او ۷ آسيايي هېوادونه شامل وو، او** ددې سربېره د اروپايي اتحاديې، عربي اتحاديې، اينټر پول او ناټو په شمول نور نړيوال نهادونه او مؤسسات په دې کې شامل ول.

نو اوس تاسې فکر وکړئ يو کس چې ځانته مسلمان هم وايي او د کفارو په مقابل کې لږ غيرت او احساس ولري، نو که ددوی په خلاف ټوپک نشي را اخيستی نو ددوی سره خو بايد په ايتلاف کې داخل نشي او نه ورسره روابط وساتي، پاتې لا دا چې ډېر خلک د مسلمانۍ د دعوو باوجود همدغه حربي کفارو د امنيت ساتنې ماموريت ترسره کوي، لکه طالب چې خپلې باداري امريکا ته هر سهار او ماښام د امريکا د امنيت ساتلو ګردان کوي .

سړی حيران شي چې دې ذليله او لويدلې طالب ته کوم الفاظ وکاروي، آخر به دوی په خپله کومه بېغيرتۍ د خجالت احساس وکړي، کوم کفر به له خلکو پټ کړي، دوی په کومه لهجه ويوهوو، ددوی کوم کفر ورته راڅرګند کړو، په کومو مطالبو يې سترګې خلاصې کړو،

(c) ketabton.com: The Digital Library


لنډه دا چې دوی هغه ویښ ویده کې راځي، ویده کس زر راویښیږي خو ویښ کس چې ځان په درواغو ویده کړي د هغه راویښول ډېر ستونزمن وي، دوی اوس ضد او عناد نیولي، هر کفر ویني خو د کفر په حیث یې نه قبولوي ، ځکه د دومره سترو نواقضو مرتکب شوي .

کله فکر کوو دوی به اصلاً له پیله د اسلام او ایمان څخه ناخبره وي او په دې اړه به یې څه نه وي اورېدلي او یا به یې نه پیژني، که نه دا خو بیخي ښکاره مسائل دي .

لنډه دا چې ډېری یې په هر څه پوهه دي ، خپل کفر ورته سل په سله مالوم شوی خو بس خپل ضد او عناد نیولي ، دوی ته به دا ضد او عناد په دنیا او آخرت کې په زیان تمامیږي او که د حق د لټون او حق ته د غاړې ایښودو هڅه ونکړي نو ډېر زر به پښېمانه شي باذن الله .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سياست او ستراتيژي

اوس راځو په ستراتېژۍ باندې په خبرې او بحث پيل وکړو چې د دې د سياست سره څه ربط دی او ولې ستراتيژي په سياست کې مطرح کيږي؟ د ستراتېژۍ، پلان او تکتيک ترمنځ توپيرونه څه دي؟

### ورونو!

همدې يوې اصطلاح ته ځينې خلک د تکتيک يا پلان او ځينې هم ورته بيا د ستراتېژۍ کلمه کاروي، د دې اصطلاحاتو تحليل ځکه مهم دی که چېرته دښمن هم داسې کلمات استعمالوي چې پرې پوه او د خپل نظام د پرمختګ لپاره هم پدې باندې پوهنې ته اړتيا شته ترڅو څوک انتقاد ونکړي چې ستاسې په نظام کې پلان يا ستراتيژي نشته، نو هڅه وکړئ ورونو چې د دې اصطلاحاتو په معنا او مقصد ځان پوه کړئ.

د اسلام په سياسي نظام کې دا خبره مطرح کيږي چې ستراتيژي څه ده او پلان څه ته وايي او د دواړو تر منځ کوم مشترکات او توپيرونه دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د ستراتیژۍ او پلان تر منځ توپیرونه:

**اول توپیر:** ستراتیژي چې په سیاسي نظام کې مطرح کیږي ډېر هدف یې د نظام دفاع وي، یعنې د نظام دفاع پکې بیانیږي او پلان د اسلام په سیاسي نظام کې د آینده لاسته راوړنو په خاطر جوړیږي.

په بل تعبیر؛ ستراتیژي د اسلام په سیاسي نظام کې د مختلفو علمي اړخونو د دفاع لپاره مطرح کیږي مثلاً: د سیاسي، اقتصادي، نظامي، علمي او د نظام د نورو اړخونو څخه د دفاع په منظور مطرح کیږي.

او که خبره د لاسته راوړنو وه نو بیا به د پلان اصطلاح کاروئ چې زمونږ په اقتصادي، نظامي، سیاسي، فرهنګي او داسې نورو اړخونو کې مو دا پلان دی، همداسې نور اړونده برخو کې دا اصطلاح استعمالولای شئ.

**دوهم توپیر:** دا دی چې ستراتیژي ډېره په نظامي او سیاسي اهدافو کې مطرح کیږي او پلان بیا عام دی په هره برخه کې استعمالولای شئ.

**دریم توپیر:** دا دی چې ستراتیژي د اسلام په سیاسي نظام کې جامع مطرح کیږي او پلان مقطع یې او د یو خاص هدف تر لاسه کولو لپاره وي، یعنې په یوه ستراتیژۍ کې بیا ډېرو پلانونو ته ځای ورکول کیږي چې دې توپیر سره بیا پلان د ستراتیژۍ یو جز دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د ستراتېژۍ درې ارکانه دي:

1. اهداف
2. پلان
3. امکانات

چې پلان یو جُز د ستراتېژۍ شو نو په ستراتېژۍ کې دا درې واړه ارکانه مطرح کيږي.

موږ او تاسې د نظام د ساختار یعني جوړښت په برخه کې خبره کوو که څوک پوښتنه کوي چې د اسلام په سیاسي نظام کې ستاسې د دعوت او یا نظامي ستراتيژي مو څه ده؟

نو تاسې به بیا اول اهداف تشریح کوئ، دویم قدم کې د اهدافو ترلاسه کولو لپاره پلان مطرح کوئ او دریم قدم کې د پلان عملي کولو لپاره امکانات په ډاګه کوئ، دا درې مسئلې چې تاسې روښانه کړئ، حقیقت کې تاسې یوه ستراتيژي لیکلې ده.

الله تعالی فرمايي: ﴿وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍۢ وَمِن رِّبَاطِ ٱلْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِۦ عَدُوَّ ٱللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ﴾

**ژباړه: او تاسې تر خپلې وسې ډېر زیات طاقت او تیار زین کړي اسونه د هغوی د مقابلې لپاره برابر کړئ تر څو چې په دې وسیله د الله پر دښمنانو او په خپلو دښمنانو هیبت راولئ .**

(c) ketabton.com: The Digital Library


دلته الله رب العالمین د اسلام د سیاسي نظام د قائمولو لپاره ستراتیژي مطرح کوي او د دې ستراتېژۍ ارکان چې هغه درې دي هم پکې واضح کوي.

1. ﴿ترهبون به عدوالله وعدوکم﴾ دا اوله برخه د اهدافو شوه
2. ﴿و اعدوا الهم مااستطعتم من قوة﴾ دا دویمه برخه د پلان شوه
3. ﴿ومن رباط الخیل﴾ دا درېمه برخه د امکاناتو ده.

دغه ستراتیژي الله جل جلاله د دین د قیام لپاره مجاهدینو ته راوړاندې کوي، اوس که مجاهدین غواړي دا ستراتیژي په هره برخه کې عملي کړي، نو څنګه د الله جل جلاله دښمنان پدې باندې وویروو، په هره برخه کې به اعداد کوو، تیاري به نیسو او امکانات به ورته برابروو،همدا شان زمینه سازي به ورته هم کوو دا زمونږ او ستاسې کُلیات د ستراتېژۍ دي. چې د همدې کُلیاتو په اساس **(اهداف، پلان، امکانات)** بیا هر بخش لپاره که هغه نظامي، دعوتي، اقتصادي، سیاسي، امنیتي او که اداري وي، ستراتیژي لیکلی او مطرح کولای شو.

له اتلسمې پیړۍ وړاندې ستراتیژي یوازې په نظامي برخه کې مطرح کېده، دا خبره څکه کوو چې زمونږ اصلي هدف د دې خبرې نه څه شی دی هغه واضحه شي، د دې درس یو مقصد همدا دی چې مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library


څنګه دښمن سره مبارزه وکړو، اقلاً دښمن او د دښمنۍ لارې یې وپېژنو چې دښمن په کومو لارو مونږ سره مبارزه کوي که چېرته دغه اصطلاحات صحیح تشریح شي، بیا د دښمن د جګړې علتونه ډېر ښه پېژنو، نو تر اتلسمې پېړۍ پورې ستراتیژي صرف نظامي برخه کې کارېدله په سیاسي چارو کې ډېره نه استعمالېده، همدا شان د کفارو په نظام کې د جنرال نه په ټیټه سطحه څوک حق نه لري چې ستراتیژي مطرح کړي،نو د دې لپاره مونږ دا درس عام کړ چې زمونږ هر مجاهد باید د خو جنرالانو ځای ونیسي.

کفارو د دې ګټه او فایده لیدلې ده، ځکه خو دا مسئله یې عامه نه بلکه ځانته خاص کړې ده ترڅو یو کس جنرالۍ ته ورسېږي بیا په دې بحث کې داخلېږي او جنرالي هغه وخت ورکوي چې عمر یې د څلوېښت کلونو څخه لوړ شي، دغه خلک بیا د کفارو په نظام کې ستراتیژیانې جوړوي، یو کتاب مې مطالعه کاوه نو لیکلي و چې په امریکا کې ډېر معاش هغه خلکو ته ورکول کیږي چې ستراتیژي برابروي او د خپلو نظامونو د ترقۍ او پرمختګ لپاره د نویو طرحو د جوړولو په فکر کې وي، په همدې اړه سوچ کوي، بیا یوه ستراتیژي لیکي او پلان جوړوي، د کفارو په سیاسي نظام کې دې خلکو ته یې داسې ماحول برابر کړی چې د دنیا ټول سهولتونه یې ورته محیا او

(c) ketabton.com: The Digital Library


برابر کړي دي، هېڅ ډول غم نه لري، په دې خاطر چې په آرام سوچ او تفکر وکړي بیا دوی خپلو کفري نظامونو د ترقۍ په اړه په همدې سوچ کوي چې څنګه وکولای شي چې خپل نظام ته پرمختګ ورکړي او بیا داسې خلک د راتلونکي څو کلونو لپاره ستراتیژیانې لیکي.

نو ورورو! د دې اصطلاح لاندې مهم مسائل پراته دي، خیر که نن مسلمانانو لپاره هغسې ماحول برابر نه دی چې اوچت معاشونه او آرامه فضا کې فکر او سوچ وکړي، خو مونږ او تاسې چې دا هر هڅه او فکر چې کوو نو اللهﷻ په نزد مونږ ته اجرونه لیکل کیږي او دې هرې نوې ایجاد شوې ستراتېژۍ باندې چې یو مسلمان کار او فکر وکړي او د هغې په وجه اسلام او مسلمانانو ته فایده او خیر ورسیږي نو نومړی مسلمان که بیا نه وي هم دې ته به الله ﷻ دده دا ټول فعالیتونه صدقه جاریه ګرځوي.

مسلمانانو په سختو حالاتو کې په ډېرو قوي ستراتیژیانو کار کړی، نو موږ او تاسې هم باید په هر حالت کې په قوي ستراتیژیانو فکر وکړو زمونږ او د کفارو توپیر همدا دی چې په نشتو امکاناتو، سختیو او ستونزو کې د دښمن سره په هر ډګر کې مقابله وکړو.

نو ورونو تر اتلسمې پیړۍ ستراتیژي نظامي برخې پورې محدوده وه او جنرالانو به پرې بحثونه کول چې څنګه فلاني دښمن ته شکست

(c) ketabton.com: The Digital Library


او په کومو طريقو يې تېښتې ته اړ کړو.

خو کله چې جنګونه سخت شول، تکنالوژۍ ترقي وکړه، جګړې نور اړخونه او جهتونه هم پيدا کړل، لکه اقتصادي، سياسي او همدارنګه ټکنالوژۍ هم پکې مهم رول ولوبولو،نو په دې فکر کې شول چې بايد له نورو اړخونو اوجهتونودې لارې هم بايد دښمن ته ضربه ورسېږي.

يعني په دې سوچ او فکر کې شول چې يو هېواد ته شکست ورکوې نو د نظامي اړخ سره په څنګ کې نور اړخونه هم شته چې دښمن ته له نورو لارو او نورو اړخونو څخه هم شکست ورکولای شې، چې هغه اړخونه د اقتصادي، سياسي، فکري او تکنالوژۍ څخه عبارت دي، نو په همدې اساس په ستراتېژۍ کې ډېر وسعت او پراخوالی راغی. اوس يې نو څکه زه او ته داسې تعريفووو:

**دستراتېژۍ تعريف:** ټول هغه عوامل چې په جګړه باندې مثبت اثر کوي او باعث د دې کيږي چې دښمن باندې کامیابه شو، د دغه ټولو عواملو ربط ورکولو او همغږي کولو ته ستراتيژي وايي.

په بل تعبير ټول هغه اړخونه که هغه اقتصادي، سياسي، نظامي او که د ټکنالوژۍ اړخونه دي، دغه ټول عوامل د جنګ د دې باعث کيږي چې مونږ په دښمن باندې کامياب شو، دغه هر يو اړخ ته چې ربط ورکوې همغه له ستراتېژۍ څخه عبارت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ ستراتیژي په جګړه کې د کامیابۍ د یو رکن په حیث نه، بلکې دا په نظام کې د کامیابۍ د یو عنصر په حیث حسابوو ترڅو د نظام په دفاع کې کامیابه شو،د ستراتېژۍ ربط د سیاست سره همدغه برخه کې دی چې نن سبا ستراتیژي صرف د جنګ د ګټلو لپاره نه، بلکې د **نظام** د ګټلو، ساتلو او تطبیق لپاره مطرح کیږي.

په سیاست کې یوه معقوله ده چې جنګ به صرف نظامي ماهرینو ته نه پرېږدي، ځکه جنګ صرف نظامي ابعاد نه لري، صرف په نظامي اړخ کې دښمن ته شکست نه شئ ورکولای، دا جنګ چې څوک رهبري کوي، دا د نظامي پوهې سره په څنګ کې باید سیاسي پوهه هم ولري، ترڅو د جنګ د ګټلو ټول طرفونه وڅېړي او معلوم کړي.

یعنې دعوتي، اعلامي، فکري، اقتصادي او نظامي جګړې ته سره ربط ورکړي، چې دا هر څه ستراتیژي کې تشریح او واضح کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## تکتيک څه ته وايي؟

تاسو به دا کلمه ډېره اورېدلې وي چې وايي دا يو تکتيک و چې موږ استعمال کړ، يا تکتيکي شاتګ مو وکړ.

**مجاهدينو ورونو!** د جګړې په ميدان کې د اسبابو او افرادو د استعمال **ډول(طرز، شيوه)** ته تکتيک وايي.

يعنې په داسې چل او طريقه ته دا افراد او اسباب استعمال کړې چې خپل تعيين شوی هدف په ښه طريقه لاس ته راوړې.

په دې تعريف کې ښو خبرې په ذهن کې کېنوئ ، که ته غواړې وروره چې په نظامدارۍ کې د تکتيک ښخه کار واخلې نو په همدې تعريف کې تا ته د حل لاره تشريح شوې يعنې ته بايد د افرادو او اسبابو د استعمال په **طريقه** باندې ځان پوه کړې.

په جګړه کې تکتيک يوه مهم او اړين مهارت دی، ډېرو ملګرو سره به افراد هم وي او اسباب به هم موجود وي، خو په تکتيک باندې به پوهه نه لري، نتيجه يې بيا د ځان له خرابۍ پرته بل څه نه وي، که د تکتيک مهارت ونه لرئ نو هم به خپل وسايل او اسباب ضايع کړئ هم به مو افراد ضايع شي، هم به درسره سيمه له لاسه ورکړئ او هم به کومه لاس ته راوړنه ونه لرئ.

اوس د اسلام په سياسي نظام کې تاته دا اصطلاح تشريح شوه، نو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


باید له نن څخه وروسته داسې مشروع تکتیکونه استعمال کړې چې دښمن درته حیران شي، ته سوچ وکړه چې افراد او هم اسباب لرم، څنګه او په کومه طریقه زه کولای شم، یعنې کومه کامیابه طریقه زه استعمال کړم چې دښمن ته ضربه او نظام ته فایده ورسوم، همداسې هم ځان او هم افراد محفوظ کړم، اسباب هم پر ځای استعمال شي نو بیا ته یو کامیابه سیاستمداره او په تکتیک پوه انسان یې.

د ستراتېژۍ او تکتیک توپیر دادی چې ستراتیژي مونږ مخکې هم وویل چې طویل المدت یا اوږد مهال لپاره مطرح کیږي او تکتیک د لنډ مهال لپاره وي، په ستراتېژۍ کې لوی لوی مفاهیم مطرح کیږي او تکتیک مؤقتي وي او د یو لنډ او خاص هدف لپاره جوړېږي.

مجاهده وروره یو خبره یاد ساته چې په یو تکتیک به تکیه نه کوې، چې همدا یو تکتیک استعمالوې که افشا شي بیا هم ترې کار اخلې، که ملګري شهیدان کیږي هم په تکراري ډول همدا یو تکتیک نه استفاده کوې، نه وروره! تاسې باید وخت په وخت تکتیکونو ته بدلون ورکړې، هر ځل عملیاتو کې له مختلفو تکتیکونو څخه کار واخلئ، تکتیک موقتي دی، د ستراتېژۍ په شان نه دی چې کلونه او میاشتې ونیسي، ځکه په یو کار کې ستا یو تکتیک افشا کیږي، نو بیا ته باید د بل کار لپاره تکتیک ته تغییر ورکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د يوې عمومي ستراتېژۍ د لاس ته راوړلو لپاره موږ کولای شو د مختلفو تکتيکونو څخه کار واخلو، يو قاعده ځان سره نوټ کړئ چې ستا ټوله جګړه به په يوه تکتيک باندې سپره نه وي، ستاسې جګړه بايد ستراتيژي مخ ته يوسي او تکتيک ته وخت په وخت تغيير ورکړل شي.

د يو هدف ترلاسه کولو لپاره کولای شو تکتيک ته تغيير ورکړو اما ستراتېژۍ ته تغيير نشو ورکولای، که چېرته مو ستراتيژي تغيير کړه بيا هدف لاس ته نه راځي، کله کله يو تکتيک ناکام شي نو ته به نه نا هيلې کېږې، بيا به کېنې فکر سوچ او هڅه به کوې ترڅو الله ﷻ ستا په ذهن کې يو بل تکتيک درواچوي، ځکه الله ﷻ فرمايي: ﴿وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ﴾

**ژباړه : کوم کسان چې زموږ په خاطر مجاهده وکړي، هغوی ته به موږ خپلې لارې وروښايو او په باوري ډول الله د نيکو کارانو ملګرې دی.**

د دې آيت تعبير همدغه دی چې مجاهده ته ځان کې د اسبابو او افرادو د استعمال استعداد او مهارت پيدا کړه، هېڅکله به تاته د جنګ لارې نه بندېږي چې ته هڅه وکړې، الله ﷻ تاته لارې خلاصوي که يوه لاره بنده شوه بل طرف هڅه او فکر وکړه الله ﷻ بله لاره درته

(c) ketabton.com: The Digital Library


خلاصوي او ستا مدد کوي چې ته د الله د دین نصرت کوې نو الله ﷻ خامخا ستا مدد کوي، لارې درته خلاصوي او ستاسې لاره هېڅکله نه بندېږي په شرط د دې چې تاسې د نویو لارو د پیدا کولو هڅه وکړئ. که چېرته د مجاهدینو ټوله جګړه په یو تکتیک ولاړه وي، بیا ښه پرمختګ نشي کولای، ځکه که چېرته مونږ په یو تکتیک پانګونه وکړو او بیا دغه تکتیک افشا شو، نو سرمایه ټوله په سیند لاهو شوه، پانګونه (سرمایه ګذاري) باید د ستراتېژۍ په تطبیق باندې وشي او تکتیک د دغې ستراتېژۍ یو جُزء وي او که چېرته افشا هم شي نو پانګونه خو هسې هم په دې ټوله نه ده شوې، که تکتیک مو بدل کړ بس بیا به د ترقۍ په لور ځئ.

**مثلاً** په یو ولایت کې ته کار کوې، نو په یو تکتیک به ته ټوله سرمایه ګذاري نه کوې، ځکه امکان د دې شته چې تکتیک دې افشا شي، ملګري دې هم شهیدان او هرڅه ختم شي، که ته غواړې چې د جهاد بنیاد په یو ولایت کې کېږدې په ستراتېژۍ باندې روان شه، بیا په دې ستراتېژۍ کې د ډېرو تکتیکونو څخه کار واخله او که چېرته یو تکتیک افشا شي، بل تکتیک باندې سوچ وکړه، ورخطا کېږې به نه، ځکه چې تاسره ستراتیژي پرته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د تکتیک او ستراتېژۍ توپیر به په یو مثال کې داسې واضح کړو چې که چېرته غواړو د یو غره سرته ځان ورسوو، د دغه غره سر ته ختل دا ستراتیژي ده او دغه هر قدم چې ږدو دې ته تکتیک وایي، په لاره کې دښمن مختلف ماینونه فرش کړي که یو شانته قدمونه کېږدو بیا د ماینونو ښکار ګرځو، نو په همدې اساس هر قدم به په یو تخنیک باندې مخکې ږدو، یو قدم به په تېږه ږدو، یو قدم به په خامه لاره ږدو، په شکمنو ساحو به قدم نه ږدو، په داسې تکتیک مخ ته ځو چې خپل هدف ته ورسېږو، همدغه شانته د اسلام د سیاسي نظام په چوکاټ کې چې کوم تکتیکونه استعمالوو دا قدمونه دي او اصل ستراتیژي زما او ستا د غره سر ته ځان رسول دی، نو کله چې ورسېدو بیا هدف چې د اسلامي نظام قیام دی لاسته راځي یعنې په تکتیکونو باندې استراتیژي لاسته راوړو او استراتیژي زموږ مقصود اهداف راته حاصلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## سیاسي تحلیل

نن په اسلامي امت کې د بې کفایتۍ او بې تدبیرۍ نښې په هر ځای او په هر څه کې لیدل کیږي، اکثره شیان د معنوي ویجاړۍ په لورې درومي، نو ځکه له هر دردېدلي مسلمان ورور او خور سره دا پوښتنه شته چې حالات په کومه خوا روان دي او څه باید وشي؟
دا او دې ته ورته پوښتنې یوازې د دقیق سیاسي تحلیل له لارې ځواب کېدای شي.

دا اصطلاح به ډېره تاسې اوریدلې وي چې ویل کیږي د سیاسي وضیعت تحلیل په کار دی، د حالاتو تحلیل په کار دی، د وضعیت تحلیل ضرور دی، فلانی د سیاسي چارو تحلیلګر دی او داسې نور.

**راځئ!** په دې ځان پوه کړو چې د دې اصطلاح تر شا د دښمن کوم اهداف پټ دي، کوم مفاهیم دي چې دښمن یې زموږ په خلاف کاروي او د همدې اصطلاحاتو لاندې یې کوم جال مونږ ته غوړولی، په دې ویوهېږو او په دې هم خبر شو چې دښمن څه څه شیان له مونږ پټوي.

**ورونو!** د اسلام سیاسي نظام ته چې کوم زیان او ضرر رسیدلی نو اکثره د همدې اصطلاحاتو او عناوینو لاندې رسیدلی دی چې هغه عبارت د سیاسي تحلیل، د وضعیت ارزونه او ورته نورو جملو او

(c) ketabton.com: The Digital Library


اصطلاحاتو څخه دی.

او دا ځکه چې زموږ عام مسلمانان ورونه د سیاسي او د وضعیت له تحلیل څخه لرې پاتې شوي او اکثره دې اصطلاحاتو سره بیخي نا آشنا دي.

دېره ضربه چې د اسلام حقیقي نظام خوړلې او د اسلام په نامه نور منحرف او بدنام نظامونه په مسلمانانو تحمیل شوي، نو وجه یې دا ده چې د سیاسي تحلیل او د وضعیت د تحلیل په برخه کې مسلمانان ځان نه پوهوي، په دې برخه کې کار نه کوي، نو طبیعي ده چې د اسلام حقیقي سیاسي نظام ته به ضربه رسېږي او نتیجه یې همدا ده چې د اسلام د حقیقي سیاسي نظام په نوم به دیموکراتیک او جمهوري طاغوتي نظامونه حاکمیږي او څوک به پرې د انتقاد جرأت هم نه لري، ځکه په ټولنه کې چې کوم مسلمانان دي له دوی څخه په مختلفو بهانو او پلمو د سیاسي حالاتو او د وضعیت د تحلیل قدرت اخیستل شوی،نو په همدې اساس د دښمن له طرفه د وضعیت هر تحلیل یا هره شبهه چې ورته واچول شي هغه په پټو سترګو مني او همغې پسې منډې وهي.

مونږ او تاسې په ستراتېژۍ تفصیلي خبره وکړه چې په کفري نظامونو کې د ستراتېژۍ د مطرح کېدو حق هغه چاته حاصل دی

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې ورته ويل شوي وي چې بس ته اوس د جنرالۍ سرحد ته رسېدلی يې او يوازې ته اوس دا کار کولای شې.

هر چاته په دې برخه کې اجازه نه ورکوي او دا علم يې ځانته خاص کړی، ځکه نو د جګړې مختلف عوامل سنجوي، يو بل سره يې ربط ورکوي او له همدې څخه د مسلمانانو مقابله کې کار اخلي، دا اصطلاح هم په همدې هدف د اسلام د سياسي نظام دښمنانو ډېرو خاصو خلکو ته ځانګړې کړې او دا ذهنيت يې عام کړی چې د وضعيت تحليل او سياسي تحليل د هر چا کار نه دی، دا به داسې کس کوي چې غټ سر يې وي، په سر ګنجی وي او غټې عينکې يې اچولې وي، نو دا به ډېر پوهه شخص وي او همداسې خلک په دې مسائلو پوهېږي، دوی ډېر عمر تجربه لري، د سياسي چارو کارپوهان همداسې خلک دي او دا د هر چا کار نه دی.

نه مجاهده وروره داسې نه ده، سياسي تحليل او د وضعيت تحليل ډېر ساده او آسانه کار دی، موږ او تاسې به په دې برخه کې دومره پوهه حاصلوو چې د سياسي چارو تحليل به په داسې طريقه کړو چې خلکو ته دا يوه معما او بلا نه بلکې ډېر عادي او آسانه کار ورته ښکاره شي، او زموږ يو ادنیٰ مجاهد هم په دې پوهه شي چې نن سبا سياسي وضعيت څه ډول دی او دا وړتيا ولري چې د هر ډول حالاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library


تحليل او څېړنه وکولای شي.

موږ چې کوم اصطلاحات کاروو دا باید ډېر عام کړو، دومره یې عادي کړو چې زمونږ عادي فرد هم پرې پوه شي، مخکې مو ویلې و چې سیکولریزم د اسلام مقابلې او مبارزې ته ولاړ دی.

نورو ادیانو ته سیکولریزم شکست ورکړی، یوازې د اسلام سپېڅلی دین او حقیقي لارویان یې مقابلې ته په هر ډګر کې ولاړ دي او ورسره جنګیږي. تاسې به له سیکولرانو تکراراً اورېدلي وي، چې دین او سیاست سره باید جلا وي، اسلام یو فردي دین دی، هر څوک چې پرې عمل کوي خپل کار یې دی، په نظام کې د اسلام دخالت ته څه ضرورت دی چې همدا د سیکولریزم عمده فکر او تګلاره ده.

زه او ته چې معلومات ونه لرو، د اسلام سیاسي نظام ونه پېژنو، د سیاسي تحلیل ځواک او قوت ونه لرو، بس چې سیکولریزم څه وایي د دې نورو په څېر به یې موږ هم ورسره لکه د ړندو چرګانو منو؟

ټوله خبره همدلته ده.

مسلمانانو ته چې تل ماتې او شکست رسېدلی نو وجه یې همدا ده چې نه خپله د اسلام حقیقي سیاسي نظام پېژني او نه یې د دوی مشران، بس چې سیکولریزم ورته کومه شبهه واچوله، دوی یې په پټو سترګو ورسره مني، که سیکولریزم ورته وایي چې اسلام هېڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library


سیاسي نظام نه لري او که لري يې هغه څوارلس سوه کاله مخکنی نظام دی، اوس خو ماډرن زمانه ده هغه د تطبيق وړ نه دی، همدا ديموکراسي هم اسلامي نظام دی کنه وګوره ټولو مسلمانانو ته په فردي توګه دعباداتو آزادي ده،دا مساجد، مدارس،په جماعت لمونځونه او روژې نه وينئ؟

دا هر څه په ډیموکراسۍ کې آزاد دي، نو چې اسلام د فردي عباداتو دین دی تطبیقوه یې، د چا درسره کار نشته نور نو د نظامدارۍ په برخه کې سیکولریزم د دې عصر مناسب نظامونه وړاندې کوي.

چې مونږ په دغه وخت کې د همدې موضوع سیاسي تحلیل ونشو کړای، نو بیا مجبور یې چې د سیکولرانو ومنې، مجبور یې د دښمن د شبهاتو په لړ کې به د اسلام د سیاسي نظام په نوم نور باطل نظامونه ومنې.

په هره ټولنه کې چې مجاهدین د سیاسي تحلیل ځواک ونه لري، د خپلې مبارزې هدف ونه پیژني او بصیرت یې ضعیفه وي نو هلته به سیکولریزم خامخا حاکم وي او پادشاهی به کوي.

په همدې مسلمانانو د اسلام د سیاسي نظام اساسات راڼکوي او په مختلفو بڼو پرې سیکولریزم د اسلام په توګه مني، اوس تاسې ګورئ چې څوک د سیکولریزم د همدې حربې ښکار دي، هغوی داسې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library


وايي چې موږ کافر يا مرتد يو، بلکې هغوی ته ځان له هر چا زيات مسلمان ښکاري، د اسلام د سياسي نظام په مقابله کې به ولاړ وي خو ځان به هم مسلمان ګڼي، د خلافت په مقابل کې چې اوس ولاړ دي ځيني يې ځانته بې دينه نه وايي خو همدوی دي چې سياسي بصيرت نه لري،د سيکولريزم او د اسلام د سياسي حقيقي نظام توپير کولای نشي.

د سيکولريزم هڅه هم همدا ده چې له همدې اصطلاحاتو څخه د خلکو په زړه کې يوه ويره او ډار واچوي د همدې په طلسم کې خلک وساتي چې په سياست پوهېدل د هر چا کار نه دی، سياست پوهنه او نظام داري خو فقط د يو څو غرب پلوه خلکو زده ده، څوک چې غرب کې روزل شوي، هلته يې زده کړې کړي، هغوی په سياست او نظام پوهېږي، بل څوک د دې وړتيا نه لري چې په دې کېسو يې سر خلاص شي.

مطلب بل څوک بايد دا جرأت ونه لري چې راوړاندې شي ووايي زه يو مسلمان او د اسلام د سياسي نظام تحليلګر يم، راځئ ما سره بحث وکړئ چې د سيکولريزم او اسلام مقارنه درته وکړم.

**ورونو!** دا موضوعات ښه تحليل کړئ، خلک په حقايقو پوهه کړئ، د يو نظام په حيث د اسلام په ټولو اړخونو آګاه واوسئ او نړۍ ته دا

(c) ketabton.com: The Digital Library


وروښاياست چې د اسلام په مقابل کې د سيکولريزم په شمول يو نظام هم نه د پرتلې وړ دی، نه يې هم مقابله کولای شي، نه هم د بشريت په خير دی، نه پکې عدل، امن، راحت او سکون شته دی.

هر مسلمان چې دا وړتيا پيدا کړه چې په دې هر څه پوهه شي نو دا خو بيا ښکاره ده چې سيکولريزم د ماتې سره مخ کيږي او بيا خو څوک لېوني نه دي چې د اسلام د سياسي نظام مقابلې ته ودريږي.

## ورونو!

د اسلام هغه قوي او مظبوط سياسي نظامونه هغه وخت کمزوري او ونړېدل کله چې په رعيت او عامو خلکو کې د اسلام د سياسي نظام پوهه او درک ختم شو، بيا نو سيکولريزم ته ځای خالي او د هغوی شبهاتو ته د ځواب خلک ورک شول، دوست او دښمن سره خلط شول چې په نتيجه کې د اسلام او سيکولريزم توپير هم ورک شو.

بايد زموږ هر ورور د سياسي تحليل قدرت ځان کې پيدا کړي، څکه چې په همدې ځواک او وړتيا سره به تاسو د دښمن حرکات، شبهات او جالونه وپېژنئ او د دې هر څه تحليل به وکولای شئ، سياسي تحليل تاسو سره مرسته کوي تر څو کومې نړۍ کې چې تاسو ژوند کوئ دا په سمه توګه وپېژنئ او د فرصتونو نه په ښه انداز کې ګټه پورته کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


راځئ چې همدا تېر بحث په يوه قاعده کې لنډ راخلاصه کړو.

هغه دا چې هر وخت چې ستا څخه د سياسي تحليل قدرت له منځه ولاړ، په دغه وخت کې ته د دښمن د تحليل اغېز لاندې راځې، خطا کېږې او دوکه به خورې.

کله چې ته د اوضاع په تحليل ونه رسېدې، خپل اړوند علماء او مشران دې هم درته روان وضعيت او سياسي حالات نه تحليل کوي، نو نتيجه يې همدا ده چې مجبور يې په دې برخه کې د دښمن تحليل ته ورستون شې او څه چې هغه وايي همغه ومنې.

کله چې په خلکو کې دا درک ورک شو نو هغه دی د اسلام په نوم يې شل کاله همدا جمهوريت ومانه،فقط ليکل کېدل به اسلامي جمهوريت تش د اسلامي نوم سره په زرګونو علماؤو ديموکراسي او جمهوريت اسلام ګاڼه او همدغسې چې مقابل کې جنګېدونکو طالبانو سره هم د اسلام د سياسي نظام پوهه او د تحليل وړتيا نه وه، نو هغه دې امريکا په يو وړوکي سوري ووتله او په ډېر ناز او نخرو بېرته په لويه دروازه راغله.

همغه جمهوريت، سيکولريزم، وطنيت، طاغوت او وحشت دی، خو اوس د اسلامي امارت په نوم حاکم او ټول کشرخېل يې چې د اسلام سياسي نظام نه پېژني هغه دی دا هر څه يې د شرعي نظام په حيث

(c) ketabton.com: The Digital Library


منلي دي.

ولې دا موجوده ډېری خلک نه پوهېږي چې حاکم امارت د اسلام حقيقي سياسي نظام نه دی، بلکې په دوحه کې په نوې بڼه ډېزاين شوې ديموکراسي ده؟.

دا ځکه چې خلکو کې د سياسي تحليل ځواک، وړتيا او پوهه نشته، دښمن چې ورته کوم تحليل وړاندې کوي دوی يې ورپسې زمزمه کوي دا زموږ د ټولنې امراض دي او تش په نوم مسلمانانو کې بيا دې ناروغۍ پريمانه ريښې زغلولې دي.

تاسې ګورئ چې ډېر پوهيالي، پروفيسوران، دانشمندان، متخصصين او د نورو لوړو نومونو او لقبونو والا اکثرو ته چې کومه کونجاړه دښمن ورواچوي، په همغې شخوند وهي، خپله په کې د وضعيت د تحليل قوت او سياسي بصيرت نشته بس د دښمن ړوند تقليد دی او دوی پرې بوخت دي او هماغه د دښمن د تحليل تفسير بيا کوي او له ځانه يې د سيکولريزم مبصيرين او مفسيرين جوړ کړې وي.

او دا ځکه داسې دي چې دوی سره دا فکر او انګېزه نشته چې زه بايد په آزاد شکل د وضعيت او د سياسي تحليل وړتيا ولرم.

ځکه د قاعدې دوه رکنه دي، يو رکن يې دادی چې کله ته خپله د سياسي تحليل قدرت ونه لرې نو دا طبيعي ده چې په دې برخه کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library


دښمن په باطل تحليل باندې غولېږي، تاسې په دې قاعده ښه سوچ وکړئ نو ډېر مسائل به حل ومومئ.

کله چې ته په دې پوه يې چې خپله د سياسي تحليل وړتيا لرې، نو که دښمن درته په دې برخه کې هره شبهه او تحليل وړاندې کړي نو تاسره په دې برخه کې علم او معلومات شته، د دښمن زهر په تا نه چلېږي ته هغه ردوې او ځوابوې يې.

ولې مو دا قاعده تشريح کړه، ځکه چې نن سبا که دنيا کې يو کس تا د خپل لاس لاندې راولي، له تا خپل رعيت جوړوي ،تا د خپل فکر او نظر غلام ګرځوي ترڅو په تا حکومت وکړي نو هغه نه راځي چې درته ووايي:

**اې فلاني ملته!**

**اې فلاني قومه!**

**يا اې افغانانو!**

مونږ په تاسې حکومت چلوو، په تاسې خپل نظام منو، په تاسې ظلم کوو، تاسې ته په دروغو باطل نظامونه د اسلام په نامه معرفي کوو، دا خبرې خو درته نه کوي.

بلکې راځي تاته د سياسي اوضاع غلط تحليل وړاندې کوي، د اسلام سياسي نظام درته بل ډول تعبيروي او په لکونو او ميليونونو خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library


وربانديې خطا کوي، دا دی ګورئ چې طالب په خوله د شريعت او اسلامي نظام کيسې کولې خو هغه دی د امريکايانو،مشرکو روافضو، روسانو، چينايانو، هندوانو،مرتدينو او نورو کفارو په دفاع کې نن خپلې نا پاکه وينې تويوي، حال دا چې نه يې نظام شرعي دی او نه هم ترې دا طمع شته چې دوی به دا وړتيا ولري چې د اسلام حقيقي سياسي نظام وپېژني او بيا يې تطبيق کړي.

ځکه دوی خپله د سياسي وضعيت د تحليل ځواک او وړتيا نه لري د اسلام د سياسي نظام په اړه پوهاوی نه لري، څه چې ورته بين الملل وايي، کوم تحليل چې امريکا او نورو کفار ورته کړی چې نړۍ د يو کور حيثيت لري او له کفارو سره له دوستۍ او يو بل سره د راکړې ورکړې او د شريکو ګټو پاللو او يو د بل په رسميت پېژندلو څخه پرته ژوند نه تېرېږي او په همدې اړه ورته چې څنګه کفارو سياسي وضعيت تحليل کړی دوی يې هم د ړندو چرګانو په څېر تقليد کوي، دانه ګوري او دام نه ويني.

خو مونږ دا خبره ځکه کوو چې بايد د سياسي تحليل قوت ولرو او د دوی په څېر د دښمن په تحليل خطا نشو، زما او ستا د مبارزې اساس او هدف همدغه دی ځکه چې کلونه کلونه دې کفارو ټول خلک خطا ويستلي دي، تاسې وليدل چې د روسانو په وړانديې د مقاومت پر مهال

(c) ketabton.com: The Digital Library


د یو نیم میلیون کسانو وینې توی شوې خو د اسلام د سیاسي حاکمیت څښتنان نشول، ځکه دوی خپله دا پوهه او سیاسي بصیرت نه درلود او نه یې په سیاسي اوضاع د تحلیل ځواک درلود، څه چې ورته اسلام برباد (اسلام آباد) او نورو کفارو ویل، همغه ورته اسلام ښکارېده، دا دی د امریکا په اشغال کې هم د لکونو خلکو وینې توی شوې خو د اسلام د حقیقي سیاسي نظام څښتنان نشول، مخکې مو وویل چې امریکا له کړکۍ ووته او بېرته په دروازه راننوته، ځنګه چې هغوی کوم هؤل سیاسي وضعیت تحلیلوي مجبور دي چې ټول یې ورسره ومني ځکه خپله په کې دا وړتیا او ځواک نشته.

## ورونو!

کله چې په دې حالاتو او اصطلاحاتو بحث کوو نو د سړي دماغ وچ شي چې د عامو مسلمانانو به کله په دې مسائلو سر خلاصېږي، نو مجاهده وروره په سیاسي برخه کې باید مونږ او تاسې د مسلمانانو سر خلاص، دماغ یې ورپاخه او د دښمن د سیاسي تقلید نه یې فکرونه آزاد کړو، دا مبارزه ډېر کار غواړي دا زمونږ او ستاسې مسؤلیت دی چې باید خلک وپوهوو.

نو لازمه ده چې اول خپله علم حاصل کړو، په دې برخه کې مطالعه او تحقیق وکړو، سیاسي اوضاع تحلیل کړو، په دې برخه کې تجربې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترلاسه کړو، جرأت وکړو د کفارو طلسم مات کړو، موږ په هېڅ برخه کې له هېچا کم نه یو، دا د کمترۍ احساس نور ختم کړئ او باید دا د کفارو اصطلاحات او تحمیل شوي شعارونه نور د هغوی پرمخ ور وولو او که داسې ونکړئ نو دښمن به مو سر کې مېخ ټک وهي خو تاسې به فکر کوئ چې سر کې راته ګلونه ږدي او یا به داسې فکر درکوي چې بس دردونه برداشت کړه او په هر ټک تاته اجر ملاوېږي، هم به تاسې خطا کوي او هم نور اسلامي امت همداسې د خپل سیاسي تحلیل په جال کې ګیر ساتي.

**وروره!** تاسې باید د تحلیل ځواک ضرور ځان کې پیدا او دا جرأت ولرئ چې تحلیل وکړئ، دا ستاسې کورنۍ وظیفه شوه چې سیاسي موضوعات په ډاګه کړئ او تحلیل یې کړئ.

بیا یې هم درته په ټینګار وایو چې د دښمن لویه حربه همدا ده چې د اسلامي امت ځوانان له سیاسته لرې وساتي.

یو ځوان چې دغسې د اسلام سیاسي حقیقي نظام ونه پېژني، سیاسي وضعیت په سم شکل تحلیل ونشي کړای، نو دغسې به یې یا کفار مستقیم استعمالوي او یا به یې انرژي، قوت، وخت او استعداد د کفارو له لورې د ایجاد شویو تنظیمونو په چوکاټ کې په مصرف رسیږي او فکر به هم همدا کوي چې اسلام ته خدمت کوم، همغه مثال

(c) ketabton.com: The Digital Library


دی چې کفار به یې په سر کې میخ ټکوي خو دا به یې درد برداشت کوي په دې خاطر چې په دې ورته اجرونه رسیږي.

**مجاهدینو ورونو!** تاسې به ډېر مشهور علماء د دوی په اصطلاح سیاست پوهان او دانشمندان کتلي وي چې په آزاد شکل د سیاسي وضعیت د تحلېل قدرت نلري، نو دښمن یې په یو وړوکي حرکت ځانته جلبوي او ترېنه کار اخلي، تاسې ګورئ ډېر داسې خلک د سیکولریزم لوډسپیکري ګرځېدلي چې خپله د سیاسي وضعیت په تحلیل نه پوهېږي او د دښمن د تحلیل په طلسم کې بند دي.

نو موږ ته په همدې برخه کې ډېره درنه او پخه مبارزه راتر غاړې ده، موږ باید هر څوک په دې پوهه کړو چې باید خپله د سیاسي وضعیت د تحلیل قدرت پیدا کړي، د کفارو له طلسم څخه راووځي او نور د کفارو د ګټو لپاره قرباني ورنه کړي.

او حقیقت باندې یې وپوهوو که چېرته تاسې د سیاسي وضعیت د تحلیل قدرت ولرئ نو د دښمن په ډېر وړوکي حرکت هم پوهېږئ، هر مکر او دجل یې تشخیصولی شئ، دغه د سیاسي وضعیت د تحلیل وړتیا تاسو کې دا ځیرکتیا او هوښیاري پیدا کوي چې د دښمن په هر مکر او دوکه به بیا په ډېره آسانۍ وپوهېږئ.

د دښمن پېژندنې په تړاو موږ په راتلونکي کې ځانګړې بحثونه لرو

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو اوس همدا خبره په ټینګار سره ځکه تکراري یادوو چې که یو مجاهد دغه وړتیا او بصیرت پیدا کړ نو بیا دښمن په هره برخه کې ډېر ښه پیژني، هغه وسایل او ابزار چې دښمن یې زمونږ په مقابل کې په ډېر هنر او مکر استعمالوي ولو که په ډېر پټ او خفیه شکل هم وي ته به دا استعداد ولرې چې هغه معلوم کړې، مخکې مو وویل که هر ملت دا وړتیا له لاسه ورکړه نو هغه ملت مات او شکست خوړلی وبوله.

**ورونو!** ستراتېژۍ کې مو دا خبره کړې وه چې باید دریمه سترګه په کار واچوو، یعنې د مستقبل د لېدو لپاره باید مونږ بله سترګه ولرو او دا سترګه همدا د سیاسي تحلیل ځواک او وړتیا ده.

غواړو دا مسئله نوره هم تشریح او ساده کړو، نو په دې به خبره وکړو چې خپله تحلیل څه ته وایي؟ که مونږ د تحلیل په معنٰي پوهه شو نو په هر څه پوهېږو، زمونږ دا ټول بحث د همدې لپاره دی چې همدا د تحلیل قوت پیدا کړو.

لومړی به په دې خبره وکړو چې څه په کار ده چې دا تحلیل کوو، ولې یې کوو، څه ضرورت ورته لرو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ولې د اسلام په سیاسي نظام کې د وضعیت تحلیل مطرح کوو؟

**ځواب:** ځکه چې کومو حالاتو کې واقع یو غواړو چې له دې حالاتو ووځو او هغه مطلوب هدف ترلاسه کړو، د کوم لپاره چې مونږ مبارزه شروع کړې ده، مطلب باید ترقي وکړو او یو مطلوب وضعیت ته ورسیږو، نو ځکه موږ د وضعیت تحلیل ته اړتیا لرو.

یعنې د دې لپاره یې کوو چې زه په څه ډول حرکت، کوم عمل او څه وکړم چې زه خپل مطلوب هدف ته په آسانۍ سره ورسیږم نو په کار ده چې موږ د سیاسي وضعیت تحلیل وکړو.

اوس که څوک درته ووایي چې ولې د سیاسي وضعیت تحلیل اړین دی؟ نو ستاسې ځواب به دا وي چې کفار له همدې لارې مونږ ته شکست راکوي که چیرته مونږ دا وړتیا ونه لرو مجبور د کفارو خبرو ته غوږ ونیسو او د هغوی تحلیل ومنو.

په بل تعبیر د اسلام په سیاسي نظام کې موږ ددی لپاره د وضعیت تحلیل ته اړ کیږو او دا کار ضرور ګڼو چې په کوم طرزالعمل زه له فعلي وضعیت څخه وتلی او د پرمختګ او پراخۍ په لور لار لېدولی شم نو ضرور ده چې د سیاسي وضعیت د تحلیل قوت ولرم.

یعنې کوم عوامل دي چې مستقیم او غیر مستقیم زمونږ په حالاتو اغیز لري، مونږ نه پریږدي چې له دې فعلي حالاتو خپل مطلوب هدف

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته ورسېږو نو دا عوامل د سیاسي وضعیت په تحلیل کې معلومولی او درک کولای شو.

په مثال کې به یې تشریح کړو چې ښه پوهه شئ: د وضعیت او سیاسي تحلیل مثال داسې دی لکه یو کس ناروغ وي ډاکتر ته ځي هلته د ناروغۍ اړوند معاینات کوي، هغه معاینات او څېړنه او تحلیل ډاکتر ګوري او د همغې مطابق ورته نسخه ورکوي په دې خاطر ناروغ دا کار کوي چې له فعلي ناروغۍ نوموړی هغه مطلوب هدف چې صحتمندي ده، هغې ته ورسېږي.

نو لنډه دا چې د اسلام په سیاسي نظام کې دغه سیاسي تحلیل او د وضعیت تحلیل داسې مثال لري لکه معاینات، د همدغه تحلیل له لارې ته د خپلې ناروغۍ، مِکروبونه او جراثیم تشخیصولی شې، یعنې هغه موانع او خنډونه ته معلومولی شې چې تا د فعلي حالاتو څخه وتلو ته نه پرېږدي.

کوم خلک چې پرته له معایناتو دوایي اخلي نو الا ماشاءالله که یو نیم ته یې الله عزوجل شفا ورکړي، خو په ډېری خلکو برعکس اغېز کوي، په ځای د دې چې ناروغي یې ښه شي لا ډېریږي.

د لویو او قوي امراضو اول تشخیص په کار وي، یعنې یو کس دی چې لاس او پښې یې فلج دي، بدن یې کار او فعالیت نکوي په خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library


پښو نشي درېدلی که هر څومره ماهر ډاکټر ته لاړ شي اول ورته معاینات لیکي، نو که غواړې نظام له دې موجوده ناروغۍ راوباسې او تداوي يې وکړې لازمه ده چې لومړی د دې مرض تشخيص يعنې معاينات وکړې نو همداسې په يوه ټولنه کې سياسي تحليل وګڼه.

ته غواړې دغه فعلي حالات دې بدلون ومومي نو مهمترينه نقطه داده چې ته د دې بدلون په **علت** باندې پوه شې، يعنې علت او ضرورت څه دی چې غواړو له فعلي حالته ووځو؟

کله چې علتونه معلوم، تعيين او ښکاره شول نو بيا د حل لارې لپاره لاملونه هم مشخص کولای شو.

په بل تعبير باندې هغه دا چې ته غواړې له دې حالاتو نور مطلوب حالاتو ته ووځې،نو لومړی بايد علت او ضرورت درک کړې بيا د تېرو تجربو او تاريخي واقعاتو په سيوري کې وضعيت تحليلوې او په پايله کې د حالاتو د بدلون لپاره ډېر ښه ستراتيژي وړاندې کوې، يعنې د سياسي وضعيت تحليل هم د ستراتېژۍ او د اسلام د سياسي نظام يو جزء دی.

### ته غواړې په دې حالاتو کې بدلون راولې، پيل د بدلون به څه وي؟

د دغه بدلون د ضرورت علتونه معلومول دي، کله چې ته په دې پوه شوې چې دا تغيير ولې ضرور دی؟ بيا يې درته د تحليل اهميت

(c) ketabton.com: The Digital Library


معلومېږي.

مثال له تا پوښتنه وشي چې د دې فعلي حالاتو څخه مطلوب حال ته د رسېدو ضرورت څه دی؟ څه علت دی چې له دې حالاتو څخه هغې حالاتو ته لاړ شې؟ همدې خبرې جواب ته تحليل وايي.

تاسې هغه مهال سياسي تحليل او د وضعيت تحليل په درسته توګه کولای شئ چې د يوې مسئلې جزيات راوڅېړئ، که غواړې يوه مسئله ډېره ښه تحليل کړې نو وړو برخو ته يې هم فکر وکړه، يوه ادنا برخه يې هم پرته له څېړلو مه پرېږده ځکه چې ته په جزئياتو هم تحليل ونه کړې نو بيا ته يو ښه تحليلګر نه يې.

په يو بل ډول يې درته تعبيروم، ته غواړې له دې موجوده حالاتو څخه مطلوب حال ته ووځې، نو له ټولو وړاندې تاته څه معلومېږي، تاته بايد له ټولو وړاندې تغييرات معلوم شي، يعنې چې په اداره، نظم، ستراتېژۍ کې کوم ډول بدلون راولم چې زه له دې فعلي حالاتو څخه مطلوب حال ته ووځم، همدې ته د وضعيت تحليل وايي.

که غواړې په هر ډګر کې له دې حالاتو څخه مطلوب حال ته ورسېږې، نو ته مجبوره يې چې تغييرات راولې او د همدې تغيراتو سنجش او درک ته تحليل وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تحلیل ضرورت څه دی، ولې تحلیل کوو؟

ځکه تحلیل کوو چې د همدې تحلیل په پایله کې بیا پرېکړه کوو، یعنې سیاسي تحلیل او د وضعیت تحلیل داسې مثال لري لکه یو مظبوط دېوال، نظام او تصمیم ګیرۍ په همدې تکیه کړې ده.

نو اوس به یې په اهمیت پوهه شوي یاست، یعنې د اسلام د سیاسي نظام د پرمختګ او پراخۍ کومه لاره چاره چې ده، هغه همدا د **وضعیت تحلیل دی** او کفارو ته یې اهمیت معلوم دی ځکه یې نو د اکثرو نه دا کېسه پټه کړې او ټول یې په دې قانع کړي چې دا نو د هر چا کار نه دی، د وضعیت او سیاست تحلیل باید خاص خلک وکړي.

زمونږ عامو مسلمانانو کوم چې د مجاهدینو له نظام څخه لرې پاتې دي، هغوی د دښمن په دې خبرو ډېر ښه قناعت کړی، داسې نه ده وروره! د ټول نظام کیلي همدا تحلیل دی.

**عجیبه ده!** دا سیکولران به څه فکر کوي چې په دومره میلیونونو مسلمانانو یې سیکولر نظامونه د اسلام په نوم منلي دي او دوی هم ورته ښه خوشحاله دي چې دوی د اسلامي نظامونو څښتنان دي.

نو سیکولران چې اسلام او سیاست سره بېل ګڼي او مسلمانان یې هم په دې قانع کړل چې د تحلیل خبرې بیخي یادې نکړي، بس دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library


سیاسي کارپوهان دي، غرب کې یې درسونه ویلي دي، نو دوی سیاسي تحلیل کوي، بل چاته حاجت نشته او نه دا د هر چا کار دی، بس همدې شروع کې یې درڅخه د هر څه کونجي واخیسته، د اسلام د سیاسي نظام حاکمیت، تطبیق، پرمختګ هر څه په همدې خبره کې پراته دي، د دې ټولو دروازه همدا د سیاسي وضعیت تحلیل دی او د اسلام د سیاسي نظام په اهدافو او اساساتو بیا پوهه ده، ته چې دا ولرې، نو بیا به دربانديې د سیکولریزم هېڅ زهر ونه چلېږي.

ځکه خو کفار نه غواړي چې مسلمانان په دې موضوعاتو پوهه شي، که پوهه نه یې نو بس بیا د دوی د لاس آله یې.

موږ چې د تحلیل ځواک او وړتیا پیدا، خپل دښمن مو په ډاګه او راڅرګند کړ، د خپل پرمختګ اسباب مو مشخص او د دښمن د ضعف او قوت نقطې مو وپیژندې، نو بیا پوهه شه چې دښمن مو د ماتې سره مخ کړ، د دښمن د قوت نقطې به ته هله پیژنې چې د تحلیل توان ولرې، ځکه د دښمن د قوت نقطه د اسلام سیاسی نظام لپاره تهدید دی، نو دا باید ته په ډاګه کړې، د ضعف نقطه یې هم باید پیدا، تحلیل او یو فرصت یې وګڼې او ترې استفاده وکړې تر څو د تهدید له نقطې یې ځان وساتئ او د ضعف له نقطې یې د فرصت په نوم استفاده وکړئ چې دا هر څه په تحلیل معلومولی شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


که ته غواړې يو ښه سياسي تحليلګر واوسې، نو په کومه برخه کې چې ته مصروف يې، کومه ستراتيژي او پلان چې غواړې ته يې تطبيق کړې، نو هڅه وکړه له دې هر څه وړاندې لرې سوچ، فکر او تحليل وکړې، لرې حالات مطالعه کړې، يعنې هم نېږدې حالات مطالعه کړه او هم لرې، نېږدې مطالعه او سوچ دا دی چې هم د ځان او هم د ملګرو، امکانات او حالات تحليلوې او د لرې مانا داده چې ته د دښمن پلان، قوت، حرکات او ټول اهداف تحليل کړې.

د دې عنوان آخري خبره دا ده که يو مجاهد غواړي چې د سياسي تحليل او د وضعيت د تحليل وړتيا او قدرت ځان کې پيدا کړي نو له دې هر څه مخکې بايد دا څو صفتونه ځان کې پيدا کړي.

**لومړی:** د مجاهد عقيده بايد برابره وي، يعنې کوم تحليل چې کوي د اللهﷻ په نوم يې شروع، هدف او نيت يې يوازې د اللهﷻ رضا او د هغه د نظام د حاکميت راتلل وي، يعنې که څوک د دې تحليل آينده کې ګوري الله تعالی ته يې رجوع پيدا شي، د اسلام سياسي نظام وپېژني او په مقاصدو يې وپوهيږي، د وضعيت تحليل به داسې کوي چې هغه به اسلامي تحليل وي، شرکي تحليل به نه وي او د ټولو مسائلو نسبت به الله تعالی ته وي، پيل، منځ او پای د تحليل ټولو کې به دې الله رب العالمين راياد وي، په نتيجه کي به الله ﷻ تاته د

(c) ketabton.com: The Digital Library


دې توفيق درکړي چې ته په درسته توګه تحليل وکړې.

**دوهم:** مجاهد بايد با تقوا وي، تقوا هېره نه کړي، که تقوا مو هېره کړه نو دا تحليل به مو بيا د نفسي خواهشاتو په بناء وي، د الله ﷻ د رضا او د اسلام د سياسي نظام د بقا لپاره به نه وي.

**درېيم :** تاسې بايد د تحليل ځواک او وړتيا پيدا کړئ او خلکو ته دا خبره عامه کړئ، په دې علم او فن د کفارو طلسم او محدوديت ختم او خلکو ته يو فکر او انګېزه ورکړئ چې هر مسلمان بايد د سياسي تحليل قدرت ولري، ترڅو د کفارو تحليل کې راګير نشي.

ځينې خلک د سياست په اړه داسې فکر کوي چې دا نو د دوی کار نه دی، د دوی د سياست سره څه! بس خپل مونځ اودس کوو، نور سياست کول، د سياسي وضعيت تحليلول د غټو خلکو کار دی! دا ډېره پوهه او تجربه غواړي، موږ د اسلام په سياسي نظام نشو پوهېدلای او نه سيکولر نظامونه پېژندلای شو! دا زموږ له وسه بهر دي، د دې د پېژندلو لپاره بس خپل خلک شته!

يعنې دښمن د اکثرو خلکو تصور داسې جوړ کړی چې بس سياست له دين څخه يوه جلا لار ده، مطلب بې ديني ده او اسلام خو فقط همدا لمونځ اودس دی، سياست سره يې کار نشته او که څوک سياست کې کار ولري هغه ګنهګاريږي، يو ملګري کيسه کوله چې په يو

(c) ketabton.com: The Digital Library


مجلس کې ناست وم، یو کس د تبلیغیانو له مجلس څخه راغلی و، بس شروع یې وکړه چې یاره داسې د اعمالو پابند خلک دي، همدا لمونځونه او اودسونه دي، اذکار او تلاوتونه دي، په همدې بوخت دي ډېر ښه خلک دي، بس سر وکار یې عبادت سره دی، سیاست میاست کې کار نه لري.

یعنې عام ذهنیت د سیاست په اړه دا جوړ دی چې سیاست ټول دروغ، چل دوکه او فرېب دی او په دې پلمه دښمن د سیاست له کلمې خلک یرولي، یعنې دا یې په خلکو منلي چې اسلام د نظام په حیث بیخي مطرح نه کړي او اسلام له سیاسته یو جلا دین وبولي.

نو د سیاست معنٰی او تفسیر دغسې تشهیر شوی چې عام مسلمانان ځان بې غرضه نیسي او دې خبرې ته هېڅ التفات نه کوي او دا حق یې خپله کفارو ته ورکړی چې کفار پوهه شه او سیاست.

خو داسې نه ده! هر مسلمان او هر مجاهد باید سیاستمدار وي، د سیاسي نظامونو په اړه پوهه او د وضعیت د تحلیل قوت ولري، که داسې نه وي بیا خو یې یوه مبارزه هم رنګ نه راوړي.

نو باید چې په دې برخه کې خپل علم او مطالعه زیاته کړئ، ترڅو د اسلام سیاسي نظام ښه تطبیق، په درست شکل ترې دفاع او د دښمن باطل نظامونه سم وپېژنئ، په دلیل، منطق، عقل او نقل یې رد کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځینې خلک په دې فکر وي چې فلاني کس چې پرمختګ کړی دغه او دغه اقدامات یې کړي او په دې طمع وي چې یو ځوک راشي او ورته دا هر څه تحلیل کړي او بیا دا هم د همغه په تقلید پرمختګ وکړي.

نه مجاهده وروره! ته به داسې فکر نه ساتې، دې ته به نه منتظر کېږې چې د فلاني کس د پرمختګ او موفقیت په اړه به تاته یو څوک راځي او درته به وايي بیا به ته د هغې تقلید کوې! نه وروره!

ته د اسلام په سیاسي نظام کې هله موفق سیاستمداره حسابېدای شې چې د هر کار او هرې مسئلې او ستونزې لپاره په خپله د حل څو لارې وسنجوې، دا کوم کارونه چې تاسې پرې فی الحال مصروف یاست، یعنې د اسلام د سیاسي نظام د قیام په لاره کې په مبارزه بوخت یې، نو د همدې نظام د ښه تطبیق لپاره باید ته څو لارې پیدا او اوضاع تحلیل کړې چې ته څنګه دا نظام د تطبیق مرحلې ته رسوې.

همدا د اسلام په سیاسي نظام کې د ستراتیژۍ عمق دی، یعنې هر وخت چې تا دا قوت پیدا کړ چې یوه موضوع تحلیل او ارزیابي کړې او د نظام په کومه برخه کې چې ته په خدمت بوخت یې د همدې د تطبیق لپاره د حل څو لارې راپیدا کړې نو ته کامیابه سیاستمدار یې.

**ورونو:** په مجاهدینو باندې هر ډول حالات او ستونزې راتلونکې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او يا په کې واقع دي، نو د دغه ستونزو څخه د وتلو لپاره بايد تا څو د حل لارې مطرح کړې وي، يوه لار نه بلکې څو لارې وي، که يوه لاره دربانديې وتړل شي يا په وړانديې موانع پيدا شي، نو ته په بله لاره لاړ شې، نو ته بيا دغه وخت موفق سياستمدار يې، ستا همدې ارزونې څخه بيا دښمن مرعوب کيږي، دا هر څه ستا په ځيرکتيا او ښه تحليل دلالت کوي.

مجاهده وروره! راځه يو بل سوال مطرح کړو.

## څنګه ځان کې د سياسي تحليل يو ديد، انګېزه، بصيرت او مفکوره پيدا کړو؟

**اوله خبره دا ده:** که غواړې چې له نن څخه وروسته ته يوه سياسي انګېزه او مفکوره پيدا کړې نو په دې اړه لومړۍ خبره زما او ستا د ذهن اړوند ده، د هر چا په ذهن کې خالي او د ضعف نقاط موجود دي، دغه د ضعف نقاط د دې باعث کيږي چې ذهنونه تخريب کړي.

نو لومړی کار بايد ته دا وکړې چې خپلې د ضعف نقطې تشخيص کړې، هغه نقطې چې ستا ذهن د چينجي په څېر خوري لکه وسوسې، ناهيلتوب ... دا به تشخيصوې او بيا به همدا امراض له ذهن څخه لرې کوې.

دغه ديد او سياسي بصيرت په تمرين پيدا کيږي، داسې کومه آله نشته چې ستا په ذهن کې نصب شي او د داسې يو ذهنيت اصلاح پرې وشي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


بلکه دا تربیوي مرحله ده، موږ باید تجربه او د سیاسي وضیعت تحلیل وکړو، ولې د سیاسي وضعیت تحلیل کوو؟ ځکه چې د همدې تحلیل په پایله کې موږ تصمیم نیسو، بیا اقدام کوو نو په ذهن کې د تخریب نقاط تشخیصول او بیا له ذهن څخه لرې کول په کار دي.

**دویمه خبره دا ده:** که غواړې چې ته یو سیاسي مفکوره، انګېزه او دید پیدا کړې، نو ته هڅه وکړه چې خپل دښمن تشخیص کړې، یعنې په بهرنۍ او داخلي جبهو کې د دښمن درست تشخیص وکړې ، مخکې مو هم په دې بحث کړی و چې له بهر څخه دښمن معلوم دی، ته یې د دفاع لپاره پلان هم لرې، د بهرني دښمن ضربه دومره زیانمنونکې نه ده لکه څومره چې داخلي دښمن مضر تمامیږي، که تا داخلي دښمن ارزیابي، تشخیص او تحلیل نه کړ، نو ستا نظام پرمختګ نشي کولای، ستا د سیاسي بصیرت رعب ختمیږي، خو که تا له داخل څخه د دښمن لاسونه پرې کړل او د دښمن سترګې دې ړندې کړې چې ستا داخلي وضعیت مالوم نشي کړای، نو دښمن ړندیږي او وارخطا کیږي او ستا د همدې سیاسي بصیرت څخه مرعوب کیږي، یوازې دا یوه فایده نه ترلاسه کوې چې ګټې د دښمن د داخلي زیانونو مخه دې ونیوله، بلکې دښمن ته دې خپل سیاسي بصیرت وروښود، هغه دې د خپل رعب لاندې راوست، روحیه او مورال دې ورته کمزوری، پلان او دسیسه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دې ورته شنډه او زړه دې ورته مات کړ، هغه دې په خپله پوهه او بصیرت قانع او د ځان په مقابل کې دې د کمترۍ احساس ورکړ، دښمن ته دې دا وښوده چې ستاسې هېڅ مکر زمونږ په وړاندې نه چلیږي ان شاءالله.

بل هغه مهال ته یو سیاسي بصیرت او انګېزه او سیاسي دید موندلی شې چې په خپل عمل کې جدیت او قاطعیت ولرې، ته باید یو قاطع انسان واوسې، نو کله چې ته یو قاطع انسان جوړ شې ستا سیاسي بصیرت خپله زیاتیږي، ته خپله یو دید او انګېزه پیدا کوې.

**دریمه خبره:** هغه دا چې ته په دې فکر کې شې چې همېش دښمن لرې، دا سوچ کوه چې دښمن درسره په مقابله کې واقع دی، په دې فکر کوه چې دښمن تاسره د جګړې اعلان کړی، او تاسره یې علني جګړه شروع کړې، نو نتیجه دا چې ته باید خپل دښمن وپېژنې، دوست ته د دښمن او دښمن ته د دوست په سترګه ونه ګورې، ته به تل په همدې سوچ او فکر کې اوسېږې، او ځان به مخاطب کړې چې: اې فلانیه! دښمن درسره د دښمنۍ اعلان کړی، په دښمنۍ کې دې واقع دی، ستا د له منځه وړلو لپاره یوه شېبه هم له لاسه نه ورکوي، ستا په دښمنۍ کې له ټولو زیات قاطع او جدي دی، نو په داسې حالاتو کې ته ولې سستي کوې، ته ولې جدي او قاطع نه یې، ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library


باید قانع کړي چې په جدیت او قاطعیت شپه او ورځ کار وکړي او ستړی نشي، هسې په یو ساعت دوه ساعته کار ځان غلط نکړي چې بس دښمني ده چاپیره به یو ټکه پوکه به کوو، څنګه چې دښمن ستا په دښمنۍ کې جدیت لري او علني جګړه کوي، خو مقابل کې یې ته په ماته ملا چاپیره یې، نه داسې نه ده! که داسې وي نو ته خو بیا هېڅ سیاسي بصیرت نه لرې، ته هم باید ښه مظبوطه ملا وتړې، هر طرف لاس واچوې، مخلص او قاطع واوسې ترڅو د کار حرص دې ورځ تربلې زیات شي.

که ته غواړې چې یو سیاسي دید او انګېزه پیدا کړې نو په دې خبره د ورځې درې ځلور ځلې سوچ وکړه چې دښمن دې په څه حال کې دی او په څه طریقه یې مقابله وکړې.

**څلورمه خبره:** دا ده چې ته هله دید او انګېزه پیدا کولای شې چې دښمن تعریف کړې، چې څوک ستا دوست او څوک دې دښمن دی، څوک تاته د دښمن په سترګه ګوري او ته چا ته دښمن وایې.

یعنې څلور طرفه تحلیل کړه، دا تشخیص کړه چې څوک ستا دښمن دی، د دښمنۍ کچه یې څومره ده، دلته مو یوې بلې خبرې ته هم باید پام وي، چې په فتحه او بریا کې به اکثره خلک ستاسې ملګري وي خو په سختۍ او تکلیف کې به تاسې خوشې کوي، له تاسې تښتي او

(c) ketabton.com: The Digital Library


یا په سختیو کې ستا مقابل کې ودرېږي، نو دا هم د دښمن په لېست کې ور ولیکه.

دغسې خلک د تېښتې په صورت کې دوه کاره کوي، یا په علني ډول ستا مقابله کې ودرېږي او یا دا چې ستا د شکست غوښتونکي وي او ستا په ماته خوشحالېږي.

## ورونو!

دوست او دښمن به په تمامه مانا وپېژنئ، دا وسوسه ذهن کې ساتئ چې دښمن تاسره دښمني کوي، علني خطر یې متوجه دی او ته آرام خوبونه کوې، داسې فکر وکړه لکه ته یو کوټه کې یې او په دې کوټه کې درې څلور غټ خطرناکه ماران هم دي او له هرې خوا دا ماران په تا حملې کوي، نو ته به په داسې حالاتو کې بېغمه خوب وکړې؟

آیا ته به په مړه خېټه ډوډۍ وخورې؟

آیا ته به په بیځایه تفریح کولو، راحت خوښولو او چکر او عبث د وخت ضایع کېدو باندې راضي شې؟

که نه ټول حواس به دې د مارانو په وژلو متمرکز کړې، همدا سوچ او فکر به درسره وي، لاسونه، پښې او ذهن به دې ټول په همدې مصروف کړي وي، بیخي به سترې نشې او همدا هڅه به کوې چې څنګه دا ماران ووژنې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو همداسې فکر وکړه چې له تا او ستا له نظامه همداسې زهرېله ماران چاپېره دي، تل يې هڅه داده چې تاته هم ټک درکړي او ستا نظام هم راچپه کړي، نو په داسې حالاتو کې به ستا احساس همدا وي چې شپه او ورځ کار او مقابله وکړې، ټوله انرژي او استعداد دې په هر ډګر کې د همدې مارانو په وژلو مصروف وساتې، نو همدا سياسي بصيرت، ديد او انګېزه ده.

د دښمن کټکوري کول او پېژندل لازمي دي، هغه د دوست په جامه کې دښمن هم بايد تاته معلوم او تشخيص شوی وي تر څو په راتلونکي کې داسې خلک بيا ستا نظام ته را نشي، چې په آسانۍ کې درسره وي او په سختۍ کې درڅخه تښتي، دغه خلک بايد ښه سم وپېژني.

**پنځمه خبره داده:** چې فکر به کوې راتلونکي کې ستاسې نظام ته کوم خطرات او زيانونه متوجه دي؟ په دې به فکر کوې، دا به په ډاګه کوې، د دې په اړه به معلومات راټولوې، دا ګواښونه که پټ وي او که ښکاره، بايد تاته ښه واضحه وي، که تاسې داسې فکر او ديد ونه لرئ نو بيا ښه سياستمداره نه ياست، دا هر څه بايد تاسې تحليل کړئ، بيا پرېکړه ونيسئ او عملي اقدام وکړئ.

کوم کس چې د اسلام د سياسي نظام په وړاندې ګواښونه نه سنجوي

(c) ketabton.com: The Digital Library


داسې مثال لري لکه یو ماهي چې په یو وړوکي سطل کې پروت وي، ښه رڼې اوبه وي، ماهې په دې خوشحاله وي او ملاقونه وهي، کله د اوبو سر ته ځي کله آخر ته، خو دې ته يې فکر نه دی چې دا خو د دښمن په وس کې ده چې هر وخت يې رانيولی شي، اوس نو د ماهي له همدې مستۍ او ټوپونو دښمن هم خوند اخلي، لګیا دی چاړه ورته تېره کوي چې ښنګه او څه وخت يې زړه وشي رانيسي او څيري کوي يې.
ماهي ته دا معلومه نه ده چې زه خو په یو سطل کې او د دښمن په واک کې یم، ګېر چاپېره راته خطر دی او دښمن نور دښمنان هم زما د خوراک لپاره راټول کړي دي، نو ته هم دا سوچ وکړه چې زه اوس د دښمن منځ کې یم، که د خپلو راڅخه چاپېره خطرونو په اړه تحلیل ونه کړې او د دې تحلیل په نتیجه کې تصمیم ونه نیسې او اقدام ونه کړې، نو دښمن درته لګیا او چاړه په لاس ولاړ دی هر کله يې چې زړه وغواړي رانيسي دې.
یوازې دا یو دښمن نه، بلکې ډېرې نورې کړۍ هم په همدې انتظار دي چې ستا د نابودۍ جشن ولمانځي، په همدې آرمان ځينې ژوندي او ځينې به مردار شوي هم وي.
نو که ته د سبا خطرات ونه سنجوې لکه د دې ماهي په څېر، ته به خپلو وړو ټوپونو او کارونو ته خوشحاله يې خو له دې هر څه به دې

(c) ketabton.com: The Digital Library


دښمن خوند اخلي، دښمن به پوهيږي چې پرېږده بل طرف نشي تللی زما لاس کې دی او ته به فکر کوې چې دا مؤقت ټوپونه ستا تلپاتې خوشحالي ده، نه ته باید ډېر با بصیرته انسان واوسې، ته به تل په همدې سوچ کې یې چې زمونږ نظام ته کوم خطرات متوجه دي، دا هر څه سنجوې، تحلیلوې، د حل لار راوباسې، تصمیم نیسې، بیا ته دغه وخت کې سیاسي بصیرت او دید پیدا کوې او ته به بیا یو سیاستمداره امیر یې.

**شپږمه خبره دا ده:** چې تاسې هله یو سیاسي بصیرت، انګېزه او دید پیدا کولی شئ چې کله تاسو له خپل تېر تاریخ څخه پند او عبرت واخلئ، خپلې تېرې کړنې ارزیابي کړئ، ګام په ګام به همغه تېر نه تکراروئ او په تېرو کیسو کې به همغسې ډوب نه یاست، ځکه تېر او حال سره توپیر لري، یعني د زړو نظریاتو تطبیق مه کوه له هغې عبرت واخله، نوې نوښتونه وکړه او د نویو حالاتو سره ځان عیار کړه، کله د ځینو شاذ او نادرو اهدافو ترلاسه کولو لپاره چې دي په تېر کې کومې تجربې کړې دي او کومه نتیجه یې نه ده ورکړې نو هغه اوس هېرې کړه.

د تېرو تجربو څخه یوازې پند واخله او الګو ترې مه جوړوه، بیا اقدام وکړه، بیا اقدام وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


زما هدف دادی چې دا ستا حال او راتلونکی د تېرو ناکامو تجربو د محاصرې لاندې ونه اوسېږي او د هغې د سیوري لاندې رانشي.

پخوا چې په کومه تجربه کې ناکامه شوی یې، خو ته بیا هم نه اوړې او همغه تجربې بیا تکراروې، که داسې وي نو ته بیا د اسلام د سیاسي نظام په خدمت کې هېڅ هم نشې کولای، مطلب لوی پرمختګونه او ستر ګامونه نشې اخستلای، دلیل دا دی چې حال او راتلونکی د تېرو سره په هره برخه کې ډېر توپیر لري، ته باید دا قدرت پیدا کړې چې اوسنی سیاسي وضعیت تحلیل کړې.

نو ته تېرې ناکامې تجربې د خپل حال او راتلونکي لپاره مه استعمالوه، نوښت، نوي اقدامات، تحلیل او ارزونه وکړه، ته باید ځان کې د تحلیل توان ولرې، په دې پوهه شې چې آینده او حال نظر شرائطو ته د ماضي سره توپیر کوي، د ماضي له کامیابو تجربو ګټه واخله، خو داسې مه کوه چې په تېر کې هر څه ته ځان تسلیم کړې، مطلب د نوې کار لپاره په زړو تجربو کې څه نه وي او ته زړو کیسو او نسخو پسې نښتی یې، نو په دې مسائلو هسې وخت مه تېروه او ځان مه پرېشانه کوه.

تېرې تیروتنې تحلیل کړه همغې ته ګوره چې همغسې تېروتنې ونه کړې، ځینې ملګرو یو یا دوه کاله مخکې یو کار کړی او هغه ناکام

(c) ketabton.com: The Digital Library


شوی وي، بس د دې زړه مات وي چې یاره بس ترې تېرېږه، د همغې ناکامۍ د محاصرې او سیوري لاندې وي، نه داسې نه ده! وختونه تغییر کوي، هغه وخت به همغه کار نه کېده، ته اوس وضعیت تحلیل کړه، حالات وسنجوه، اوس به تاته کېدای شي له هغې زیات فرصتونه برابر شوي وي، نو ته باید له همدې فرصتونو ګټه واخلې.

کامیاب سیاستمدار او تحلیلګر همغه دی چې خپلې تېرې تیروتنې تکرار نه، بلکې تحلیل یې کړي، عوامل یې معلوم او د بیا تکرار مخه یې ونیسي، داسې ګټه ترې واخله چې آینده کې بیا داسې تېروتنې تکرار نه کړې او دا ځل د کامیابۍ په لور لاړ شې.

کوم کار چې نتیجه ورنه کړه، نو د هغې عوامل اوس تحلیل کړه، چې د نتیجې نه ورکولو علت څه و، اوس حالات او وضعیت هم تحلیل کړه، په ټولو اړخونو یې فکر او ارزونه وکړه، د حل لار یې پیدا کړه او بیا بسم الله کړه، داسې مه وایه چې دوه کاله وړاندې ما دا کار کړی و، وخت، مال او ډېر څه مې ضایع کړل خو کومه لاس ته راوړنه مې نه درلوده، نه داسې نه ده! له دې طلسم څخه راووځه، همت وکړه، که همداسې د تېر په کلابندۍ کې کلابند یې نو نه اوس ښه اقدام کولای شې او نه به آینده کې ښه اقدام وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## اوس د حل لاره څه ده؟

که چېرته په ماضي کې تاسې په یوه تجربه کې ماته خوړلي وي نو دلته ته فکر وکړه، همغه ماضي او اوسنی وضعیت دواړه تحلیل کړه، نو کېدای شي هغه ماضي کې چې تا ماته خوړلې د هغې عوامل معلوم او دا معلومات به وشي چې هغه وخت ستا شکست له دې کبله و چې اوس کوم فرصتونه لرې، نو هغه وخت درسره دا فرصت، چانس او امکانات نه و، په دې خاطر تا ماتې خوړلې، نو په ماضي کې مه بندېږه راووځه او د حال له فرصتونو ګټه پورته کړه، اوس به کېدای شي ته داسې فرصتونه ولرې چې هغه د ماضي خالیګاه ورباندې پوره کړې.

**مجاهده وروره!** که چېرته ته په تېرو شویو تجربو کې ډوب شوې، د حال او آینده لپاره دې یو سیاسي بصیرت او دید نه درلود، د حالاتو د تحلیل وړتیا درسره نه وه، نو مانا دا ده چې ته له موجوده فرصتونو څخه د ګټه اخستو وړتیا نه لرې، که ماضي کې دې شکست خوړلی خو چې اوس د تحلیل وړتیا لرې هر څه درته په ډاګه کیږي.

نو د نویو فرصتونو درک او په حل لارو فکر، اهدافو ته د رسېدو لارې چارې تعینول دا ټول اوس ته د سیاسي تحلیل او د وضعیت د تحلیل په پایله کې معلومولی او استفاده کولای شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته كه يو امير يې او د حالاتو د سياسي وضعيت د تحليل قوت ولري، نو ته هم ځان او هم خپل ملګري په دې قانع كولاى شې چې؛ ورونو په تېر كې چې موږ دې كار كې ناكام شو علتونه يې دغه و، اوس هغه لاملونه نه دي موجود، اوس نو د كاميابۍ او هدف ته د رسيدو دغه او دغه چانسونه او فرصتونه لرو.

## اوس به د پورته خبرو يو نچوړ ذكر كړو.

**الف:** دا چې كه ته د ماضي د ناكامۍ په كلابندۍ كې همداسې بند پاتې يې، نو ته به تل جمودي حالات كې يې، ته د تنوع او نوښت والا نه يې، د تحرك او خوځښت سره دې هېره جوړه نه ده، همغه زړې كيسې دې زړه ته نيولي، نو ته به نه اوس او نه آينده كې كومه لاسته راوړنه ولرې او نه به هم كوم غوره اقدام وكړې.

**ب:** د ماضي د ناكامۍ عوامل تحليل كړه، اوسنى وضعيت او د مخكني كار په اوس وخت كې د فرصتونو په موجوديت كې تحليل او ارزونه وكړه، د تېرو تېروتنو درک او په اوسني وخت كې د نه تكراريدو نيت وكړه، هر څه معلوم او بسم الله سره اقدام وكړه، دوه كاله مخكې چې دې همدا كار بې پايلې و اوس به د الله په فضل پوره نتيجه وركوي ان شاء الله.

**اوومه خبره داده:** چې كه غواړې ته يوه انګېزه، ديد او سياسي بصيرت

(c) ketabton.com: The Digital Library


ولري او د سیاسي تحلیل او د وضعیت د تحلیل قوت پیدا کړي، نو ته باید د معلوماتو او اطلاعاتو د ترلاسه کولو او د هغې د څېړلو او تفسیرولو قدرت او صلاحیت هم ولري، مثال یو کس درته وایي ماته د قرآنکریم ترجمه وکړه، نو هدف یې شاید همدا تحت لفظي ترجمه وي او که یو کس درته وایي چې ماته د قرآنکریم تفسیر وکړه، نو تفسیر ته بیا یو ځانګړی د وخت قید نشته چې ته د یو سورت تفسیر په یو ساعت کې کوې او که ډېر علم لرې په یو سورت تفسیر باندې لس ساعته اخلې نو دا ممانعت بیا نشته چې نه ته باید همدا یو ساعت تفسیر وکړې، کلمه د تفسیر مې ځکه دلته وکاروله چې په یوه مسئله کې څومره ژور ځې، جزیات یې څېړې، وړه وړه خبره یې تحلیلوې نو همدې ته د اطلاعاتو تفسیر وایي. موږ په تحلیل کې همدا بحث کړی و که غواړې ته ښه تحلیلګر اوسې او ستا تحلیل ښې پایلې ولري نو ته باید معلومات ښه تجزیه او تحلیل کړې ،څېړنه یې وکړې، اوس هم همدا خبره کوو چې که ته غواړې یو ښه انګېزه، دید او سیاسي بصیرت ولرې نو ته باید معلومات ښه تفسیر کړې، تاته معلومات راځي نو عام فهمه یې کړې، مبهم یې پرېنږدې، پوره یې راوسپړې، سم یې وشاربې او ښه توضیحات یې ورانډې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ولې معلومات تفسیروئ؟

ځکه چې د معلوماتو په ښه تفسیرولو تاته تحلیل روښانه کیږي او چې کله دې ښه تحلیل وکړ نو تاته بیا پرېکړه کول آسانیږي او چې ښه پرېکړه دې وکړه، نو بیا به خه اقدام وکړې او ډېر ښه پرمختګونه او لاس ته راوړنې به ولرې.

که غواړې د اسلام په سیاسي نظام کې ته یو ښه تحلیل ګر واوسې او په همدې نظام لپاره ښه تصمیم ونیسې، نو همدا یې مراتب او سلسله ده چې اطلاعاتو او معلوماتو ته باید لاس رسی ولرې، د معلوماتو ترلاسه کولو وړتیا او قوت ځان کې پیدا کړې، کله چې معلومات ترلاسه کړې نو بیا به یې د تفسیر کولو وړتیا ولرې، د تفسیر یو بل حکمت داده چې ته به د یوې مسئلې عمق ته ننوځې، مثال ته یو چا څخه د قرآنکریم تفسیر غواړې نو هدف دې همدا دی چې د یوې کلمې او آیت مختلفې معناوې ترلاسه کړې،په مختلفو شکلونو د هغه آیاتونو موضوعات ستا لپاره عام فهمه شي،کوم اشکال په کې پاتې نشي، د آیات په شان نزول، اهدافو، احکامو او نورو اړوندو ټولو مسائلو ته تفسیر کې پوهېدای شې.

یو مفسر چې د قرآنکریم یو آیت تفسیروي، نو هدف یې هم همدغه وي چې خپل مخاطب په هر اړخیز شکل ددې آیت په مانا، مفهوم،

(c) ketabton.com: The Digital Library


مقصد، هدف او حکم په ټولو اړخونو ښه پوره پوهه کړي، مختلف تعبیرات ورته کوي، مختلفو نقطو څخه ورته کتنه کوي، له مختلفو لارو ورته راځي او په بېلا بېلو شکلونو یې ټول مسائل راسپړي او روښانوي یې، مترادف لغات یې په مختلفو شکلونو تفسیروي، موږ هم څکه د تفسیر کلمه استعمال کړه چې ته هم د خپلو معلوماتو په ټولو اړخونو ښه پوره ځان پوهه کړې، کوم مبهم نقاط پاتې نشي، کوم اشکال سره مخ نشې، په معلوماتو کې د هرې خبرې او د هرې نقطې پوره وضاحت تاته وشي او هر کلمه تاته بېلابېل په مختلفو شکلونو واضح شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د اطلاعاتو تفسیر

دا د لومړۍ پوړۍ مثال لري چې په لومړۍ پوړۍ سم ونه خېژي یا اولنۍ پوړۍ کمزورې وي او ماته شي نو ته به بره څنګه وخېژې، یا تهداب کمزوری وي نو عمارت به دې خپله رانړېږي، نو دا معلومات همداسې درواخله چې ته پرې هسې سرسري تېر شې، داسې عمیق تفسیر او توضیحات یې ونه کړې نو ګویا چې ته لومړنۍ پوړۍ نه لرې یا ماته ده، یا دې د عمارت تهداب خام دی.

نو ستا تحلیل به هم همداسې ګډوډ وي او بیا به یې په نتیجه کې پرېکړه هم په همدې حال وي، نو آخر به تاته هېڅ په لاس نه درځي.

د یو سیاستمدار په حیث باید ته د معلوماتو په تفسیر ډېر تمرکز وکړې، زما هدف همدا دی چې ته باید یو پوخ سیاستمداره مجاهد واوسې.

ته که زیات معلومات راجمع کړې او ښه یې تفسیر وکړې نو ستا د تحلیل او پرېکړې څخه به نور خلک ډېر زر فایده واخلي او په آسانه به یې سر خلاص شي.

یو پوخ او هوښیار سیاستمدار په احساساتو او عجله سره په منډه له هر څه زر زر نه تېرېږي بلکې د معلوماتو په ترلاسه کولو کې ډېر دقت کوي، بیا یې په تفسیر کې زړه نه تنګوي، پوره یې تفسیروي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


تحلیل یې هم بیا همداسې درواخله او کله چې دا هر څه په پوره پوخ فکر او سړو دماغو وشي، نو ستا پرېکړه به هم بیا د پرمختګ یوه مظبوطه پوړۍ وي.

د کار پیل کې د احساساتو موجودیت ښه وي، خو تداوم کې تیزي او احساسات ستا کار خرابوی،مطلب په ژوندي زړه، جذبه او احساساتو د یو عمل پیل په کار دی خو وروسته بیا باید دقت ته ډېره توجو وشي.

د کار جریان کې باید دقت او پوخ تحلیل وي، منډه او سرسري کتل نه وي او تصمیم نیونه کې خو به بیخي تیزي او احساساتي چلند نه کوئ. او مخکې له دې چې ته تصمیم ونیسې لومړی باید د وضیعت په تحلیل باندې ته قادر وې او د وضعیت تحلیل به ته هله په درست شکل وکړې چې تا په بشپړ ډول معلومات ترلاسه او هغه دې ښه تفسیر کړي وي، کله چې دې دا ټول سلسله مراتب عملي کړل، تصمیم دې ونیوه نو له اقدام څخه وړاندې یو ځل بیا خه فکر او سوچ وکړه یعنې مخکې له فکر څخه اقدام مه کوه.

په جنګ کې حیاتي عنصر یعنې هغه عنصر چې موږ پرې کامیابۍ ته رسیږو هغه د پلان جوړونه او په چټکۍ سره د هغه تطبیق دی، په بل عبارت چې ستا تصمیم نیونه نظر دښمن ته ښه تیزه او چټکه وي چې زر بیا قوي اقدام وکولای شې، تصمیم نیونه د تحلیل په نتیجه

(c) ketabton.com: The Digital Library


بنا ده او تحلیل بیا د معلوماتو په تفسیر ولاړ دی، یعنې د تصمیم نیونې لومړی پوړی د معلوماتو تفسیر دی.

ته هغه وخت ډېر ښه تصمیم نیولای شې چې تا د یوې مسئلې په اړه زیات معلومات راټول او هغه دې تفسیر کړي وي، نو چې ترڅو دښمن ځان خوځوي تا به تصمیم نیولی او چټک اقدام به دې هم کړی وي، نو زیات معلومات او په وخت یې ترلاسه کول مهم دي.

دوهمه خبره داده چې ته به هغه وخت په تصمیم نیونه کې سرعت پیدا کړې چې مجاهدین دې په منظم شکل کټګوري کړي، کار دې اهل کار ته سپارلی او هر څه دې منظم کړي وي، همداسې د پرېکړې او قوماندې سرچینې هم معلومې وي نو ته دغه وخت ډېر په چټکۍ سره تصمیم نیولای شې او دغه پرېکړه زر عملي کولای هم شې.

مطلب چې خپل مجاهدین دې منظم کړي او هر یو دې آزمایلی وي.

دلته باید یوې خبرې ته پام وکړئ چې یو د کار تقسیم دی او یو د رهبری، نو د رهبرۍ تقسیم ناکامه او د کار تقسیم کامیابه سیاست دی.

مانا دا چې تاته د یوې ادارې رهبري سپارل کیږي او درته وویل شي چې ته او فلانی دواړه ددې ادارې مسولین یاست، یعنې دا رهبري د دوه تنو ترمنځ تقسیم شي، نو بیا په دغسې حال کې ته دې د ماتې او شکست انتظار کوه، ځکه چې بیا نو د رهبرۍ په رأس کې خبره یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library


نه ده، یو کس به یو پلان او نقشه لري او بل به یې بله لري، ټول وخت به په عمل نه، بلکې په لانجو او مناقشو تېرېږي. موږ د اسلام په سیاسي نظام بحث کوو نو په همدې چوکاټ کې دا کړنه کامیابي نه بلکه شکست دی.

د اسلام په سیاسي نظام کې ګوره په یو وخت د دوه خلفاؤو تعیین نشته، که یو خلیفه وي او بل هر څومره مخلص،باعلمه، باتقوا او اهل بیت هم وي، نور شرائط هم ولري، خو په شرائطو پوره د تعیین شوي خلیفه په مقابل کې راپورته شي، د خلافت دعوه وکړي نو حکم دادی چې دا ووژنئ، یعنې قتل ډېره سخته خبره ده، نو چې د قتل امر یې کیږي، له همدې مالومیږي چې دا موضوع همدومره حیاتي ده.

دلته همدا خبره ده چې کله تاسره په رهبرۍ کې شریک بل کس وي، نو ته قاطع او سریع تصمیم نیولای نشې او نه چټک اقدام کولای شې، که غواړئ ستاسې د تصمیم نیونې څواک سریع او کامیابه وي نو درې خبرې په پام کې وساتئ.

**لومړی:** د هرې ادارې مسئولیت چې ستا په غاړه دی نو د هغې په رهبرۍ کې باید مستقل اوسې، یعنې په رهبرۍ کې درسره بل څوک شریک نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**دویم:** د مجاهدینو نظم او تنظیم دې باید برابر وي هر چاته دې خپل مسلک اړوند کار سپارلې وي.

**دریم:** په کومه برخه کې چې ته تصمیم نیسې نو په دې برخه کې باید ته کافي معلومات ولرې، که داسې وشول ته بیا یو کامیاب او قوي سیاستمدار یې.

په دې موضوع چې ډېر تمرکز کوو، وجه همدا ده چې دښمن هڅه کړې او کوي یې چې په شعوري یا غیرې شعوري ډوّل داسې خلک برابر کړي چې هغه د رهبرۍ د تقسیم په طرف وي، چې دښمن په همدې برخه کې خپل هدف ته ورسید، نو بیا درته چېرته د خیر په غونډۍ کېني، یوه پېښه په بله اړوي او سیل دې کوي، هغه پوهیږي چې ستا پایله نوره ماته او ناکامي ده، دښمن نوره خپله انرژي بل کار کې نه مصرفوي بس فقط سیل دې کوي، خلاصه دا چې دښمن زموږ د رهبرۍ د ټوټه ټوټه کولو په هڅه کې دی.

مثال: یوځای کې به تا تمکین اعلان کړی وي، په یوه سیمه کې به دې یوې ادارې ته دوه او درې امیران ټاکلي وي، نو د خپل نظام د ماتې په برخه کې دې همدا کړنه کافي ده، هغه متل دې چې وایي: چار کوډۍ او پنج ملکان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو داسې به نه کوي چې يوې منطقې ته دې پنځه کسه اميران کړي وي، کار بايد اهل کار ته وسپارې، د ادارې رأس کې بايد يو په کار پوهه کس مسؤل وي چې همدا يو کس تاته راپور درکونکی او ځواب ويونکی هم وي.

دا خبره ځکه د ډېر ټينګار وړ ده، چې سبا به ما او تا نظام جوړ کړی وي، تقسيم د رهبرۍ به مو هم خپله کړی وي، چې دښمن په مختلفو طريقو تاته دا خبره رسوي چې ياره په يوه اداره يا يوه سيمه کې چې د يو کس په ځای يا د يو مسؤل په ځای درې څلور مسئولين وي نو دا سيمه او اداره به ډېر پرمختګ وکړي، نور يې درته ډېرې خيالي فايدې بيانوي، نو ته که سياسي ليد لوری او سياسي بصيرت ونه لرې نو په دې پوهه شه چې بس شکست دې ورسره ومانه.

دا درسره سره کرښه وګڼه چې هره سيمه او اداره بايد يو امير ولري، په رهبرۍ او مسؤليت کې ورسره شريکه بله اداره او مسؤليت ايجاد نه کړې، دښمن موږ سره په همدې مبارزه بوخت دی چې په تا رهبري تقسيم کړي، نو ته بايد ډېر دقيق واوسې سبا به ډېرې ادارې او پراخه منطقې ستا د لاس لاندې وي نو بيا هغه وخت د رهبرۍ تقسيم ته فکر ونکړې ترڅو ستا نظم د کاميابۍ خواته لاړشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


موږ په دې تړاو یوه بله خبره هم کړې وه هغه دا چې هغه وخت د ادارو کارونه په ډېر خه ډول په مخ ځي چې ادارې په خپلو منځونو کې **سیاسي اتحاد ولري**، د هر چا د کار ساحه او د مداخلې صورت معلوم وي، ترمنځ یې همغږي وي، په ځینو ادارو کې د نورو ادارو د دخالت خبره وي، نو هغې ته هم خپل حدود معلوم وي، نو دا موضوع هم په همدې اړه تړاو لري. یعنې که ته د رهبرۍ تقسیم وکړې نو په دې پوه شه چې تا یو بل ارزښت هم ناکامه کړ، چې هغه سیاسي اتحاد دی، مطلب دا ستونزه یوازې ستا تر یوې ادارې محدود نه پاتې کیږي بلکې زیان یې ټولو ادارو ته سرایت کوي.

## څنګه کولای شو خپل سیاسي بصیرت لوړ کړو؟

### د دې مهارتونو د لوړلو لپاره :

**لومړی خبره:** باید خپل سیاسي نظام سره نهایت زیاته مینه، شوق او علاقه ولرې، مخکې موږ په دې اړه وضاحت کړی و چې د دښمن هڅه همدا ده چې مجاهدین د خپل نظام څخه مایوسه کړي، مسلمانان د اسلام د سیاسي نظام څخه بې خبره وساتي یا د دوی په ذهنونو کې د اسلام د حقیقي سیاسي نظام تصور بدل او منفور یې وګرځوي، اوس نو د اکثرو مسلمانانو همدا فکر دی چې یاره بس

(c) ketabton.com: The Digital Library



سياست کې ګوتې مه وهه دا زموږ کار نه دی، سياست باندې موږ نه پوهيږو، مطلب له سياست څخه يې يو بلا جوړه کړې وي او ټولو ورسره په پټو سترګو منلې ده.

خو موږ نه له هر څه ځانته بلا جوړوو او نه له هرڅه بې پروا کيږو او د دښمن دا آرمانونه خاورې کوو باذن الله، د دوی په وړاندې د کلکو فولادي کمرونو په څېر ودريږو او ددوی مقابله کوو، په هر ډګر کې دوی ته ماتې ورکوو باذن الله، موږ به هم خپل مجاهدين او هم عوام مسلمانان په دې مسائلو پوهوو چې سياسي ديد او بصيرت هر څوک موندلی شي، هر څوک د سياسي وضعيت د تحليل وړتيا پيدا کولای شي، موږ تاسې ته ورته عملاً ښايو چې دا ډېرې عادي مسئلې دي، موږ به خپل مجاهدين وروڼه او عوام مسلمانان په دې پوهوو چې د اسلام د سياسي نظام په اړه پوهه ترلاسه او مطالعه وکړی، د تحليل ځواک او وړتيا ترلاسه کړي او دا هر څه هله کېدای شي چې زموږ مجاهدين د خپل سياسي نظام سره مينه، محبت او علاقه ولري.

نو خبره داده چې موږ بايد د خپلې جهادي مبارزې او نظام سره محبت وکړو، په دې لاره کې له هر کړاو، سختۍ او درد څخه خوند او لذت واخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**قال تعالی: ﴿إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِهِ صَفًّا كَأَنَّهُم بُنْيَانٌ مَّرْصُوصٌ﴾[الصف: 4]**

**ژباړه: د اللهﷻ خو هغه خلک خوښ دي چې د هغه په لار کې په داسې شان صف تړلي جنګېږي ګواکې هغوی یو محکم کړای شوی دیوال دی.**

**ورونو:** دلته د بنیان مرصوص څخه مانا د اسلام سیاسي نظام دی، لکه د فولادو په څېر به سره یو کلک او مظبوط صف وي، نو په څه وجه چې الله ﷻ تاسره محبت کوي نو ولې همغه ځان کې نه راپیدا کوې، همغې سره ولې محبت نه کوې، په یوه وجه تاسره الله محبت کوي نو همدې وجې او علت سره باید ته هم محبت وکړې، په مات زړه او سستو قدمونو مخکې مه ځه، بلکې په پوره مېړانه او ځواک خپل کار مخ ته یوسه، په پوره دلچسپی، محبت مخ ته لاړ شه او نشیط اوسه.

یعنې تاسره چې محبت، علاقه او شوق وي بیا نو ته به نه ستړی او نه به مایوسه شې، بیا به په هر ډګر کې په پوره اخلاص مخ ته ځې هغه که نظامي، اقتصادي، اعلامي، دعوتي او یا نور ډګرونه دي، یعنې په هر ډګر کې به ته په پوره شوق کار کوې او ستا کار به بیا همغسې نتیجه ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په بل تعبیر نن سبا مونږ د څه لپاره جهاد کوو؟

خو ښکاره خبره ده چې د اسلام د سیاسي نظام د قیام لپاره خدمت کوې، که هغه په هر ډګر کې کوې، نو تاته په کار ده چې همدې کار سره دې شوق او علاقه زیاته کړې، نو ته به بیا نه مایوسه او نه به خفه کېږې، د هر کار څخه به بیا خوند او لذت اخلې.

کفار خو په همدې هڅه کې دي، چې زما او ستا له زړونو څخه د اسلام د سیاسي نظام محبت وباسي او په ځای د نورو نظامونو غولونکي ځل بل واچوي.

**دویمه خبره:** په دې برخه کې داده چې زه او ته باید انعطاف پذیر واوسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انعطاف پذيري څه ته وايي؟

هر کله چې تاسې يو تصميم ونيسئ او هغه بيا پوره عملي نشي، يعنې شرائطو او اوضاع تغيير کړی وي، حالاتو ته په کتلو بېرته خپله تصميم کې بدلون راوستلو ته انعطاف پذيري وايي.

يو غير مترقبه حالات په تاسې باندې راځي، د تمې خلاف شرائطو او حالاتو کې راګيرېږئ،نو مجبور يئ خپله پرېکړه کې بدلون راولئ همدغه تصميم کې انعطاف پذيري ده، په بل تعبير که تا يو پرېکړه کړې وي او د راتلونکو حالاتو سم سنجش او تحليل دې نه وي کړی، ستا د وړاندوينو او تمې خلاف شرائط او حالات راغلل، ستا پرېکړې عملي کولو په وړاندې خنډونه رامنځ ته شول، نو ته ځان مه شله کوه او ضد مه نيسه، دغه حالاتو ته په کتلو خپل پرېکړه کې عادي بدلون راوله.

هېر کله داسې وي چې يو کار لپاره تصميم ونيول شي او هېر کار يې هم وشي، خو د پرېکړې د عملي کولو په وړاندې ځينې غير مترقبه حالات خنډ شي، يا تا دغه حالات تحليل کړي نه وي او يا هم نوي شرائط او حالات رامنځ ته شي، نو داسې حال کې بايد ته خپل تصميم تغيير کړې، دې ته ونه ګورې چې اوهو ما خو دومره کار کړی اوس که هر څنګه وي زه به دا تېر تصميم عملي کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


يا دې امير تاسره ژمنې کړي وي او تاته يې يو کار سپارلی وي، تا تر ډېره هغه کار تر يوځايه رسولی هم وي او بيا نو غير مترقبه حالات رامنځ ته شي، د امير له لورې درته امر وشي چې دا کار داسې مه کوه يا درته پرېکړه کې بدلون راولي، يا ستا نظام په موجوده حالاتو کې د داسې شرائطو سره مخ شي چې د پرېکړې موافق خپلو ژمنو ته رسيدګي ونه کړای شي، پرېکړه کې بدلون راولي، نو ته شور مه جوړوه چې هله دا څه بې نظمي ده، څو مياشتې يا څو ورځې مخکې يې راته دا کار وسپاره، دومره کار مې وکړ امير راته ويل داسې.. داسې.. زمينه به درته برابره کړم، اوس يې نو راباندې کارونه بېرته تغيير کړل، بېرته يې پرېکړه بدله کړه، دا څنګه امراء دي، او دا څنګه نظام دی ... او سل نورې خبرې، ګيلې او کيسې مه کوه، دلته بايد ستا سر په دې خبره خلاص شي چې حامخا څه غير مترقبه حالات راغلي چې تصميم تغيير کړی، چې همدا ستا د امراؤ په ښه مديريت او منجمنټ دلالت کوي، د دوی په ښه سياسي بصيرت او ديد باندې دليل دی، نو ته ضد مه نيسه چې نه، که کيږي او که نه کيږي زه به همغه زړه پرېکړه او پلان عملي کوم، چې په همغه پخوانۍ خبره درېدل بېځايه ضد دی او حالاتو ته په کتلو خپل تصميم کې تغيير ته انعطاف پذيري وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


يو كلك او وچ لرګی دی او يوه شنه لښته ده، سيلۍ او تيز باد راغی، دا وچ لرګی همداسې په خپل ځای کلک ولاړ وي او هېڅ انعطاف نه مني، نو طبيعي ده چې د سيلۍ په ورانديې به مقاومت ونکړي مات به شي او يوه شنه څانګه ده هغه انعطاف کوي، دغير مترقبه حالات يعنې سيلۍ او طوفان سره ځان عياروي ځان ورسره همغسې کږوي، خو چې سيلۍ تېره شي نو بېرته نېغه شي او خپل لومړي حالت ته راشي نو دغسې بايد خپل تصميم د غير مترقبه حالاتو سره عيار کړو او همدې ته په تصميم نيونه کې انعطاف پذيري وايي.

که همدغسې غير مترقبه حالاتو سره مخ شوې، نو خپل ملګري هم پوه او معلومات راټول کړه، زر زر يې نظر موجوده حالاتو ته تفسير او تحليل وکړه او بيا په خپله پرېکړه کې همدې ټولو مراتبو ته په کتو يو څه بدلون راوله، همدا سالم او کامياب سياست دی.

**درېمه خبره:** داده که غواړې چې تا کې سياسي ديد او بصيرت پيدا شي، نو ته بايد د مجاهدينو او د نظام د آينده په اړه تل په سوچ او فکر کې اوسې يعنې په کوم کار کې چې ته مصروف يې په دې سوچ وکړه چې څنګه او په کومه طريقه ته مخ ته لاړ شې چې د اسلام سياسي نظام پرمختګ او پيشرفت وکړي، دا خبره مو ډېره شاربلې

(c) ketabton.com: The Digital Library


## خو اوس يې په بل تعبير بيانه کړو:

د جهاد، مجاهدينو او د اسلام د سياسي نظام په اړه په همدې فکر کوې چې که زه فلانۍ او فلانۍ طرحه عملي کړم دا او هغه کارونه وکړم نو مياشت يا کال وروسته به کوم پرمختګونه راشي،د اسلام سياسي نظام به په کومو برخو کې پرمختګ وکړي، دهمدې سوچ فايده په دې کې ده چې تا دلته څو ډوله فکر وکړ.

**لومړی:** دا چې تا د خپلو کارونو، لاس ته راوړنو او پرمختګ لپاره سوچ وکړ.

**دوهم:** په کوم طرز ، سلسله او يا چوکاټ چې ته خپل کار مخ ته وړې د همدې کار په پايله کې چې ته کومې لاس ته راوړنې ولرې نو همدا لاس ته راوړنې به څومره د اسلام د سياسي نظام په پرمختګ کې رول ولري چې په دې باندې دې هم مخکې له مخکې سوچ کړی دی.

همدا دوه سوچونه ددې باعث کيږي چې په آينده کې د ټولو خلکو مخ ته چې کوم فرصتونه پراته دي، نو دا فرصتونه زموږ تر نظر لاندې وي او درک کړي مو وي.

مثلا زه او ته په يوه سيمه کې يو، زر متره لرې هلته يوه د الماسو دانه پرته ده، له همدې ځايه دغه د الماس قيمتي دانه ستا د نظر لاندې ده، خو په همدې طرف دښمن هم ور روان دی، نو په سلګونو خلک او

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډلې په همدې طرف په حرکت کې دي، ټول غواړي دغه الماس لاس ته راوړي، يعنې د الماس د دانې ځای معلوم دی نو اوس چې ته همدا تر نظر لاندې ساتې او له نظره يې نه وباسې نو ته به يې په لټولو نه ستړی کيږې، بلکې ته به همداسې سيده ورځې او دا دانه به را اوچتوې ،ترڅو يې چې نور خلک له نورو ځايونو څار کوي ته به تر خپل هدفه رسېدلی يې، نو دا فرصتونه هم همدغسې د الماس دانې دي، چې په سوچ، فکر او نظر لاندې نيولو سره ترلاسه کيږي او ترېنه ښه او سالمه استفاده کېدای شي.

دلته يوه بله نقطه هم ده که چېرته ته سوچ وکړې نو له دې معلوميږي چې ته د آينده فرصتونو د درک کولو لپاره سترګې په لار يې، آينده فرصتونه دې د نظر لاندې دي، ستونزې هم تشخيصولی شې، تهديدونه هم وينې، خطرات هم درک کوې، که ته داسې سوچ والا وې نو ته بيا يو سياستمداره مجاهد يې، مطلب تا زر متره لرې نه يوازې دا چې د الماس دانه دې تر نظر لاندې ده بلکې هغې ته ورپيښ ګواښونه دې هم نظر لاندې نيولي، ټول هر څه څارې، ګورې چې بل څوک خو دا دانه نه تعقيبوي، ستا او د هغې ترمنځ څومره واټن دی، دانې ته به ته له هغه ښکته مخکې ورسېږې، همدې فکر کې يې چې دانه درڅخه وانخلي، هم دې فرصتونه د سوچ په پايله کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


د نظر لاندې دي او هم دې تهدیدونه د نظر لاندې دي.

**شلورمه خبره:** که ته غواړې چې یو ښه سیاستمداره اوسې نو نیک ګومانه به یې او د بدګومانۍ څخه به ځان ساتې، شریعت هم ما او تاته په نیک فال اجازه راکړې، په نېک فکر او مثبت ګومان باندې امر کړی، مثال که هر مشکل درته راغی، ته دغه مشکل ته هم د یو فرصت په نظر وګورې، یعنې ته په خپله نېک ګومانۍ مشکل هم فرصت وګڼې، همدومره مثبت بین واوسې او ته باید بیخي نا هیلی نشې، د همدغه ګمان او سالم فکر په پایله کې ته د الله په مرسته مشکلات په فرصتونو بدلولی شې.

**پنځمه خبره:** که غواړې د سیاسي دید مهارتونه دې زیات شي نو هغه داده چې کوم تغییرات چې ستا په پرېکړه کې راځي په دې باید ته خوشحاله شې خفګان ونکړې، چې کوم کار کوې او د ترقۍ په طرف ځې، نو دا هر څه باید ستا د خوشحالۍ سبب شي، مطلب دا چې کوم عوامل ستا د پېشرفت سبب کېږي دا تقویه کړه او له دې خوشحاله شه، هغه که درسونه، مطالعه او که هر څه وي نو باید دا نور هم ته تقویه کړې تر څو په آینده کې د تحلیل قوت مو لا زیات او بهتر شي.

**ورونو!** د اسلام سره د اسلام د دښمنانو د دښمنۍ تاریخ ډېر اوږد دی، کفار منافقین او مرتدین د همدې هدف لپاره چاپېره دي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


مسلمانان په فکري او سیاسي ډګر کې له ماتې سره مخ شي، دوی مسلمانانو ته د نظامي ماتې ورکولو څخه ډېر د مسلمانانو د فکري او سیاسي ماتې په لټه کې دي، دوی پوهیږي چې مسلمانان فکراً مات شي نو بیا کفار ټول په ټوله خپلو اهدافو ته رسیږي همداسې که مسلمانان سیاست کې ماته وخوري نو بیا به هم د کفارو اهداف پلي شي او مسلمانان به خپل هر ډول استعمار لاندې ساتي.

د دوی ټولو هڅه او مبارزه یې په همدې بنیاد ده چې **د اسلام سیاسي نظام** له ماتې سره مخ او خلک پرې بدګومانه کړي، د نه تطبیق ور یې وګڼي او بالاخره له تطبیق یې پاتې کړي.

هدف دا دی چې مجاهدین باید همدې خبرې ته تر ټولو دقیق متوجه وي، مجاهدین به په نظامي ډګر کې ماتې خوري خو هڅه یې باید دا وي چې په سیاسي ډګر کې له ماتې سره مخ نشي، دا فکري او سیاسي شکست باید قبول نکړي، که پرې هر څومره بوج راشي، ټوټه ټوټه دې شي خو چې دا شکست قبول نکړي، که چېرې نظامي برخه کې شکست وخوري او په سیاسي جنګ کې یې شکست نه وي خوړلی نو بېرته به ډېر ژر خپله ماته په فتحه بدله کړي، خو که یې سیاسي جګړه کې ماته وخوړه نو بیا به په هر ډګر مسلمان د ماتې او ناکامۍ سره مخ وي او که یې په سیاسي ډګر کې شکست وخوړ نو دنیا او

(c) ketabton.com: The Digital Library



آخرت به يې هم تباه شي.

رسول الله ﷺ چې کله لومړۍ مبارزه شروع کوي، نو د سیاسي جګړې سره مخ کېږي، دښمن يې پوهېده چې که يې په سیاسي ډګر کې مات کړي، بیا نظامي جنګ ته ضرورت نه پېښېږي، ځکه يې نو ورسره سیاسي جګړه ګرمه کړه، په مختلفو شکلونو يې غوښتل چې رسول الله ﷺ له خپلې داعیې څخه په شا کړي، له هرې دروازې ورته راغلل، ډول ډول فشارونه، ګواښونه، بندیزونه، شکنجې او دردونه يې ورکړل، خو چې ونشول بیا يې ورته ډول ډول وړاندیزونه وکړل او په سیاسي میدان کې يې معاملې کولو ته راوباله. لېکن رسول الله ﷺ په ځان او ملګرو ټولې سختۍ ګالي، له مکې نه وشړل شو، طایف کې زخمي شو، احد کې زخمي شو، تره يې حمزه شهید شو، اویا کسه ملګري يې نور شهیدان شول، د بلال رضي الله عنه په شمول يې ګڼ ملګري د ډول ډول تعذیبونو او شکنجو لاندې شول، د احد زخمونه يې لا راټول نه وو چې څلوېښت ورځې وروسته د بنوعامر قبیله خیانت وکړ او اویا کسه قاریان صحابه په ډېره بې رحمۍ شهیدانوي، په داسې حساس حالات کې چې رسول الله ﷺ داسې پوهه او عالمان ملګري او د کار کدري خلک ورسره کم دي خو بیا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library


اويا کسه ترې مخکې شهيدان شول او څلوېښت ورځې وروسته ترې اويا تنه نور شهيدان شول، خو رسول الله ﷺ له خپلې داعيې څخه نه په شا کېږي، تر پايه پر خپل دريځ ولاړ و، په نظامي برخه کې به وروسته بيا هم شکستونه راغلي وي لکه په ابتدا د حنين کې خو رسول ﷺ له خپل دريځ څخه نه په شا کېږي قطعاً نرمي نه کوي.

په همدې به بحث کوو چې سياسي جنګ کوم جنګ دی؟

کوم اړخونه پکې شامل دي او نظامي جګړه کومه جګړه ده؟

کله چې دښمن له مختلفو لارو فشارونو، ګواښونو او وېرانديزونو، تمو درکولو او له مختلفو لارو تا د خپل فکر دريځ او مسير څخه کوږ کړي، نو په دې پوهه شه چې تا په سياسي ميدان کې ماته وخوړه، نظامي جنګ هم د همدې لپاره دی چې تا په سياسي ميدان کې مات کړي او په سياست کې دې د ځان تابع کړي.

تاسې به ليدلي وي چې ډېرې باطلې فرقې به په نظامي جنګ کې مخ ته تللې وي، خو کله يې چې په سياسي ډګر کې ماته خوړلې، نو کفارو هم ورته ميدان خوشې او دوی يې ګټونکي اعلان کړي، د کفارو ظاهري نومونه او شعارونه نه دي په کار چې هله زه بريالی شوم، فاتح شوم هغه شوم او دغه شوم، بلکې هغوی په ډېر هنر او مکر په داسې حال کې چې خپل سياست دربانديې ومني ځان درته مغلوب هم

(c) ketabton.com: The Digital Library


نیسي او تا پورته پورته غورځوي چې هله نو ته د نړۍ فاتح یې حال دا چې کفار خپل هدف ته رسیدلي او ته یې د لاس آله ګرځېدلی یې، لکه ښه مثال یې موجوده نظام دی.

د کفارو اصلي دنده دا ده چې مسلمانان د سیاست څخه لرې وساتي او دا یې تلپاتې صفت دی، دا صفت دوی په هېڅ صورت نه پرېږدي، کله چې دوی سیاسي جنګ وګټي بیا نو تاته په نظامي برخه کې ځان مات هم حسابوي، بیا د ګټې او بایللو کیسه کې نه وي، خو دا درسره هېڅکله نه مني چې ته دې په سیاسي ډګر کې بریالی شې، یانی په سیاست کې دوی شکست نه قبلوي.

نو مجاهدین هم باید په دې برخه کې ماتې ونه مني، خپله مبارزه جاري وساتي، کله کله په مجاهدینو ډېر سخت فشارونه راځي، لارې پرې تړل کیږي، لوږې تندې او بمبارونه، هر ډول وحشتونه او تهدیدونه د همدې لپاره پرې کیږي چې مجاهدین په سیاسي برخه کې له خپل دریځ څخه په شا کړي او یا یې دې ته مجبوره کړي چې یو کفر او طاغوت سره یې مذاکراتو او ناستې ته تیار کړي، باید مجاهدین همداسې ځان کلک عیار کړي، خپل تاریخ، الګو او رهبر رسول الله ﷺ او د هغه صحابه وو ته وګوري چې څومره دردونه او کړاوونه یې وګالل خو په سیاسي ډګر کې یې هېڅ ډول تنازل ونکړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کفارو ته یې هېڅ ډول ماته ونه منله.

## څنګه یو مجاهد پوه شي چې زه سیاسي دید او فکر لرم؟

هر مجاهد باید دا توان ولري چې د سیاست په ډګر کې د کفارو سره مقابله وکړي، د کفارو دا محدودیت او طلسم ورمات کړي چې ګوندې سیاست کول یوازې د هغوی کار دی او همغوی په دې ښه پوهیږي، نو لنډه دا چې مجاهدین باید د سیاست نوم سره خپل کرکه او حساسیت ختم کړي او دې باب سره پوره علاقه پیدا کړي.

**اوس لنډه خبره دا کوو چې ته به څنګه دا اطمینان ترلاسه کړې چې ته د یو سیاسي تحلیل درک لرې او تاته اوس یو سیاستمداره مجاهد ویل کېدای شي.**

**لومړی خبره داده:** چې ته په کوم موجوده حال کې واقع یې همدغه وضعیت تحلیل کړې، د وضعیت په تحلیل موږ اوږد بحث کړی هغې ته نه ورګرځو خو دومره وایم چې ته د موجوده وضعیت په تحلیل کې دا سوچ او فکر به کوې چې منفي او مثبتې خواوې وڅېړې او تحلیل یې کړې چې ستاسې په صف باندې د موجوده حالاتو ګټه څه او زیانونه یې کوم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په بل تعبیر باندې ته معلومات راجمع کوې، څلور طرفه مثبت او منفي اړخونه يې تحليلوې، له دې نقطه نظره يې سنجوې چې د اسلام په سياسي نظام ددې مثبت او منفي حالات تاثيرات څه دي.

يعنې وضعيت دې ارزيابي کړ، مثبت او منفي اثرات دې هم ورته په ډاګه کړل، اوس دا تصور کوې چې حالات که همداسې دوام وکړي او موږ له همدې حالاتو سره سم په ځان، په خپلو پرېکړو، تصاميمو او نقشو کې کوم بدلون رانه ولو، نو راتلونکي کې ددې وضعيت د منفي او مثبتو اړخونو تاثيرات به په موږ او زموږ په نظام څه وي؟

موږ مثبت لور ته روان يو که منفي لور ته؟ مثبت په منفي غالبيږي که منفي په مثبت؟ داسې تصور او بيا تحليل کول تاته ډېر لوی باب پرانيزي، ته که ددې سم تحليل وکولای شې، نو ته يو سياستمداره مجاهد يې.

که ته د حالاتو له تحليل څخه په دې پوهه شوې چې په راتلونکي کې که بدلون ونه لرئ نو تاسې منفي طرف روان ياستئ او که بدلون ولرئ، نو تاسې به مثبت طرف پرمختګ وکړئ، نو همدغه تحليل کول د يو هوښيار سياستمدار نښه ده، بله دا چې د همدې تحليل له امله ته په دې پوهيږې او تشويقيږې چې د بدلون په لټه کې شې هم خپله او هم نور ملګري په دې قانع کوې چې وروره ما وضعيت تحليل

(c) ketabton.com: The Digital Library


کړی که موږ په دې او دې... برخو کې ځان عیار نه کړو نو موږ پرمختګ نه بلکې تنازل کوو او که مو خپلو نقشو، پلانونو او پرېکړو کې دغه او دغه ... بدلونونه ولرل نو موږ به دومره او دومره ... مثبت پرمختګونه وکړو.

همدغه هغه نقطه ده چې د کفارو ترې زړه چوي، سیکولریزم په همدې هڅه کې دی چې مسلمانان او بیا مجاهدین هېڅکله دا فکر او انګېزه پیدا نکړي، ځکه یې سیاست نه دومره متنفره کړي چې هر مسلمان ته د سیاست نوم واخلې نو دستي به دا فکر ورسره مل شي چې یاره سیاست خو بس درواغو ته وايي! سیاست کې کار لرل د کفارو کار دی! زموږ یې له سیاست سره څه! موږ په سیاست څه پوهیږو!

سیکولرانو سیاست همدغسې تشهیر کړی دی، یعنې له سیاست څخه یې هغه چاره جوړه کړې چې خپله پرې منې سپینوي او خوري یې او موږ تاسې ته یې په خبېره رامندي، سیکولریزم همدا فکر خپور کړی چې ستا یې د وضعیت د تحلیل سره څه، خو د وضعیت تحلیل درته موږ کوو کنه ... او ته باید په دې باندې قانع شې چې دین د سیاست څخه جلا کار دی، ته خپل عبادت کوه سیاست به مونږ درته واضح کړو!

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوس نو چې تا وضعیت تحلیل کړ، ټولې خواوې دې ورته وسنجولې، د راتلونکي لپاره دې فکر وکړ، د موجوده وضعیت د تحلیل په رڼا کې دې د اسلام د سیاسي نظام د پرمختګ او شاتګ فکر وکړ، په دې اړه دې علماؤو سره مشورې وکړې،تحقیق او پلټنه دې وکړه او عملي لاس په کار شوې،همدا د سیکولریزم تباهي ده،په همدې د سیکولریزم **ستړه** راوځي، ځکه نو سیکولریزم هېڅکله دا اجازه نه درکوي چې ته دې دا درک او قوت پیدا کړې.

دین یې د سیاست څخه جدا کړی، ظاهري دین یې تاته درپریښی چې بس لمونځونه کوه، روژې نیسه، حج ته ځه، نور سیاست سره کار مه لره، دا هر څه درته موږ کوو، دا دومره اخبارونه او رسنۍ موږ د څه لپاره جوړې کړي، د سیاسي چارو تحلیل او د وضعیت تحلیل به درته موږ کوو، روزمره یا هفته وار یې غواړې، میاشت په میاشت د حالاتو تحلیل درته وړاندې کړو او یا کال په کال، په څه ډول یې چې غواړې موږ یې کوو نو ته خپل عبادت سره کار لره، دا ستا کار نه دی او په همدې یې مسلمانان قانع کړي هم دي،ځکه نو چې د سیکولریزم داعیان ورته وایي فیل والوت، دوی هم وایي فیل والوت، نور نو ړانده دي دا درک او تحلیل ورسره نشته چې آیا رښتیا هم فیل الوزي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ګاډۍ د آسونو غوندې يې ورته د دواړو سترګو اړخونو ته پردې اچولي، چې نور هغه او دېخوا ونه ګوري، کوم مسير چې سيکولريزم ورښودلی په همغې نبغ لاړ شي.

تاسې به غرب پلوه سياسي کارپوهان هم ليدلي وي چې ځانونه مسلمانان ګڼي خو د غرب له ليدلوري هر څه ګوري، د دوی د تحليل سرچينه هم د غرب مردار ډنډونه دي.

مخکې موږ وويل چې کله ته د تحليل ځواک ونه لرې ذهن به دې تش وي او مجبور يې همدې د غرب تحليل ته پنا ورورې.

موږ سره په فقه کې يوه قاعده ده چې که چېرته يو خوا د سنګر علماء وي او بل طرف په کور ناست علماء وي، نو که ته فتوه اخلې د سنګر د عالم څخه به يې اخلې، ځکه هغه عملاً په ميدان کې ولاړ دی، الله تعالی ورته دا عزت او همت ورکړی چې اوضاع يې تحليل کړې ده، سياسي بصيرت لري ځکه يې نو د سنګر غېږه غوره کړې ده، ددې بل چې علمي مستوي هرڅومره لوړه وي خو دا ترجيح د سنګر عالم ته الله ﷻ ورکړې، دا عزت د سنګر عالم سره دی چې بايد له همغه فتوی واخيستل شي او له همغه وپوښتل شي چې حالت او وضعيت درته تحليل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**دویمه خبره داده:** چې تا د وضعیت هر اړخیز تحلیل وکړ، منفي او مثبت اړخونه دې ورته هم وسنجول، اوس یې نو د حل په لارو فکر په کار دی چې د موجوده ستونزو د ختمولو لپاره څه په کار دي؟

د حل لارې یې څه دي؟ ټولې پایلې باید په ډاګه کړې.

مخکې موږ خبره وکړه چې که ته د ستونزو څخه د وتلو لارې سنجوې نو یوه لاره به نه ګورې، د ستونزو څخه د وتلو څو لارې به پیدا او غوره کوې، که چېرته یوه لاره دربانديې بنده شوه چې په بله ووځې همدغسې که تا وضعیت تحلیل کړ او ستونزې دې هم درک کړې نو اوس له دې حالاتو او ستونزو څخه د وتلو څو حل لارې هم ورته انتخاب کړه.

ډېر فکر به په دې کوې چې کومې حل لارې ته انتخابوې دا باید د تیر (ماضي) په څېر نه وي، دا باید په نویو تجربو بنا وي، نوې حل لارې وي مطلب افشا شوې او مشکوکې نه وي.

**وروره!**

د اسلام د سیاسي نظام د پرمختګ او لاسته راوړنو لپاره داسې یوه جمله یا لیکل په کتابونو یا انټرنېټ یا نورو سرچینو کې ته نشې موندلای چې ته یې راواخلې او دغه اړونده برخه کې ترې نقده استفاده وکړې،کېدای شي ځینې خبرې به وي،خو ته باید د یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاستمداره او ځیرکه مجاهد په حیث له مختلفو سرچینو او تجربو څخه یو یو ټکی راواخلي ټولې وارزوې، سره یوه ځای یې کړې او یو ښه مواد او د حل لارو هدایات ترې راوباسي.

مخکنۍ خبره درته اوس یو ځل بیا په بل تعبیر کوو،یعنې د مجاهدینو او د اسلام د سیاسي نظام د پرمختګ لپاره تاته څوک نه وایي چې دا او دا کارونه وکړه ته به پرمختګ وکړې، له موجوده ستونزو به خلاص شې، دا نقشه او دا طرحه عملي کړه نو کامیاب به شې، نه داسې نه کیږي! بلکې ته خپله باید دا وړتیا او ځیرکتیا ولرې چې خپله به یوه یوه خبره، یوه یوه جمله را اخلې او یوې یوې قاعدې پسې به ګرځې هغه به را پیدا کوې، سره ښکنګ په ښکنګ به یې ږدې او یوه ډیره ښه طرحه او د حل لاره به ترې جوړوې.

مثال لکه په یو ډک دسترخوان ناست یې له څو کونجونو یې مختلفو شیانو څخه یوه مړۍ جوړوې او هغه مجاهدینو ته وړاندې کوې چې هغوی یې وخوري.

ستا وظیفه همدغه ده چې د مجاهدینو د کامیابۍ او د اسلام سیاسي نظام د پرمختګ لپاره مختلفو نقطو پسې وګرځې، راپیدا یې کړې او ویې سنجوې، بیا یې په نقشه کې عملي کړې او دا کار ته هله کولای شې چې ښه بډایه معلومات ولرې او دا له مختلفو اړخونو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ترلاسه او بیا یې تفسیر کړې یعنې له څو طرفونو څخه د معلوماتو کتنه او ارزونه وکړې.

مخکې مو وویل چې د سیکولریزم سره مبارزه یوازې همدا موږ تاسې ته راپاتې ده، نو د سیکولریزم حامیان څومره هڅه کوي، شپه او ورځ په همدې کوښښ کې دي چې معلومات راټول کړي، مستشرقین آن د مسلمانانو کتابونه لولي، اسلام مطالعه کوي، ځان پرې پوهوي او بیا یې په بل ډول او بل تعبیر همدغه اسلامي احکام په تحریف شوې بڼه مسلمانې ټولنې ته وړاندې کوي، خو بالعکس موږ او تاسې خوبونه کوو، حال دا چې په کار ده موږ هم همداسې خپل هر اړخیزه هڅه جاري وساتو مطالعه،هر اړخیز معلومات راټولولو،د سیکولریزم په اهدافو او اساساتو ځانونه پوهول، د مبارزې او پرې د رد لپاره مواد او دلایل درلودل لازمي دي نو باید دا مسئله نوره درک کړو.

دلته دې خبرې ته هم متوجه اوسه چې د یو ښه سیاستمدار په حیث د علت او معلول ترمنځ رابطه پیدا کړه، همېشه یو کار چې کېږي نو علت لري او د هر علت لپاره یو معلول شته، نو ته همدا رابطه پیدا کوې، ولې دا کار وشو؟ ولې دا کار وشي؟ نو که همدغه رابطه تا پیدا کړه همدا ستا د کامیابۍ کیلي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هر اقدام او کار چې کيږي او ته دا تحليل کوې، نو هڅه وکړه چې په همدې تحليل کې علت او معلول ډېر ښه تشرېح کړې چې دا بيا ستا مجاهدينو ملګرو ته هم قناعت بخشه او په زړه پورې ګرځي او په ډېر شوق او علاقه خپل کار مخ ته وړي،مثلاً زه او ته قتال کوو، ولې؟ ځکه چې د الله ﷻ نظام حاکموو، اوس چې تا د قتال د علت او معلول ترمنځ ربط په ډاګه او دغه توان دې پيدا کړ چې د علت او معلول ترمنځ اړيکې تشرېح او وڅېړې، ارزيابي يې کړې، نو ته بيا په ډېره ښه توګه کولای شې چې خپلو ستونزو ته حل لاره پيدا کړې او پرمختګ وکړې.

دا بايد ارزيابي، تحليل او مجاهدينو ته يې تشرېح کړو چې زموږ او ستاسې د علت او معلول ترمنځ دغه اړيکه ده، همدا تشرېح د مجاهدينو د تشويق او ترغيب باعث هم کيږي او ددې تر څنګ يو فکر اخلي، د خپل کار ارزښت ورته معلوميږي او بيا په ډېره ښه انګېزه خپل کار مخ ته وړي.

**درېمه خبره داده:** چې که ته غواړې يوه تکړه، بابصيرته سياستمداره مجاهد واوسېږې، سيکولريزم اوسيکولر سياستمدارانو سره مقابله وکړې، نو ستا همدا درس او همدا وظيفه ده ورروه چې خپله لاس په کار شې، معلومات راټول او تفسير کړې، وضعيت تحليل بيا د تصميم

(c) ketabton.com: The Digital Library


او د حل لارو ، د پرمختتګونو او مثبت بدلون په اړه په طرحو او سوڅو فکر وکړي.

سیکولر سیاستمدارانو ته خو زمینه مساعده ده هغوی په هره برخه کې هر څه ته لاس رسی لري، په دې برخو کې مسلکي زده کړې کوي، خو زه او ته باید مایوسه نشو، زه او ته له هغوی په هر څه کې خه ورتیا لرو، لکه څنګه مو چې په نظامي برخه کې د الله ﷻ په مرسته د هغوی دغه معاصرې ټکنالوژۍ ته په خپلو ماتو ګوډو وسایلو ماتې ورکړې، نو دغسې په فکري او د سیاست په برخه کې هم د الله ﷻ په مرسته ماتې ورکولای شو.

او همدا درسونه دي چې تاسې ته یو فکر او انګېزه درکوي، تاسې دې ته مجبوروي چې تحقیق او مطالعه وکړئ، په دې برخه کې دلچسپي پیدا کړئ، همدغه مسائل چې درته بیانیږي ښه سوچ او فکر پکې وکړئ او ښه په شوق یې وڅېړئ، ځکه چې زما او ستا اوس د ټولې نړۍ سره په دې برخه کې مقابله ده.

په سیاست کې یوه قاعده ده وایي کوم شیان چې له تا څخه لرې دي، نو لرې شیان د نېږدې دید او زاویې څخه وګوره او دا کوم شیان چې درسره نیږدې دي دا د لرې دید او زاویې څخه وګوره، دا قاعده د وضعیت په تحلیل ډېره مثبته اغېزه پرې باسي، که چېرته ته وضعیت

(c) ketabton.com: The Digital Library


تحلیل کوې یا یوه داسې موضوع تحلیل کوې چې تاته ډېره نیږدې ده، ستا د سترګو او کنټرول لاندې ده، نو دېته ته په ټیټه سترګه مه ګوره، له همدې نیږدې لید لوري ښځه ورته نظر مه کوه چې یاره بس دا زما د نظر لاندې ده مشکل نشته، نه! بلکې دا باید له ډېر لرې ښځه وڅارې، یعنې د اسلام د سیاسي نظام په داخلي نظم کې به ډېر له لرې ښځه ورته فکر او سوچ کوې، کوم چې تاته نیږدې مسائل دی له لرې زاویو به ورته ګورې او کومه چې لرې ده هغه نیږدې وګورې، په بل تعبیر ته خپل لرې راتلونکي ته په ډېر نیږدې نظر وګورې او داسې احساس به کړې چې زه کال وروسته دغه هدف ته رسېږم، نو دا کال لرې نه دېته همدا اوس کار په کار دی، ډېر نیږدې دی، په ډېره عجله او تېزۍ ورته کار په کار دی، بس دا سوچ به نه کوې چې دوه یا درې کاله منځ کې شته هغه وخت به ورسره ګورو، نه! دې هر څه ته به ډېر له نیږدې ښځه کتنه کوې او برعکس کومه چې نیږدې مسئله ده دا به له ډېر لرې ښځه ګورې، دې ته به فکر کوې چې زما دا اوسنی کار په لرې راتلونکي کې کوم اغېز لري؟ اوس چې دا زما نیږدې کار زه په درست شکل ترسره کړم نو په لرې راتلونکي وخت کې زما ددې ښه کار نتیجه به څه وي؟ ستا ډېر نیږدې کار یا یوه موضوع چې همدا اوس کار غواړي خو نتیجه یې اوس نه وي نتیجه

(c) ketabton.com: The Digital Library


يې لرې وي، نو ته به يې هغه لرې نتيجه سنجوې چې دا کار که اوس په درست شکل وکړم نو لرې نتيجه يې دومره اثر او اغيز درلوداى شي.
دغه قاعده چې تا مراعات کړه نو ته يو ښه سياستمدار يې، يعني چې فعلي وضعيت له لرې وګورې او لرې وضعيت ته له نېږدې څخه کتنه وکړې او هم ورته متوجه اوسې.

**څلورمه خبره داده:** چې د اسلام په سياسي نظام کې ته هغه وخت يو ښه سياستمداره شمېرل کېږې چې د خپلو کارونو په اولويت بندۍ باندې ځان په درست شکل پوه کړې، يعني پدې ځان پوه کړې چې د کارونو تقسيم بندي څنګه وکړې، کوم کار بايد لومړيتوب ولري، وروسته کوم کار کول اړين دي، په دې مسائلو بايد ستا سر پوره خلاص شي.

دا خبره اوس ټول کوي چې د کارونو په لومړيتوب ځان پوه کړو، خو څنګه په دې پوه شو چې کوم کار ته لومړيتوب ورکړو؟ نو مجاهده وروره د اسلام په سياسي نظام کې د کارونو اولويت بندي د خلکو او رعيت د شرعي تقاضاو او ضرورتونو په اساس کيږي، له تا څخه اول کومه د شريعت موافق غوښتنه لري؟ رعيت په اوس وخت کې اول کوم کار ته ډېر ضرورت لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


موږ سره د کارونو د اولویت بندۍ اساس همدا د امت تقاضا ده، د مسلمانانو ضرورتونه سنجش کړېږي چې د دوی ستونزې کومې دي او د دې ستونزو ختمولو د ضرورتونو پوره کولو لپاره لومړی باید کوم کارونه وشي.

او دا په هره برخه کې په کار ده که هغه نظامي برخه ده، که دعوتي، اقتصادي، اعلامي او یا نورې برخې دي، هر ملګری باید همدا سوچ وکړي چې موږ د اسلامي امت کومې غوښتنې ورپوره کړو؟ اوس د خلکو څه ته ضرورت دی؟ که ته د وضعیت تحلیل وکړې نو ته بیا ډېر په آسانه هغه کارونه چې اولویت ولري معلومولی شې.

**پنځمه خبره دا ده:** چې ځینې خلک د ځینو کارونو لېست لري چې زه باید دا... دا... کارونه وکړم، راځه ته یو داسې لېست هم ولره چې زه باید دا... او دا ... کارونه ونکړم، یعنې د کولو کار خو خلک لېست کوي نو ته د ځینو نه کولو کار هم لېست کړه.

که غواړې چې غټو تېروتنو کې واقع نشې او ځینې نیمګړتیاوې ستا د کارونو مانع نشي نو ته باید دا هر څه تحلیل او دا ټول لېست کړې، ډېر خلک داسې دي چې لومړی یې دا دعوه وي چې د اسلام د سیاسي نظام لپاره کار کوم خو سبا یې ګورې چې کفارو سره یې اړیکې جوړې، په سل فحشا او بې لارۍ یې سر وي، وجه داده چې هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه د نه کولو کارونه ځانته نه دي لېست کړي، اوس يې د اسلام نوم بد کړی.

نو موږ بايد د يو مجاهد په حيث داسې لېست ولرو چې دا کارونه بيخي ونکړو، لکه کفارو سره نرمي، هغوی سره مذاکرات، د هغوی په منځ کې نفوذي کار، نور اړوند کارونه لکه بې اطاعتي، پټ کاري، بې صبري، درواغ، ګناه کبيره يا نور... چې دا خپله ستا د بې لارۍ او غولونې سبب ګرځي.

يو ساعت ځان سره بحث وکړه، تاته خپل ضعف او خپل د نه کولو کارونه خه معلوميږي، بس دا ټول ځان سره نوټ کړه او دا ټول کارونه په ډاګه کړه بيا يې ځان سره وليکه، نو ته به خپله پوه شې چې تا تر اوسه څومره د نه کولو کارونه کول.

دا خبره درسره د زړه په سر وليکه چې د نورو هغه کارونو تر څنګ چې بايد ونشي يو تر ټولو تاواني کار يې بې اطاعتي ده، نو دا ځان سره نوټ کړه چې په هيڅ صورت به بې اطاعتي نه کوم، هر کله چې مجاهدينو او د اسلام سياسي نظام ګوزار خوړلی نو له بې اطاعتۍ څخه يې خوړلی دی، کله موږ په ځان وويريږو چې يا الله چيرته له موږ څخه د مشرانو بې اطاعتي نه وي شوې، دا خو ډېره غټه مسئله ده، د جاهليت مرګ دی، يعني سترې هم يې او ګناهګار هم يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دا ډېره ستره غلطي او ګناه ده چې تکراراً درته مشران وايي چې بې اطاعتي مه کوئ خو بيا هم ځينې ملګري په کې واقع وي چې دده دا بې اطاعتي يوازې ده ته نه، بلکې ډېرو نورو ملګرو او نظام ته ستر زيانونه اړوي.

د اسلامي خلافت شهيد شوي خليفه ابوبکر البغدادی تقبله الله هم دا خبره کړې وه چې (**أخرجوا مِن صفوفکم مَن يجاهر بمعصية**) له صفونو څخه مو هغه خلک وشړئ چې علني ګناه کوي، دا د اسلامي خلافت منهج دی، کوږوالی نه مني، دا بې اطاعتي هم همداسې يوه علني ګناه ده، چې تکراراً ورته متوجه شوی يې خو بيا هم درڅخه کيږي، نو ځان ترې ساتل په کار دي.

## بې اطاعته وروره!

د نفس له بندګۍ څخه د الله ﷻ بندګۍ ته راوګرځه د نفس د بندګۍ غوښتنه بې اطاعتي او د الله د بندګۍ غوښتنه اطاعت دی.

نو لنډه دا چې هغه کارونه د بې اطاعتۍ په شمول چې په سياسي نظام کې د شکست لامل کيږي بايد لېست شي او په کلکه يې له کولو ډډه وشي، زموږ رهبر محمد ﷺ چې په سياسي نظام کې شکست نه دی منلی، موږ يې امتيان يو موږ يې هم بايد په هېڅ صورت ونه منو، ټوټه ټوټه دې شو خو دا کارونه بايد ونه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ددې پورته بحث خلاصه داده چې د یو سیاستمداره مجاهد په توګه باید تل له ځان څخه دا پوښتنه ولرې چې ته فی الحال په کوم کار کې واقع یې او کوم کار کوې؟ نو ددې کار نتیجه او ګټه نورو مجاهدینو ته څه ده؟ زما ددې کار په پایله کې به د اسلام سیاسي نظام څومره پرمختګ وکړي؟

نو همدا پوښتنه له ځانه تکرار کړه چې ستا دا کار د مجاهدینو اهدافو ته د رسیدو په برخه کې د سهولت او آسانۍ باعث کیږي که نه؟

چې ارزونه دې وکړه او جواب دې مثبت و نو بیا ټینګ اوسه سستي مه کوه بیا نو ترمرګه کار وکړه، متې رابډ وهه ښه په اخلاص خپل کار مخ ته یوسه.

ځکه چې کوم کار ته کوې نو تاته یې ګټه معلومه شوه، نو بیا ولې غفلت او سستي وشي، بیا نو ځان پُل کړه چې مجاهدین دربانديې تېر شي او خپل هدف ته ورسیږي، دا خو ډېره لویه د سعادت خبره ده چې ستا د کارونو په نتیجه کې مجاهدین په آسانۍ سره خپلو اهدافو ته ورسیږي، نو دا باید تل یو تکړه او سیاستمداره مجاهد انګېزه وي.

کله چې ته په دې وپوهېدې چې ستا په کارونو مجاهدینو ته سهولت راځي، ګټه ترلاسه کوي او ته بیا هم کارونه په نیمایي کې خوشې کوې او یا یې په ډېر مات زړه او سستۍ سره ګډوډ کوې، نو دا خو

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا ډېره ناځواني ده دا خو بیا خیانت کې وشمېرل شو چې ته ښه په دې پوهیږې چې ستا کارونه مجاهدینو ته دغه.. او دغه .. ګټه لري خو بیا یې هم نه کوې، نو ته خو بیا په خپله دعوه کې دروغجن یې.

## د ښه سیاستمدار اوصاف

**لومړی صفت:** دا دی چې باید په خپلو اعصابو کنټرول ولري.

د اسلام په سیاسي نظام کې د یو ښه سیاستمداره غوره صفت همدا دی چې د حالاتو او وضعیت سره په سړه سینه او په آرامو اعصابو برخورد وکړي، د اسلام د سیاسي نظام د پرمختګ لپاره دا لازمي ده، که په اعصاب خرابۍ کې مو هره پرېکړه وکړه نو هغه به ستاسې او د نظام په تاوان وي.

که ته اعصاب کنټرول کې ونه لرې نو مخکې چې موږ په کومو موضوعاتو خبرې وکړې لکه د معلوماتو راجمع کول، تفسیرول، د وضعیت تحلیلول، تصمیم ګیري، پلان جوړونه، سوچ او اقدام ... او داسې نور ټول مراحل هسې عبث لاړل ته بیا په خرابو اعصابو دا یوه مرحله هم په درست شکل نه شې طی کولای دا نو یو غیر ارادي او غیر ارزول شوې پرېکړه او تصمیم به وي چې ته یې بیا نیسې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو لومړی کار به د اسلام د سياسي نظام په تطبيق کې دا وي چې اعصاب کنټرول کې وساتو دا يو ډېر لوړ صفت دی، کوم خلک چې دا صفت نه لري نو هغوی اکثره له تاوان او زيان سره هم ځان مخ کوي هم خپل نظام او ملګري، ځوک به ورته يو خبر راوړي نو دا يې په ځای ددې چې دروغ او رښتيا يې معلوم کړي، خپله اطلاعات او معلومات ترلاسه کړي بيا يې تحليل کړي او تصميم ونيسي، نو پرته له دې هر څه سمدستي احساساتي عکس العمل ښايي او پرېکړه کوي چې د داسې پرېکړو پايله اکثره زيان او پښېمانتيا ده، که دې اعصاب د بل چا په کنټرول کې وي نو بيا به په دې خاطر چې ته دې له اعصابو په درست شکل کار وانخلې او د پرېکړې ځواک ونه لرې، يا به دې په مختلفو خبرو غمجن، خفه او يا به درته په اعصابو کې نوره خرابي پيدا کړي، خو که ته په دې برخه کې سنجيده يې او په آرام زړه هره خبره چې درته راځي سمدستي اقدام ونه کړې معلومات راواخلې تحليل يې کړې او په سړو دماغو سوچ وکړې، نو ته به ګټونکی يې ان شاء الله.

دا هغه صفت دی چې له ډېرو خلکو زايله شوی او يا ترې هېر دی.

نو موږ ته په کار ده چې د يو ښه سياستمداره په حيث خپل دماغ کنټرول کې وساتو، نن سبا ساينس او طبابت پرمختګ کړی او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library


خبره يې واضحه کړې چې د انسان په ذهن کې څه د پاسه سل ميليارده سلول دي.

سل ميليارده دريځې (کړکۍ) او يا د ذخيرې ځايونه دي، چې په دې کې معلومات او اطلاعات راټول او ځای کېږي، نو چې دومره قدرت زموږ دماغ لري، نو الله ﷻ دا قدرت هم زموږ دماغو ته ورکړی چې څومره معلومات چې ستا په ذهن کې داخل شوي يا راداخلېږي په يوه ثانيه کې ستا په خدمت کې دروړاندې کړي.

الله ﷻ دومره قوي دماغ او اعصاب موږ ته په اختيار کې راکړي نو بايد خپل حواس راکنټرول کړو، ځکه که کله يوه خبره اورې نو اوتومات شکل سره يا خوشحالي کوې، يا خفه کيږې، يا مثبت يا منفي اغيز دربانديې کوي، ځکه الله ﷻ ستا ذهن ته همدومره قوت ورکړی چې هر ډول خبره ورته راشي په ډېر کم وخت کې يې تجزيه کوي او د دماغو په سلولونو کې ځای په ځای کيږي او چې کله دې ورته ضرورت شو تاته يې وړاندې کوي.

نو خپل دا قيمتي ذهن وپيژنه، کنټرول يې کړه او د اسلام په ګټه يې استعمال کړه، لمړنۍ صفت د يو ښه سياستمدار همدا دی چې خپل ځان بايد کنټرول کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


يو څوک چې خپل ځان نشي کنټرولولای نو څنګه به يو نظام کنټرول کړای شي؟

هر مجاهد بايد خپل فکر احساسات، غصه او نور په ډؤل ډؤل حالاتو کنټرول وساتي او هر څه ددې په اختيار کې بايد وي.

اعصاب خرابي د اسلام د سياسي نظام په تطبيق کې مناسبه نه ده، له دې خبرې چې خپل دماغ په خپل کنټرول کې وساته زما هدف دادی چې ستا دماغ بايد ستا په واک کې وي نه د بل چا د اغيزې لاندې، مثلاً بل کس ستا د دماغو کنټرول په داسې شکل اخلي چې ستا دماغ د خپل ځان په ګټه په پرېکړو مجبوروي، يوه خبره درته وکړي پرته له دې چې سوچ او پوره ارزونه يې وکړې بيخي زر عکس العمل ښايې نو د دې مانا همدا ده چې تا د خپلو اعصابو کنټرول بل چاته په لاس کې ورکړی دی، بل کس دی چې غواړي تا خوشحاله، خفه، پرېشانه او يا مصروف کړي نو دا داسې شو چې ستا د اعصابو کنټرول د بل چا په لاس کې دی.

**نو!** دا صفت ځان کې پيدا کړه چې د خپلو اعصابو کنټرول بايد په خپل لاس کې ولرې که داسې شوه نو بيا ډېر ښه پلانونه نيولی او په آزاد شکل د خپل پرمختګ لپاره ښه برنامې مطرح کولای شې.

**ولې دخپلو اعصابو کنټرول له لاسه ورکوو؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځينې وخت موږ له خپلو کارونو څخه د خپلې تمې او توقع موافق ګټه ترلاسه نکړو نو دغه وخت موږ خپل اعصاب له لاسه ورکوو، دا يو طبيعي حالت دی، په داسې حالاتو کې هم اعصاب له کنټروله وځي، نو ته بايد پوه شې چې ته د اسلام د سياسي نظام د يو سياستمدار په حيث ددغه طبيعي پېښو په مقابل کې د اعصابو خرابېدو په وړاندې هم مبارزه وکړې، ته بايد دا حوصله او زغم ولرې چې که ستا د کارونو نتيجه ستا د توقع خلاف وه، يا په نورو مواردو کې تاته خبرې راشي او ته يې په زغم او درک کې خپل دماغ کنټرول کې وساتې نو ته به يو کامیابه سياستمداره وې.

اعصاب بايد په هېڅ حال کې له لاسه ورنکړې، ولې مو دا صفت د سياستمدارۍ سره وصل کړ،د اسلام په سياسي نظام کې د يو سياستمداره شخص دې موضوع سره ربط څه شی دی؟

ربط يې دادی چې دا يو طبيعي حالات دی چې د يو کار څخه ستا د خوښې نتيجه لاس ته رانشي يا کار کې تاسې د ناکامۍ سره مخ شئ، نو يو خو سمه نتيجه دې لاس ته رانغله، کار هم ناکامه شو، د اعصابو کنټرول دې هم له لاسه ورکړی، نو په دې حالاتو کې به وضعيت څنګه تحليل او حالات به څنګه کنټرول کړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته باید په خپل نفس اعتماد ولرې، خپل احساسات او حالات کنټرول کې وساتې ترڅو د حالاتو د ښه والي په اړه لاس په کار شې.

بل دا چې ځینې وخت ته د خطر او بحران سره مخ کیږې، نو مخکې د مشکل له راتللو چې ته بیا حالات کنټرول کي وساتې نو لازمه ده چې سر له همدا اوس ځخه په خپل ځان کنټرول وساتئ او خپل اعصاب په خپل قابو کې ولرئ.

**مثال:** له تا ځخه فتوا طلب کیږي خو ته په قهر او غصه کې یې ځنګه چې لازمه ده دغه وخت هغسې فتوا نشې ورکولای، نو شریعت وایي ته دغه وخت ځان یو ځل آرام کړه، ځان کنټرول کړه او که دغه حال کې دې فتوا ورکړه نو هغه د منلو وړ نه ده.

همدغسې که ته په بحراني حالاتو او ستونزو کې خپل د اعصابو کنټرول له لاسه ورکړې او بیا په همدغسې ګډوډ حالاتو کې پریکړه کوې نو هم شرعاً مناسبه نه ده او هم به یې پایلې سمې نه وي، ځکه تا چې کوم حالت کې پریکړه کړې دا حال ستا په کنټرول کې نه و، ستا سوچ او فکر په ځای نه و، ته یو ځل اعصاب آرام او کنټرول کړه بیا پریکړه وکړه، بیا به دې پریکړه د منلو وړ وي.

کله چې ته د اعصابو کنټرول له لاسه ورکړې، په غصه او احساساتو کې یې، دغه وخت شریعت تاته وایي که ولاړ یې کینه، بهتر او قوي

(c) ketabton.com: The Digital Library


زمرى همغه دى چې خپله غصه کنټرول کړي نو د حالاتو او بحران د کنټرول په موخه باید ته په ځان کنټرول ولرې.

**دويم صفت:** هر مجاهد باید تل خطرونو ته متوجه اوسي،اوس یو اتفاقات(تصادف) دى او بل خطرات دي، ددې دواړو ترمنځ توپیر دى. تصادف اصلاً ته په ډاګه کولای نشې او نه یې درک کولای شې اما خطرات احتمالي ګڼې چې کېدای شې داسې یو مشکل رامنځ ته شي، تاسو باید دا فکر ولرئ چې میاشت یا کال وروسته بدترین حالات او خطرات چې په موږ راځي هغه به کوم حالت وي.

سخترین او د ستونزو څخه ډک حالات چې په مجاهدینو راځي دا به په کومه برخه کې وي دعوتي، اعلامي، نظامي کومه برخه کې به وي؟ که نظامي وي نو کومه نظامي برخه به دې مشکل سره مخ کیږي؟

نو ته چې د اسلام د سیاسي نظام د یو ښه سیاستمدار په توګه د اسلام د سیاسي نظام په تطبیق کې د خپلې ادارې اړوند حالات وارزوې، تحلیل یې کړې، سوچ او فکر وکړې، د آینده حالاتو ارزونه وکړې، نو ته بیا په دې پوهېږې چې هغه خطرات او ستونزې درک کړې چې تاسې ورسره آینده کې مخ کیږئ، نو هڅه وکړه چې دغه ستونزو سره د مقابلې توانایي سر له اوسه پیدا کړې او سر له اوسه تیارى ولرې، کوم مجاهدین چې ددې خطراتو طرف روان وي، هغوى

(c) ketabton.com: The Digital Library


پوه او راستانه یې کړې، پریکړه، پلان، کار او فعالیتونو کې که بدلون لازمي وي نو بدلون راولې او د راتلونکو ستونزو او خطراتو څخه د مخنیوي او یا ورڅخه د بچ کېدو حل لاره ومومئ.

**درېیم صفت:** هر وخت دا امکان شته چې تاسو د ستونزو سره مخ شئ، ځکه مونږ هغه څه غواړو چې د نړۍ ټول کافر یې راسره نه مني، مجاهدین به تل د ستونزو سره لاس او ګریوان وي، دښمن به تل موږ ته ستونزې جوړوي او خنډونه به ایجادوي، نو د هر مشکل د حل لپاره به بې فکره او بې سوچه اقدام نه کوې، داسې فکر وکړه چې ته په ستونزو کې واقع نه یې، یو بل ملګرى دې واقع دى او له تا د حل لاره غواړي مطلب داسې تصور مه کوه چې ته خطر سره مخ یې، بلکې بل ملګري ته د حل لارې ښایې.

نو دا خبره په دې خاطر کوو چې ته خپل فکر فارغه کړې مطلب خپل نفس او دماغ له دې مشکل څخه بهر وګڼې،کله چې ته داسې احساس ولرې نو ستا دماغ به بوج او فشار لاندې نه وي او ښه پریکړه به وکولاى شې.

دا تفکر او فکره باید د اسلام د سیاسي نظام د یو سیاستمداره په توګه تل ځان سره ولرې، دا تصور مه کوه چې ته خپله مشکل کې یې بلکې بل چاته د حل لار ښایې نو ته به مطمین یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


او د هر مشکل څخه باید ته یوه تجربه ځانته ولیکې چې ترېنه په آینده کې عبرت واخلې، همداسې تل به ته هر اړخیز او لوی فکر به کوې دا باید ستاسې تلپاتې صفت وي.

د هر څه لپاره چې ته سوچ کوې نو هر اړخیزه لوی او وسیع سوچ به کوې، صرف د ځان، وطن او کلي فکر نه، بلکې لوی فکر او د ټولې نړۍ او د ټول اسلامي امت سوچ به کوې، همدا سوچ به ستا د چستۍ او بېدارۍ سبب کیږي همدا سوچ بیا تا سستۍ ته نه پرېږدي، ته چې سوچ او فکر کوې نو الله ﷻ درسره حامخا بیا مرسته کوي.

او دا هر څه به په سړو دماغو کوې ځکه بدون د سکوت څخه ته بیا دایمي تفکر نشې کولای، که د شور او جذباتي کېدلو عیب ستا په وجود کې پیدا شو نو بیا درڅخه په آرام زړه د تفکر صفت له منځه ځي، نو که هر څومره ستونزې په تا راځي ته به سکوت کوې، غلی به اوسې شور به نه جوړوې، په آرامو او سړو دماغو به ستونزو ته د حل لار راوباسې.

**څلورم صفت:** هر مجاهد باید د زړورتیا صفت ولري، باید له ستونزو او اتفاقیاتو څخه ونه ډار شي او ورسره د مقابلې همت ولري.

یو قوي مؤمن دی یو کمزوری، نو ته په کوم معیار دا تشخیص کولای شې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


قوي کس هغه دی چې د ستونزو په وړاندې ثبات ، زغم او استقامت
لري د مبارزې او مقابلې توان ورسره له لاسه نه ورکوي او کمزوری
یې بیا برعکس دی.

مطلب په تنه او وجود چې یو څوک قوي او باډې یې غټه وي خو نور
صبر، شجاعت استقامت او د مبارزې توانایي او همت نه لري نو دا
کمزوری مؤمن دی، متل دی وایي: یک کیلو باش خو مرد باش.

باید چې زموږ هر مجاهد یو خه زړور او سیاستمداره مجاهد جوړ
شي، له ستونزو تېښته ونه کړي بلکې د مقابلې لپاره یې لاس په کار
او په وړاندې یې ثبات او استقامت ولري.

خو کله چې په تا ستونزې راغلې او کار دې ودراوه او زړه دې مات
شو چېرته کېناستې نو ته بیا یو کمزوری او بزدله انسان یې.

ویره طبیعي ده راځي خو د شجاعت مانا داده چې له وېرې سره په
داسې حالاتو کې ته خپله وېره کنټرول کړې چې بیخي دې حوصله
او زغم په ځای وي، د پریکړې ځواک له لاسه ورنه کړې د کار کولو
همت ونه بایلې د مقابلې او مبارزې اراده دې لا پیاوړې شي همدا
شجاعت دی، که دغه وېره ددې باعث شو چې ته کار پرېږدې، نو ته
بیا بزدله یې نو باید ډار په تا حاکم نشي او نه ورته کارونه پرېږدې،
مبارزه او استقامت به کوې ترڅو په ډار او وېره ته برلاسی شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د حالاتو مقابله به کوي، کوم مشکل يا خطر وي ځای به تغييروي نور امنيتي تدابير به نيسي خو بېرته به زر د کار زمينه ځانته برابروي ، داسې به نه وايي چې يره بهانه په لاس راغله راځه اميران دې هم خبر ديچې مشکل کې يې ، نه وروره خپل ځان او حالات درته معلوم دي، چې لږ هڅه دې وکړه ډېر زر بېرته ځانته د کار ترتيب برابرولی شې نو ځان به غلی نه نيسې، بلکې بېرته به کار پيلوې.

که داسې وکړې نو ته يو با تدبيره سياستمدار او يو ځيرکه مجاهد يې، **يعنې د سختو حالاتو مقابله په سختو فعاليتونو، زياته هڅه، سخت ثبات او قوي استقامت باندې کيږي.**

د يو کس شجاعت خو په يوه آله نه معلوميږي دا په همدې جريان د کار او د ستونزو سره د مقابلې او يا تېښتې په پايله کې معلوموو.

دغه اوصاف ځکه بيانوو چې دا زموږ تربيتي دوره ده بايد چې د سختيو په وړاندې د مقابلې لپاره دا اوصاف خپل کړو.

**پنځم صفت:** د اسلام د سياسي نظام د پرمختګ لپاره د يو ښه سياستمداره مجاهد په حيث چې بل صفت بايد موږ ولرو هغه صداقت (رښتينولي) ده.

صداقت هم همداسې د سياست په باب کې د استعمال لپاره ځانته ځای او مطلب لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


لومړی چې کوم مسؤلیت او وظیفه تاته سپارل کیږي نو په لومړیو کې ښه سوچ او فکر وکړه چې دا ته کولای شې او په ښه توګه یې سر ته رسولای شې که نه؟

او که بیا یې نشې کولای نو دلته به د **صداقت** څخه کار اخلې او خپلې مرجعې او امراؤ ته به رابطه کوې ورته به وایې چې وروره ددغه مسؤلیت تقاضاوې او غوښتنې زیاتې دي، ددې کار ترسره کول زما له وړتیا پورته دي، زه دروغ نشم ویلای، دوکه نه کوم چې هسې په خطا سره خلک تېر باسم، مطلب دغه کار په درست شکل نشم ترسره کولای او زه ددې مسؤلیت حق نشم اداء کولای.

د اسلام په سیاسي نظام کې صداقت همدې ته وایې چې کوم مسؤلیت نشې کولای صفا خبره وکړې او یا یې کولای شې نو بیا ناغیړي او سستي ونه کړې او په عمل کې خپل صداقت وښایې چې ته کار ترسره کولای شې.

کوم مسؤلیت درکول شوی، ددغه مسؤلیت چې کومې تقاضاوې دي، دا په ښه توګه پوره کړې او لاس ته راوړنې یې په ښه توګه ترلاسه کړې.

ځینې وخت تاته یو مسؤلیت درکول کیږي او ته ښه پوهیږې چې ته دا مسؤلیت نشې ترسره کولای نو ته باید دغه وخت دې ته ونه ګورې چې راځه دا یو مسؤلیت دی بس فقط منل وکړه نور که کار وشو که نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**نه!** بلکې له پیله به سپینه خبره کوي په صداقت سره به هر څه روښانه کوي، ځکه دا زموږ او ستاسې مشترک او ترلی نظام دی چې یوه برخه کې د کار سستي راشي ټول نظام خرابوي، نو په کومه برخه کې چې پوهیږي همغه برخه کې باید خپلو امراؤ ته په صداقت سره خبره وکړي.

د اسلام په سیاسي نظام کې یو مسلمان سیاست مدار لپاره معیار همدا صداقت او ربښتینولي ده، ته به په صداقت سره دعوت هم کوې، قتال او نورې هڅې به هم، ستا په یو فعالیت کې به هم دروغ او دوکه نه وي، د غرب او د کفارو سیاست خو اکثریت په درواغو بنا دی، خلک دوکه کول او خپل سیاست مخکې وړل د دوی وظیفه ده.

**شپږم صفت:** د انتقاد منل او خپلې نیمګړتیاوې چې بل څوک دربنایي د هغې اصلاح کول دي.

داسې فکر مه کوه چې ته په هر څه له هر چا ښه پوهیږې او که څوک د اصلاح په موخه په تا انتقاد کوي نو بیا حسد، کینه، ضد، دښمني شروع او انتقاد نه برداشت کوې، د اسلام په سیاسي نظام کې له انتقاد څخه تېښته نشته، ته چې فعالیت کوې نو انتقاد به هم منې، زه او ته د یو ښه سیاستمدار په توګه قدرت، توانایي او د مبارزې

(c) ketabton.com: The Digital Library


برخوردونه بايد وپېژنو، ځان کې دا صلاحيتونه راولو او په دې برخه کې انتقادات ومنو او ځان ترې ونه باسو.

اوس راځو دې ته چې انتقاد د اسلام په سياسي نظام کې په ما او تا په دوه قسمه يا د دوه لوريو څخه کيږي، يو د دوست له طرفه او بل د دښمن له اړخه انتقاد دی، ډېر خلک په دې برخه او دغه مسائلو کې تېروتنه کوي او د انتقاد اصول نه مراعاتوي.

نو ته بايد د يو سياستمداره مجاهد په حيث هم د انتقاد په منلو او هم د انتقاد د کولو اصول او شرائط وپېژنې، په دې وپوهېږې چې په څه **وخت** کې په کومه **طريقه** په کومه **برخه** کې په **چا** او **چاته** انتقاد وشي.

که په دې مسائلو پوهه شوې نو د سالم انتقاد چې د اصلاح په موخه وي د هغې ګټې به هم وپېژنې او ددې ترڅنګ د مرجفينو، مغرضينو او مخربينو د انتقاد په نوم تخريب او زيان به هم په ډاګه کړې.

دوست بايد څه ډول انتقاد وکړي او د دښمن انتقاد څه ډول او د کوم هدف لپاره دی په دې بايد هر مجاهد پوهه شي.

نو که يو مجاهد په بل مجاهد ورور انتقاد کوي نيت يې بايد اصلاح وي د ملګري يا امير تخريب، د هغې توهين او تحقير نه وي، د انتقاد وخت او الفاظ هم بايد وپېژندل شي، ته پوهېږې چې د ځينو انسانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library


فطرت دا دی چې کله انتقاد نشي برداشت کولای خو موږ به د خپل نظام د پرمختګ لپاره انتقاد منو او د انتقاد په پایله کې به غصه نه، بلکې ځانونه به اصلاح کوو، د انتقاد کولو ټول شروط به په یوه جمله کې راخلاصه کړو هغه دا هر وخت چې موږ غواړو په یو مجاهد ورور باندې انتقاد وکړو باید د **چل** او **نیرنګ** څخه پاک او هدف به یې **اصلاح** وي.

که ته د داسې انتقاد لاندې راشې، نو ته هم باید تفکیک وکړې چې دا انتقاد چا کړی، دوست کړی، په کوم نیت یې کړی او که دښمن کړی کوم دښمن، داخلي که بهرني او هدف به یې څه وي.

انتقاد کونکی هم باید ځینې صفات ولري، یو مجاهد ورور چې په یوه اداره یا یو امیر او فرد انتقاد کوي، نو لومړی خو باید دا د هغه کار څخه پوره معلومات ولري په کوم چې دا نیوکه کوي، خپله هم پوره نیک عمله وي او په کار کې درسره شریک وي، داسې نه وي چې له بهره دربارندې انتقادونه کوي او خپله مرجف یا له جهاد څخه ناست وي، تاسره په یو کار کې یو قدم مخکې نه ځي، ستا خیر او اصلاح نه غواړي نو ددې کس انتقاد او د خپل مصلح مجاهد ورور انتقاد توپیر به کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو داسې خلکوته د انتقاد کولو وخت مه ورکوئ، داسې خلک چې د ټک کار درک یې نه لګیږي، له صف څخه وتلي وي او په نورو سلو بې لاریو یې سر وي، معلومات یې نه کیږي چې اوس په څه کارونو بوخت دي، خو رالګیږي په عملي مجاهدینو باندې بیا انتقادونه کوي، چې یو څوک نیک عمله نه وي د مجاهدینو صفت او ښه نیت ونه لري عملاً تاسره په کار کې شریک نه او د جهاد پرېښودنکی وي، نو داسې کس او مخلص مجاهدین وپېژنئ او د دواړو د انتقادونو تر منځ **توپیر** وکړئ.

همدا راز انتقاد کونکی ورور هم باید د انتقاد شرائط وپېژني، کېدای شي ځینې وخت انتقاد وکړي خو په تېروتنې سره یې وکړي نو لومړی ته باید ځان اصلاح کړې، ستا انتقاد به په شکونو بنا نه وي، ته که د کوم کار په اړه په بل مجاهد انتقاد کوې باید کره ثبوت ولرې او په رښتیني توګه په هغه بل مجاهد کې نیمګړتیا اوسي، نو ته بیا د اصلاح په نیت د هغې خطاګانې ورته وروښایې.

ته چې د ادارې په امیر یا په بل کوم مجاهد انتقاد کوې نو باید د انتقاد آداب او شرائط عملي کړې، باید په ډېر ادب او خوږه ژبه دغه انتقاد وکړې چې ستا په الفاظو او نقد کې د مقابل لوري توهین او تحقیر نه وي، دې مسئله کې موږ انتقاد دوه برخو ته تقسیموو، یو

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه انتقاد چې شاته يې **اصلاح** پرته ده او بل هغه انتقاد چې شاته يې **تباهي** او **هلاکت** موجود دی.

که ته غواړې د يو مؤمن ورور په صفت انتقاد وکړې بايد دا فکر ولرې چې ستا انتقاد د اصلاح په نيت دی که نه د تباهۍ په نيت؟

سالم انتقاد کي بله خبره داده چې ته د يوې ادارې يا يو فرد له کړنو پوره معلومات ولرې او د هغې ځينې نيمګړتياوې دې درک کړې دي، غواړې هغه ورته وښايې چې وروره ستا په کارونو کې دغه او دغه ستونزې شته په ډېر صميمي انداز دا هر څه ورته وښايې بيا يې د ستونزو څخه د وتلو حل لار هم بايد تاسره وي او دا هم ورسره شريکه کړې چې که دا او دا چارې ترسره کړې نو دا ستونزې او په کارونو کې دا کوتاهي او نيمګړتياوې به دې ختمې شي.

نو که په داسې انداز چې انتقاد کې هدف د اصلاح وي مقابل لورى خفه کيږي نه، بلکې لا به خوشحاله شي، مقابل لورى هم بايد د انتقاد کونکي انداز او کردار ته وګوري، چې د انتقاد ډول يې څه قسم دی، د انتقاد الفاظ او ژبه يې څه ډول ده، د حل لاره يې هم وړاندې کړې که نه؟ او دا انتقاد کونکی تاسره په کارونو کې شريک دی يا په بله برخه کې عملي مجاهد او د نيکو اعمالو څښتن دی که نه؟ که داسې نه وي چې نه يې د انتقاد اداب مراعت کړې، نه يې الفاظ او خبرې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلاح په نیت وي، بلکې خبرې یې زشتې، تحقیر او توهین یې هدف وي، نور خپله د بلا نیمګړتیاو لرونکی او نه یې درته په انتقاد کې د حل لار وړاندې کړې وي نو ته پوهه شه چې ددې هدف اصلاح نه بلکې تخریب دی.

مخکې موږ د مدیریت په برخه کې هم دې خبرې ته اشاره کړې وه چې انتقاد کونکی به د یو چا په شخصیت او ذات انتقاد نه کوي، بلکې په کارونو یې د اصلاح په نیت نقد وکړه او په انتقاد کې مخلص اوسه مطلب ستا انتقاد باید د اصلاح په موخه وي نه د تخریب په هدف.

ورونو! کله به دښمن هم په تا انتقاد کوي نو په دې هم مه خفه کیږه، دښمن به علني ستا کومې نیمګړتیاوې د تخریب په هدف په ډاګه کوي خو ته ترې عبرت واخله، که ریښتیا هم له تا داسې کړنې ترسره کیدې چې هغه د اصلاح وړ وې او دښمن ترې ستا په مقابل کې سوء استفاده کوله او له تا غیر اختیاري کیدې نو باید ته فکرمند شې او آینده کې یې تکرار نه کړې الله تعالی فرمایي: ﴿الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ أُوْلَئِكَ الَّذِينَ هَدَاهُمُ اللَّهُ وَأُوْلَئِكَ هُمْ أُوْلُوا الْأَلْبَابِ﴾ [الزمر: 18]

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ژباړه: چې خبره په غور سره اورې او د هغې د ډېر خه اړخ پيروي کوي، دا هغه خلک دي چې الله عزوجل ورته هدايت کړی دی او هم دوی پوهان دي.**

ډېرې خبرې او انتقادونه به ته واورې نېکې خبرې او په ځای خبرې ترې واخله نورو پسې مه ګرځه.

اوس ددې عنوان لاندې يو بل بحث ته ننوځو هغه دا چې کله ته په خپله په ځان هم انتقاد کوه، په دې نيت دا انتقاد وکړه چې ذهن ته سکون حاصل شي.

ګوره ورورره تاته ستا د ځان په اړه چې څومره معلومات کيږي دومره معلومات بل چاته نشته، تاته د خپل ځان ضعف په خپله معلوميږي، خپل غفلت، لټي، د کارونو وروسته والی، د ځينو منفي عادتونو له کبله په کارونو کې نور خنډونه او د دې علتونه... دا هر څه تاته له هر چا خه مالوميږي.

مطالعه، د نظام د پرمختګ په اړه فکر، تحليل، تحقيق، دا يو کار دې هم ندی کړی، د کارونو نه موثريت، خپل نور روزمره عملونه، عبادات، دا هر څه، تاته د خپل ځان په اړه ښه معلوم دي، نو بس د شپې چې ځملاستې خپل ځان مخاطب کړه چې ښه ! تا کې دا او دا کمزورۍ دي، دا کارونه چې مخ ته نه ځي ددې علتونه دغه دي، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library


ستونزې چې رامنځته شوي دا ستا ددغه او دغه عملونو نتیجه ده، دا یې د حل لار ده باید له دې وروسته اې ځانه! ته دا او دا عادتونه پرېږدې او په دې لارو لاړ شې چې هم ستونزې ختمې شي ، هم دې کارونه پرمختګ وکړي او هم دې نظام ته یو خیر ورسېږي.

ته چې هره شپه په ځان انتقاد وکړې او هره شپه د ستونزو د حل لارې هم ځانته معلومې کړې او بیا پرې عمل وکړې نو هره شپه به ستا د انتقادونو کچه راټیټېږي، که یوه شپه تا په خپل ځان شل انتقادونه وکړل، بله شپه به پنځلس وي همداسې به د صفر تر کچې راټیټ شي چې بیا به دې نفس ته یو سکون حاصل شي.

وروره ته دا چاره تجربه کړه، په ځان د انتقاد فایدې ډېرې زیاتې دي،مثلاً نفس ته به دې سکون حاصل، کارونو کې چټکوالی، ستونزې ختمې، کارونه له ښه لاسته راوړنو ډک، په ځان به دې باور او اعتماد زیات او هم به د نورو پراخه خیرونو څخه برخمن شې.

په انتقاد کې  بل شرط دا دی چې **مکان** او **زمان** به په نظر کې ساتې، د اسلام په سیاسي نظام کې تاته د انتقاد حق درکول شوی خو دا حق **مشروط** دی، ددې لپاره هم خپل اصول دي.

ته باید په دې شرائطو ځان پوه کړې، څوک باید تاته دوکه درنکړي چې تاته ووایي انتقاد باید ومنې او انتقاد زما حق دی هغه او دغه ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ورسره دا ومنه چې هو د اسلام سیاسي نظام کې خلکو ته د انتقاد حق ورکړل شوی خو د انتقاد لپاره خپل شرائط هم شته.

ته که انتقاد کونکی یې یا درباندې انتقاد کېدونکی وي، نو ته یو ځل په دې ځان پوه کړه چې دغه انتقاد د مکان او زمان موافق او مربوط دی او که نه؟

د مکان څخه مطلب دادی چې کوم انتقاد ته کوې دغه ځای د انتقاد لپاره مناسب دی که نه؟ یا په تا انتقاد شوی نو دغه ځای د انتقاد لپاره مناسب و که نه؟

دغه انتقاد درباندې ټولنیزو رسنیو کې، په کوم کتابي شکل، کوم بیان کې، کوم مجلس کې یې د خلکو مخکې شوی یا یې ځانته کېنولی یې او پټ یې درته ستا کارونه نقد کړي دي، همداسې نقد کونکی هم دا ټول مراحل وګوري چې دې نقد په څه ډول کړی دی.

بل د زمان په حساب هم باید نقد کونکی د نقد وخت وپېژني هر وخت د نقد لپاره نه وي همدغسې د نقد لپاره وخت شرط دی.

**مثلاً:** یو کار تېر او هېر شوی دی او ته اوس رالګېږې د هغې په اړه انتقادونه کوې، دوه کاله مخکې کیسه تېره شوې، له خلکو هېره او نتیجه یې هم مثبته راوتلې، خو تاته اوس یوه خبره دریاده شوه او لګیا یې وایې چې ستا هغه فلاني کار کې خو دغه او دغه نیمګړتیاوې

(c) ketabton.com: The Digital Library


وي، يا په اوس في الحال کې يو کار روان دی عملي کيږي، امير يا مجاهد ملګری سخت مصروف او په عمل کې دی او ته يې له ګرېوانه راکاږې چې ته راشه کنه، ستا خو دې کار کې دا...او دا... ستونزې دي، په تا زه دغه ...دغه... انتقاد لرم.

نو د نقد وخت معلوم وي، مجاهد ورور به دې چاسره په مجلس کې ناست وي، په يوه اړينه موضوع به لګيا وي بيان به کوي، موضوع يې هم بدله ده او ته ورته د بل کار په اړه ګوته نيسې او نيوکه پرې کوې چې تا کې دا... او دا... ستونزې دي نو ته هم بايد د نقد وخت وپېژنې.

## انتقاد کې درې شرطونه دي.

1. **د انتقاد د اجازې شرائط (معلومات درلودل، د اصلاح په نيت، حل لاره ښودل، تر توان پورې همکاري کول)**
2. **د انتقاد د بيان (طرز) شرائط (صميمي او خصوصي)**
3. **د انتقاد د اظهار شرائط (مکان او زمان)**

ټول انتقاد به ستا په اصولو برابر وي تاته د انتقاد اجازه څه شئ درکوي؟

دا يې درکوي چې آيا تا د انتقاد شرائط عملي کړي که نه؟

ځای او وخت د انتقاد مناسب دی که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


که مناسب نه وي نو انتقاد دې ځان سره وساته.

لږ به يې نور هم ساده کړو مطلب ته به د يوې ادارې په کارونو نقد کوې نيت به دې هم اصلاح او د حل لارې به هم درسره وي، په ځای ددې چې ته د نقد مکان وپېژني مطلب د ادارې د امير سره دا نقد شريک کړې يا يې مستقيم دوه په دوه هغه ته ووايې يا يې همغې ته په شخصي رابطه کې ورپه ګوته کړې، داسې نه کوې بلکې رالګيږې په اړوند اداره خپل انتقادونه ليکې او په چينلونو کې خپروې يا يې د همغه اړوندې ادارې په ځای نورو مجاهدينو ته لېږې.

نو څه فکر کوې آيا ستا دا انتقاد د اصلاح په نيت شوی؟

آيا دا کار به فساد رامنځ ته نه کړي او له دې به دښمن سوء استفاده ونه کړي؟

نو د مکان پېژندل ډېر اړين شرط دی، همداسې د وخت پېژندل هم مهم دي، د اسلام په سياسي نظام کې هم د انتقاد اورېدو او هم په تا د انتقاد کېدو حق خلکو ته ورکول شوی خو د اصولو او شرائطو په پېژندو سره.

بله خبره: هر کله چې تاسې بيان د نقد کوئ نو ستاسې نقد بايد صميمي او خصوصي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې مخکې مو هم څه یادونه وکړه یعنې ستا د انتقاد ژبه باید ډېره خوږه او د نصیحت په ژبه وي، په خبرو کې دې دلسوزي او خواخوږي وي، د مرستې او د اصلاح نیت دې وي، په ډېره صمیمي توګه، په خصوصي شکل به دا نقد کوې عمومي کوې به یې نه.

بلکې په خصوصي توګه به دا نقد اړوند فرد یا ادارې ته رسوې او د ستونزو په ختمولو او د حل لارو په ورښودلو کې هم ورته ټټر ووهې.

آخري خبره داده چې که ته غواړې په یوه مسئله انتقاد وکړې نو باید د اړوندې موضوع په اړه پوره معلومات ولرې، تحقیق وکړې، د بل چا خولې پسې لاړ نشې، مطلب دښمن دا افواه ګډه کړې وي چې فلانی امیر صیب یا فلانۍ اداره په دې برخه کې نیمګړتیا لري دا... او دا ... ستونزې لري په ځای ددې چې ته تحقیق وکړې دا نیمګړتیاوې درک کړې بلکې د اعصابو کنټرول له لاسه ورکوې او سم له واره انتقاد کوې او د انتقاد اصول هم نه عملي کوې، نه یې شرائطو ته ګورې او نه نور مکان او زمان په پام کې ساتې، بس احساساتي کېږې او انتقاد کوې نو داسې نه ده په کار او په چاچې دغسې انتقاد کیږي، هغه کس هم انتقاد کونکی باید راونیسې چې ورورە ته چې د کوم کار په اړه په ما انتقاد کوې په دې اړه خو داسې هېڅ کومه نیمګړتیا نشته، ته زما ددې کارونو په اړه خپله معلومات لرې که له

(c) ketabton.com: The Digital Library


چا دې اورېدلي دي؟ او دا د انتقاد ژبه او لهجه دې څه ډول ده؟ دا د انتقاد ځای او مکان دې څه ډول دی؟ د انتقاد نیت دې سم نه دی، دا ستا انتقاد، انتقاد نه بلکې **انتقام** دی، ته د انتقاد په اصولو او شرائطو نه پوهیږې او ته باید اسلامي محکمې ته معرفي شې، نو مطلب دا چې ته باید د یو ښه سیاستمدار په توګه د انتقاد او انتقاد کونکي په مقصد او اهدافو هم پوه شې.

د اسلام سیاسي نظام کې خلکو ته د انتقاد حق ورکړل شوی خو خپل اصول او شرائط لري چې مونږ په بشپړ ډول ذکر کړل.

**اووم صفت:** د یو ښه سیاستمدار اووم صفت هغه تقوا ده، په تحلیل د وضعیت کې هم تقوا مهمه ده، په نورو مواردو کې مو هم د تقوا ذکر کړی وو خو هر ځای کې ترې خپل تعبیر او معنی اخیستل کیږي، دلته یې مانا داده چې که ته منحیث د یو سیاستمداره ښه تقوا ولرې نو دا کوم نعمتونه، امکانات او آسانتیاوې چې د کارونو د ښه ترسراوي په هدف تاته امراء درکوي، نو ستا هدف به ددغه امکاناتو ترلاسه کول نه وي بلکې د کوم هدف ترلاسه کولو لپاره چې تاته کوم امکانات محیا شوي ستا هڅه به هم د همغه هدف ترلاسه کول وي، نیت به دې همدا وي چې څنګه همغه هدف ته ورسیږې او ددې شته درکول شویو امکاناتو څخه په درست شکل سالمه استفاده وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


يعنې ستا د لاس لاندې سیمه او د صلاحیت په دایره کې درته ډېر پراخه امکانات درکول شوي او ته همدې نعمتونو کې اوړې را اوړې او هدف به دې همدا د نعمتونو، امکاناتو او پراخیو څخه خوندونه اخیستل وي، نه داسې به نه کوې! ځکه دا تقوا نه ده، بلکې تقوا سیاست کې داده چې همدا ټول نعمتونه او امکانات د خپلو اصلي اهدافو په ترلاسه کولو کې استعمال کړې.

یو کس تقوا اختیاروي او یو یې نه اختیاروي، د دې مثال داسې دی چې یو کس د غره سر ته جیګېدل دا سنجش کوي چې د غره سر ته زه اوچتېږم نو بار مې باید لږ وي چې لاره کې ستړی نشم، تجربه لري، سوچ یې کړی او ځان سره یې فقط د خپل ضرورت اړوند شیان اخیستي، خو بل کس دی ځان یې پوره بار کړی دی تجربه نه لري، نو کوم کس به کامیابېږي او منزل ته به زر او په آسانۍ رسېږي؟

همغه کس چې تجربه لري او بار یې لږ اخستی، نعمتونه او هر څه ورسره زیات دي، خو ټول نه په شا کوي، یوازې د ضرورت وړ شیان اخلي خو یو بل کس دی چې نعمتونه، خوراکونه او نور امکانات یې وکتل نو همدا یې مقصود وګرځول، هم یې ترې بیک او هم یې جېبونه ډک کړل او هم یې نور ځان سره وتړل، فکر کوي چې بس زما هدف همدا دی چې فقط خوراک وکړم او لاره کې وږی نشم نتیجه یې همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library


شي چې خپل هدف ته نه رسيږي، همداسې تقوا وګڼه، خپلې پراخۍ ته په همداسې نظر وګورئ، کېدای شي ډېرې پراخۍ او امکانات مجاهدينو ته په لاس ورشي نو داسې نشي چې همغې کې مجاهدين ډوب او اصلي هدف ترېنه هېر شي.

**اتم صفت:** يو ورور که غواړي چې په راتلونکي کې په سياست پوه شخص واوسي، بايد د خپل ماشومتوب همدا رنګه د ځوانۍ عمر او بيا د ځوانۍ نه وروسته کوم ژوند چې تېروي، دا بايد خپل شخصيت ته ډېر متوجه اوسي، بيا نوموړی کس کولای شي چې په راتلونکي کې د مسلمانانو ښه رهبري وکړي.

په خپل ژوند کې چې حتی يو قدم هم ږدې، کوم اقدام او يا تصميم چې د خپل شخصي ژوند اړوند نيسې او يا هم تصميم په خپلو کاري او جهادي امورو کې نيسې، نو متوجه اوسه کومه داسې فيصله او کار ونه کړې چې په آينده کې ستا شخصيت داغداره او بدنام کړي او بيا ستا د کړنو له کبله نظام بدنام شي.

تاريخ کې راځې انګليسانو چې کله هند تسخير کړ، په هند کې هوا ډېره ګرمه ده، په دې وجه هلته ماران ډېر موجود دي، په ځانګړې ډؤل د کبرا مارانو په نوم يوه نوع يې ډېر مشهور دي، کله چې انګليس هند ته داخل شو ګوري چې په دې خاوره کې دا ډؤل ماران

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډېر زيات شتون لري، ددې مارانو شتون د دوی لپاره يو درد سر جوړ شو، نو دا فيصله يې وکړه که هر چا کبرا مار ووژلو، نوموړي نفر ته موږ جائزه ورکوو، في الحال خو دوی داسې يو تصميم ونيو او داسې يوه پرېکړه يې وکړه خو ددې فيصلې او تصميم په آينده يې سوچ ونکړ، فقيره طبقه خلک چې د انګرېزانو له دې تصميم څخه خبر شول نو ځي، ماران وژني، راوړي يې او خپله جائزه ترلاسه کوي، دې کار په هند کې تجارتي بڼه خپله کړه، خلکو د مارانو روزنه پيل کړه چې لږ به راغټ شول، وبه يې وژلو، نور به راغلل جائزه به يې تر لاسه کړه، انګرېزانو چې وليدل چې دې کار خو تجارتي بڼه خپله کړه، دا کار او تصميم موږ ددې لپاره ونيوه چې ماران ددې سېمې څخه ورک شي، دا خو دې خلکو اوس ددې مارانو په روزنه شروع وکړه، يو طرف يې تربيه کوي بل طرف يې وژني، انګرېزانو خپله پرېکړه واخيسته او اعلان يې وکړ چې نور نو د مارانو په وژلو جائزې نه ورکوي، نتيجه دا شوه چې فقيرې طبقې سره نور د مارانو د روزنې توان نه و او ورسره ماران يې که وژلي وای هم پيسې يې نه کولې، نو ټول يې همداسې خوشې کړل، ماران څو سوه چنده زيات شول، علت څه وو؟ علت دا و چې انګرېزانو پرته له دې چې ددغه تصميم په آينده پايلو سوچ وکړي بې فکره يې داسې پرېکړه کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه، دا مثال مو پدې خاطر ذکر کړ، چې کله هم ته د یو مشکل سره مخ کېږې او بیا یې د حل لپاره یو تصمیم نیسې نو ته باید ددې تصمیم لپاره سوچ وکړې، داسې نشي چې د ستونزو د حل په ځای نور هم د ستونزو سره مخ شې، د نن څخه وروسته که ته غواړې یو تصمیم ونیسې، نو **عاقبت** د تصمیم ته به سوچ او بیا به اقدام کوې.

**نهم صفت:** انتخاب د الګو دی، تاسې چې په نړۍ کې هر سیاست مداره ګورئ او د دوی تاریخچه ولولئ هغه چې په سیاست کې دوکتورا او ماسټري اخلي، هغوی ځانګړي کتابونه مطالعه کوي چې هغه کتابونه د نړۍ د سیاست د تعبیر په موضوعاتو کې په راټولو شویو معلوماتو مشتمل دي، دا کتابونه چې ته وګورې هر یو یې ځانته الګو لري، یعنې د یو نفر په فکر باندې لیکل شوي دي، د هر کتاب لیکونکی د یو سیاست په پېشرفت باندې یو کتاب لیکلی او نن سبا همغه تدریس کیږي.

د اسلام په سیاسي نظام کې باید مجاهدین هم ځان لپاره الګو انتخاب کړي، د مسلمانانو اولګو څوک دی؟

**زمونږ لپاره رسول الله ﷺ الګو دی، دا خبره مو ددې په خاطر وکړه چې د سیاست په باب کې چې هر سیاست مدار الګو ونلري، بیا له خپلې لارې څخه ډېر زر منحرف کیږي، ددې لپاره چې په سیاست کې**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**موږ خپل تګلاره غلطه نکړو او منحرف نشو، نو زموږ به په سياست کې الګو رسول الله ﷺ وي.**

مانا دا چې ما د سياست لپاره د يو چا لاره انتخاب کړې چې زه ددې له لارې څخه منحرف نشم، نو په همدې اساس چې يو څوک د سياست په باب کې ځان لپاره يو رهنما او رهبر انتخابوي بايد ددې رهبر نه پوره تعريف ولري، په هر اړخيز ډول دا خپل رهبر وپېژني.

وروره: تا چې د اسلام د سياسي نظام په چوکاټ کې د ځان لپاره الګو انتخاب کړه چې هغه محمد رسول الله ﷺ دی، نو د هغه ﷺ د سيرت، کارنامو او د هغه سياست چې د ژوند په امورو او نظام کې ترې استفاده کړې، پوره مطالعه او معلومات حاصل کړه، نو په همدې اساس د عادي انسان او د سياست مدار ترمنځ بايد توپير وي، هرڅوک چې په ټولنه کې اوسي يا سياست کې خبرې کوي او په سياست کې ځان دخيل بولي، په حقيقت کې د نوموړي انسان ژوند په راتلونکي کې يو تاريخ دی، هر څوک چې په سياست کې يو فکر ايجادوي نو د هغه سياستمدار په ژوند کې يا يې له وفات څخه وروسته دا فکر د يو کتاب بڼه خپلوي او بيا تدريسېږي او د هغه سياستمدار لپاره دا يو تاريخي او فکري مکتب شي.

نو مجاهده وروره!

(c) ketabton.com: The Digital Library


که ته هم غواړې د سیاست په باب کې له خپل مرګ څخه وروسته یا په ژوند دې یو تاریخ پرېږدې، نو ته باید داسې تاریخ پرېښږدې چې د اسلام او مسلمانانو سره پکې غدر ثبت شي، اسلام ته پکې صدمه ورسېږي او یا د هغې تګلارې نه چې تا د یو مسلمان په صفت د ځان لپاره انتخاب کړې وه او ته بیا پکې منحرف شې نو داسې تاریخ چېرته پرېښږدې.

همدغه شانته د سیاست هغه چوکاټ چې له هغې باید بهر ونه وځو، هغه څه دی؟

هغه د قرآن او سنت چوکاټ دی، رسول ﷺ وایې دا چې زه کومه خبره کوم دا د ځان له طرفه نه کوم بلکې دا د الله تعالی لخوا ماته وحې کېږي، **څکه نو الله ﷻ د رسول الله ﷺ په اړه فرمايي:** **﴿وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى...﴾**

**ژباړه : دغه محمد له خپل نفسي خواهش څخه خبرې نه کوي، دا قرآن خو یوه وحې ده چې په هغه نازلېږي.**

**وروره!** داسې سیاست باید انتخاب نه کړو چې هغه د شریعت خلاف او د قرآن او سنت چوکاټ نه بهر وي، که چېرته د شریعت خلاف وي، دا بیا اسلامي سیاست نه، بلکې شیطاني او طاغوتي سیاست دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځکه امام شافعي رحمه الله فرمايي: (لا سياسة إلا ما وافق الشرع) يعنې چې سياست ندی مګر هغه څه چې شريعت راوړی وي. نن سبا ډېر خلک د اسلامي سياست په نمايندګۍ بحثونه او خبرې کوي، لېکن سياست يې د قرآن او سنت خلاف وي، ډېر خلک د قرآن او سنت خلاف مبارزه کوي او بيا ځان په اسلامي سياست پوهه سياستمدار معرفي کوي، د مسلمانانو لپاره قرآن او سنت بهترين سياست دی، الله جل جلاله قرآن کريم کې فرمايي: ﴿وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ﴾ { الحشر 7}

**ژباړه: څه چې پيغمبر تاسې ته درکوي هغه واخلئ  او له څه شي څخه چې تاسې منعه کوي له هغه څخه منعه شئ، د الله څخه ووېرېږئ، الله  سخت سزا ورکونکی دی.**

همداسی الله رب العالمين فرمايی چې دين کې به صرف د الله او د هغه د رسول ﷺ اطاعت او پيروي کيږي او بل طرف ته تلل او نورو باطلو افکارو پسې منډې وهل دا تباهي او هلاکت دی : ﴿وَأَطِيعُواْ اللّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَاحْذَرُواْ فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُواْ أَنَّمَا عَلَى رَسُولِنَا الْبَلاَغُ الْمُبِينُ. المائده 92﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ژباړه : د الله او د هغه د پیغمبر خبره ومنئ او د نافرمانی څخه یې رامنعه شئ، نو که تاسې حکم ته شا کړه نو وپوهېږئ چې زموږ په پیغمبر د څرګند حکم رسولو مسؤلیت ؤ.**

نو په همدې اساس دا خبره مو وکړه چې په قرآن کې کوم مفاهیم پراته دي، له دې څخه بل طرف ته تلل **نه نرمي** ده او **نه اخلاق** دي، **نه انسانیت** دی او **نه سیاست** دی، بلکې سیاست او د ژوند ټول امور په همدې قرآن کې شته دي، نو د سیاست مسئله هم باید د قرآن او سنت څخه بیرون نشي که چېرته بیرون شوه، ته بیا منحرف کېږې بیا خپل خواهش درته سیاست معلومیږي، بیا درسره یو کبر او غرور پیدا کیږي، بالاخره د اسلام سره په ټکر کې مواجه کېږې حتی په اسلافو باندې به بیا بې ځایه انتقادونه او نیوکې کوې او د طعن الفاظ به ورته بیا استعمالوې.

**لسم صفت:** د سیاست په باب کې ډېر مهم او ارزښتمن څیز چې دی هغه اخلاق دی، تاسې وګورئ رسول الله ﷺ د اخلاقو په ذریعه د سیاست په باب کې څومره لاس ته راوړني لرلې، نو په همدې اساس د اسلام د سیاسي نظام په چوکاټ کې اخلاق هغه کیلي (کونجي) ده چې ډېر قلفونه په دې کیلي باندې د سیاست په باب کې خلاصولای شو، نو ورونو دا کیلي له لاسه ورنکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**يولسم صفت:** د اسلام د سياسي نظام په دايره کې بايد د يو ښه سياستمداره په حيث زما او ستا فکر به د دنياوي معاملو په ځاى د آخرت لاسته راوړنو او ګټو په تکيه استواره وي، د اعلاء کلمة الله لپاره به تل په فکر کې يو او په دې لاره کې به ډېر ملګري ځان سره پيدا کوو، داسې سياست مداره بايد ونه اوسو چې د آخرت په بدل کې دنيا واخلو او خلکو ته د شريعت خلاف سياست وړاندې کړو، موږ کامياب سياست مدار او کامياب رهبر هغه چاته وايو چې ددې هدف لپاره يې په ځان مسلمانان راجمع کړي وي کوم چې موږ ذکر کړل چې هغه د الله ﷻ د کلمې لوړاوى دى، که هغه خلک لږ وي او که ډېر، خو مقصد يې خاص او خاص اعلاء کلمة الله وي، په مقابل د آخرت کې يې دنيا  شاته کړې وي، په همدې فکر کې وي چې آخرت مو ښايسته شي، نو ته بيا پوه شه چې اصلي سياست مداره همدغه دى، که نه لاره به درڅخه ورکه وي او لالهانده به ګرځې.

**دولسم صفت:** يو سياست مداره بايد عاجزي خپل صفت وګرځوي، د کبر او غرور څخه به ځان ساتي، د اسلام په سياسي نظام کې کبر او غرور د يو سياست مدار ژوند تباه کوي، چې ژوند دې له لاسه ورکړ نو دا خو طبيعي ده چې ته بيا مړ يې، په همدې اساس بايد چې تل عاجزه واوسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


او آخره خبره دا چې: د هر فکر والا سیاست مدار تر شا يو شعار وي، د چا د کمونستانو په څېر د کور، کالي او ډوډۍ شعار و، چې کور يې ګور، کالي يې کفن او ډوډۍ د غمونو خوراک او ددغه مفکورې او قوت پاشل شول، او چا د ديموکراسۍ، آزادۍ، بشر پالنې، نارې وهلې او د اسلاميت نه، بلکې انسانيت، وطنيت او قوميت شعارونه يې په خوله جاري و او د انتخاباتو ډنډورې يې وهلې چې ددې هر څه سره يې د زور ټغر ورټول شو خو اوس دادی همدا شعارونه په لږ بدلون په نويو نومونو د زړو مامورينو په ځای د ديموکراسۍ نوي مامورين مخ ته وړي، چې د دوی ټغر به هم الله ﷻ زر ورټول کړي.

**مجاهده وروره!** د اسلام په سياسي نظام کې د مسلمانانو شعار د خلکو لپاره د دنياوي او اخروي کاميابيو او خير خواهيو غوښتل دي، چې د همدې شعار په اساس هر اړخيزه مبارزه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسلام په سیاسي نظام کې د قتال ستراتیژي

تاسې پوهېږئ چې ډېرى خلک په دې فکر روزل شوي چې موږ د اسلام سیاسي نظام د قتل، قتال او جهاد کولو پرته راولو، داسې تصور کوي چې د اسلام د سیاسي نظام د راتللو نورې لارې هم شته، دا فکر او ذهنیت چې له سیکولریزم څخه سرچینه اخلي په اسلامي امت کې ډېرو زیاتو خلکو خپل کړى او د دې ذهنیت خپرولو ته په ډېره لوړه کچه کار روان دى.

په دې اړه مجلسونه، سمینارونه، کتابونه، تنظیمونه، حزبونه، ټولنې، ګوندونه او په مختلفو شکلونو ډول ډول فعالیتونه د همدې ذهینت د خپرولو لپاره لاس په کار دي او ددې ذهینت خپرول په ډېر آزاد شکل په ټوله نړۍ کې په ښه قوي امکاناتو سره دوام لري.

مخکې موږ یادونه وکړه چې سیکولریزم تاته نه راځي چې درته ووايي اسلام له تا په زوره اخلم او په زوره دې بې لارې کوم او د اسلام په ځاى به سیکولریزم منې، نه! بلکې د اسلام په جامه او نامه یې ډېر خلک خطا کړي او د مسلمانانو په نومونو یې ډېر بې شمېره خلک د حقیقي اسلامي نظام مقابلې ته ودرولي دي. دوى په ډېر چل او دوکه په سیاسي او دیپلوماتیکه توګه په ټولنه کې خپل کفر او فکر خپروي نو دې عنوان کې ډېره مهمه موضوع پرته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د سیکولریزم نظر همدادی چې اسلامي نظام حاکم کړه، خو د جګړې له لارې به دا کار نه کوي بس لګیا اوسه لکه اخوانیان، تحریریان او نور مداریان چې چاپېره دي، دغسې اویا، اتیا کاله د اسلام په نوم مبارزې په لړ کې د همدې دیموکراسۍ او سیکولریزم د تطبیق لپاره چاپېره اوسه.

سیکولریزم له اسلامي امت څخه د اسلام په نامه همدغسې د سیکولریزم په رنګ رنګ شوی امریکایي اسلام غواړي.

نو د دې فکر سره مبارزه ضرور ده چې موږ د قتال په ستراتېژۍ بحث کوو، ددې خپلې پیاوړې ستراتېژۍ څخه د سیکولر مدارایانو د روزل شویو خلکو څخه لله الحمد په عقلي، نقلي او منطقي دلایلو دفاع هم کولای شو.

**د اسلام سیاسي نظام د تطبیق او ساختار (جوړښت)** کې دا ستراتیژي مطرح کوو چې د اسلام د سیاسي نظام په تطبیق او جوړښت کې د قتال ستراتیژي څنګه مطرح، د تطبیق ځایونه یې کوم او لاس ته راوړنې یې څه دي؟

**ورونو!**

دا بحث ځکه ډېر مهم دی چې ډېر تنظیمونه دي او د اسلام په نوم کار کوي خو داعیه یې داده چې اسلام باید د مظاهرو، کنفرانسونو،

(c) ketabton.com: The Digital Library


لاریونونو، پارلماني هڅو، مجلو، کتابونو... او غونډو له لارې حاکم شي، وايي دا کار په سوله آمیز شکل کوو، جنګ یا تشدد نه غواړو، جنګ د حل لاره نه ده! خو تاسې پوه شئ چې همدا د سیکولریزم فکر او هدف دی، همدې لپاره ځان سترې کوي او دومره زیات مصارف ځکه کوي چې له مسلمانانو څخه د قتال روحیه واخلي.

تاسې پوهه یاست چې الله ﷻ د موسی عليه السلام قوم امتحان کړ او ورته یې امر وکړ چې یوه غوا ذبحه کړئ، لومړی خو دې قوم هغه... دغه... وکړل، الله ﷻ د موسی عليه السلام قوم په دې امتحان کې واچاوه: موسی عليه السلام ورته وايي: **قال تعالی: وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦٓ إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تَذْبَحُوا بَقَرَةً ۖ قَالُوٓا أَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا ۖ قَالَ أَعُوذُ بِاللَّهِ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْجَٰهِلِينَ﴿سُورَةُ البَقَرَة. 67﴾**

**ژباړه: او هغه پېښه در یاده کړه چې کله موسی خپل قوم ته وویل: الله تاسي ته د یوې غوا د حلالولو امر کوي. هغو وویل: آیا ته زموږ سره ټوکې کوې. موسی وویل: زه له دېنه الله ته پناه ور وړم چې د جاهلانو د ډلې څخه اوسم.**

اما د رسول الله ﷺ امت الله رب العالمین د جهاد کولو په امتحان سره آزمايي. د قتال موضوع دا ډېره مهمه موضوع ده، ډېر خلک په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library


امتحان کې ناکامه شول، ډېر خلک ددې امتحان په پرچو کې په دې خاطر چې د نورو شاګردانو په منځ کې کم رانشي او خپل ممتحن ته تېر ورکړي،فقط پارچه په ګډو، ودو ډکوي او هغه اصلي جواب نه کوي.

دا هغه امتحان دی چې جواب یې په عمل سره معلومېږي، موسی علیه السلام قوم ته الله رب العالمین امر کوي هغوی وایي موږ یې منو خو داسې یې نه پرېږدي، ورته وایي عملي یې کړئ.

همداسې رسول الله ﷺ امت ځخه یې هم د قتال امتحان عملي غوښتی دی، دا داسې ستراتیژي ده چې په دې کې د ایمانونو وزن مالومېږي.

## ورونو:

**په دنیا کې هېڅ داسې فکري قدرت او عقیدوي مکتب نشته چې پرته له نظامي ملاتړ ځخه ژوندی پاتې شي.**

**ددې ټولو فکري مکاتبو د دوام لپاره تر شا د یو نظامي قوت شتون ضرور دی همداسې د اسلامي نظام بقا د همدې قتال او جهاد د ستراتېژۍ په تطبیق کې ده.**

له تا چې همدا د ملا تیر، ژوند او وینه چې هغه د قتال ستراتیژي او نظامي ځواک دی چې دا فکر درځخه سیکولریزم واخست نو بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library


ضرورت نشته چې تاسره مقابله وکړي، نظامي فکر يې چې درځخه واخست نو ته خپله په سیاسي میدان کې د هغې د لاس آله یې که هر څومره د اسلام د سیاسي نظام چېغې او نارې ووهي فایده نکوي.

ګوره سیکولریزم په څومره هنر د اسلام د سیاسي نظام دا ستراتیژي ترخپل هدف لاندې نیولې او څومره په میلیونونو مسلمانان یې د اسلام مقابلې ته تیارکړي دي.

باید خلکو ته دا انګېزه ورکړو چې د اسلام د سیاسي نظام تطبیق پرته د قتال له ستراتیژي څخه کېدای نشي، په هر فکري او عقیدوي مکتب او تګلاره کې قتال ددې لپاره کیږي چې ددې فکر او عقیدې تیوري، انګېزه، اصول، اساسات او پایې رنګې نشي او دا همداسې قوي ولاړې او استواره پاتې شي.

د اسلام په سیاسي نظام کې د قتال د ستراتیژي هدف هم همدغه دی چې د اسلام د سیاسي نظام ارکان استواره پاتې شي، د اسلام ارکان په همدې ستراتېژی قایم او استوار ساتل کیږي دا زموږ لمړنی او وروستنی هدف دی.

که له تا څوک وپوښتي چې تر څو به جنګیږې؟ نو جواب به مو همدا وي د اسلام په سیاسي نظام کې له پېل تر پایه داسې وخت نه راځي چې قتال ختم شي، ځکه د اسلام د سیاسي نظام ژوند او حیات همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستراتېژۍ پورې تړلی دی، همدې د قتال ستراتېژۍ د اسلام سیاسي نظام ته ژوند ورکړی او ترهغې به دا ستراتیژي دوامدراه جاري ساتو چې د اسلام ارکان قایم او دایم پاتي شي، که موږ بری مومو او که ماتې راځي، که ملکونه نیسو او که یې له لاسه ورکوو خو دا فکر او منهج له لاسه نه ورکوو.

دا یو قایم او ثابت منهج دی، ددې په اهدافو ځان پوهول غواړي که په دې پوهه شو نو هم به په ښه شکل باطلې فرقې وپېژنو هم به خپل اهداف او د دښمن هدفونه راته معلوم شي او هم به په دې اړه هر چاته مدلل ځواب وویلای شو.

## عجیبه نه ده، د نړۍ هر سیاسي نظام تر شاه د قتال ستراتیژي شتون لري نو د اسلام سیاسي نظام یې ولې ونلري؟

د نړېې هر سیاسي نظام تر شا دومره قوي نظامي ستراتیژي لري چې وسلې یې د اتم بم او هستوي کروزونو څخه هم په پرمختګ کې دي او غتېږي، اما بیا راځي وایي: د اسلام سیاسي نظام حاکم کړئ، خو د قتال د ستراتېژۍ نوم به نه اخلئ، بس د مظاهرو او نورو ډیالوګونو له لارې هڅې کوئ .

ای ربه دا مسلمانان ته متوجه کړه، دوی د غفلت له دې درانده خوبه ته په خپل فضل او کرم سره رابیداره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسې ګورئ چې طالبانو ته يو څه خاوره واک کې ورکول شوه، نو له هر څه يې مخ واړاوه نو که يې دا کشران په دې پوهه شي چې دوی د سيکولريزم جال کې نښتي دي، نو امېد دی چې زموږ له مخالفته لاس واخلي.

ګوره د باغيانو سره هم جګړه په همدې خاطر کوو چې دوی د اسلام اصول او ارکان ماتوي ابوبکر صديق ﷺ هغه خلکو سره جنګ وکړ او مرتد يې ونومول چې د زکات څخه يې انکار کړی و، دا ځکه چې هغوی د اسلام ارکان مات کړي و، د اسلام له اصولو يې سرغړونه کړې وه. نو زموږ دا عمده هدف دی که په دې لاره کې که راباندې هر څه کيږي موږ په هېڅ صورت خپل هدف ته د رسېدو لپاره ان شاءالله له دې ستراتېژۍ لاس نه اخلو.

د قتال ستراتيژي ته د اسلام په سياسي نظام کې څه وخت د تطبيق اجازه کيږي او يا کوم اهداف د دې ستراتېژۍ په تطبيق کې پام کې نيول کيږي؟

## د اسلام په سياسي نظام کې د قتال ستراتيژي د شپږو اهدافو لپاره تطبيقيږي

❖ **اول هدف:** کفارو او مشرکينو سره د مبارزې او مقابلې لپاره د قتال ستراتيژي تطبيق کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**قال تعالى:** ﴿**فَقَاتِلُواْ أَئِمَّةَ الْكُفْرِ** : **ژباړه : نو د كفر د علمبردارانو سره وجنګيږئ** وقال تعالى: **وَقَاتِلُواْ الْمُشْرِكِينَ كَآفَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَآفَّةً وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ﴾ (التوبة: 36)**

**ژباړه : مشركينو سره پوره جګړه وكړئ لكه څنكه چې تاسو سره پوره جګړه كوي او پوه شئ چې الله رب العالمين د متقيانو سره دى.**

يعني ترهغې چې كفار او مشركين شته او په هره برخه كې د اسلام ضد فعاليت كوي نو مونږ ته اسلام د دوى سره په قتال امر كوي، دا هغه پراخه هدف دى چې د قتال په تطبيق كې ترلاسه كيږي.

د اسلام په سياسي نظام كې د مشركينو سره مقابله يو اصل دى موږ او تاسې د سولې په ستراتيژۍ خبره كړې وه چې هغه اصل نه دى خو د قتال ستراتيژي دا يو اصل دى او تر قيامته به ورته دوام وركوي باذن الله تعالى.

دا يو ثابت اصل او اساس دى چې د ځمكې په نيولو او لاس ته راوړلو دا هدف تغيير نه خوري لكه د هغو په څېر چې د افغانستان ګدۍ وركول شوه نو دا هدف او اصل يې شاته ګوزار كړ، علني يې د قتال څخه انكار او توبه وكړه او اوس لګيا دي كفارو ته د امن ضمانتونه وركوي. څوك چې دا اصل په مذاكراتو، ديپلوماتيكو اړيكو، په دوستۍ او سفارتي تعلقاتو يې بدلوي نو په دې پوهه شه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


سیکولریزم همدا غواړي او دا خلک یې په دام کې نښتي او دا هم د همغوی په حکم کې شامل دي.

هر څوک چې د قتال د ستراتېژۍ مخالفت کوي نو دا د سیکولریزم مریدان دي او همدوی سره قتال په کار دی، دا خلک که په ځان هر نوم ږدي، نوم د دوی اصلیت او ماهیت نشي بدلولای.

❖ **دویم هدف:** د اسلام په سیاسي نظام کې د قتال د ستراتېژۍ دویم هدف دادی څوک چې د مجاهدینو داخلي نظام خرابوي د دوی سره د مبارزې لپاره هم اسلام په قتال امر کړی دی، منافقینو او مخربینو سره هم د قتال امر دی تر دې چې له خپلو کړنو لاس واخلي او اسلام ته راستانه شي.

**قال الله تعالى:** **﴿لَئِن لَّمْ يَنتَهِ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَالْمُرْجِفُونَ فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلاً ۝ مَلْعُونِينَ أَيْنَمَا ثُقِفُوا أُخِذُوا وَقُتِّلُوا تَقْتِيلاً﴾**

**ژباړه: که منافقان او هغه خلک چې په زړونو کې یې فساد دی او هغه کسان چې په مدینه کې د احساس پارونکو افواهاتو خپرونکي دي، له خپلو حرکتونو څخه لاس وانخلي، نو موږ دغوی په خلاف د مبارزې لپاره تا راپاڅوو، بیا به هغوی په دې ښار کې په ډېر مشکله توګه ستا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په څنګ کې واوسیدای شي،دوی لعنت کړل شوي او هر ځای چې وموندل شي نیول کیږي به او ډېرو بدو وژلو سره وژلی کیږي به.**

یعني تر هغې چې د اسلام له مخالفت څخه یې لاس نه وي اخستی او له داخل څخه د نظام بیخ کندي کوي تر هغې به ورسره مبارزه او مقابله روانه وي.

❖ **دریم هدف:** د اسلام په سیاسي نظام کې د قتال په ستراتیژۍ امر کوي د هغه قوم سره چې تاسره یې عهد کړی او عهد یې مات کړی، کله یې چې عهد مات کړ نو بیا د قتال ستراتیژي عملي کړه.

**قال الله تعالی: ﴿أَلاَ تُقَاتِلُونَ قَوْمًا نَّكَثُواْ أَيْمَانَهُمْ وَهَمُّواْ بِإِخْرَاجِ الرَّسُولِ وَهُم بَدَؤُوكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ أَتَخْشَوْنَهُمْ فَاللّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَوْهُ إِن كُنتُم مُّؤُمِنِينَ﴾ [التوبة:13]**

**ژباړه : آیا تاسې ولې له داسې خلکو سره ونه جنګیږئ چې خپل تړونونه ماتوي او له وطن څخه یې د پیغمبر د ویستلو قصد کړی ؤ او همغوی لومړی په تېري لاس پورې کونکي وو؟ آیا تاسې له هغو خلکو څخه وېرېږئ؟ الله ددې خه حقدار دی چې ورڅخه ووېرېږئ، که تاسې مؤمنان یاست.**

(c) ketabton.com: The Digital Library


داسې نه چې هغوی درسره عهد مات کړي، ترڅون درته میده میده کړي خو ته فقط غندنې کوې او بېرته د ترون د پاتې کېدو زارۍ کوې. ترون چې يو ځل مات شو نو هغه ماهيت يې ختم شو، چې مات شو نو بيا زارۍ نه دي په کار، په دې اړه اسلام هر څه واضح کړي او مور يې په مختلفو شکلونو وضاحت کړی، د همدې هدف د تعقيب لپاره کوم قوم چې عهد مات کړي نو د قتال ستراتيژي عملي کول ورسره لازم او ضروري ده.

❖ **ځلورم هدف:** د اسلام په سياسي نظام کې د قتال د ستراتېژۍ د تعقيب ځای د باغيانو په شمول داخلي دښمن سره جنګ دی، دا خلک که مسلمانان دي خو وژل کيږي به،تر هغې چې اسلام ته غاړه کيږدي، دوی سره د قتال د ستراتېژۍ د تطبيق اجازه هم اسلام ورکړې.

**قال تعالى: ﴿ إِنَّمَا جَزَاء الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُواْ أَوْ يُصَلَّبُواْ أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلافٍ أَوْ يُنفَوْاْ مِنَ الأَرْضِ ذَلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾ [المائده:33]**

**ژباړه : کوم خلک چې له الله  او د هغه له پيغمبر سره جنګيږي او په ځمکه د دې لپاره منډې تربې کوي چې فساد راولاړ کړي، نو د هغوی**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**سزا داده چې ووژل شي، یا په دار راوځړول شي، یا یې لاسونه او پښې رد وبدلې غوڅې کړای شي یا له وطنه وشړل شي، دا ذلت او سپکاوی خو د هغوی لپاره په دنیا کې دی، او په آخرت کې د هغو لپاره له دې څخه هم لویه سزا ده .**

❖ **پنځم هدف:** دا ډېر مهم هدف دی څوک چې تاسې سره د جنګ اعلان کوي باید ورسره جګړه وشي د جګړې جواب به په جګړې سره ورکوي.

**قال تعالی: ﴿وَقَاتِلُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلاَ تَعْتَدُواْ إِنَّ اللّهَ لاَ يُحِبِّ الْمُعْتَدِينَ﴾ ﴿البقرة:190﴾**

**ژباړه : او تاسې د الله په لاره کې د هغو کسانو سره وجنګیږئ چې ستاسې سره جنګیږي، خو تېری مه کوئ چې الله تېري کونکي نه خوښوي .**

همدا شرعي سیاست او همدا د اسلام امر دی چې چا درسره د جګړې اعلان وکړ ته به هم اعلان د جګړې کوې چې هغه درسره د جګړې اعلان کوي ، هغه دې قتلوي او ته ورسره تېر 3000 کرته نقض شوی تړون راتازه کوې یا هغه دې وژني خو ته فقط غندنه کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


که مسلمانان هر څومره قتل شي، ټوټه ټوټه شي، خو تر څو چې دښمن د سولې وړاندیز ونه کړي تر هغې به ته ورسره جنګ نه بندوې یا جزیه ومني بیا به بندیږي.

د اسلام سیاسي نظام داسې سپک نظام نه دی او نه د قتال ستراتیژي دومره سپکه ستراتیژي ده چې د بین الملل او بین الافغاني او نورو مذاکراتو په لړ کې دې لیلام شي، چې دې نظام ته څوک سترګې برګې کړي سترګې به ترې ویستل کیږي.

نن سبا د طالبانو په څېر وطني ډلو ټپلو کفار په مسلمانانو زړور کړي، هغوی ورته سخته وایي دوی ورته زارۍ کوي، هغوی یې وژني دوی ورته همغسې د مات شوي تړون ته د ژمن پاتې کېدو وړاندیزونه کوي.

زموږ د ټول امت یوه خبره ده که په غربي افریقا کې مسلمانانو سره د جګړې اعلان کوي نو په خراسان کې به هم ورسره د مسلمانانو لخوا اعلان د جګړې وي.

دلته هم سیکولریزم د مسلمانانو مفکوره بدله کړې، مسلمانان یې ټوټه ټوټه کړي، په کرښو او هېوادونو یې ویشلي، د هر وطن معیارونه یې جلا کړي، د پاکستان په مسلمانانو چې څه تېریږي د افغانستان مسلمانان یې خپل نه ګڼي که د شرقي ترکستان په مسلمانانو څه

(c) ketabton.com: The Digital Library


حالات تېرېږي، وژل کيږي، په ناموس يې تيری کېږي خو د افغانستان مسلمانان يې د پوښتنې حق نه لري ځکه هغه د دوی د وطن نه دي او همداسې نور ګڼ مسائل د همدې سيکولريزم د فکري او جغرافيوي ويشنې شاته پراته دي، خو د اسلام په سياسي نظام کې بيا دا خبره بدله ده د ټولې اسلامي خاورې خبره يوه خبره او ټول امت يو امت دی.

**شپږم هدف:** د اسلام په سياسي نظام کې د قتال ستراتيژي د ظالم د لاس د نيولو او مظلوم سره د مرستې کولو لپاره تطبيقيږي.

**قال تعالی: ﴿وَمَا لَكُمْ لاَ تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاء وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيراً﴾ ﴿النساء:75﴾**

**ژباړه : آخر څه دليل دی چې تاسې د الله په لاره کې د هغو بېوسو نارينه، ښځو او ماشومانو په خاطر نه جنګيږئ چې کمزوري کړای شوي، تر فشار لاندې نيول شوي دي او فريادونه کوي وايي: اې زموږ ربه! موږ له دې وطنه چې اوسيدونکي يې ظالمان دي وباسه او له خپل لورې څخه زموږ کوم سرپرست او مرستندوی پيدا کړه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا یو اصل دی چې د نړۍ په هر کنج کې مظلوم د ظالم د ظلم لاندې وي نو د قتال ستراتیژي به تطبیقیږي.

دا زموږ اصول دي او د همدې اهدافو لپاره به د قتال ستراتیژي موږ روانه ساتو که د نړۍ په هر کنج کې مسلمانان مظلوم واقع شي نو قتال ته به ادامه ورکوو مذاکرات نشته، داسې نه ده چې موږ دلته کفارو سره بنداړونه کوو او برما کې دي مسلمانان د همدې کفارو له لورې کباب کیږي، یا دې چین کې ایغور مسلمانان ذبحه کیږي.

نو ورونو! په همدې اهدافو سوچ په کار دی چې آیا دا ټول اهداف دې ترلاسه کړي که نه؟

چې دا یو هدف دې هم ترلاسه کړی نه دی، بیا نو قتال بندول نشته، بیا نو ملا کلکه وتړه ځکه یو هدف دې هم ترلاسه کړی نه دی، نو چې دا اهداف ترڅو ترلاسه شوي نه وي قتال به جاري وي.

زموږ او ستاسې داعیه خو داسې وړه دعوه نه ده چې د یو وطن تر کرښو محدوده وي، بلکې د مجاهدینو فکر ډېر پراخه دی، د دوی اساسات او اصلیتونه معلوم دي، د مجاهدینو فکر او منهج کفارو پېژندلی ځکه یې نو دومره شدیده دښمني را اخستې ده.

له تا که څوک پوښتي چې تر څو به ستاسې قتال روان وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو دا اهداف ورته ذکر کوه چې تر څو مو دا هدفونه ترلاسه کړي نه وي تر هغې به قتال جاري وي.

په دغه اهدافو کې څلور هدفونه د خارجي سیاست اړوند دي او دوه اهداف يې په داخلي سیاست پورې مربوط دي.

**که څوک درځخه وپوښتي چې ستاسو بهرنی سیاست څه دی؟**

نو ورته ویلي شې چې زما خارجي سیاست په دې څلورو اهدافو کې راټول دی.

- **کفارووو او مشرکینو سره مبارزه.**
- **عهد ماتونکو سره قتال.**
- **د جګړې اعلان کونکو سره قتال.**
- **د هر مظلوم دفاع او د ظالم سره قتال.**

دا زموږ بهرنی سیاست دی.

طالبان دې اوس د اسلام د سیاسي نظام په دې تله څانونه وتلي، دوی دې خپل خارجي سیاست وارزوي، د دوی ټول خارجي سیاست د بین الملل په اصولو استواره دی نه د اسلام په اصولو، داخلي سیاست او هدف باغیانو او منافقینو سره قتال دی نور نو اصل جګړه او عمومي اهداف خو بهرني سیاست او بهرني دښمن سره دی.

تا چې بهرني سیاست کې (بهرنی دښمن سره) قتال بند کړ، نو بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library


پاتې څه شول؟ داسې ذلیله کړنه خو په جمهوریت کې هم نشته، د دوی خارجي سیاست ټول له همداسې بې ننګیو ډکه ده ډک دی، افسوس چې بیا ځانته فاتحین او مجاهدین هم وايي، اوس هم دلته امریکایي طیارې په داسې حال کې ګرځي چې یو طرف طالب ته ډالر ورکوي او بل طرف ډرونونه یې د مسلمانانو په سرونو چکرې وهي چې دا هر څه یې ورسره په تړون کې منلي، هماغه آمریکایي طیارو کې طالب ته ډالر راروان دي او همدا آمریکایي ډرون بیا خلافت مجاهدینو پسې ګرځي دا د طالب اسلامیت او افغانیت دی، پاکستان خو یې هسې هم دوی د یو بار مصرف په څېر استعمالوي. خارجي سیاست یې نه هغه د کفري وطنیت په اصولو برابر دی او نه د اسلام د سیاسي نظام په معیارونو، هسې د ذلت او بې ننګۍ شپې دي چې تېروي یې.

د دې ظالمانو کړنو د سیرت څخه یوه ښه دلته رایاده کړه، رسول الله ﷺ د بدر د غزا له پیل نه رادیخوا د ټولو کفارو سره جنګ ته ننوت هغه که قریش و، که نور مشرک قبایل و، که یهود و، ټولو سره جګړې ته ننوتی، دوی خو ټول کفر سره په سوله کې ژوند تېروي، که له دوی پوښتنه وشي چې د اساس نه تر حال پورې آیا د ټولو کفارو سره د قتال میدان ته داخل شوي یئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


آیا ټولو کفارو سره مو دښمني کړې ده که د یو کافر څخه دې مرستې اخیستې او بل کافر سره دې نیابتي جګړه کړې ده؟

ستا خو په هغه اساسنامه کې هم دا نشته دی چې د بین الملل تقسیم شوې ځمکې نه یو لویښت هم بل طرف مخ واړوې، یا له دې کرښو وراخوا د مسلمانانو پوښتنه وکړې، بلکې له دې کرښې وراخوا د ټولو مسلمانانو له ټولو قاتلانو سره مو دوستي ده .

د بدر له غزوې وروسته چې په کفارو باندې کوم رعب راغی، نو دې نتیجې ته ورسېدل چې مجاهدین خو یو طاقت او قوت شول، شام ته تجارتي لار یې هم په مدینه وه هغه هم بنده شوه، مشرکین د سختې وېرې او رعب ښکار شول چې اوس به څه کیږي؟ مشوره یې وکړه چې راځئ جنګ کې مو هسې هم ماته وخوړه له یو بل بدیل لارې څخه کار واخلو.

نو سوچ یې وکړ چې بیخي په مدینه لاړ نشي او مکه له بلې لارې شام سره وصل کړي د عراق په شمال کې یوه لاره وه چې له مکې شام ته تللې وه، رسول الله ﷺ دا نقطه پیدا او درک کړې وه، زید بن حارث یې له ملګرو سره ولېږه ورته یې وویل چې په دې بله لاره مشرکین ځي، ورشه او کاروان ته یې کمین ورکړه چې په یو کنج کې هم آرام ونه مومي او نه هم کومه لاره پیدا کړي، هر طرف یې کفارو ته لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



واچوه، په دې خاطر چې د اسلام زور ورته وښايي، مشرکين يې وارخطا کړل چې دوی ته خو هېڅ بديل لاره پاتې نه شوه نو مشرکينو وويل چې اوس خو پرېکنده جګړه په کار ده.

د اسلام ابتداء وه خو رسول الله ﷺ د اسلام يوه دبدبه او عظمت قائم کړ، نو دا اسلامي نظام داسې سپک نظام نه دی، دا ډېر درونږ نظام دی، په دې ځان ځارول، له دې دفاع کول، په دې لاره کې سستي، غم نه کول او ورځ تر بلې قوي کېدل، همت، خدمت او د دې نظام اصلي اهدافو باندې ناخبره خلک پوهول دي چې هسې نه بيا د ميليونونو مسلمانانو وينه د اسلام په نوم د اسلام په مقابل کې تويه شي، دا او ډېر نور مسؤليتونه موږ او تاسې ته راترغاړې دي.

نو موږ ته په دې برخه کې ډېر ستر کار او مسؤليت متوجه دی چې د اسلام د سياسي نظام په اهدافو، حقيقت او ستراتېژيو باندې ځان او مسلمانان پوهه کړو، اوس خو تاسې ګورئ چې د ميليونونو خلکو وينه د اسلام په نامه تويېږي خو لګيا دي د اسلام په نوم ځينې يې د اسلام د حقيقي نظام سره په جګړه اخته دي او د ځينو نورو يې سيکولريزم مستقيماً نورې کټې اخلي، نو ددې خلکو پوهاوی له هر څه زيات اړين دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دې خلکو هغه اصل هېر کړی خو موږ او تاسې به مبارزه کوو د سيکولريزم اهداف به رابنکاره کوو، هغه مفاهيم او اهداف چې د اسلام د سياسي نظام په اړه دي او سيکولريزم د خلکو د ذهنونو څخه ويستلي دي هغه به بېرته ورته ذهنونو کې وراچوو، تاسې پوهېږئ د صحابه و نسلونو ولې جهاد سره دومره مينه لرله او رسول الله ﷺ به ورته ويل چې زما د امت سياحت جهاد دی، تل غشي ويشتل او تربيت وکړئ ځکه چې هغوی ورته کار کاوه اهميت يې ورته معلوم و، نو موږ ته هم په کار دی چې دې فکر ته صادقانه کار وکړو، ښځه او نر بايد د سيکولريزم د فکر د محوه کولو او د اسلام د سياسي نظام د اساسي افکارو او اهدافو څخه د خلکو د خبرولو لپاره نه ستړي کېدونکي کارونه وکړي.

کله چې دا فکر پوخ شي نو که د يوې خور خاوند شهيد شي زامن په دې فکر روزي ، دا فکر نه ورکيږي او دې منهج څخه به نسل نسل قربانيږي.

**ورونو!** تاسې به په نظامي برخه کې ډېر اصطلاحات اورېدلي وي لکه ډېر خلک دا خبره کوي چې زموږ جګړه مشروع جګړه ده، ځينې خلک وايي زموږ جګړه عادلانه جګړه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو ورونو ددې ادعا به هر څوک کوي چې زموږ جګړه مشروع جګړه ده، څوک به د وطن د واک اخیستو لپاره او څوک به د وطن څخه د دفاع په خاطر خپله جګړه مشروع جګړه ګڼي او څوک به د نورو اهدافو لپاره خپلې جګړې ته د مشروع جګړې نوم ورکوي خو داسې نه ده، بلکې مشروع جګړه فقط د **اعلاء كلمة الله** لپاره کیږي، کومه جګړه چې د الله د کلمې د لوړاوي لپاره کیږي همغه مشروع جګړه ده او بس، له دې غیر نورې ټولې جګړې د جاهلیت جګړې دي، چې هغه د وطن او قوم لپاره کیږي.

د مشروع جګړې اهداف پورته ذکر شوي شپږ هدفونه دي چې همدغه اهدافو ته د رسېدو لپاره یوه جګړه مشروعیت مومي، له دې پرته نورې ټولې جګړې که په هر نوم وي د جاهلیت او وحشت څخه ډکې جګړې دي، چې هر څوک یې هر چېرته په هر نوم کوي.

**عن أبي موسى الأشعري قال: «سُئِلَ رَسُولُ الله ﷺ عَنْ الرَّجُلِ: يُقَاتِلُ شَجَاعَةً، وَيُقَاتِلُ حَمِيَّةً، وَيُقَاتِلُ رِيَاءً، أَيُّ ذَلِكَ فِي سَبِيلِ الله؟ فَقَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه وسلم: مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ الله هِيَ الْعُلْيَا، فَهُوَ فِي سَبِيلِ الله».﴿صحيح - متفق عليه﴾**

**ژباړه : ابو موسی اشعري فرمايي له رسول الله ﷺ څخه د يو کس باره کې وپوښتل شو چې د بهادرۍ له وجې جنګيږي، يا د غيرت له**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**وجې جنګیږي (وطنیت، قومیت، لسانیت) او یا د ریا کارۍ (ځان ښودنې) له وجې جنګیږي، کوم یو له دوی څخه د الله ﷻ په لاره کې دی؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې د الله عزوجل د کلیمې د لوړاوي لپاره وجنګېد دغه کس د الله په لاره کې دی.**

هغه جګړه مشروعه ده چې د کلمې د لوړاوي لپاره وي او د همدې لپاره امر شوی، د کلمې د لوړاوي مانا په همغه شپږو هدفونو کې پرته ده چې د اسلام د ارکانو ساتنه او پالنه ده او دا په همغه شپږو هدفونو کې راټولیږي.

ددغه شپږو هدفونو د تعقیب لپاره چې دې وینه تویه کړه نو تاته اجر حاصلیږي، له دې غیر په هره جګړه کې هر زخم، وژنې او ستړیاوې عبث دي.

یوه بله اصطلاح د عادلانه او غیر عادلانه جګړې هم کاریږي.

په کوم کس چې ظلم شوی هغه راپاځیږي له ځانه دفاع کوي نو دا عادلانه جګړه او چې څوک ظلم کوي دا غیر عادلانه جګړه شمېرل کیږي، نو د اسلام په سیاسي نظام کې د قتال د ستراتېژۍ تطبیق د همدې هدف لپاره هم دی چې د مظلوم دفاع وشي نو دا جګړه عادلانه جګړه ده او په نورو اهدافو سره یې مشروعیت هم حاصلیږي دا د اسلام په سیاسي نظام کې یو اصل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


که یو غلامه اداره اوس دا ادعا وکړي چې زما جګړه عادلانه جګړه ده، نو ته ترې پوښتنه وکړه ستا جګړه په څه عادلانه ده؟

تا د کوم مظلوم مرسته کړې، ته خو ظالم یې نه یوازې دا چې په افغانستان کې دې خپله وحشت شروع کړی، بلکې د نړۍ د نورو مظلومانو په سر دې د ظالمو کفارو سره معامله وکړه.

سیکولریزم هم خپله جګړه عادلانه، د بشر د ساتنې او حقوقو په نامه او پلمه مشروع بولي او د اسلام د اساسي اهدافو په منظور پیل شوی جهاد ته د تروریزم (ترهګرۍ) نوم ورکوي.

دا مسئله باید تشریح شي چې د اسلام په سیاسي نظام کې د قتال د ستراتېژۍ په چوکاټ کې جګړه عادلانه جګړه ده چې ټاکلي اهدافو لپاره ترسره کیږي او په هغې کې دا هر څه شته، هم د مظلوم د حقوقو د دفاع لپاره ده او هم نور ګڼ اهداف لري.

د قتال په ستراتیژۍ کې ډېر اصطلاحات ذکر کیږي لکه ترکیبي جګړه، چریکي جګړه، الکترونیکي جګړه، دوه جبهه یې جګړه، فکري جګړه، رواني جګړه، سیاسي جګړه، مجازي جګړه، نیابتي جګړه او نور ګڼ اصطلاحات کاریږي، نو چې ددې ټولو په مفهوم او اهدافو باید موږ پوهه شو.

تاسې پوهېږئ چې سیکولریزم همدا خبره ډېره کوي چې تروریستان

(c) ketabton.com: The Digital Library


نیابتي جګړه مخ ته وړي، نو زه او ته باید پوه شو، په همدې بحث کوو، ځکه زما او ستا نظم او نظام به ډېر پراخیږي، موږ باید د جګړې ټول ډولونه وپېژنو، د دښمن تشخیص وکړو چې موږ سره کوم دښمن کومه جګړه پر مخ وړي؟ څوک یې فکري جګړه کوي؟ څوک یې په محدوده، څوک یې په رواني، مجازي، دوه جبهه یې، زمیني، نیابتي، سیاسي او نورو جګړو بوخت دی نو په دې زما او ستا پوهېدل ډېر اړین دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نیابتي جګړه کومې جګړې ته وايي؟

د نیابتي جګړې مانا واسطه يې جګړه يا وکالتي جګړه ده، يو څوک د بل چا په وکالت جګړه کوي، اصلي دښمن شاته وي دريم کس په تسليحاتي، تبليغاتي او نورو برخو کې اکمالوي او تاسره يې جنګوي، ددغه دريمګړي جګړې ته نيابتي جګړه وايي.

د طالبانو ډله هم په نيابتي جګړه بوخته ده، د امريکا، روس، ايران، پاکستان او د نورو په نمايندګۍ مجاهدينو سره په جګړه اخته دي، هغوی يې په هره برخه کې اکمالوي نو د دښمن پېژندنه او د جګړو پېژندنه اړينه ده.

د نيابتي جګړې دښمن به خپل اهداف هم لري، خو اصلي او عمومي هدف يې د کفارو د ګټو ساتنه او د همغوی په نيابت د مجاهدينو سره جګړه ده،د دوی اهداف به هم په دې جګړه کې وي لکه د چوکۍ او واک ترلاسه کول، پيسې او سهولتونه درلودل،او ځينې نور... خو اساسي اهداف يې د بادارانو اوامر تطبيقول او د هغوی هر اړخيزې ګټې ساتل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د مجاهدینو په مقابل کې چې اوس نقدې مرستې راځي، امریکا ورته دومره اسلحې او تجهیزات ورکړل،نور په نړیواله سطحه یې د رسمیت پېژندنې او نورو مسائلو په اړه کمپاین کوي، په سیاست کې

همدا مانا لري چې دوی د کفارو نیابتي ملیشې دي.

یعنې د دوی بهرني سیاست کې ټوله نیابتي پالیسي او جګړې مخته وړل دي او داخل کې به خپل اهداف ولري او هغه هدفونه هم د کفر پالنې په پار دي، لکه د وطنیت او قومیت ګټې او شعارونه د چوکۍ ساتل، د عقیدې اړوند شرک، قبر پرستي، رافضیت او نور مسائل...

په دنیا کې امریکا او روس سره خپلو کې نیابتي جګړې کوي، ویتنام کې هم روس او امریکا نیابتي جګړه وکړه، همدا راز په اوکراین کې هم نیابتي جګړه کې ښکېل دي، د اوکراینیانو او د قطر نه سرچینه اخیستونکو مسلمانانو(!) کې هم توپیر نشته، دواړه بهر کې د امریکا پالیسي مخ ته وړي او داخل کې به خپلې نورې وطني ګټې پالي، ایران او اسرائیل هم په نیابتي جګړه کې ښکېل دي، مستقیم ایران اسرائیل سره مخامخ کیږي نه، بلکې

(c) ketabton.com: The Digital Library


هلته ورته حماس، حزب الله، جهاد اسلامي فلسطين او نورې ډلې تقويه کوي او اسرائيل هم بيا همداسې دی، مستقيم ايران سره ښکرونه نه ارموي بلکې د (مجاهدين خلق، جندالله) او په نورو نومونو يې د ايران په مقابل کې استعمالوي، عربستان هم ايران سره په يمن کې په نيابتي جګړه بوخت دی.

**مجاهدينو ورونو!** په دې اصطلاح بايد تاسې پوره سر خلاص کړئ که څوک د اسلامي دولت په مجاهدينو دا رد کوي نو ته ورته وايه د نيابتي جګړې په مانا لومړی ځان پوهه کړه، بيا د اسلامي دولت سره ته د يو چا د اسلحې، تبليغاتو او نور کمک ثابت کړه يا په بهرني او داخلي سياست کې يې د کفارو کوم هدف عملي کړی؟

په مقابل کې ټول طاغوتي او کافر دښمنان يې وګوره چې له کومو ځايونو تمويليږي، چاته علني او مخفي ډالرې راځي.

ورونو د حق او د باطل ترمنځ به په هر ډګر کې مبارزه جاري وي، څوک چې ځانته د حق پلوی وايي او دا فکر ولري چې موږ بايد دښمن ونه لرو نو دا د عقل خلاف خبره ده، بلکې د حق مقابل کې به حامخا باطل ودريږي او د حق ډلې د لمنځه وړلو

(c) ketabton.com: The Digital Library


لپاره به لاس په کار کيږي، په دنيا کې چې دا کومې جګړې روانې دي، دا ددې لپاره نه دي چې ټول انسانيت دې ختم شي او يا مقابل لورى په فزيکي توګه محوه کړي، بلکه هدف يې دادی چې کومه دعوه لري له هغې يې تېر او د حق له مسيره يې منحرف کړي، دا تاسې عملي ولېدل کله چې يو څوک د حق له مسيره په عمل کې کاږه شول ولو که په خوله د حق نارې وهي خو بيا ورسره کفار نور کار نه لري، بيا ورسره نه يوازې دا چې جګړه نه کوي بلکې مرستې هم ورسره کوي، د ډالرو په کڅوړو يې هم نازوي، ورسره مجلسونه او تړونونه هم کوي، هر ورځ د نړۍ نه ورته کفار هم راروان وي او په هره برخه کې يې اکمالوي او لاس نيوى يې هم کوي او د دوی خپل هيئتونه خو بهر کې د کفارو سوال او ځواب نه هېڅ نه فارغيږي يوه ډله ځي او بله راځي.

نو دا خبره مو ځکه وکړه چې د حق لارويان به د کفارو دې مکر ته ډېر متوجه وي او په دې بايد مطمين اوسي چې د دښمن د دښمنۍ شدت چې تاسره څومره زيات وي نو همدومره ته د حق په مسير ولاړ يې، د دښمن له دښمنۍ به ډار نه محسوسوې بلکې

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دښمن په مقابل کې به په هره برخه کې مقابله کوې ځکه ته یو معنوي ملاتړ او د اللهﷻ په مرسته عقیده او باور لرې، ستا یقین او ایمان همدا دی چې ته که هر څومره په وسایلو او امکاناتو مجهز دښمن ولرې که د حق په مسیر نیغ روان وې نو اللهﷻ به ستا مرسته کوي او دښمن به دې ددې هر څه سره درته مغلوب کړي.

دښمن چې کله په نظامي برخه کې مات شي نو په سیاسي برخه کې ماتې نه مني، درته رامخته کیږي یا په فکري برخه کې درته راوړاندې شي که چېرته په دې برخو کې (په فکري او سیاسي ډګر) ماتې وخوري نو بیا د زور له لارې کار اخلي او وحشت ته مخه کوي او د دښمن ظلمونه او وحشتونه به تل د مسلمانانو په خلاف جاري وي.

تاسې وګورئ کله چې د کمونیزم فکر او عقیده راپیدا شوه او غوښتل یې چې دا فکر خپور کړي نو د دوی لمړني مشر ستالین دا خبره وکړه چې ۷۵ سلنه ملت دې ختم شي خو ۲۵ سلنه نور

(c) ketabton.com: The Digital Library


دې سوچه کمونیزم قبول کړي، ځکه یې نو شل میلیونه خلک قتل کړل بیا یې کمونیزم عام کړ.

کله یې چې خلکو ته په خپل فکر قناعت ورنکړای شو، نو بیا یې په قتل شروع وکړه، هر مکتب او نظریه خپلې نیمګړتیاوې لري یوازی اسلام دین دی چې لله الحمد د هر چا غوښتنو او پوښتنو ته ځواب ویلی شي، په هره برخه کې په منطق او دلیل خلکو ته قناعت ورکوي او که نورې باطلې فرقې چې په بحث کې پاتې راشي نو بیا وحشت او زور ته مخه کړي.

که چېرته کمونستان وایي چې د دوی فکر د عدالت څخه سرچینه اخلي نو مشر به یې شل میلیونه خلک نه وژل، همدا خبره د افغانستان کمونستانو خلق او پرچم هم کوله چې زموږ مشر ستالین دومره خلک ددې نظریې په سر وژلي موږ هم باید افغانستان کې همداسې قتل عام وکړو چې دا نظریه په خلکو ومنو او همداسې یې وکړل خو کامیاب نه شول، په زرګونو خلک یې په لمانځه او عباداتو ونیول او تري تم یې کړل، نور په بمبارونو او جنګونو کې خو یې رحم نه پېژانده، ځاروي او نور

(c) ketabton.com: The Digital Library


زنده سر یې هم وژل لېکن په زور خپل هدف ته ونه رسېدل او کومه نتیجه یې لاسته ورنغله.

همداسې ایران کې که وګورو له شیعه و نه مخکې سني مذهب حاکم وو، خو د دولت عثمانیه(!) په وخت کې د مسلمانانو د غفلت له امله په ایران کې شیعه مذهب وده وکړه، ددې لپاره چې ورسره دلیل نه و چې په شیعه توب قناعت ورکړي، د خلکو پوښتنو ته یې ځواب نشو ویلای نو یو میلیون خلک یې قتل کړل او شیعه عقیدې ته یې رسمیت ورکړ.

نو ورونو تاسې ته دا مسائل ځکه بیانوو چې تاسې خپله مطالعه او علم زیات کړئ، ددغه ټولو باطلو ادیانو او فکري مکتبونو په تاریخونو ځانونه خبر کړئ چې دوی سره په هره برخه کې مبارزه وکړئ او جوابونه ورته ووایئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مجازي جګړه

د مجازي جګړې اصطلاح ټول همدغه تبليغاتي جګړې پورې منحصر کېږي. لکه په انټرنټ او نورې مجازي نړۍ کې تبليغات روان دي، دښمن ټول تمرکز په همدې کوي چې د مسلمانانو د انګېزې او تفکر ځای او ځاله ورختمه کړي، په مختلفو قسمونو او پروګرامونو، دعوتونو، پروپاګنډو، خبرونو او نورو ډول ډول بحثونو، فلمونو سريالونو، ګېمونو او نورو مختلفو چلونو د اسلامي امت د ځوانانو فکرونه يې انحصار کړي او د دوی د اعصابو کنټرول يې په خپل لاس کې اخيستی.

نو مسلمانان هم بايد ددې جګړې لپاره آمادګي ولري همدغسې خپل فکر او عقيده له مختلفو مشروعو لارو د دښمن د متفکره دماغو تر داخله ورسوي او ددې ترڅنګ خپل ځوان نسل د دښمن د دې مجازي جګړې له طلسم څخه را خلاص کړي.

دا داسې ساده جګړه نه ده، ډېر خلک دي چې نه يې قدرت او نه يې سياست استعمال کړی، نه يې نور امکانات او انرژي مصرف کړې خو د همدې مجازي جګړې له لارې يې خپل ځان لپاره ځواک او عسکر پيدا او په نظامي برخه کې يې استعمال

(c) ketabton.com: The Digital Library


کړی دی، دا زموږ او ستاسې لپاره ښه مثال دی، مسلمانان که ویښ او بیداره وي نو دوی سره حق دی او د حق دا ځانګړتیا ده چې د چا تر سترګو او غوږونو ورسیږي ډېر ژر يې قبلوي، نو د اسلامي خلافت مجاهدینو هم د همدې مجازي جګړې په مټ وکولای شو په امریکا او نورو غربي او کفري هېوادونو کې مجاهدین تیار او آماده يې کړي تر څو راپاڅېږي يا د اسلحې سره او یا په موټرو او چړو سره کفار ووژني، نو ځکه کفار د مسلمانانو له لوري ددې جګړې د اغېزو څخه سخت په ډار کې دي او دا ډار به تاسې له دې محسوسوئ چې دوی څومره په مجازي نړۍ کې زموږ هڅې ټکنۍ کوي او لګیا دي په همدې هڅه کې دي چې په مجازي جګړه کې خپل محاذونه زیات او غښتلې کړي او زموږ هغه بند او له منځه یوسي.

موږ او تاسې باید پوره آمادګي ولرو دا تبلیغاتي جګړه ده چې د مجازې نړۍ په مټ مخ ته ځي.

د دښمن یوه ستراتیژي په دې بنیاد ده چې څنګه د اسلامي خلافت مجاهدینو ته ماتې ورکړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو دوی دا خبره واضح کړې وه چې اسلامي خلافت ډېر پرمختګ او سترې لاسته راوړنې چې لري د دوی تبلیغاتي برخه قوي ده، دښمن خپله په همدې اعتراف هم کړی دی.

یعنې دښمن په دې قانع دی چې دوی ته د مجاهدینو تبلیغاتو زیان

اړولی، نو موږ ته هم په کار دی چې همداسې په غفلت کې ونه اوسو خپلو تبلیغاتو او دعوت ته زور ورکړو په دې برخه کې لله الحمد دښمن مرعوب دی، نو چې نور یې هم دا پلانونه ورخراب کړو.

هرچا چې له ځانه وروسته یوه صدقه جاریه پرېښې وي، نو د هغې عمده برخه به تبلیغاتي او دعوتي وي، یعنې ډېرو خلکو په دې برخه کې ډېر اساسي کارونه کړي چې که هغوی نشته هم د هغوی د خدمت اجر ورته رسیږي، سید قطب چې ډېر خدمت وکړ هغه په تبلیغاتو کې ماسټري درلوده، په دې برخه کې ډېر ماهر و، هغه ډېر کار د وخت د معارف په اصلاح کې وکړ، نتیجه یې داده چې تر اوسه یې فکر او انګېزه باقي ده او ډېر اصلاحات یې رامنځ ته کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


مخکې موږ خبره کړې وه چې په جګړه کې ته د دښمن ټول عسکر نه شې وژلی، خو د دښمن د اکثره عساکرو مورال او روحیه وژلی شې، ښه سم دم، روغ جوړ، غټ پټ به وي خو د جګړې څخه به یې لاس نیولی وي چې دا کار تاسو د همدې تبلیغاتو له لارې کولای شئ.

دښمن په فزیکي شکل ټول ته نشي محوه کولای خو په ډېرو کمو امکاناتو یې ته روحیه او د مقاومت ځواک وروژلی او د خپلې اغیزې لاندې یې نیولی شې.

د تبلیغاتو، اعلام او دعوت څخه ډېرې سترې لاسته راوړنې موږ لرلای

شو او موږ نیمه جګړه له همدې لارې ګټلای شو، ځکه په جګړه کې زموږ او ستاسې لپاره اصلي جوهر روحیه ده، نو د تبلیغاتو په مټ موږ کولای شو چې هم خپلو مجاهدینو ته روحیه او مورال ورکړو او هم له دې لارې د دښمن روحیه وځپو.

موږ په دې اړه ډېر بحثونه کړي هغې ته مراجعه وکړئ، دلته مو دې موضوع ته ځکه ربط ورکړ چې د جګړې په ډولونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


يوه مجازي جګړه ده او د مجازي جګړې تر شا تبليغات او اعلامي مواد وي.

نو په نظامي ستراتيژۍ کې موږ وايو چې د دښمن ټول ځواک په فزيکي لحاظ ځپل ستونزمن او ګران بيه دی، نو لازمه ده چې په مجازي جګړه کې د تبليغاتو په مټ کار وکړو چې هم د خپلو مجاهدينو روحيه لوړه وساتو او هم د دښمن روحيه وځپو.

د دښمن مقاومت او شجاعت هم په دې لاره کې وځپو که دښمن لس کسه روحيه ولري نو درسره جنګيږي او که سل کسه وي خو چې د جګړې روحيه ونه لري هغه تښتي، نو په همدې اساس د نظامي ستراتيژۍ عمق او اساس همدا روحيه او ذهنيت دی.

موږ بايد دخپلو مجاهدينو روحيه ښه قوي کړو که هر څومره کم يو او امکانات مو کمزوري وي خو چې د مجاهدينو روحيه مو لوړه وي نو موږ به د الله ﷻ په مرسته د دښمن ستر ستر پلانونه خاورې کړو، همدغسې د دښمن روحيه او ذهن به يې وځپو چې دا کار موږ د تبليغاتو له لارې کولای شو.

تاسې که هرکله نظامي ستراتيژي جوړوله نو نيم قوت او نيم امکانات او بوديجه مو همدې ته ځانګړې کړئ چې په خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library


اړوند ساحو او سيمه کې ښځکه د خپلو مجاهدينو روحيه پياوړې او ښځکه د دښمن روحيه وځپېږ،د دښمن روحيه دې چې وځپله نو نيمه جګړه همدا ګټي او بيا په يو حرکت يې لوی لښکر ماتولی شئ، ان شاءالله.

تاسې په نيت کې سرچ کړئ وبه ګورئ چې امريکا په سلګونو ميلياردونه ډالر د مجاهدينو د روحيې د ځپلو لپاره په تبليغاتو لګولي دي، په مده د څو کلونو کې يې دا مصرف کړی، د ماليې وزارت يې د تروريزم د ځپلو لپاره او بيا په خاص ډول يې د دوی په اصطلاح داعش ذکر کړی چې دومره په ميلياردونو ډالر يې د مجاهدينو د روحيې د ځپلو په پار او د اسلامي خلافت په خلاف په ډول ډول تبليغاتو مصرف کړي، هر هېواد او هر تنظيم چې وګورې نو د اطلاعاتو په نوم يو وزارت او اداره لري دا وزارت د اطلاعاتو نه بلکې د تبليغاتو وزارت وي.

خو نوم ځکه تبليغات نه ورکوي چې دې اصطلاح ته د مسلمانانو توجو راونه ګرځي چې بيا به ورسره يو مخالف فکر او انګېزه پيدا شي، دوی نو د څه شي اطلاعات راټولوي، دوی اطلاعات نه بلکې تبليغات پاشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


المان په لومړي نړيوال جنګ کې چې کله شکست وخوړ نو د خپل شکست په علتونو کې دا ذکر کوي چې موږ سره د نظامي ستراتېژۍ ترڅنګ تبليغاتي ستراتيژي موجود نه وه، نو له تبليغاتو څخه مو کار وانخيست که نه زموږ فوځ او تکنالوژي ښه قوي وه خو له ځانه ډېر کمزوري دښمن مات کړو، وجه دا وه چې د دښمن تبليغاتي ستراتيژي پياوړې وه او موږ نه درلوده، انګلستان خپله نيمه بوديجه په همدې لګوله چې د المان د فوځ روحيه ماته کړي او له تبليغاتو يې کار واخيست.

## د قتال ستراتيژي درې اړخونه لري

- **نظامي برخه:**
- **تبليغاتي برخه:**
- **استخباراتي برخه:**

په نظامي برخه کې به نظامي وسايل اسباب، افراد او نور د نظامي جګړې اړوند لوازم ټول ليکۍ او د خپلې طرحې اړوند به ستراتيژي جوړوۍ.

همداسي نظامي ستراتېژۍ کې تبليغات اساسي رکن دی، تبليغات بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دوه برخو وېشىٔ، يو د دښمن ضد تبليغات چې د هغوى د تبليغاتو رد او جواب وي او د هغوى د روحيې د ځپلو په هدف وي او بله برخه يې د خپلو مجاهدينو د روحيې د پياوړتيا، د دوى د روزنې او تازه ساتلو په هدف وي.

د دښمن په ضد تبليغاتو کې به ستاسې هدف د دښمن روحيه او انګېزه، شجاعت او مقاومت ته فکر وي (دغه يادې برخې به يې نښه کوئ) تر څو د هغوى جګړه باطله ثابته کړئ، په دې يې قانع کړئ چې تاسې په ناحقه ياست او چې وژل کېږئ آخرت مو بربادېږي.

د خپلو مجاهدينو د پياوړتيا په برخه کې د تبليغاتو له لارې تاسې کولاى شئ د خپلو مجاهدينو روزنه وکړئ، د جهاد او قتال په فضايلو يې خبر کړئ، د اسلام د سياسي نظام په ارزښت او اهميت يې پوهه کړئ، د اطاعت او عبادت په اړه يې تشويق کړئ، له خبرونو او معلوماتو يې آګاه وساتئ،وخت په وخت يې احساسات او جذبات ژوندي وساتئ،د خپل حقانيت او د خپل منهج د رښتينولۍ په اړه يې وپوهوئ، د اخروي اجرونو او انعاماتو په اړه يې ترغيب کړئ او نورې ګڼې برخې شته چې د مجاهدينو مورال او روحيه لوړه او ژوندۍ ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو تاسو يوازې په نظامي برخه کې خپل پلان او ستراتيژي مه جوړوئ، بلکې دوه نورې برخې هم په پام کې وساتئ، ځکه د نظامي ستراتېژۍ همدا درې ستنې دي **(تبليغات، استخبارات او نظامي اقدام)** او ستا د نظامي جګړې چت په همدې ستنو ولاړ دی که يوه ستنه کمزورې وي نو ستا چت رالوېږي.

که په يوه سيمه کې کار کوې ددې هرې برخې لپاره بايد ځانګړې بوديجه او ملګري ولرې، که په سيمه کې د خپلو تبليغاتو نظام قوي کړې دا تاته جګړه آسانوي، د خلکو ذهن په خپل حقانيت خلاص کړې د اسلام د سياسي نظام په ګټو يې وپوهوې که يو کلی يا يو قوم ستا په مخالفت کې ودرېږي او د تبليغاتو په مټ يې ستا په حقانيت سر خلاص شو نو هغه بيا ستا په څنګ کې ودرېږي، همدا راز د استخباراتي معلوماتو ترلاسه کولو يعنې د دښمن تعداد، د دښمن قوت، د دښمن لارې او اطلاعات او نور اړوند معلومات د خپل هدف لاندې ونيسې او ددې برخې د پياوړې ساتلو لپاره بايد خپل افراد، بوديجه او اداره ولرې او درېيمه خبره بيا نظامي اسباب، تکتيک او نور اقدامات دي.

دښمن د تبليغاتو له لارې زموږ ټولنه هدف ګرځولې، څنګه زه او ته د دښمن تبليغات بې اثره کولای شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


دښمن چې د خپلو تبلیغاتو په مټ زموږ ټولنه په خپل طلسم او کنټرول کې ساتلې، د اسلام د سیاسي نظام په ځای یې ورته سیکولر او دیموکراتیک نظامونه د اسلام په نوم ورپېژندلي او په نورو ډول ډول خرافاتو یې زموږ د ټولنې ذهنونه مصروف ساتلي چې باید د اسلامي نظام په اړه نور هېڅ فکر ونه کړي! نو دلته مونږ باندې فرض جوړېږي چې د خپلو تبلیغاتو ماشین قوي کړو د خپلې ټولنې فرد فرد ته د سیکولریزم اهداف او سیاسي جوړښت وروپېژنو، د اسلام د سیاسي حقیقي نظام په اساساتو او اهدافو یې وپوهوو، د دوی ذهنونه د دښمن له یرغل او اشغال څخه آزاد کړو.

دښمن چې کله په نظامي برخه کې شکست وخوري نو خپل شکست بیا د تبلیغاتو له لارې جبرانوي، تاسې به عملي شکل دا درواغجن ګورئ چې په کومه برخه کې شکست سره مخ شي نو بیا د تبلیغاتو له لارې خپل شکست توجیه کوي، په درواغ خپل ځان له شرم څخه خلاصوي او د خلکو غلطه ذهنیت سازي کوي.

مجاهدین باید د سیمې څخه رانیولې د نړۍ په سطحه یو سوچ او فکر وکړي چې اسلامي امت به له دې حالاتو او د سیکولریزم له فکري اشغاله څنګه را آزادوو؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو په همدې اساس وايو چې د اعلام او دعوت د ادارې ورونه فکر ونه کړي چې موږ خو د نظامي جګړې څخه لرې پاتې يو او دا زموږ کار به هغومره اغېز ولري که نه؟ او يا نظامي ملګري دا فکر ونه کړي چې دوی خو نظامي سخت او له خطرونو ډک دروند کار کوي د دعوت او اعلام ملګري خو هسې چاپېره دي، نه! بلکې نظامي جګړه له دريو برخو جوړه ده چې مخکې مو ذکر کړه.

اعلامي او دعوتي برخه يو رکن او اصل د جګړې دی، دا برخه بايد سسته نشي او نه هم همداسې په جمودي حال کې پاتې شي بلکې روزانه به ته سوچ، نوښتونه او پرمختګونه به کوې، د ټولنې نبض او د خپلو مجاهدينو حالات به ګورې لکه د يو ماهره ډاکټر ته به د ټولنې امراض معلوموې او بيا به ورته همغسې معنوي او روحي دوايي ورکوې. مخکې مو خبره کړې وه چې دين او سياست جدا نه دي، په دې تاسې قانع شوي ياستئ او د سيکولريزم دا مفکوره مو رد کړه چې دين او سياست سره جدا بولي.

**نو څنګه چې دين له سياست څخه جدا نه دی دغسې سياست له جګړې څخه جلا نه دی، څنګه چې جګړه له سياست څخه جلا نه ده، داسې جګړه له تبليغاتو څخه بېله نه ده بلکه دا ټول سره وصل او يو**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د بل لپاره لازم او ملزوم دي،تبليغات د جګړې، جګړه د سياست او سياست د دين جز دی.**

زموږ خبره په نظامي ستراتېژۍ روانه وه نو اوس راځو دې ته چې د نظامي ستراتېژۍ مانا څه ده؟

## د نظامي ستراتېژۍ تعريف

د نظامي ستراتېژۍ مفهوم او مانا دا ده چې دا کوم امکانات ستاسې په لاس کې دي، دغه امکانات په مختلفو تکتيکونو په داسې شکل استعمال کړئ چې د تعيين شويو اهدافو ترلاسه کولو لپاره زمينه مساعده شي.

کله چې موږ نظامي ستراتيژي ليکو نو په درې سطحو يې ليکو:

- **په عمومي توګه د جګړې هدف او علت څه دی؟**
- **ورځني عملياتو او يا خاص نظامي حرکاتو په سطح**
- **تکتيک او فنونو په سطح**

په دې اصطلاحاتو کې تاسې د جګړې په اصولو پوهېږئ، داسې نه ده چې جګړه بس دښمن سره مخامخ کېدل او ډزې کول دي، بلکې ددې جګړې په علت او هدف ځان پوهول اصل کار دی، دويمه خبره د عملياتو اجرا کول دريم د فنونو او تکتيک استعمالول دي. ځينې خلک به وايي چې ولې پرته له ستراتيژۍ جګړه مخ ته نه ځي که

(c) ketabton.com: The Digital Library


څنګه؟  بې له ستراتیژۍ هم جګړه کله کامیابیږي خو د ستراتېژۍ په صورت کې ستا افراد،وسائل او نوره انرژي بېځایه نه مصرفیږي،د ستراتېژۍ په درلودو به هم ته جګړه ګټې او هم به خپل افراد او امکانات د ضایع کېدو څخه وساتې.

## د اسلام په سیاسي نظام کې د خدعې قاعده

دې موضوع ته مو قاعده ځکه وویله چې د قاعدې ترشا ثابت هدفونه او فواید پراته وي نو ددې ترشا هم داسې ثابتې لاس ته راوړنې او فواید شته.

نن سبا ځینې ملګرې وایي (الحرب خدعة) مانا دا چې د دښمن تر منځ اختلاف واچوه او ددې حدیث څخه همدا استدلال کوي چې د دښمن منځ ته ننوځه، دښمن منځ کې اختلاف واچوه او خپل هدف ته ځان ورسوه.

**ورونو!**

ددې قاعدې مفهوم کوچنی کول او فقط یو کار ته شاملول او محدودول هم د سیکولریزم له لورې مروج شوې نظریه ده، د اسلام په سیاسي نظام کې دا ډېر پراخه بحث، قاعده او حیاتي عنصر دی، که غلو ونکړو نیمه جګړه په همدې سپره ده، خو اوس د اکثره

(c) ketabton.com: The Digital Library


مسلمانانو ذهن کې ددې قاعدې سره فقط د دښمن ترمنځ د اختلاف خبره راځي چې دښمن ترمنځ اختلاف واچوه او د اسلام په نفع يې ګټه پورته کړه او دا حديث يې هم دليل کې مخکې کوي.

**ورونو**: زمونږ جګړه يواځې ددې لپاره نه ده چې د دښمن منځ کې اختلاف واچوو بلکه دا يو جز د جهاد دی، هېر وخت به مونږ له دې غير چې د دښمن منځ کې اختلاف اچولی وي ، خدعه به مو کړې وي، دښمن به مو هېر متضرره کړ ې وي، نو داسې نه ده چې يوازې اختلاف ټکي پسې نښتي يو.

هېر کله داسې شوي چې د دښمن منځ کې د اختلاف اچولو په خاطر له خپلو اصولو، تګلارو او شرعي مکلفيتونو هم تېر شي او فقط دا يې اورېدلي وي چې د دښمن منځ کې اختلاف واچوه، نه! په داسې حال کې هېڅ ضرورت نه لرو چې د دښمن منځ کې اختلاف واچوو چې مونږ دې خپل اصول، منهج، ظوابط او نور ارزښتونه د پښو لاندې کړي وي او بيا د دښمن منځ کې مو اختلاف اچولای وي، دا اوس زمونږ اصل هدف نه دی دا يو جز د جګړې دی په دې بايد ښه ځان پوه کړئ.

که ته امير يې نو خپله يا هم د ملګرو په خوله داسې يو تصميم ونه نيسې چې څه که امراؤ اجازه نه ده کړې خو دلته که مونږ د خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library


اصولو او ظوابطو او منهج دغه.. دغه.. برخه د پښو لاندې کوو نو مقابل کې يې د دښمن منځ کې اختلاف اچولی شو نو هېڅکله داسې کار ته زړه ښه نه کړي.

موږ په شريعت کې په اعلاء کلمة الله مکلف يو، ډېرو خلکو او تنظيمونو اعلاء کلمة الله د پښو لاندې کړې او همدا يې اصل ګرځولی چې د دښمن منځ کې اختلاف اچوم.

که چېرته د اعلاء کلمة الله لپاره فرصت پيدا شو چې د دښمن منځ کې اختلاف واچوې خو ښه ده مګر د يوې جزوي مسئلې لپاره به اصل نه قربانوې دا مهمه قاعده ده او ان شاءالله پراخه بحث پرې کوو، اصلي مفهوم او ماهيت يې تاسې ته ذکر کوو.

خدعه کې اجتهاد او اقدام دا د امير رايې ته پرېښودل په کار دي، که امير زمينه مساعده وګڼله بس هغه پوهيږي، هر يو په دې مکلف نه دی چې ووايي بس دا جواز لري چې د دښمن منځ کې اختلاف واچوو راځه دښمن دوکه کړه ورته تسليم شه، د دښمن داخل ته ننوځه او داخل کې يې اختلافات واچوه، نه داسې نه ده! دلته ته له اصل څخه تېر شوی يې او دا شرعي سياست نه دی، د خدعې ځای او محل معلومول دا د امير کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


داسلام په سیاسي نظام کې د نظامي ستراتېژۍ په کربښه کې لومړی خدعه تعریفوو.

**د خدعې لومړی تعریف:** هغه چل، نیرنګ او حیله ده چې دښمن ته پرې ضربه ورکول کیږي او په پایله کې یې دښمن شکست سره مخ شي یا تېښته وکړي.

یعنې دا خدعه دښمن ته ځکه ورکوئ چې یا شکست وخوري یا تسلیم شي یا وتښتي، ډېر خلک دښمن ته تسلیم شي وایي ما دښمن ته دوکه ورکړه او خدعه مو ورسره وکړه، داسې نه ده! په دې اړه ډېر خلک غولېدلي دي، خدعه خو د همدې لپاره ده چې ته دښمن خپل ځانته تسلیمۍ لپاره مجبور کړې.

ډېر ساده مسلمانان ځینې خبیثانو خطا ایستل چې دښمن ته تسلیم شه او دښمن له داخل څخه وواهه، نو داسې کول نه دي په کار .

**د خدعې دویم تعریف:** خدعه په دې هدف کوې چې دښمن ګمراه او غافله کړې یعنې داسې چل او تېر ورکوې چې دښمن څخه لار ورکه او بدل تصور ورکوې چې هغه غافله شي او بیا یې راګیر کړې چې یا یې شکست سره مخ کړې یا درته تسلیم شي یا وتښتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه دویم تعریف جامع تعریف دی، چل یا نیرنګ د همدې لپاره کوو چې دښمن ګمراه یا غافله شي او بیا یې پایله د دښمن تسلیمي، شکست یا تېښته شي.

## د دښمن ګمراه کېدو کې کوم مفهوم پروت دی؟

یعنې دا چې دښمن داسې مجبور کړې چې ستا په مقابله کې له نظامي اقدام څخه وغورځېږي، فکر یې بدل کړې.

**په بل تعبیر:** دښمن د خپل قوت، امکاناتو ، وسایلو او نورو اړونده مواردو په برخه کې په شک کې واچوې او یا یې په اړه بدل تصور ورکړې، حالاتو ته په کتلو چې څنګه لازمه وي، نتیجه د شک بیا داده چې دښمن اقدام نشي کولای او تصمیم نشي نیولای.

نو خدعه د اخوانیانو په څېر داسې محدوده نشي چې فقط دښمن ته تسلیمي ورکول په دې نیت چې دښمن منځ کې اختلاف اچوم چې نه بیا اختلاف شي او نه درته اسلام درپاتې شي نو ددې فکر له محدودې راوتل په کار دي.

دا قاعده که یوه ځای کې استفاده ترې ونشوه بل ځای کې استعمال کړه.

موږ پورته خبره کړې وه که نظامي ستراتیژي لیکو په درې سطحو کې به یې لیکو، یوه عمومي سطحه ده چې مثلاً دې ولایت کې عملیات

(c) ketabton.com: The Digital Library


کوم، هدف مې څه دی، لاس ته راوړنې او ضرورتونه څه دي، دويمه سطحه د عملياتو سطحه ده چې يو عمليات څنګه رهبري کړم، څنګه يې سر ته ورسوم، څنګه وسايل او اسباب محيا کړم، څنګه دښمن غافل او ګمراه کړم، درېيمه سطحه بيا د تکتيک او فن ده، د کوم تکتيک او فنونو څخه کار واخلم تېرو تجربو څخه که له نوې تکتيک څخه کار واخلم، ملګري په نويو تکتيکونو بلد دي که نه؟ نوی کوم تکتيک موثر دی، نو اوس د اسلام په سياسي نظام کې د خدعه په تړاو په همدې درې سطحو به سوچ کوې.

**الف: په عمومي سطحه .**

**ب : په ځانګړې سطحه ( دخاصو عملياتو په سطحه)**

**ج : د تکتيک په سطحه .**

يوه يې عمومي سطحه ده، څنګه برنامه ريزي وکړم؟ څنګه اهداف په ډاګه کړم؟ څنګه دښمن ته شکوک پيدا کړم؟ عمومي دغه ولايت کې څنګه دښمن زما د افرادو وسايلو امکاناتو او نورو مسائلو اړوند په شک کې واقع او ګمراه يې کړم او بيا ضربه ورکړم؟

د اسلام په سياسي نظام کې چې په درېو سطحو کې ستراتيژي ليکې نو په همدې درېو برخو کې به خدعه هم پام کې ساتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په عمومي سطحه داسې دريځ اختيار کړې چې دښمن غافله کړي او په شک کې واچوي.

له داسې يوې ناحيې ګذار ورکوې چې هلته دې دښمن ته دا تصور ورکړی چې دلته مجاهدين نشته، هېڅ فعاليت نه لري، دښمن دې ګمراه کړی، د دښمن تصور دې بدل کړی، هغه ناحيه او سيمه کې دې دښمن غافله کړی، نو هملته سم پوخ درز ترې پورته کړه.

د جزوي عملياتو په سطحه هم بايد ته يوه خدعه وکړې، واړه عمليات، ترور، وړوکی کمين، فدايي، انغماسي، ماين کاري يا دعوتي، اعلامي او نورو برخو کې کوم کار کوې، نو په هره برخه کې فکر وکړه د موقع سره مناسب بايد ته څه ډول خدعه وکړې دښمن څنګه غافل ګيره کړې، څنګه يې په شک کې واچوې او ګمراه يې کړې؟ کله چې دښمن په غفلت کې واچوې او ګمراه يې کړې نو بيا دښمن ښه ګذار هم خوري.

د تکتيک او فنونو په برخه کې به هم ته خدعه کوې، په کوم تکتيک اسلحه او افراد استعمال کړم؟ په کوم تکتيک د خپل قوت نمايش وړاندې کړم که نه اوس مناسب نه دی؟ له کوم حربي فن او مهارت څخه کار واخلم؟ کومه خدعه دلته کاميابېږي چې همغه وکاروم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


دښمن باندې د رعب اچولو لپاره څه په کار دي؟ ددې هرې خدعې تر شا یو مقصد پروت وي او یو هدف وي.

**الف:** د عمومي عملیاتو په سطحه چې خدعه کوې نو هدف دې دا وي چې دښمن په **ګمراهۍ** کې واقع کړې.

**ب:** د جزوي یا وړو عملیاتو په سطحه ته خدعه کوې نو هدف دې باید د دښمن **غافله کېدل** وي.

**ج:** په تکتیک او فنونو کې د خدعې ورکولو هدف دې باید په دښمن د **رعب اچول** وي.

په دویمې نړیوالې جګړه کې د المان او انګلستان تر منځ په جګړه کې انګلستان د لرګیو طیارې او ټانګونه او نور وسایل او وسایط جوړ کړل او خپل سرحد ته نیږدې یې ځای په ځای کړل، کله چې د المان څارګرې طیارې اوچتې شوې ګورې چې بس ټوله ساحه په ټانګونو او طیارو پوښلې ده، بیرته یې احوال ورکړ چې انګلستان دومره وسایل لري چې جنګ ورسره نه کیږي.

په دویمه نړیواله جګړه کې دا بیخي عامه شوې وه چې د یو بل په مقابل کې به یې په تکتیک کې خدعه کوله، تاسې یې عکسونه نیټ کې سرچ کړئ چې په څومره مهارت یې دا شیان جوړول او څومره چلونه یې کول، دافع هوا یې څنګه له لرګیو جوړه کړې وه او دښمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې پرې ډاروه او نور وسايل او تکيتکي شيان يې په څه طريقه استعمال او کارول؟

ايټاليا، المان او انګلېس په مختلفو طريقو دا چلونه چلولي دي.

نو موږ بايد ددې قاعدې په پراخۍ پوه شو او په استعمال کې د پوره بصيرت څخه کار واخلو.

تاته شريعت دا اجازه درکړې چې خدعه وکړه نو خدعه خو يوازې دا نه ده چې ددې لفظ سره ستا فکر ته يوازې همدا خبره راځي چې دښمن منځ ته ننوځه، تسليم شه خلاص! او يا که د دښمن منځ کې اختلاف چانس نه وي نو نور د خدعې ځايونه نشته، نه داسې نه ده! د تکتيک په برخه کې به په دوه شکلونو خدعه کوې:

له داسې تکتيک او فنونو څخه کار واخلې مطلب په دې برخو کې داسې خدعه وکړې چې دښمن د رعب لاندې راشي، بل د داسې رَوِش او چل نه کار واخلې چې د دښمن د عملياتو په شېوه او تکتيک ځان پوهه کړې، يعنې معلومات ترې ترلاسه کړې، ځکه ته هغه وخت د دښمن د ضعف نقطې پيدا کولای شې چې د دښمن په تکتيک باندې پوهه شې.

زموږ هدف خو همدا دی چې دښمن ته ضربه ورکړو، نو په همدې اساس که غواړې د دښمن د ضعف په نقطه ګذار وکړې بايد اول يې

(c) ketabton.com: The Digital Library


راپیدا او په ډاګه کړي، څنګه یې راپیدا کوي؟ نو باید د دښمن په تکتیک باندې ځان پوهه کړي، همداسې ته باید د خدعې په باب کې د تکتیک عنوان لاندې داسې فنون او تکتیکونه وکاروې چې ستا د ضعف نقطه دښمن ته معلومه نشي یعنې ستا څخه راز خپور نشي، خپل هر څه کنټرول او خوندي وساتې، یعنې خپل تکتیکونه، فنون او خدعه مخفي کوې او پټې یې ساتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خدعه څه وخت او چا سره جایز ده؟

هر هغه چاسره چې ته د دښمن په نوم يې مخاطب کوې هغه سره خدعه کولای شې، يعني دوست سره خدعه نه کیږي بلکې خدعه یوازې دښمن سره ضرور ده، ستا مخاطب دښمن دی، همدې مقابل کې درته اجازه ده.

## د خدعې اسباب څه دي؟

وروره د خدعې کولو په باب اسباب نشته، یعنې داسې اسباب نشته چې مشران یې د خدعه کولو لپاره تاته وسپاري، بلکه ددې اسباب ستا **هوښیاري**، **بیداري**، **دقت** او **چالاکي** ده، **وخت** او **صحنه** پېژندل دي، حالاتو ته په کتلو د خدعه په اړه ستا د **فکر یوه زېږنده** ده چې ته کوم وخت کې څه ډول چل او خدعه په دښمن په څه طریقه استعمالولی شې.

ته باید تل په دې اړه سوچ وکړې چې د دښمن په ګمراه، غفلت او رعب کې اچولو لپاره باید څه ډول خدعه وکړې، که دا سوچ ته ولرې نو تاته به الله ﷻ ښې ښې خدعې ذهن ته دراچوي، نو دې ته مه په تمه کیږه چې امیر به تاته د خدعې وسایل درکوي نه! د خدعې وسایل همدا ستا چالاکي، هوښیاري او موقع شناسي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


وروڼو مونږ او تاسې باید دا ذهنیت ولرو او همدا مو عقیده وي چې الله ﷻ په مونږ جهاد فرض کړی نو همداسې د جهاد د اداء کولو او جهاد چې د کومو اهدافو لپاره کیږي دا یې هم راته ښودلي، دا یې هم راته څرګنده کړې چې جهاد یو سخت عمل دی خو که تاسې سوچ او فکر وکړئ په دې اړه د نویو لارو او پرمختګونو په لټه کې شئ، نو هرو مرو زه درته لارې خلاصوم، په دښمن درته غلبه درکوم، او چې هر څومره مجاهدین له علم، پوهې ، ذهن او جسامت څخه هم کمزوري اوسي، الله ﷻ ورته د یوه پوهه عالم، قوي او هوښیار کس خطاب کړی د هغه کس په مقابل کې چې هغوی د مجاهدینو مقابلې ته ولاړ دي، الله ﷻ رسول الله ﷺ ته وایي ته مسلمانان قتال ته تحریض کړه، دا یو نیک عمل دی ګوره دا د الله ﷻ خبره ده، په هغه وخت کې رسول الله ﷺ د جنګ امیر دی، د جنګ په صحنه کې ورته دا وایي چې مسلمانان په قتال تشویق کړه او دا ورته ووایه چې په راتلونکو جګړو کې به د مسلمانانو تعداد نظر کفارو ته ډېر کم وي خو لېکن یو په دوه، یو په لس قوي دښمن ته ورمخ ته شي زه به دوی ته یوه په لس مرسته کوم او په آخره کې فرمایي چې دا کفار هغه قوم دی چې (بانهم قوم لایفقهون) دا هغه قوم دې چې په خبره نه

(c) ketabton.com: The Digital Library


پوهيږي، يعني الله ﷻ نه پېژني، د جهاد په طريقو نه پوهيږي، د قتال په اهدافو نه پوهيږي، د جګړې په سيستم نه پوهيږي، دا جاهله قوم دی، د جاهل صفت همدا دی چې هر کار په سر زورئ سره کوي په سوچ او فکر مخ ته نه ځي، نو ورونو موږ او تاسې چې کوم کار شروع کوو نو په ډېر سوچ او فکر بايد مخ ته لاړ شو.

که دښمن دې هر څومره قوي شي او هر څومره تخنيک او تکتيک استعمال کړي په تا لارې نشي بندولای، الله ﷻ ورته د جاهل قوم خطاب کړی، نو ته چې سوچ او فکر وکړې تاته به الله ﷻ لارې خلاصوي د دښمن جهل په عموم کې دی،يو کس خپل رب او خپل ځان ونه پېژني د خپل ژوند په هدف پوه نشي، نو هغه جاهل دی، نو په همدې اساس وايو چې زموږ يو جاهل قوم سره جګړه ده که موږ علم حاصل کړو،مختلف تکتيکونه او فنون ترلاسه کړو سستي او غفلت لرې کړو،نو بيا به په دې جاهله دښمن موږ ته الله ﷻ يو په لسه برى راپه برخه کوي، ان شاءالله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خدعه په څه طریقه او څه وخت ښه کامیابېدای شي؟

خدعه کې ستا د کامیابۍ رازڅه دی؟

د کامیابۍ راز دې په دې کې دی چې ته باید تل هڅه وکړې چې د جهاد په صف کې د نظامي ستراتېژۍ په چوکاټ کې د یو عملیات په ترسره کولو کې له نویو **ابتکاراتو** څخه کار واخلې، فکر وکړې او تل د نوښت په لټه کې شې.

د هر ابتکار په نتیجه کې ته دښمن ته یو خدعه جوړولی شې، هر تنوع، نوې طریقه د خپل ذهن څخه نوې لاره ایجادوي، یو نوی تکتیک او طریقه راوباسې او له همدې لارې کولای شې چې دښمن ته نوې خدعه ورکړې.

ستاسې سوچ او فکر بې ځایه نه ځي، حامخا تاته الله جل جلاله نوې نوې لارې ښایي، په یو نوي فکر او سوچ ته نوي ابتکارات کولای شې او هر نوی ابتکار ستا په دښمن د غفلت، رعب اچولو او د دښمن د ګمراه کولو سبب ګرځي همدا د خدعې هدفونه هم دي.

الله جل جلاله چې وایي تاته نوې لارې درښایم نو دا نوې لارې په همدې سوچ او فکر درښایي، ته که سوچ او فکر وکړې الله جل جلاله به نوي نوي ابتکارات ستا ذهن کې درواچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې کله لار درته معلومه وه نو مجبور يې چې اقدام وکړې که ته غواړې ابتکارات وکړې درې خطه ځانته کش کړه.

**لومړی:** ته ځنګه داسې کار وکړې چې په دښمن رعب راشي، نو ته چې د همدې هدف لپاره سوچ او فکر وکړې تاته الله ﷻ لار خلاصوي په همدې اړه به نوې لارې درته خلاصې کړي نوې ابتکارات به وکړې او د همدې ابتکاراتو په اساس به يوه خدعه برابره کړې.

**دويم:** دا چې د دښمن په غفلت کې واقع کولو لپاره سوچ وکړه .

**دريم:** د دښمن د ګمراه ساتلو سوچ وکړه نو په دې هره برخه کې به ته نوې ابتکارات وکړې او په هر ابتکار به نوې خدعه جوړه کړې.

ته همدا تجربه کړه، د خدعې اسباب همدا ستا د فکر زيږنده ده، همدا ستا هوښياري او تفکر دی، اسباب يې ته خپله له خپل ذهن ځخه برابر کړه، د خدعې منابع د ټولو خلکو همدا فکر او ذهن دی، دښمن هم دې ته کوم اسباب نه لري، د خپل ذهن ځخه څه خدعه او چل جوړوي نو زه او ته هم بايد له همدې منابعو ځخه استفاده وکړو، کله چې ته د خپل ذهن ځخه ابتکارات وکړې نو د همدې ابتکار په اساس نوې خدعه هم برابرولی شې.

د دښمن سره نيرنګ او چل خاص برخه ده، دښمن ورته خاص ادارې لري، تحقيقاتي ټيمونه يې جوړ کړي، موږ تاسې هم ورته بايد په

(c) ketabton.com: The Digital Library


همدومره ارزښت قایل شو، کله چې ته ابتکارات وکړې نو بیا خدعه هم کولای شې داسې سوچ او فکر ته باید خاص ملګري ځانګړي شي چې د هغوی همدا کار وي.

## د خدعې شروط

خدعه جایز ده، څوک چې تاته د دښمن په نوم مخاطب دی هغې سره یې کولای شئ، شرط دادی چې ته کوم عهد دښمن ته ورنه کړې او بیا دا عهد په کې مات نشي، مطلب دا چې دښمن سره یو تړون او وعده وکړې او بیا ورسره دوکه، بې لوظي وکړې او عهد مات کړې داسی به نه کوې نور خدعه جایز ده.

## د خدعې اصول

خدعه درې لازمي اصول لري چې باید درې واړه همزمان پام کې ونیول شي.

**الف: مهارت**

**ب : راز داري**

**ج : بدیل لاره درلودل**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**لمړنی اصل:** یعني دښمن ته خدعه ورکول یو خاص مهارت غواړي، دا مهارت باید ته خپله پیدا کړې که ته دا مهارت ونه لرې نو ته بیا د خپلې خدعې ښکار ګرځې، خدعه به تا کړي وي خو بیا به هم د دښمن په دام کې غورځېدلی یې، نو ته باید مهارت او ځیرکتیا ولرې.

**دویم اصل:** ددې خدعې څخه دی باید کم نېږدې او باوري کسان خبر اوسي، هسې نه چې ټول تشکیل خبر کړې، بیخي د خدعې ټول پلان ځان سره وساته هېڅوک خبر نه کړې او که ضرورت شي چې خدعې باندې څو تنه خبر شي نو باید بیا دوه یا درې مهم او معتمد کسان خبر شي او نور د خدعې راز پټ وساتل شي.

**دریم اصل:** که خدعه دې وکړه نو په خدعه باید سل په سله مطمین ونه اوسې چې یاره بس خدعه مې کړې نور نو کلارې کینه، یعنې یو تشکیل، یو عملیات، یو برید دې چمتو کړی او ټول زړه دې په خدعه تړلی وي که خدعه ناکامه شي نو ته به سخت ګوزار وخورې، نو په کار ده چې ته بدیل لارې وسنجوې، ته باید دا فکر وکړې چې دا خدعه کوم که دا خدعه په دې برخه کې ناکامه شي نو باید تاته بدیل لار هم مطرح او معلومه وي، مطلب نورې لارې هم ولرې چې که خدعه ناکام شي نو چې نورې لارې خو وي چې تا هدف ته ورسوي او یا هم له تلفاتو او زیانونو خو بچ شې او خپله ضربه ونه خورې، نو بدیل لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



برابرول او هوښياري کول ضرور ده او ته چې دومره ځيرکه شې نو الله ﷻ تاته خپله مرسته درلېږي، دا درې اصول بايد په ياد ولرې.

**ورونو!** خدعې ته به په وړه سترګه نه ګورئ مطلب دا د يو ستر اصل او يوې تلپاتې استعمالېدونکې قاعدې په حيث نظامي ستراتېژۍ کې ومنه او هر قدم چې ږدې او هر تشکيل چې کوې نو فکر وکړه چې خدعه دې کړې که نه؟

او يا د دښمن د خدعې ښکار شوى خو نه يې؟

علي ﷠ چې په خندق غزا کې د عمرو بن عبدود سره تن په تن جګړې ته وروړاندې شو نو سره سترګې په سترګې شول،علي ﷠ ورسره خدعه کوي ورته يې وويل: زه د دوه کسانو مقابلې ته نه يم راوتلى! دې مشرک شاته وکتل او علي رضي الله عنه وربان‌دې ګوزار وکړ.

نو له دې معلومېږي چې ته په لويو او وړو، انفرادي ، ډله ييز او هر ډول عملياتو او بريدونو کې خدعه کولاى شې، د يوې منطقې د ماحول او جغرافيې په پار هم خدعه کولاى شې، په تکتيکونو کې هم خدعه کولاى شې. په خپل طاقت به نه غره کېږې علي ﷠ ښه قوي و خو بيا يې هم خدعه وکړه، نو ته هم دا درسره وليکه چې هېڅ حرکت بې خدعې ونه کړې، په ځانګړې ډول په چريکي جنګونو کې خو خدعه بيخي له ياده مه باسه، په اوسنيو حالاتو کې بې خدعې يو قدم

(c) ketabton.com: The Digital Library


هم مه ږده که هغه کمین دی که ماین دی که انتقالات دي او که نور موارد دي، که ته هر څه په خپل اصلي شکل ترسره کړې او خدعه ونه کړې نو ته خپل هدف ته نشې رسېدای، موقع، وخت او ساعت هر څه په پام کې ونیسه او هره لحظه د نظر لاندې وساته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دنظامی ستراتیژۍ اجزاوې

1. **د حملې یا برید ستراتیژي**
2. **د شاتګ یا عقب نشینۍ ستراتیژي**
3. **دفاعي ستراتیژي**

ددغه درېو واړو ستراتېژیو ته په عمومي شکل ویلي شو عمومي نظامي ستراتیژي.

## 1. د حملې یا برید ستراتیژي:

که چېرې ته د حملې په ستراتېژۍ خبره کوې، مانا یې دا ده چې په نظامي ستراتېژۍ باندې خبرې کوې، یعنې د نظامي ستراتېژۍ د حملې په جهت خبرې کوې که چېرې ته د عقب نشینۍ په ستراتېژۍ باندې خبره کوې دا خپله د نظامي ستراتېژۍ یو جز دی او که چېرې په دفاعي ستراتېژۍ خبره کیږي نو دا خپله هم د نظامي ستراتېژۍ اړوند یو بحث او یوه موضوع ده.

**ورونو!** اوس پوه شوئ چې صرف جګړه حملې ته نه وایي، ته د یوې منطقې د امیر په حیث فقط دا سوچ مه کوه چې صرف زه باید حمله وکړم ګوره! نظامي ستراتیژي موږ په درېو ستراتېژیو باندې تقسیم کړه چې یوه د حملې ستراتیژي ده او بله د عقب نشینۍ ستراتیژي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې دا لکه د حملې ستراتیژي په شان باید ته مدنظر ونیسې او دریمه دفاعي ستراتیژي ده.

جګړه صرف حملې ته مه خاص کوئ، جګړه کې عقب نشیني خپله جګړه ده، دا د نظامي امیر فن دی چې په عقب نشینۍ هم پوه شي او د دفاعي ستراتېژۍ تطبیق دا هم خپله په یوه سیمه کې د نظامي او حربي امیر مربوط کیږي.

دا خبره چې: (نظامي ستراتیژي فقط حملې ته منحصر نه ده) ولې مو وکړه؟

ځکه دلته یوه نقطه پرته ده، نقطه دا ده چې په عمومي شکل د ځیرکه او سیاستمداره مجاهدینو هدف فقط د جګړې ګټل نه دي، نو بیا د جګړې له پیل څخه زموږ عمومي هدف څه دی؟

عمومي هدف زمونږ د هغه هدف لاسته راوړل دي د کوم لپاره چې جګړه شروع شوې وه. یا په بل تعبیر دا آخري جګړه چې کوو د کوم هدف لاس ته کولو لپاره یې کوو؟

هغه هدف لاس ته راوړل، کامیابي ده، د همغه کامیابۍ لپاره کار وکړه، د یوې جګړې د کامیابۍ لپاره یې مه کوه! هدف ته د رسېدلو لپاره کار وکړه، مطلب ته به یوه جګړه وګټې خو له دې جګړې چې دې کوم هدف لاس ته راوړل مقصد و هغه به ترلاسه نه کړې نو تا دا

(c) ketabton.com: The Digital Library


جګړه نه ده ګټلې، نو د عملیاتو د کامیابۍ لپاره سوچ او فکر ډېر مه کوه، دغه جګړه چې تا شروع کړې، ولې دې شروع کړې څه غواړې؟ ددغې اهدافو لاس ته راوړلو لپاره او ددغې خبرو د کامیابۍ لپاره ته سوچ او فکر وکړه.

نو تاسې ته به ډېره عجیبه ښکاره شي خو که فکر وکړئ موضوع به درته روښانه شي، تاسې چې له جګړې کوم هدف لاس ته راوړل غواړئ دا د منطقي د امیر د مهارت او فن پورې اړه لري، کېدای شي هغه دا هدف له نورو مشروع لارو هم لاس ته راوړي نو ویلای شو چې ځینې وخت په عقب نشینۍ باندې هم هغه هدف لاس ته راوړلای شئ، ځینې وخت په دفاع باندې هم دغه هدف ته رسېدلای شئ او ځینې وخت په حمله باندې دغه هدف ترلاسه کولای شئ، ځکه درته وایو چې جګړه صرف حملې ته مه خاص کوئ، چې زموږ او ستاسې صرف دغه انګېزه، درخواست او غوښتنه نه ده، چې فقط جګړه وګټو، یعنې یو حمله چې کوو او عملیات مو کامیابه شول، دا کامیابي ولې غواړو؟

ځکه چې د کوم عمومي هدف لپاره چې مجاهدینو جګړه شروع کړې، دغه هدف ته د رسېدلو لپاره مجاهدین واړه واړه عملیات کوي او غواړي دغه عملیاتو کې کامیابي لاس ته راوړي، د مجاهدینو اصلي او

(c) ketabton.com: The Digital Library


نهايي هدف هغه دی، چې د هغې لپاره يې جګړه شروع کړې ده، ترڅو چې دا اهداف يې لاس ته نکړل نو بايد په وړو وړو فتحو او کاميابيو خپل اصلي مسير او هدف خوشې نه کړي.

تاسې وينئ چې د ارګ په ګدۍ نسب کړی شوي فاتحين (!) هم دا دعوه لري چې دوی ګڼې نظامي فتحه لاس ته راوړې ده، وايي چې مونږ جګړه او ميدان ګټلی دی، خو دوی چې د کوم هدف دعوه کوله هغې کې درواغجن وختل، د اسلامي نظام د راوستو په نوم يې له خلکو قربانۍ واخيستې اوس يې نو خپل ايمان په واک او چوکۍ وپلوره، امريکا ورته داسې نمايش وړاندې کړ چې د دوی کشرخيل يې په دې خطا کړل چې ګوندې امريکا دوی ته په نظامي ډګر کې ماته شوه، خو اوس همغه د دوی په اصطلاح ماته امريکا ورته هره هفته په ميليونونو ډالر رالېږي ترڅو د امريکا د اهدافو لپاره دوی کار وکړي، ځکه اوس هم بيا هماغه سيکولر نظام او قوانين حاکم دي، کوم چې جمهوري نظام کې حاکم وو.

د اسلام په سياسي نظام کې د نظامي ستراتېژۍ په برخه کې کاميابي دا شمېرل کېږي چې تا د کوم هدف لپاره جګړه پيل کړې چې هغه هدف ترلاسه کړې، نه دا چې جګړه وګټې خو هدف وبايلې.

**نهايي هدف مو څه دی، هغه مو لاس ته راوړی؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ښارونه نیول، څمکه نیول، واک ترلاسه کول، پیسې، موټرې، عیش وعشرت؟ که نه اسلامي نظام او د الله د کلمې لوړوالی؟**

نو لنډ ویلای شو چې هغه کامیابي نه بلکې ناکامي ده چې اصلي هدف هېر کړې او د جګړې هدف او لوری بدل کړې، د اسلام په سیاسي نظام کې د جګړې هدف د اسلامي نظام قیام دی که له دې هدف پرته هرڅومره جګړې کامیابه شي هغه کامیابي نه ده، تر څو چې دغه هدف ترلاسه شوی نه وي، نو جګړه به دوام لري.

## 2. د عقب نشینۍ ستراتیژي:

په عمومي ډول نظامي ستراتېژۍ کې د عقب نشینۍ ستراتیژي هغه مهال د عملي کولو وړ ده چې له دې عقب نشینۍ څخه ستا هدف د خپلو افرادو او امکاناتو قوي کول او د خپل اصلي هدف ترلاسه کولو لپاره بیا ځل تیاری وي.

اکثره خلک دا فکر کوي چې د نظامي ستراتېژۍ په برخه کې د عقب نشینۍ ستراتیژي به د شکست پرمهال تطبیقوې، یعنې کله چې ورته د عقب نشینۍ خبره وکړې نو د دوی فکر سمدستي شکست طرف لاړ شي او دا سوچ یې وي چې عقب نشیني خو فقط د شکست پرمهال ترسره کیږي، زړه یې وغورځېږي چې بس شکست راغی او زه عقب

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشيني کوم او يا د عملياتو د کاميابۍ څخه وروسته زه عقب نشيني کوم، دا خبره سمه نه ده، ځيني وخت ته د حملې شروع په عقب نشينۍ باندې کوې، نو په همدې اساس مو دا خبره په نظامي ستراتېژۍ کې وکړه، چې دا مسئله بې اهميته مسئله مه ګڼئ.

## عقب نشيني (شاتګ) ستراتيژي درې برخې لري:

**الف: اختياري عقب نشيني**

**ب : اجباري عقب نشيني**

**ج : تکتيکي عقب نشيني**

### الف: اختياري عقب نشيني:

هغه دا چې ته په خپل اختيار په قصدي شکل دښمن په دام کې د ګيرولو په هدف شاتګ کوې.

ځيني وخت دښمن ځان راټول کړی او خه متوجه وي چې دغه مسير څخه په ما باندې حمله کيږي او يا موازي خطونه سره پراته دي، دښمن غواړي تا باندې حمله وکړي او يا ته غواړې دښمن باندې حمله وکړې نو په داسې وخت کې ته ورته دام ږدې، د مخې څخه يو وړوکی ګروپ (دوه يا درې کسه انغماسيان) ورلېږې او شاته يو

(c) ketabton.com: The Digital Library


تدبیر جوړوي او داسې فهم ورکوي چې موږ ډېر لوی شکل په تاسې باندې هجوم کړی، دښمن سره مخامخ جګړه کوي، خو څه جګړه یې چې وکړه بالاخره ځان ظاهراً دښمن ته داسې ښکاره کوئ چې تاسې شکست وخوړ یعنې اختیاري عقب نشیني کوئ، د څنګ څخه یا د بلې زاویې څخه په هغه دښمن چې تا تصور ورکړی دی چې مونږ عقب نشیني وکړه مجاهدین په دوی باندې هجوم کوي یعنې د بلې زاویې څخه مجاهدین ورباندې حمله کوي او خدعه ورسره کوي.

### همدغه اختیاري عقب نشیني چې مجاهدینو وکړه هدف یې څه دی؟

هدف یې د دښمن  نظم او اداره ګډوډول او بې نظمه کول دي.

هغه په دې مانا چې ته پوهېږې دښمن ستاسې تر خطونو خه منظم پروت دی، اداره او نظم یې ښه قوي او محکم دی، هر فرد یې بېل بېل منظم دی او رهبري کېږي، هر څه ته لاس رسی لري که په داسې حال کې تاسې په دښمن حمله وکړئ هغوی تیار منظم دي، نو تاسې پرته له دې چې هغوی خطر سره مخ کړئ تاسې ته زیان رسیږي، اوس چې تاسې ټول امیران، سرګروپان پوهه او داسې یوه خدعه مو برابره کړې وي چې په هغې کې مو د اختیاري عقب نشینۍ ستراتیژي مطرح کړې ده، ملګرو ته مو ویلي چې یوه ډله به ښه تېزه حمله کوو دښمن چې ښه په جګړه کې راګرم کړو نو بیا به په خپل اختیار د

(c) ketabton.com: The Digital Library


اختیاري عقب نشینۍ پالیسي عملي کوو،کله چې موږ عقب نشیني وکړه نو دښمن له خپلو خوندي ځایونو څخه راوځي،هغه نظم او اداره یې له منځه ځي هغوی د کاذبې بریا په خوشحالۍ کې ټول غیر منظم کیږي نو دغه وخت تا تیار یوه بله منظمه کتېبه همدې ته تازه دمه ساتلې او یا دې ورته شاته کمین نیولی، دښمن ستاسې ساحې ته راداخلیږي او ته ورته دغه وخت ښه قوي ګوزارونه ورکوې، د دښمن هغه نظم، اتفاق، اتحاد تا ټول په خپلې عقب نشینۍ باندې خرابه کړ او دا هر څه به تا له مخکې څخه یوځل تجربه کړي وي، په دې نقشه به مو کار کړی وي، هر ملګری او هر ګروپ ته به مو خپل مسؤلیت سپارلی او هر ملګری به مو عملي مخکې له مخکې استعمال کړی وي چې عبدالله ته به دا کار کوې! خالده ته به له دې خوا راځې! زرقاوي ته به دا طرف ځې! سیف الله ته به د خپل ګروپ ملګرو سره فلاني طرف متوجه اوسې! تاسې به له هغه طرف نه شروع کوئ، تاسې به دلته پټېږئ ... مطلب ټولو ملګرو د فرد، فرد لپاره به داسې یو فکر او د جګړې د نقشې عملي تصویر په ذهن کې کېنوې چې بیا هغه وخت یو د بل کار کې مداخله یا خپل ورسپارل شوي کارونه او مسؤلیتونه خطا نه کړي، ددې ټولو مسؤلیتونه به قدم په قدم تشریح کوئ، ځکه که فتحه راشي بیا دغه نظم نه پاتې کېږي، بیا خلک یو د

(c) ketabton.com: The Digital Library


بل کار کې مداخله کوي، کله منډه کوي، کله شاته شي او هغه وخت کې کنټرول سختیږي او د سوق رجال نظم تر څو بیا منظم کوې خرابیږي، خلک فتحې ته خوشحاله وي نو همدغه چل ته په دښمن وکړه، دښمن سره یو ساعت یا دوه ساعته جګړه وکړه، بیا اختیاري عقب نشیني وکړه، خپل ملګري تیار له مخکې آماده وساته، دښمن ته د کاذبې فتحې ګمان ورکړه،چې دښمن ښه د خپل غرور په ګردونو کې لار خطا کړه نو بیا یې راګیر کړه، یا شاته ته ورته کمربر (کمرچین او یا قیچې) ګوزارونه ورکړه چې هغه کاذبه فتحه یې هېره شي.

دا نو د اسلام په سیاسي نظام کې د عقب نشینۍ ستراتیژي او خدعه ده چې باید تاسې یې خپلو حالاتو ته په کتلو مراعت کړئ.

## مجاهدينو ورونو!

د عقب نشینۍ دا ستراتیژي ډېره کاربرده ستراتیژي ده، ځینې وخت دښمن ډېر منظم وي که تا یې د ضعف نقطه سمه نه وي را پیدا کړې، ته عقب نشیني کوې، دښمن په خطا او تېروتنه کې واقع کوې، خطا او تېروتنه یې چې وکړه مانا دا چې ضعف نقطه دي ورته را پیدا کړه، همدېته ګوزار ورکړه.

ځینې وخت د دښمن د خطا او تېروتنې احتمال په عقب نشینۍ سره

(c) ketabton.com: The Digital Library


زیاتولی شي،نو په دغه وخت کې د حملې څخه عقب نشیني ستا لپاره ډېره ښه ده. ځینې وخت دښمن تیاری نیولی او دا تصور کوي چې ته باید ورسره جګړه وکړې ځکه ته ورته ضعیفه یې او هغه آمادګي نیولې چې جګړه درسره وکړي، دلته ته عقب نشیني کوې، دښمن نا امېده کیږي، په بل تعبیر دښمن سره د هغه په حاکمه نقطه باندې جګړه نه کوې، د هغه څخه عقب نشیني کوې، دښمن نا امېده کیږي، دا اوس مه وایه چې ما عقب نشیني ولې وکړه؟

نه! ډېر کله ستا لپاره عقب نشیني خپله یوه کامیابي ده.

چې دښمن منظمه جګړه کوي، منظم لښکر او حرکت لري، سوق اداره یې منظمه ده، ستا افراد او امکانات هرڅه لږ دي که منظم لښکر سره ته ځان برابر کړې نو خرابیږې، حمله کوې، بېرته په خپل اختیار عقب نشیني کوې، دې حملې سره د دښمن هغه لښکر، منابع، سوق اداره، کنټرول او رهبري یې پاشل کیږي، دښمن ته د یوې کاذبې فتحې تصور ورکوې، دښمن څخه د کنټرول جلو خطا کیږي او تا باندې رامخکې کیږي ، خو تا دلته اختیاري عقب نشیني کړې ده، په دې نیت دې کړې ده چې دښمن متفرقه شي او بالاخره یو قوي ضربه ورکړې، تر څو دښمن مجبوره کړې عقب نشینۍ ته او دښمن داسې عقب نشینۍ ته مجبوره کړې چې اجباري عقب نشیني وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله په قوي جګړې باندې نشو کولای چې دښمن متفرقه کړو، د دښمن سوق او إداره خرابه کړو، خو لېکن په یوه اختیاري عقب نشینۍ کولای شو چې د دښمن دا لښکر، امکانات، منابع هر څه متفرقه کړو، په شرط ددې چې تاسې قصداً په خپل اختیار دا کار کړی وي او د خدعې څخه مو کار اخیستی وي او دا باید په جګړه کې افشا هم نه شي چې تاسې دغسې پلان لرئ.

## ب : اجباري عقب نشیني:

ځینې وخت تاسې د جګړې په جریان کې مجبوره کیږئ چې عقب نشیني وکړئ، دا عقب نشیني د امکاناتو او افرادو د ساتلو لپاره کوئ او یا یې د دې لپاره کوې چې د جګړې په میدان کې مجبوره شوی یې چې عقب نشیني وکړې خو هدف به لدې څخه د افرادو او ملګرو قوي کول او ساتنه وي، ډېر کله ته پوهېږې چې که عقب نشیني ونه کړې نو په ځای ددې چې کوم هدف لاس ته راوړې بلکې خپل افراد وسایل او امکانات هم له منځه وړې، نو د خپلو افرادو او امکاناتو د ساتنې او قوت لپاره په عقب نشینۍ مجبورېږې ترڅو بېرته ځان منظم او دښمن سره د مبارزې لپاره تیار شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ج: تکتیکي عقب نشیني:

تکتیکي عقب نشیني څه ته وایي او اختیاري عقب نشینۍ سره یې څه توپیر دی؟

تکتیکي عقب نشیني دې ته وایي چې سلاح، مهمات، تجهیزات، افراد مطابق د یوې مشخصې برنامې چې له مخکې څخه تعیین شوې وي امن ځای ته رانقل کړې، مهمه خبره په تکتیکي عقب نشینۍ کې د هغې برنامې طرحه کول دي چې له مخې به یې په موقع سره د اسلحې، مهمات، تجهیزات او افرادو انتقال کوې چې مخکې له مخکې څخه یو خوندي او امن ځای ته منتقل شي، دی ته تکتیکي عقب نشیني وایي. کله چې ته تکتیکي عقب نشیني کوې، باید خپلو افرادو او سرګروپانو ته دې خبر ورکړی وي چې کېدای شي جګړه کې عقب نشیني وکړو خو دغه عقب نشیني تکتیکي عقب نشیني ده، باید تاسې خبر اوسئ چې مورال له لاسه ورنه کړئ.

اختیاري عقب نشینۍ سره یې توپیر دا دی چې تکتیکي عقب نشینۍ کې تا سره باید زیات وخت وي، په تخنیک او په تکتیک باندې، په ډېر هنر او چل باندې تاسره شاته ساحه پرته ده، د یو خط څخه تکتیکي عقب نشیني کوې بل خط ته، لېکن اختیاري عقب نشیني ډېر وخت د جګړې په صحنه کې کارېږي چې ته مکان تغییروې، دښمن ته حد

(c) ketabton.com: The Digital Library


اقل دام ږدي، بېرته په دښمن حمله او ضربه ورکوي، اختیاري عقب نشیني اکثراً مخفي وي او تکتیکي عقب نشینۍ باندې به تا خپل مشران خبر کړي وي او د یوې برنامې مطابق عقب نشیني کوې.

د منطقې څخه سلاح، مهمات، تجهیزات، ملګري ټول له مخکې څخه د جوړې شوې برنامې مطابق راوباسې، دریم شرط پکې دا دی چې کوم اسباب، امکانات او نظامي تجهزات چې د انتقال وړ نه دي، دا باید تکتیکي عقب نشینۍ کې تخریب کړې، چې دښمن پوه شي چې تا تکتیکي عقب نشیني کړې ده او اختیاري عقب نشینۍ کې دا ذهنیت ته دښمن ته نه ورکوې چې ما عقب نشیني کړې ده، بس دښمن ته وایي چې ما شکست کړی او ته کامیابه شوی یې، لېکن تکتیکي عقب نشیني چې کوې خپل افراد او امکانات په مسلسل شکل وباسې او کوم چې د انتقال وړ نه دي دا ته له منځه وړې.

دیموکراتانو د امریکایي پرتوکول مطابق هر څه په منظم شکل سره دوی ته وسپارل او بیا یې هڅه کوله چې په سر اوښتې لمن په تشو خبرو او باټو په ځان په داسې حال کې راخوره کړي چې بادارانو به یې بېرته په سر وراړوله.

دیموکراتو مرتدینو به طالبانو ته په ولسوالیو کې هر څه خوشې کول، توپ، ټانک، عسکر هر څه به یې ورته خوشې کړل، بیا به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل چې مونږ له ولسوالۍ څخه تکتیکي شاتګ کړی، دا تکتیکي شاتګ نه دی، دا رسمي او دستوري تسلیمي وه چې بادار یې امریکا د یو غلام څخه د غلامۍ کړۍ را واخیستله او په ډېر مکر او هنر یې خپل بل زرخرید ته په غاړه کې واچوله.

په بل تعبیر په هرې عقب نشینۍ کې چې نظامي اصول مراعات شول دې ته تکتیکي عقب نشیني وایي، نظامي اصول دې چې د پښو لاندې کړل دا بیا عقب نشیني نه، بلکې شکست او یا تسلیمي ده او هغسې د خپلو ډلګیو او عسکرو د مورال ورکولو لپاره دا اصطلاح کارول فایده نه کوي، په تکتیکي عقب نشینۍ کې اصلي شرط دادی چې ستا څخه دښمن نظامي سلاح او وسایط ترلاسه نه کړي او ستا په تکتیکي عقب نشینۍ باندې دښمن قوي نشي، مورال او انګېزه وانخلي، بیا ته ویلی شې چې مونږ تکتیکي عقب نشیني کړې ده.

نو په همدې اساس لازمه ده چې د نظامیانو، د حرب د امیرانو او نورو امراؤ په حیث تاسې دعقب نشینۍ په نوعو ځانونه پوهه کړئ، مونږ د عقب نشینۍ د ستراتېژۍ په څو نوعو او ډولونو خبره وکړه، یو اختیاري عقب نشیني وه چې د څو اهدافو لپاره ترسره کیږي تر څو دښمن په تېروتنه کې واقع، نظم یې خراب، د سوق اداره یې فلج، اتحاد یې له منځه یوسې او دښمن کې یو بې نظمي ایجاد کړې،

(c) ketabton.com: The Digital Library


بالاخره ددغه اهدافو ترلاسه کولو لپاره اختیاري عقب نشیني کوي.

بله اجباري عقب نشیني وه او دریم یې تکتیکي عقب نشیني یا شاتګ وه چې دې باندې مخکې خبرې وشوې.

**ورونو!** موږ او تاسې په نظامي ستراتېژۍ باندې خبره کوله او په دې باب کې موږ دریو فرعي ستراتېژیو ته اشاره کړې وه چې د عقب نشینۍ، حملې او دفاع ستراتیژیانې وې چې د عقب نشینۍ باندې مو لږه خبره وکړه، اوس راځو د حملې په ستراتېژۍ لږه رڼا اچوو.

## د حملې یا برید کولو ستراتیژي

دا ستراتیژي د دوه عمده هدفونو لپاره کاریږي.

**اول صورت:** د حملې یا تهاجم ستراتېژۍ څخه هغه وخت کې کار اخیستل کیږي چې ته د یو تهدید وړاندوینه کوې او د تهدید منبع هم پیدا او په ډاګه کوې او بیا د همدې تهدید د لمنځه وړلو لپاره ته حمله (تهاجم) کوې.

**دویم صورت:** هغه وخت ته د حملې ستراتیژي عملي کوې چې یو خاص هدف لاسته راوړلو لپاره غوارې هجوم وکړې ځکه چې بې هجومه دا هدف نشې ترلاسه کولای، نو په همدې اساس ته دښمن باندې تهاجم کوې. د حملې یا هجوم په ستراتېژۍ کې د کامیابۍ شرط دادی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دواړو صورتونو کې باید دښمن غافلګیر شي، پیل د تهاجم باید ښکاره، واضحه او علني نه وي، نهایت زیات هڅه به کوې چې تهاجم مخفي او غافلګیرانه وکړې، دغه نقطه لازمي ده چې د داسې خدعې نه کار واخلې تر څو خپل تهاجم مخفي کړې.

تا تهدید تعیین کړی، د تهدید منبع دې هم معلومه کړې، ددې د محوه کولو لپاره ته غواړې هجوم وکړې خو د دغسې یوې خدعې څخه کار اخلې، چې دښمن غافلګیره کړې او څوک دربانديې پوه نشي چې ته د تهاجم اراده لرې یعنی مخکې د تهاجم څخه باید دښمن ستا له ارادې خبر نشي، دا ددې ستراتیژۍ د خدعې سره ربط دی.

که چېرې برعکس تاسې د دښمن له لورې غافلګیره شئ، انسان دی ځینې وخت امکان لري چې تاسو غافلګیره شئ، خو که هر وخت د دښمن له طرفه تاسې غافلګیره شوئ نو هڅه وکړئ چې بېرته  دښمن تاسې غافلګیره کړئ، دې فکر کې اوسېږه چې څنګه دښمن بېرته غافلګیره، مورال یې خراب او خپل انتقام ترې واخلې، څکه عام سیاست کې یو اصطلاح ده، وایې چې کله دې مال د لاسه ورکړ، ځان ته د غني فکر کړه، چې زه قدرتمند او مالداره کس یم، همدغه فکر په داسې موقع وکاروه که ته غافلګیره شوی هم یې نو داسې فکر وکړه چې زه غافلګیره شوی نه یم غواړم چې دښمن غافلګیره کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د دفاع ستراتیژي

اکثره مجاهدین دا تصور کوي چې باید هغه وخت دفاع اختیار کړو چې کله ضعیف یو او یا ځینې ملګري دفاعي حالت په شکست باندې تعبیر کوي، نه ورونو!

دا هم د ذهن څخه لرې کړئ،په دفاعي حالت کې جګړه دا د مجاهدینو په شکست او ناکامۍ باندې دلالت نه کوي،کله چې د مجاهدینو تعداد لږ، امکانات او اسباب يې کم اوسېږي، هڅه وکړئ چې دفاعي حالات اختیار کړئ، دا د نظامي ستراتېژۍ عمق او دا بیا د نظامي ستراتېژۍ په تطبیق کې د مجاهدینو کمال دی اما شرط دا دی چې دا دفاعي حالت به اختیاري وي، اجباري به نه وي، یعنې تا دښمن مجبور نه کړي چې ته په دفاع کې واقع شې، خپله که اختیاري شکل سره مجاهدین دفاع کې واقع کوې دا بیا ستا ضعف او شکست نه دی بلکه دا خاص ستراتیژي ده، هدف ددی ستراتېژۍ دا دی چې ته دښمن ته اجازه ورکوې چې اول دښمن حرکت وکړي، د دښمن د حرکت څخه وروسته ته غیر پیش بیني شده حمله او ضربه دښمن ته ورکوې چې ددې ضربې په نتیجه کې دښمن اجباري عقب نشینۍ ته مجبورېږي.

په اختیاري حالت کې دفاع یوه نظامي ستراتیژي او یوه کامیابي ده، دښمن ته یو سیاسي او نظامي ګوزار دی، اول شرط دا چې اختیاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، انګېزه د کار دا ده چې اول ته اجازه ورکوې چې دښمن حرکت وکړي، داسې حالت کې چې یوه قوي ضربه مو شاته ورته سنجولې ده، داسې یو ضربه دښمن ته ورکوې چې دښمن اصلاً سوچ او فکر کې هم دا نه راګرځي چې ته به داسې ګوزار ورکوې چې نتیجه ددې حملې باعث د دې شي چې دښمن په اجباري عقب نشینۍ مجبوره کړې.

**یواصل:** دا چې ته دښمن ته اجازه ورکوې چې هغه راشي او بیا داسې یو حمله دې ورته سنجولې ده چې په نتیجه کې د جنګ څخه لاس واخلي، عقب نشینۍ ته مجبوره او اجباري عقب نشیني وکړي، سامان او اسلحه یې په میدان باندې پاتې شي او د حملې څخه وروسته ته د افرادو، امکاناتو او نظامي وسایطو له لحاظه قوي شې.

دا د دې ستراتېژۍ اصل دی، ددې خبرې مانا دا ده چې ته به هغه وخت کې دا ستراتیژي عملي کوې چې دغسی یو کاري ضربه دښمن ته ورکولی شې که داسې زمینه درته مساعده نه وي بیا ته کولای شې په بله ستراتېژۍ باندې کار او عمل وکړې.

**دویم اصل:** ته دښمن ته ځان ضعیفه ښکاره کوې، نسبت هغه څه ته چې تاسې حقیقت کې یاست.

یعنې ته دښمن ته هغه رقم ځان ضعیفه ور ښکاره کوې چې دښمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تا په جرأت حمله وکړي، خپل قوت مو ټول پټ کړی او بیا داسې یو ضربه ورکوي چې بالاخره لاره ترېنه ورکېږي او عقب نشینۍ ته مجبوره کیږي، دا دوه اصله باید د دفاع په ستراتیژۍ کې په نظر کې وساتل شي او مراعات یې کړئ.

ددې ستراتیژۍ ګټه داده چې د خپلو افرادو، امکاناتو او د خپلو محدودیتونو څخه ته د قوي کېدلو، پیروزۍ او کامیابۍ لپاره استفاده کوې.

ته ضعیفه یې، محدودیتونه درباندې وضع دي، امکانات دی لږ دي، ته ځان په اختیاري دفاع کې واقع کوې، ددغه ضعف او ددغه محدودیتونو د لرې کولو لپاره کار کوې او ځان قوي کوې د دې ستراتیژۍ فایده همدا ده.

مجاهدینو ته د دې ستراتیژۍ انتخاب څه وخت او په کوم حال کې په کار دی؟

هغه وخت چې مجاهدینو باندې اقتصادي محدودیتونه وضع وي، مال، افراد، امکانات، اسباب، تجهیزات، نظامي وسایط یې لږ او څو دښمنانو سره یو وخت کې مخامخ اوسیږي، بس دلته مجاهدینو ته په کار ده چې هجوم څخه ځان دفاع کې واقع کړي او دغه دفاعي حالت کې ځان مجهز او قوي کړي مطلب د خپلو اسبابو ، امکاناتو ،

(c) ketabton.com: The Digital Library


افرادو او هر څه په حساب ځان ښه برابر کړي او دا هر څه ښه زيات کړېږ بيا ته کولی شي يو مهم هدف لپاره د تهاجم ستراتيژي هم عملي کړې.

د احزاب تر غزا پورې رسول الله ﷺ ځان په اختياري دفاع کې واقع کړی وو، ددغه دفاع څخه يې استفاده کوله، اجباري دفاع نه وه، ځکه اجباري دفاع کې بيا ته اکثراً حملې نشي کولای، رسول الله ﷺ اختياري دفاع غوره کړې وه، ځکه بدر، احد او باقي طرفونو ته يې دښمن ته ځينې ګوزارونه ورکړل، رسول الله ﷺ ددغه اختياري دفاع څخه د خپلو تجهيزاتو، افرادو، امکاناتو، اسبابو څخه د ځينو محدوديتونو د لرې کولو لپاره استفاده وکړه د احزاب غزوې څخه وروسته يې د جنګ ستراتيژۍ ته تغيير ورکړ او دفاعي ستراتيژي يې په تعرضي ستراتيژۍ باندې بدله کړه.

د دفاعي ستراتيژۍ بله فايده دا ده چې کومه جګړه تا د دښمن مقابله کې شروع کړې، دا دښمن ته ډېر پرقيمته او پرمصرفه نسبت تاسې ته غورځېږي، ځکه ته په اختياري دفاع کې اوسېږې او دښمن هجوم کړی دی، دا جګړه دښمن ته ډېره قوي تماميږي، په مرور د زمان يې

(c) ketabton.com: The Digital Library


هم اقتصاد له منځه ځي او هم يې د عسکرو مورال خرابېږي او د افرادو، امکاناتو او اسبابو له لحاظه هم د ضعف حالت ته رسيږي. يعني په دفاعي حالت کې د دښمن قوت په ضعف باندې بدليږي او ستاسې قوت په کلاره، کلاره رشد کوي او بالاخره ضعف مو قوت طرف ته روانيږي.

**ورونو!** د اختياري دفاع په ستراتېژۍ کې مو ويلي و اصل دا دی چې دښمن ته بيا کاري ضربه ورکړې، اجازه ورکړی چې دښمن هجوم وکړي او بيا کاري ضربه ورکړې، کله دښمن ته تاسې کاري ضربه ورکولای شئ چې هغه بيا اجباري عقب نشينۍ ته مجبوره کړئ؟

هغه وخت چې د دښمن د ضعف نقطه درک او دې ته ګوزار ورکړې، طبيعي شکل سره هرڅوک د خپل قوت نقطې مخفي کوي، اما د ضعف نقطې يې تاسې کولای شئ چې درک يې کړئ، کله مو چې د دښمن داسې د ضعف نقطې په ډاګه کړې نو بيا په دفاعي حالت کې د خپل قوت نقاطو باندې د دښمن د ضعف نقطو ته ضربه ورکړئ.

په بل تعبير، دښمن تا سره په جګړه کې واقع دی، ته په اختياري دفاع کې واقع يې، دغسې حالت کې که ته سل، زر او لک لښکر د دښمن هم ووژنې، دښمن نور جلبوي، سوق کوي، نور رانيسي، مورال او جذبه له لاسه نه ورکوي، په دغه وخت کې يو قوي اقتصادي ضربه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دښمن ته ورکړه،نو په دې سره به يې باذن الله د جنګ ماشين ودرولی شي.

نو په همدې اساس مجاهدينو ورونو کله چې تاسې په اختياري دفاعي حالاتو کې واقع کيږئ، بس نور متوجه اوسيږئ چې د دښمن ضعف نقطو ته قوي ضربه ورکړئ.

دا ستراتيژي موږ هغه وخت کې انتخابوو چې زموږ افراد، امکانات او هرڅه لږ اوسيږي، زه او ته نسبت دښمن ته ضعيفه يو، د ضعف په وخت کې په داسې حال کې چې دښمن قوي وي او د دښمن د ځپلو نورې لارې هم موجودې وي نو په بېځايه ضد کول او دښمن سره زور آزمايي د يو ښه سياستمداره مجاهد صفت نه دی، داسې کارونه تاسې خرابوي او آينده نه لري، په سوچ، تدبير او فکر باندې د دښمن داسې نقطې ته ضربه ورکړه چې بالاخره د جګړې ماشين يې ولاړ او بند شي او يا يې د جنګ ماشين داسې کړې چې له ډېر چټک او تېز کار څخه يې حد اقل ته وغورځوي.

## مجاهدينو ورونو:

په دې ستراتېژۍ د بحث خلاصه دا ده چې د خپل قوت نقاط حفظ کړه، منفي نقاط دې مخفي(پټ) کړه، د دښمن منفي نقاط درک کړه، بار بار دېته ضربه ورکړه، نتيجه دا چې د دښمن مورال به خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library


ضعیفه کیږي، روزانه به له ځانه نورې د ضعف نقطې ایجادوي د وخت په تېرېدو سره دښمن نابودۍ په طرف ځي او یو قوي درز یې ترمنځ پیدا کیږي.

تاریخ دا ثابته کړې ده چې چا په خپل خوښه او اختیار ځان په دفاعي حالت کې واقع کړی نو بیا یې جنګ ګټلی، د اختیاري دفاع ستراتیژي دا ډېره خطرناکه ستراتیژي ده، چې چېرې دښمن یې په تا استعمال نه کړي، بس چا چې قصداً ځان په دفاع کې واقع کړی، دوی په مرور د زمان جنګ ګټلی، د عسکرو، د افرادو د هرڅه مورال یې قوي، ځان یې تقویت کړی، منفي نقاط یې خپل مخفي کړي، قوي نقاط یې خپل حفظ کړي، د دښمن ضعف نقاطو ته یې په کراتو ضربه ورکړې، ددښمن هر ضعف نقطې ته چې دې ضربه ورکړه، باعث ددې کیږي چې دوه، درې، لس نورې د ضعف نقطې تاته په لاس درکړي او په کلاره کلاره دښمن د زوال خواته روان شي.

د تبوک په غزا کې چې کله د اسلام لښکر د تبوک ساحې ته ورسید، رومیانو سره جګړه وه، رومیانو چې د رسول الله ﷺ لښکر ته وکتل، الله رب العالمین د دوی په زړونو کې رعب واچاوه، دوی مشوره وکړه چې دلته موږ ته له دوی سره د جګړې څخه دا بهتره ده چې اختیاري عقب نشیني وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


راځئ! ځو خپلو ښارونو ته پناه وړو او کمين نيسو، په دې ميدان کې مونږ جګړه نشو کولی،که يې وکړو زمونږ په شکست تماميږي، روميانو خپله ستراتيژي بدله کړه، ټولو عقب نشيني وکړه، خپلو ښارونو ته ننوتل، جګړه يې د ميدان څخه ښار ته کړه، کوڅه په کوڅه او کور په کور جګړه يې طرحه کړه، کمينونه يې ونيول، رسول الله ﷺ د صحابه وو سره مشوره وکړ چې څه وکړو؟

عمر رضي الله عنه په مشوره کې چې دې خبرو نچوړ يې داسې راوځي وويل چې يا رسول الله! ﷺ دا کومه عقب نشيني چې شوې اجباري نده شوې، داسې نه ده چې دښمن شکست وخوړ او وتښتيد، بلکې د جګړې محاذ يې بدل کړ، داسې به نه ګڼو چې ګڼي رعب وربانديې حاکمه، په منځ کې تفرقه راغلې، نظم او اتحاد يې خراب شوی اوسيږي، نه! دوی اختياري عقب نشيني کړې ده، د جګړې ميدان يې بدل کړې،او ځان يې د اختياري دفاع په ستراتيژۍ کې واقع کړی دی، دوی غواړي چې مونږ او تاسې د دوی کمينونو ته برابر شو او د شام په سرحداتو کې مونږ بلد کسان هم نه لرو، د منطقې خلک راسره نشته چې مسلمانانو سره همکاري وکړي،مسلمانانو ته د دښمن حال او احوال راوړي او د دښمن تعداد هم زيات دی، په کمين کې هم دښمن ناست دی، عوض د تعقيب د دښمن نه راځئ چې مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library


او تاسې هم بېرته مدينې ته لاړ شو، دښمن دفاعي ستراتيژي اختيار کړې او عقب نشيني يې د دفاع په نيت کړې ده، نو په همدې اساس بايد د اسلام لښکر د دښمن د ستراتېژۍ سره ځان برابر نه کړي، دښمن د دوه ستراتېژيو تطبيق غواړي، اختياري عقب نشيني يې د څه لپاره کړې ده؟

دې لپاره چې دفاع وکړي او يا يې ځان آماده کړی چې د دفاع ستراتيژي په مونږ باندې عملي کړي، موږ او تاسې د هغوی د خوښې د جګړې ميدان ته ورولي او ګوزار راکړي، نو په همدې اساس بايد خپلې لښکرې د دښمن ددې ستراتېژۍ تطبيق سره مخامخ نه کړو، دښمن ستراتيژي بدله کړه، صحرا يې خوښې کړه او ښاري جګړه يې انتخاب کړ، نو موږ به هم مدينې طرف عقب نشيني وکړو.

بالاخره مشوره په دې باندې وشوه او رسول اللهﷺ سره له لښکر بېرته شاته شو او مدينې ته لاړل.

تاسې وګورئ چې عمرؓ دلته څومره د بصيرت څخه کار واخيست، ځان يې د دښمن ستراتېژۍ او پلان سره مخاخ نه کړ، د هغې زاويې څخه چې دښمن سوچ او فکر کوي په ما حمله کيږي د هغې جهت او زاويې څخه يې دښمن باندې حمله ونکړه، سياست څخه يې کار واخيست دښمن هسې هم د جګړې ميدان خوښې کړی دی او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


رعب او دبدبه يې له منځه لاړه، اسلام او مجاهدينو خپل هدف بېرته ترلاسه کړ، الله رب العالمين د رسول الله ﷺ او صحابه وو ذهن ته دا واچوله چې جګړې څخه تېر شي.

دا خبره تکراراً کوو چې تل تاسې عقب نشيني د شکست په باب کې مه شمېرئ، دا ځان سره يو پاليسي، يو ستراتيژي او په حرب کې د يوې خدعې په حيث نظر کې راولئ چې دا عقب نشيني هم جزء د جګړې ده.

موسی ﷺ د فرعون څخه عقب نشيني کوي، هغه د شکست په مانا خو نه وه، بېرته د ځان آماده کولو لپاره وه، رسول الله ﷺ د مکې څخه راځي مدينې ته عقب نشيني کوي، مطلب بېرته د بلې حملې لپاره تياری نيسي د خپل هدف او مقصد څخه نه تېرېږي فقط وخت بدلوي، نو تاسې هم بايد دې ته متوجه اوسېږئ چې ستاسې عقب نشيني هم د نوي کار د شروع باعث شي، که چرته ستاسې عقب نشيني د کار د ختم باعث شوه نو بيا دا عقب نشيني نه ده بلکې بيا تاسې شکست خوړلی دی.

که عقب نشيني دې وکړه، بس نور هر څه دې په ميدان خوشې کړل، يو له بل څخه مو ځان بې رابطې کړ، ځان دې ورک کړ، خپل کار او وظيفه دې خوشې کړه، دا بيا اجباري عقب نشيني ده، په اجباري کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


هم هغه اجباري ده چې تاسې سره يې د جبران اراده هم نشته.

نو په حربي سياست کې عقب نشيني د بيا تياري او د خپل قوت د زياتوالي په خاطر وي، د نوي کار د پيل لپاره او د بنيادونو د قوي کولو لپاره ته عقب نشيني کوې، بيا دا عقب نشيني توپير کوي نسبت دې ته چې ته مجبوره کيږې او بالاخره د عقب نشينۍ څخه وروسته پښې سپکوې او کار خوشې کوې.

الله مکړه کله په مجاهدينو باندې سقوط راځي او دېته مجبوره کيږي چې عقب نشيني وکړي، بايد د مجاهدينو دا انګېزه نه وي چې بس عقب نشينۍ کې هرڅوک خپلې پښې وباسي،عقب نشينۍ کې د مجاهدينو دا مسؤليت دی چې بايد راټول شي،منظم شي، بېرته د خپلې عقب نشينۍ څخه وروسته د اقدام لپاره آمادګي ونيسي، يعنې عقب نشيني ددې لپاره اوسېږي چې يو نوی کار، يو نوی پلان، يو نوې نقشه راپيل کړئ، عقب نشيني په مانا د ترک د وظيفې نه وي، ځکه بيا دا موضوع بيخي بل طرف ته ځي.

**قال تعالى:﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُواْ زَحْفًا فَلاَ تُوَلُّوهُمُ الأَدْبَارَ ۝ وَمَن يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ إِلاَّ مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزًا إِلَى فِئَةٍ فَقَدْ بَاء بِغَضَبٍ مِّنَ اللّهِ وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ﴾ [سورة الأنفال ١٥ـ١٦]**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ژباړه: اې ایمان راوړونکو! کله چې تاسې کفارو سره د جنګ په حالات کې مخامخ شئ نو هغوی ته شا مه اړوئ، څوک چې د جنګي تکتیک یا د مجاهدینو د کومې بلې ډلې سره له یو ځای کېدو پرته کفارو ته د جنګ په حالت کې شا واړوي نو هغه به د الله په غضب اخته شي د هغه استوګن ځای به جهنم وي او هغه د ورګرځېدو ډېر ناکاره ځای دی.**

**ورونو!** هغه خلک چې تعداد، اسباب او امکانات یې کم دي او څو ډوله دښمنانو سره مواجه وي، داسې دښمن سره چې هم منظم دی او د هر اړخ ښه ځواکمن دی، که دغه وړه ډله ځان په دفاع کې واقع کړي، ان شاءالله! کامیابه شوې ده، نسبت دې ته چې ځان تهاجم کې واقع کړي او په دښمن هجوم وکړي. ولې؟

دلایل زیات لري، هغه دا چې کوم کسان په تهاجم کې واقع کیږي او تاسې په اختیاري دفاع کې واقع شئ، دښمن مجبوره کیږي، چې تاسې باندې حمله وکړي، خو تاسې د داسې یوې ضربې آمادګي نیولې ده چې دښمن له پښو پرې باسئ، که چېرې تاسو اختیاري دفاع کې واقع شوئ، دښمن تهاجم کې واقع کېږي، د دښمن ټوله ستراتیژي تاسې ته واضح کیږي، دا درته معلومیږي چې د دښمن:

(c) ketabton.com: The Digital Library


**پلان څه شی دی؟**

**امکانات يې په کومه کچه دي؟**

**اسباب يې څه دي؟**

**څنګه حرکت کوي؟**

د کمين له لارې، د رفت و آمد له لارې د اکمالاتو له لارې، د دښمن ټول حرکات او کردار تاسې تعقيبولای شئ، يانې ټوله ستراتيژي يې تاسو ته معلوميږي، لېکن ستاسې برعکس دښمن ته نه معلومېږي، دښمن ستاسې په امکاناتو،اکمالاتو،افرادو خلاصه په هېڅ څه باندې خبر نه دی او تاسې هم خپل ځان ورته ضعيف ښکاره کړی دی،د دې لپاره چې دښمن ستا د کمين ساحې ته برابر شي او بالاخره قيچي عمليات ورباندې وکړئ، دښمن چې کوم مورال او انګېزه لري له منځه ځي.

**دوهمه فايده:** دا ده، چې دښمن کله جګړه شروع کړي،د تهاجم په حالت کې دښمن مجبوره دی چې زيات مصارف وکړي،دا ډېر پر مصرفه تماميږي،نسبت دې ته چې ځوک په دفاع کې واقع شي، په جګړه کې د دښمن د مصارفو زياتېدل خپله د دښمن د شکست سبب ګرځي، بل هغه وخت چې ستا منابع، تجهيزات، نسبت دښمن ته کم وي، نو نظر محيط او شرائطو ته، تاسې بايد اختياري دفاع غوره کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورونو! که چېرته تاسې داسې حالاتو سره مخ شوئ، چې دښمن ته مو ځان ضعيفه معرفي کړ او دښمن هم په يوه سيمه کې له همدې حالاتو څخه په ګټې اخستنې ستاسې د نابودۍ او ختمېدو تبليغاتو ته زور ورکړ، نو همدا يې وخت دی، چې يو مهم او قوي ګذار ورکړئ، دې سره دښمن له څو تاوانونو سره مخ کيږي.

لومړی دا چې درواغجن ثابتيږي، اعتماد يې ختميږي، د خپلو افرادو باور له لاسه ورکوي، بيا خپلو ملګرو ته مورال نشي ورکولای او د پرمختګ جرأت يې له منځه ځي او د آينده لپاره دا کومه جګړه چې پېش بينی کوي، د دې څخه نا امېده، په اضطراب کې واقع او سکون يې له منځه ځي، آينده کې بيا همدې ته متوجه وي چې د مجاهدينو له طرفه ورته تهديد متوجه دی، له نور کاره پرېوځي، چې دا خپله باعث د دې کيږي چې د دښمن روحيه خرابه شي، نو د يوې منطقې د امير په حيث ځينې وخت تاته لازمه ده چې په داسې حملاتو باندې هم کار وکړې، چې هغه د دښمن ادعا کاملاً باطله ثابته کړي، ترڅو په عقل، په دليل، په منطق او په علني شکل په دې ونه توانيږي چې په خپل دې شکست پرده واچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسلام په سیاسي نظام کې دښمن پېژندنه

قال تعالی: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِّن دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ ۚ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْآيَاتِ ۖ إِن كُنتُمْ تَعْقِلُونَ﴾ [سُورَةُ آل عِمرَان:118]

ژباړه : اې مؤمنانو! د خپلې ټولنې له وګړو پرته له نورو سره خپل رازونه مه وایاست، هغوی ستاسې د نابودۍ د هېڅ یو فرصت څخه ګټه اخستل له لاسه نه ورکوي او تاسې ته چې په هر څه زیان اوړي، د هغوی خوښېږي د هغوی د زړه دښمني له خولې څخه راوځي او څه چې هغوی په سینو کې پټ ساتلي دي، هغه له دې څخه زیات دي، موږ تاسې ته په ډاګه څرګنده لارښونې کړي دي، که تاسې پوهه لرئ (نو له هغوی سره به په ارتباط ساتنه کې له پاملرنې څخه کار واخلئ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دښمن پېژندنه:

ستا دښمن څوک دی؟

چېرته دی؟ څومره دی؟

څنګه دی؟ ولې دی؟

مطلب د ټولو دښمنانو ټول اړخونه پېژندل لازمي دي، چې موږ دلته په همدې موضوع بحث کوو. ان شاء الله!

که يو څوک درڅخه وپوښتي چې په نظامي ستراتېژۍ کې ولې د دښمن پېژندنه اړينه بولو او مطالعه کوو يې؟

**جواب يې دا دی:** چې د عسکرۍ په نظام کې او عموماً په نظامي برخه کې مهمترينه وظيفه د يو نظامي يا يو مجاهد هغه دا ده چې خپل دښمن په تمامه مانا وپېژني، دا يې مسؤليت او لومړيتوب دی چې خپل دښمن سم وپېژني مطلب اميران او د حرب اداره او مسؤلين خو يې لا پرېږده، فرد فرد په دې مکلف دی چې په دې پوه شي چې زما دښمن څوک دی؟

عمر رضي الله عنه وايي: **"د اسلام بېخ کندي هغه چا وکړه چې اسلام کې رالوی شوي او د جاهليت له زمانې څخه شناخت نه لري"** يعنې که د جاهليت زمانې نه يې معلومات او شناخت درلودلی، نو نن به يې ډېر په بصيرت سره اسلام پېژندلی، د دښمن هر جال او حال ته به يې فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library


او هره حربه د دښمن لخوا نه چې ورته مخې ته شوې وی، نو د دې کس به په حقیقي موضوع باندې سر خلاص وی.

نو خپل دښمن باید وپېژنئ او په تمامه معنا یې وپېژنئ، ځکه موږ او تاسې په نظامي ستراتېژۍ کې دا عنوان کېښود (دښمن پېژندنه) په دې باندې موږ او تاسې دلته مختصر بحث کوو. ان شاء الله! او دا باب هم لکه د خدعې د باب په څېر ډېر پراخه باب دی.

**ورونو!** په نظامي ستراتېژۍ کې به ډېر تمرکز ستاسې د دښمن په قدرت باندې نه وي چې دښمن دومره لښکر لري، دومره قوت او قدرت لري، اصلي تمرکز به ستاسې د دښمن په **فکر او عقیده** اوسیږي، په هغه فکر او هغه عقیده د دښمن باندې تاسې ډېر تمرکز کوئ چې دښمن خپل لښکر ورباندې رهبري او کنټرولوي یې، دې ته به تاسې په حرب کې او په نظامي ستراتېژۍ کې ډېره توجو کوئ، له نن څخه وروسته د دښمن په لښکر، په عسکرو، په تعداد، قدرت او په ښارونو کې ګشت او ګذار دې ټولو باندې زیات سوچ مه کوئ، هدف ستا باید هغه فکر او عقیده وي چې دغه لښکر رهبري او کنټرولوي یې، هغه باید هدف ونیسئ.

دا کار په څه باندې کولای شئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


کله چې تاسو د دښمن څخه دقیق شناخت او معلومات ولرئ، څکه دښمن چې دی دا زموږ او ستاسې د رشد، پرمختګ او تقویت مانع کیږي او د مجاهدینو د اهدافو په وړاندې خنډ او زنډ ایجادوي نو باید د اسلام په سیاسي نظام کې دښمن وپېژنئ.

**د دښمن تعریف:** هر هغه څوک چې هر په نامه او جامه د مجاهدینو د رشد، پرمختګ، قوت او پراخۍ مانع او خنډ ګرځي دغه کس دښمن دی، یعنې هر څوک چې د اسلام د سیاسي نظام د رشد، پرمختګ او تقویې په وړاندې مانع او خنډ ګرځي، نو همدغه کس د اسلام سیاسي نظام موږ ته د دښمن په حیث راپېژني.

## د دښمن پېژندلو علت څه دی؟

دښمن پېژندنې ته څکه لومړیتوب ورکوو چې موږ د دښمن په مقابل کې څنګه غبرګون وښایو، د دښمن په وړاندې کوم عکس العمل ته په موجوده وخت کې ضرورت دی نو په دې خاطر د دښمن پېژندل لازمي دي!

که څوک له تاسې پوښتنه وکړي چې د اسلام په سیاسي نظام کې د دښمن په پېژندنه ولې دومره تاکید راغلی او ولې یې د دښمن پېژندنې ته دومره اهمیت ورکړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


**نو جواب به مو دا وي:** د دې لپاره چې پوه شو چې د دغه دښمن سره څنګه عکس العمل وکړو، نو لازمي ده چې اول دښمن وپېژنو چې دښمن څوک دی؟

هر څوک، په هره جامعه او جامه کې، په هر کنج او ګوښه کې، په هره طريقه او هره وسيله باندې چې د اسلام د سياسي نظام د رشد، تقويې او پرمختګ مانع او خنډ ګرځي، دا زموږ دښمن دی.

يو څوک به خارج کې ناست وي، د کمپيوټر او د موبايل او د خبرو له لارې زموږ د نظام د رشد، پرمختګ او تقويې په وړاندې خنډ ګرځي، دې ته به د دوست په سترګه نه ګورې، دا هم ستا د دښمن په لېست کې راځي، داسې نه ده چې دښمن تاته فقط هغه څوک وي چې تاسره مخامخ مسلح جنګ کوي، نو د همدې لپاره وايو چې د دښمن پېژندنه اړينه ده چې تاسې د دښمن ټول ډولونه او اقسام وپېژنئ.

يو څوک به له نېږدې څخه او يو څوک به له لرې څخه تاسره دښمني کوي، يو څوک به د دوست په جامه کې ستا دښمن وي يعنې يو څوک به دې ظاهري دوست وي خو لېکن ستا د نظام د ترقی، پرمختګ او رشد مانع به وي، نو دا بيا دوست نه بلکې دښمن دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو له نن څخه وروسته همدې قالب ته هر څوک ور اچوئ، بیا به تاسې ته خپل دښمن خپله ځان ښايي، ځینې خلک داسې وي چې د دښمن صف ته هم نه وي تللي، ستا په مقابل کې یې سلاح هم نه وي راپورته کړي، خو د ده له شتون او فعالیت څخه دا ښکاره جوتیږي چې ستاسې د نظام د پرمختګ او ترقۍ په وړاندې خنډ دي، نو داسې خلک هم د دښمن په لیست کې ورزیات کړئ.

**ورونو!** دښمن په څو قسمه وي، دښمن یا داخلي دښمن وي او یا خارجي دښمن، یا انفرادي وي او یاڅو ډلې یوځای شوې دي، یا علني او ښکاره دښمن وي یا پټ، یا د خپلې دښمنۍ اظهار کوي او یا خپله دښمني پټوي، یا مو دښمن وړوکی دی، خو دښمني یې بې اهمیته ګڼل نه وي په کار، یا مو دښمن ډېر لوی دښمن دی، خو فلحال ما او تا سره بې اهمیته دی، یا دښمن ځان ته د دوست شکل غوره کړی او یا علني صراحتًا خپله دښمني اعلانوي، نو د دښمن دغه ټول انواع او اقسام د دښمن پېژندنې د عنوان لاندې مطالعه کوو ان شاء الله!

تاسو باید پوه شئ چې دغه دښمن اوس وړوکی دی، لېکن با اهمیته دښمن دی، د دغه دښمن تعداد زیات دی، خو فلحال بې اهمیته دی، دغه کس دښمن دی باید زه یې وپېژنم، خبر دی که په ظاهر باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library


يې د دوست شکل اختيار کړی خو ماته يې پلټنه لازمي ده چې معلومه کړم چې دا په کومه طريقه د دوست په جامه کې ماسره دښمني کوي.
ځينې وخت انسان د ځان لپاره دښمن شي، مجاهد  يا عام مسلمان او مؤمن وي، خو بس يو دم د اسلام د سياسي نظام دښمن شي، نو څنګه موږ پوه شو چې زه ولې د اسلام د سياسي نظام دښمن ګرځېدلی يم؟
هر هغه لاره، کار، خبره او اقدام چې ستا د نظام د رشد، تقويې او پرمختګ مانع وي، نو له هغې څخه ځان وساته که نه ته خپله بيا د خپل نظام دښمن يې، خو هغه دښمن يې چې په اهميت د موضوع باندې نه پوهېږې او داسې کار، اقدام، خبرې او داسې عکس العمل دې اختيار کړی چې ځان دې همدې چوکاټ او قالب ته وراچولی، ته بيا هغه دښمن يې چې فلحال ستا ضرر دومره نه محسوس کيږي بلکې نسلونه او کلونه وروسته ته د مسلمانانو ريښې او تهداب له منځه وړي.
**وروڼو!** په همدې اساس د يو سياست مدار او مجاهد په حيث دا سوچ او فکر وکړه چې زه کوم اقدام کوم، مجاهدين استعمالوم،د جهاد په نوم مې حرکتونه شروع کړي دي، تنظيم دی او پيسې دي راروانې دي او د جهاد په نوم باندې لوبه شروع ده،خو دغه وخت د خپل ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library


څخه ته پوښتنه وکړه چې دغه کوم کار ما شروع کړی دی،د اسلام د سیاسي نظام د رشد، ترقۍ او قوت باعث کیږي که نه برعکس خبره دی؟ که یواځې دې یو کار شروع کړی او فقط خپل تجارت کوې، جهاد بدناموې نوره کومه لاسته راوړنه نه لرې او زیان دې آینده نسلونو ته له حده زیات دی، تنظیمونو همدا لوبې وکړې، همدوی خپله د خپل نظام دښمني وکړه، ځکه نو هم یې خپله اوس دا حال دی او هم یې امت له داسې سرنوشت سره مخ کړی دی.

دښمن ځینې وخت په مختلفو میدانونو کې تاسې سره جګړه کوي، کله په سیاسي ،کله اقتصادي، کله نظامي او کله فرهنګي میدان کې، نو په همدې اساس له نن څخه وروسته وروره! هر څوک چې تا په دې قالب کې واچاوه چې هغه ستا د نظام د رشد، پیشرفت او تقویې مانع وو، نو لازمه ده چې د جګړې میدان یې هم معلوم کړې، چې دا اوس په کوم میدان کې ما سره دښمني کوي؟

فرهنګي، عقیدوي، سیاسي، نظامي، اقتصادي، په کومه برخه او په کوم جهت کې ماسره دښمني کوي؟ دا یې هم په ډاګه کړه.

د دې بحث فایده څه ده؟

یو څوک وایي، چې زه د دښمن په پیژندنه کې سوچ او فکر نه کوم، لېکن خپل کار مې شروع کړی او روان یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**وروره!** که ته دا اصل مراعت کړې، دې کې سوچ، فکر، ښه دِقت او ځیرکتیا څخه کار واخلې دا ټول د دې باعث کیږي چې دښمن تا غافله نه کړي دا د سیاست کمال دی.

تا دښمن پېژندلی، هر څوک چې په هره جامه کې د نظام د ترقۍ پرمختګ، قوت او پراخوالي مانع او خنډ وګرځي تا ورته دا د دښمن نوم انتخاب کړی او ورته دې فکر دی چې که ته زما د نظام په وړاندې خنډ ګرځې، نو ته مې دښمن یې، میدان دې هم ورته تعیین کړی، چې ته په عقیدوي، فرهنګي او فکري... او یا هغې میدان کې زما دښمن یې، نو په همدې اساس دغه کس تا غافله کولای نشي، نو دا یې ستره فایده ده. چې هر وخت تا خپل دښمن کټکوري کړ، دښمن دې وپېژانده، هغه میدان، برخه، طرف او حوزه دې هم وپېژندله له کوم څخه چې دښمن تاسره په جګړه بوخت دی، د دښمن دا تشخیص دې هم وکړ چې دا د دوست په جامه کې دښمني کوي که د دښمن په شکل مخ ته راځي؟ دا دې هم معلومه کړه چې دا دښمن دې غټ دی که وړوکی دې؟ ضرر یې په کومو برخو کې ډېر او په کومو کې کم دی؟ نو د داسې نورو ډېرو اړخونو په معلومولو به ته د نورو ګټو ترڅنګ یوه ستره فایده دا ترلاسه کړې چې دا دښمن به هېڅکله تا غافله نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سیاست په باب کې چې د مجاهدینو لپاره ډېره مهمه مسئله ده، هغه دا ده چې خپل **مخفي دښمنان** باید ضرور وپېژني، د دې څخه هېڅکله غافله نشي، زموږ د بحث ټوله خلاصه دا ده: د یو سیاست مداره، ځیرکه او هوښیار مجاهد او امیر په حیث باید له نن څخه وروسته د خپل نظام مخفي دښمنان راپیدا او مخه یې ونیسي.

ولې دا کار له ټولو مهم دی؟

ځکه چې علني او ښکاره دښمن خو دې معلوم دی، ضرر یې هم تاته معلوم او ورته په هر صورت متوجه یې، خو مخفي دښمن بیا هغه دښمن دی چې تاته به ښکاري نه، خو ګوزارونه به یې زغمې او یا به تاته ښکاري، خو ته به ورته د دوست په نظر ګورې، تاته به یې ځان دوست معرفي کړی وي، خو زیان او ضرر به یې له ښکاره دښمن څخه لس چنده زیات وي، نو داسې پټ دښمنان او یا هم د دوست په جامه کې ښکاره دښمنان مو تر هغه وخته پورې خپله دښمني مخفي او په دې فکر کې وي چې تا غافله کړي.

چې غافله یې کړې، بیا نو نه یوازې د خپلې دښمنۍ اظهار کوي، بلکې بیا خه پوخ ګوزار هم درکوي، دا بیا داسې وخت وي چې له یوه لورې به په تاسې ډول ډول ستونزې راغلې وي او د بل طرف نه هغه د لستونې ماران به هم خپله ژبه راباسي او له نیږدې څخه به در باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حمله او ګذار کوي. نو تل په دې فکر کې اوسئ چې تاسې د دښمن له لورې غافله نشئ، بلکې تاسې دښمن غافله کړئ.

څه وخت کولای شو دښمن سم وپېژنو، په ځانګړي ډول مخفي او پټ دښمن؟

هغه وخت چې د دښمن ښخه سم شناخت ولرو. ځکه مخفي دښمن په ظاهره کې ما او تا ته ځان دوست معرفي کوي، نرمې او ګرمې خبرې راته کوي، خو لېکن د يوې مناسبې موقع په لټه او انتظار کې وي چې کله يې موقع ترلاسه کړه، نو بيا ټک درکوي.

## مخفي دښمن ولې ډېر خطرناکه وي؟

ځکه چې پټ دښمن خپل چل ول، مکر او حيلې ټولې پټوي، نه يې ظاهروي، يوې موقعې ته يې ساتي، چې په ټاکلې موقع د خپلې دښمنۍ اظهار کوي.

### ورونو!

مونږ او تاسو بايد دې مسئلې ته دقيق اوسېږو، هر څوک چې هر جامه کې، هر ډول چې زمونږ د نظام د رشد او پرمختګ مانع اوسيږي نو دا زمونږ او ستاسې دښمن دی، د داسې خلکو په نرمو، ګرمو او پستو خبرو هېڅکله دوکه نشئ، داسې دښمن بايد دقيق وپېژنئ او د دښمنۍ لاره او چاره او ميدان يې هم وپېژنئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د سياست په باب کې يو معقوله ده وايي:** "که غواړئ د دښمن له خطراتو څخه په امن کې پاتې شئ؛

**اوله خبره:** دښمن وپېژنه يعني د رب العالمين په توفيق سره د دښمن څخه پوره معلومات حاصل کړه، د دښمن د معلوماتو ترلاسه کول او پېژندنه يې په ځان باندې فرض کړه، ددې لپاره چې د دښمن له خطراتو، ضررونو او د ګواښونو څخه په امن کې پاتې شې.

**دوهمه خبره:** دا چې تل په الله ﷻ توکل ولره،له خپلې هوښيارۍ، ځيرکتيا او دِقت څخه کار واخله.

**درېمه خبره:** دا چې د دښمن په مقابل کې به تل آماده اوسئ، بې خبره به نه اوسيږئ.

دا درې اصله چې تا مراعات کړل، د رب العالمين په توفيق سره ته بيا د دښمن له خطراتو څخه محفوظ يې، حد اقل زموږ او ستاسې کار دا دی چې داخلي نظام محفوظ وساتو، بيروني خو هسې هم موږ او تاسې دښمن سره جګړه اعلان کړې، بيروني کې که شکست او که عقب نشيني راځي که ضربه او حمله وي، هغه دومره ضرر د نظام حيثيت ته نه رسوي، لکه څنګه چې د داخلي او پټ دښمن څخه کوم خطر او ضرر نظام ته رسيږي، نو د دښمن ښه دقيقه پېژندنه، هوښياري، دقت، ځيرکتيا او آمادګي بايد په هېڅ صورت کې پرېښږدئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library


یو څوک چې آمادګي ولري، هغه خامخا اسباب استعمالوي، هغه خامخا ځان تیاروي، بناً ته به ځان تیار کړې، نو بیا به د دښمن د هرې دښمنۍ لپاره آماده يې.

د دښمن پېژندنې بل اهمیت دا دی چې ته به په ډېره آسانه طریقه مخفي دښمن وپېژنې، یعنې که ته له لومړي سره د دښمن پېژندنې ته دقیق يې، نو د مختلفو دښمنانو د پېژندنې په لړ کې به ته مخفي دښمن هم ښه درک کړې او په دې به پوهه شې چې داسې مخفي دښمن سره د دوستۍ کولو زیانونه څومره درانه او نه جبرانېدونکي دي، ته به د داسې دښمن ټول مشخصات وپېژنې، چې داسې دښمن ډېر تمرکز په نرمو او غوړو خبرو کوي، تل د خپلې دوستۍ او اخلاص اظهار کوي، د کار څخه يې د خپلو کارونو یادونه زیاته وي، د وړوکي کار به ډېر ستر احسان په تا باروي.

نو تاسې چې د دغه راز کسانو ټول کارونه په دغه پورته ذکر شوې قالب کې واچول او قالب ته برابر شول، نو ته بیا پوهه شه چې دا کس دوست نه بلکې دښمن دی، نور يې نو په نرمو خبرو او ډېلاکونو مه خطا کېږه.

## ورونو!

(c) ketabton.com: The Digital Library


که تاسې د مخفي دښمن په اړه هر ځومره معلومات ترلاسه کړئ، د دې په مشخصاتو او نښو ښه مطالعه وکړئ او له داسې دښمنانو هر ډول پوهه ترلاسه کړئ، نو په دې به وپوهېږئ چې د مخفي دښمن اساسي او اصلي کار او وظیفه د مجاهدینو ترمنځه په مختلفو شکلونو بې اتفاقي خپرول او بې باوري پاشل دي.

## زموږ او ستاسې دا مخفي دښمنان له کومې زاویې څخه ډېر کار کوي؟

**جواب لنډ دی:** د اختلافاتو اچولو له لارې څخه، نو په همدې اساس دغه خلک موقع ګوري، د همدې موقعې پورې ما او تا سره خه نرمه انډیوالي او دوستي کوي، کله چې موقع ورته مساعده شوه، نو بیا په یو دم مخ بدلوي، زهر پاشي او د مجاهدینو ترمنځ د بې اتفاقۍ تخم شیندي، د مشرانو او نورو ملګرو ترمنځ د بې باورۍ فضا رامنځ ته کوي.

تاسو به په خپله سیمه کې دغه ټولو اړونده مسائلو ته ډېر متوجه اوسیږئ، د خپلې منطقې یو عمومي اندازه به اخلئ، داسې خلک به په ډاګه کوئ او په دغه قالب کې به یې اچوئ، په وخت به د داسې خلکو مخه نیسئ، داسې افرادو ته به په هېڅ صورت کې د پټېدو او فعالیت چانس نه ورکوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نظامي ستراتیژۍ کې موږ په دې خبره وکړه چې تاسې به ډېر تمرکز د دښمن په قوت او لښکر نه کوئ، بلکې ډېره توجو او تمرکز به ستاسې د دښمن په فکر او عقیده وي، له دې مو هدف څه دی، په کوم فکر او عقیده؟

په هغه فکر او عقیده چې له هغې څخه زموږ دښمن تقویه او روزل کیږي، د همدې فکر او عقیدې په اساس زموږ مقابلې ته نوې دښمن رازېږېږي، همدا فکر او عقیده ده چې دښمن ما او تا سره د جګړې لیکو ته راداخلوي، په هر ډګر کې یې راسره جنګوي، نو په همدې اساس د دې فکر او عقیدې مخه باید ونیول شي.

تاریخ دا خبره ثابته کړې ده چې هغه وخت ته دښمن د پښو څخه غورځولی شې چې د دښمن فکر او عقیدې سره تل جګړه وکړې، فکر او عقیده یې له منځه یوسې، له دې جملو څخه څه راوځي؟ یعنې تاسې باید خپل حقیقي دښمن وپېژنئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ستا حقيقي دښمن څوک دی؟

حقيقي دښمن ستا د دښمن جسم نه، بلکې د دښمن فکر دی، د دښمن فکر او عقيده ستا اصلي دښمنه ده، ځکه هماغه باعث د دې کيږي چې دښمن ميدان ته راوباسي او ستا په مقابله کې يې وجنګوي مطلب حقيقي دښمن ستا هغه د دښمن ذهنيت دی.

نو په دې مسئله باندې ځان پوه کړئ، تر هغې چې تا د دښمن همدا ستا په مقابله کې د جګړې ذهنيت نه وي وژلی، د دوی همدغه د جګړې فکر او عقيده دې له منځه نه وي وړې که دوی په زرګونو ووژنې کوم بدلون نه راځي، بلکې نور درته توليدوي، نو دا فکر او عقيده تاسې داسې يو ماشين وګڼئ چې ستاسې په خلاف د اسلحو په څېر افراد توليدوي، نو د افرادو د ختمولو سره راځئ دا ماشين يې له کاره وغورځوئ، فلج، خراب او بېکاره يې کړئ.

دښمن ته تر هغې شکست نشئ ورکولای ترڅو چې په فکر او ذهن باندې يې حمله وکړئ، څنګه يې په ذهن او فکر باندې حمله کوو؟

کومه غلطي، تيروتنه او کوم سوء تفاهم چې د دښمن په فکر کې دی، دا عقيدوي، فکري، په اصولو کې، په عقايدو کې، دا ټولې غلطۍ دا ټولو ته واضحه کړئ، بيا هغه وخت ته کولی شې د دښمن په فکر باندې حمله وکړې، نو وروره ته منحيث د يو سياستمداره د دښمن

(c) ketabton.com: The Digital Library


فکر لکه کتاب مطالعه کړه او لکه د ورقو په څېر یې د عقیدې د هرې ورقې، هر فصل او باب غلطۍ درک کړه او بیا پرې ګوزار او رد وکړه.
 یو کتاب چې ګورې او بیا وربانديې رد لیکې، دوه درې ورقې چې دې مطالعه کړې، نو ته بیا پوهېږې، چې د دې کتاب په اړه ته په کومه کچه رد لیکلی شې؟ بیا یې نو هر یو عنوان بېل، بېل ګورې او د هر مضمون او عنوان بېل، بېل جاج اخلې، ته پوهېږې چې د دې عنوان لاندې دغه باطل او منسوخ روایات او دغه بې اساسه خبرې یې راوړې دي، نور ته ځان سره نوټ اخلې او په دې پوهېږې، چې ته په کومو، کومو برخو رد ولیکې، ټولې ضعیفه نقطې او مسئلې یې ځان سره نوټ کوې او بیا پرې راتاوېږې او ښه کلک رد پرې لیکې او ترڅنګ یې حقایق هم ورپه ګوته کوې، نو دغسې د دښمن ذهن او فکر هم حساب کړه، دغسې د دښمن د ذهن او فکر ورقه ورقه مطالعه کړه، هغه ضعیفه عقیده یې، هغه باطله نظریه یې، هغه غلط فکر، تصور او استدلال یې، هغه غلطه ذهنیت سازي یې، نو دا ټول معلوم، بیا یې راښکاره او ښه قوي د رد او د ګوزارونو لاندې ونیسه.
مطلب دا دښمن ته وښایه چې ته له څه شي څخه ماسره د جګړې لپاره استدلال کوې دا ټول باطل دي، ستا دغه عقیده او فکر ټول په دغه قرآني او نبوي دلایلو او په دې منطقي او عقلي دلایلو مردود دي

(c) ketabton.com: The Digital Library


او زه چې تاسره جګړه کوم زما عقیده او منهج دا دی چې دا په دې او دې ... دلایلو حق او روښانه دی ... بیا یې نو څوک جګړې ته نه تیاریږي، کله چې هغه پوه شي چې زما جګړه په باطله ده، بیا دوی ستا په مقابل کې جګړې ته د خپلو افرادو د تیارولو هغه انګیزه او دلیل له لاسه ورکوي او بالاخره د شکست سره مخ کیږي.

**دا به داسې ساده موضوع نه نیسې وروره:** د نړۍ قوي، قوي قدرتونو شکست خوړلی، په شرط د دې چې په ذهن باندې یې حمله شوې وي، مخکې موږ او تاسې په دې بحث کړی و، چې ظاهراً موږ او تاسې ټول دښمن نشو ختمولای، نو په کار ده چې د دښمن د دښمنۍ او جګړې فکر له منځه یوسو خو دا فکر به یې څنګه له منځه وړو؟

دا به په دښمن پیژندنه باندې له منځه وړو چې دښمن وپیژنې او ذهن یې ورته مطالعه کړې، د دښمن د ذهن، فکر، عقیدې، انګیزې، مورال او د جګړې روحیه یې ... د دې ټولو په اړه باید ته لومړی معلومات ترلاسه کړې، څکه چې ستا حقیقي دښمنان همدا دي.

**وروڼو!**

(c) ketabton.com: The Digital Library


دښمن پېژندنه کې چې هروخت(د دښمن پېژندنې)لفظ استعمالیږي یا همدا بحث راځي او دا مسئله یادیږي، نو ته پوهه شه چې دا دښمن پېژندنه دوه بُعده یا طرفونه لري.

**یو طرف او بعد یې:** د دښمن د فزیکي حالت یا ظاهري حالت پېژندنه ده چې دا په حربي برخې پورې تړاو لري یعنې په حربي (نظامي، عسکري) باب کې پېژندل کیږي او هر ملګری په خپله سیمه کې په دې باندې پوهیږي چې دښمن څنګه په ظاهري شکل وپېژني، د امکاناتو،د اسبابو،د تخنیک، د تکتیک،د قدرت او د ضعف نقطو څخه یې دا ټوله اندازه ځان ته لګولی شي او دا د حرب اړوند مسئله ده.

**د دښمن پېژندنې دویم بُعد:** د دښمن د فکر، انګیزې، عقیدې، ذهنیت، مورال او روحیې پېژندل دي چې دښمن ته قوت، انرژي، بقا او دوام ورکوي، دا بیا د سیاست په باب کې راځي، که زه او ته غواړو چې دښمن ختم کړو لېکن تر شا یې یو محرکه قوه شته، نو لومړی د دښمن همدغه تحریک کوونکي ځواک او قوت سره مبارزه په کار ده، په ځانګړي ډول هغه دښمن چې تاسره د باطلې عقیدې په اساس جګړه مخ ته وړي، لکه دا قرارداديان او روافض.

نو دوی سره به فکري، عقیدوي، دعوتي او اعلامي جګړه نه دروۍ، بلکې ورځ تر بلې به یې ورسره تېزوۍ او پراخوۍ ان شاء الله .

(c) ketabton.com: The Digital Library


لکه مخکې مو چې وویل، د دوی دا باطله نظریه او عقیده چې دوی پرې موږ سره خپلې جګړې ته مشروعیت ورکوي، دا به ورته راسپړې او د دې بطلان به ورته ښکاره کوې، سترګې به یې غړوې چې تاسې ته څه ویل کیږي دا اسلام نه، بلکې دا دیموکراسي ده، له کوم څه چې دفاع کوئ دا اسلامي نظام نه، بلکې دا د بین الملل په کفري اصولو استوار په قطر کې هېزاین شوې د اسلام په نامه نوې دیموکراسي ده، په دې اړه به ورته له هرې لارې پراخه ثبوتونه او دلائل وړاندې کوئ او د حقیقي اسلامي نظام په اړه به هم ورته پوره معلومات ورکوئ او د خپل سپېڅلي منهج او د خپل اسلامي سیاسي نظام په اړه به یې پوهوئ، نو هله به د دوی د جګړې دا فکر او عقیده مړې او دوی به خپله ماتې او شکست مني ان شاء الله .

نو تاسې په دښمن پېژندنه کې د دښمن د قدرت منبع خپله پېژنئ چې ستاسې د دښمن د ځواک، قوت او کثرت منبع د دوی باطله او پوچه عقیده، غلط فکر او نظریه ده، له همدې ځخه دوی انرژي او له همدې ځخه خړوبیږي، نو موږ او تاسې ته لازمه ده چې د دښمن د فکر او عقیدې دا سرچینې ور وچې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دښمن پېژندنه کې مو دا خبره وکړه چې دا دوه بُعده لري، یو ظاهري او بل يې اصلي بُعد( اړخ، طرف) دی چې هغه عقیدوي، فکري او معنوي دی.

په همدې ظاهري بُعد کې دښمن خپل ټول د ضعف نقاط مخفي کوي او د ضعف کومه نقطه نه پرېږدي چې ته وربانديې ګوزار وکړې، همداسي خپلې د قوت نقطې او خپل ځان محفوظ ساتي، کله کله داسې د ضعف نقطې تاسې ته په اختیار کې درکوي چې کله هغه خپله یو دام وي، غواړي چې تاسې ته چل او دوکه درکړي.

لېکن په خپلو عقائدو، افکارو، نظریو او د جګړې په سوژو کې خپل باطلوالی او نیمګړتیا نشي پټولای او په دې نه توانېږي چې د خپلې باطلې عقیدې باطلوالی او کفر پټ کړي، نو کله چې د دښمنۍ په قالب کې یو څوک واچوه او هغه ستا په همدې قالب کې جوړ راغی، چې د اسلام د سیاسي نظام د رشد، پرمختګ، پراخوالي، قوت او ترقۍ په وړاندې خنډ و، نو ته پوهیږې چې د دې جګړه باطله ده، دوی د غلطې عقیدې او فکر ښکار شوي دي، د اسلام په نامه د اسلام جرړې وباسي، نو په همدې اساس که دښمن په ظاهر هر څومره قوي وي او د خپل د ضعف ټول نقاط پټ کړي، خو په خپله عقیده کې د ضعف او باطلوالي نقاط نشي پټولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دوی مجبوره دي چې خپل باطل فکر، عقيده او انګېزه خپلو عسکرو ته راښکاره کړي او هغوی پرې جګړې ته آماده کړي، نو ځکه يې بيا باطلوالی ټولو خلکو ته هم علني شي، نو دښمن ته د بنيادي او تلپاتې شکست ورکولو لپاره لازمه ده چې د دوی په باطل فکر او عقيده حمله وکړو.

دښمن په دې دويم بُعد کې تاته خپله د خپل ضعف او باطلوالي نقطې درکوي، په دې اړه خپل د کفر او ردت ثبوتونه درته وړاندې کوي، تاسې اوس دې طالب ته وګورئ چې نارې د اسلام وهي، خو داسې کړنې کوي چې صريح کفر دی، داسې خبرې، داسې اقوال او افعال يې شروع کړي چې له هر يو څخه يې د دوی د ګمراهۍ، شرک او ارتداد څرګند ثبوتونه او بېلګې په لاس راځي، نو په همدې اساس بايد د اعلام، دعوت، او نورو اړوند ادارو ملګري تل د دوی د ضعف دغه نقطو ته متوجه اوسيږي او د خپلو ګوزارونو لاندې يې وساتي، د دوی هره خبره، هر عمل، قول او فعل يې راواخلئ د اسلام په تله يې وتلئ او خلکو ته يې د کتابونو، بيانونو، رسالو، مجلو، ليکنو، ويډيوګانو او نورو دعوتي لارو څخه ورسوئ، لله الحمد د دې اغيز اوس هم خورا زيات دی او که دا جګړه همداسې ورسره توده مخ ته لاړه شي، نو په آينده کې هم د دوی غاښونه برېښوي او د دوی په کفر

(c) ketabton.com: The Digital Library


او ردت ټول خلک پوهیږي، نو تاسې به ډېر دقت په همدې برخه کې کارکوئ چې معلومه کړئ د دښمن د قوت منبع کومه ده؟

د قدرت سرچینې يې کومې دي؟

په عقیده او فکر کې يې کومه نیمګړتیا او د اسلام ضد خبرې دي؟

په دې ټولو به بیا سوچ کوې، دښمن به کټګوري کوې، مختلف دښمنان دي، توپیر به يې کوې، کفار د قوت جلا منابع لري، دا مرتدین يې بېلې لري، تاسې باید ټول کټګوري کړئ.

فرضاً د امریکا قوت او حمایت په څه باندې دی؟

منبع د قدرت يې کومه ده؟

منبع د قدرت يې دا ده چې ملت او رعیت يې د نظام څخه حمایت کوي، دا نقطه تا راپیدا کړه، اوس داسې فعالیت، حرکات او عملیات کوې چې دا باعث د دې شي چې دغه ملت او رعیت د نظام څخه لرې کړي، په منځ کې بې باوري او فاصله پیدا شي، نو خپله بیا د دوی په یو بل اعتماد ختمیږي، د قوت منبع يې له منځه ځي او دښمن د شکست په طرف روانیږي، نو ته دا سوچ مه کوه چې د ټولو دښمنانو او د هر دښمن د قدرت منابع سره ورته یا یو شان او یو دي.

د هر دښمن لپاره به جدا فکر کوې، ځینې وخت ستاسې لپاره د قدرت منبع یو شی وي، د دښمن لپاره بیا بله وي، ستاسو لپاره به یو شی د

(c) ketabton.com: The Digital Library


اهمیت ورې وي او ستاسې د نظام ستنې او پرې ولاړ وي، خو د دښمن دغه منابع بیا توپیر کوي، هغوی ته به بیا بل څه د اهمیت وړ وي نو تاسې دا مهارت ځان کې پیدا کړئ چې د دښمن پېژندنې په باب کې د هر دښمن قوت او قدرت یې جلا پیدا او بالاخره یې د ضربې او ګوزار لاندې ونیسئ.

ورونو! تاسې په دې پوهه شئ چې د اسلام په سیاسي نظام کې (دښمن پېژندنه) درې اصله لري او همدا درې اصول باید موږ د دښمنانو د پېژندنې په مورد کې مراعت کړو:

## د دښمن پېژندنې اصول

اول اصل : د دښمن پېژندنه (شناخت):

دویم اصل: دښمن ته د دښمن په سترګه کتل:

دریم اصل: دښمن سره بېرته دښمني کول:

### اول اصل : د دښمن پېژندنه (شناخت):

یعنې د دښمن د دښمنۍ د لارو، چارو، تکیتک او ډؤل پېژندل په ما او تا لازم دي، یعنې په دې ځان وپوهوو چې دښمن په کومه طریقه تا سره دښمني کوي، د دښمن د دښمنۍ طریقې او لارې پېژندل له ټولو مهم دي، نو په دې پوهېدل ضرور دي چې له کومې لارې څخه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کومو اسبابو، امکاناتو او طريقو دښمن مونږ سره دښمني کوي؟ دغه طريقې، اسباب، لارې، تکتيکونه، شيوه، طرز، او ډول... دغه ټول را پيدا کړه، دا ډېره مهمه ده، که ته غواړې له نن څخه وروسته په دښمن پېژندنه کې سوچ وکړې او دا ټولې لارې چارې معلومې کړې او ورسره د دښمنۍ په فکر کې شې نو بايد د دښمن د دښمنۍ لاره وپېژنې چې په کومه لاره باندې دښمن تاسره دښمني کوي.

## دويم اصل : دښمن ته به د دښمن په سترګه ګورې:

دښمن ته به په ساده او عادي نظر نه ګورې، يو چا سره دې دښمني ده، خو بيا هم درته دا موضوع ډېره عادي وي، څنګه چې لازمه ده هاغسې فعاليت، جديت او قاطعيت نه لرې، لکه څنګه يې چې دښمن ستا په مقابل کې لري، يعنې ځان به ړوند او کوڼ نه اچوې، چې دا خيال پلؤ وهې چې ياره بس دښمن مې اوس ماته د ګوزار راکولو توان نه لري، اوس يې په ما رحم راځي يا نرمي راسره کوي، نو ستا دا خوش فهمي او په دښمن نېک ګوماني به تا له ګړنګونو ګوزار کړي، ته به همداسې بېکاره ناست يې او دښمن به دې د نابودۍ لپاره تيارۍ نيسي.

د دښمن پېژندنې په دې دويم اصل کې دا هم مهمه ده چې دښمن ته به د دښمن خطاب کوې، کله يې چې نوم دښمن شو، نو بيا ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library


په هره برخه کې په زغرده دښمني په کار ده، نوم يې چې دښمن شو، بس د هغه مقابل کې بايد ته بې احساسه ونه اوسې.

## دريم اصل: دا چې دښمن سره بېرته دښمني کول:

دا يو فريضه ده په تا باندې چې دښمني يې په ځان لازمه کړې، دښمن دې وپېژانده، د دښمنۍ لارې چارې دې وپېژندلې او نوم دې هم ورکړ چې دغه زما دښمن دی، نو اوس دې پښه په بله اړولې او نور نو بې غمه دې يا دوکانداري شروع کړې يا دې په مدرسه کې تدريس ته پرلت وهلی، داسې نه ده! په دې ستا د دښمنۍ دا مکلفيت نه تر سره کيږي! دښمن سره به دښمني کوې، ميدان ته به راوځې، ځکه په تا باندې خو سل په سله بيا حجت قايم دی چې هم دې دښمن وپېژانده، هم دې د دښمن د دښمنۍ لارې، چارې وپيژندلې، هم دې دښمن ته د دښمن نوم ورکړ، هم دې دا دښمن شاګردانو ته تشريح او ور معرفي کړ، چې دغه زموږ او ستاسې دښمن دی او بيا خپله د دښمنۍ ميدان ته نه راوځې، ته بيا ډېر ناځوانه کس يې، د اسلام په سياسي نظام کې بيا تا د دښمنۍ اصل او اساس نه دی ساتلی او نه دې پوره کړی، دغه دښمن پېژندنه په دغه دريو اصولو باندې استواره ده که يو څوک راولاړيږي او وايي:

چې ما دښمن پېژندلی دی او ما خپل دښمن سره دښمني شروع کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ده، نو پوه شه که دغه درې اصله يې مراعت کړي وو نو صحيح ده، دغه کس صادق دی او دغه کس يقيني خپل دښمن سره دښمني شروع کړې ده، خو يو کس چې د دښمنۍ په لړ کې په دغه دربو اصولو باور نه لري، نه يې عملي کوي، د دښمنۍ ميدان ته نه راوځي، دښمن سره د خپل توان او وس مطابق رښتينی او ښکاره دښمني نه کوي، بس دغه کس په خپل داعيه کې خطا او دروغجن دی. ځکه:

**اول:** ته د دښمن د دښمنۍ په طريقه باندې نه پوهېږې چې دښمن په کومو طريقو باندې ما سره جګړه کوي.

**دوهمه:** دا چې دښمن ته تا د دښمن نوم نه دی ورکړی، دښمن ته دې د دوست په سترګه کتلي او يا د دښمن سره دې دښمني ساده او عادي ګڼلې.

**دريمه:** دا چې د دښمنۍ ميدان ته عملي راوتلی نه يې، دښمني دې نه ده شروع کړې، نو په همدې اساس ستا دعوه غلطه ده او ستا خبره د قبول وړ نه ده.

## د دښمن دوهم تعريف:

دښمن هغه کس دی چې ستا د اهدافو خلاف اهداف ولري يعني ستا د اهدافو ضد اهداف مخ ته وړي، آرمان، آرزو او تمنا يې ستاسې له

(c) ketabton.com: The Digital Library


آرزوګانو، تمناو، آرمانونو، اهدافو او غوښتنو په مقابله کې واقع وي، د عمل نتیجه یې هم ستاسې د دغه ټولو ارزښتونو نابودي او له منځه وړل وي نو ته پوه شه چې داسې کسان ستاسې دښمنان دي.

د اسلام په سیاسي نظام کې موږ د دښمن دوه ډوله تعریفونه وړاندې کړل او دغه دوه قسمه تعریفونه مو ځکه وکړل چې موږ سره د دښمن په پېژندلو کې مرسته وکړي، نو په همدې اساس دهر هغه چا چې ستاسې د اهدافو سره یې اهداف مخالف وو، یعنې د اسلام په سیاسي نظام کې زما او ستا اهداف او آرمانونه معلوم دي، زموږ د اهدافو، غوښتنو، آرزوګانو او لاس ته راوړنو په خلاف یې عمل کاوه او په مقابل کې زموږ د اهدافو ضد هدفونه درلودل او د کارونو په پایله کې یې زموږ د نظام سقوط کول هدف وي، نو دا کس دښمن دی، که په تمکین کې او یا د مجاهدینو د لاس لاندې اوسیږي دا کس در ځخه خطا نشي، رانیول او قضا ته یې معرفی کول لازمي دي ځکه دې کې حتمي سه فساد شته دی.

**د دښمن د دښمنۍ څخه سترګې پټول او یا په غفلت کې ځان واقع کول د جګړې د ختمېدو باعث نه کیږي، بلکې په خپله سیمه کې د دښمن دقیق پېژندل یعنې د دښمنۍ ټول اړخونه او لارې چارې یې پېژندل، د دښمنۍ ټول اصول مراعتول دا د دښمن د نابودۍ سبب کیږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دښمن د دښمنۍ مراحل او مراتب

يعنې دښمن په لاندې مراحلو کې مونږ سره خپل دښمنۍ ته دوام ورکوي:

1. **فشار راوړل**
2. **ګواښ کول**
3. **د بديل وړانديز کول**
4. **اقدام او شکنجه کول**
5. **فکري جګړې ته مخ کول**
6. **د مذاکراتو وړانديز کول**
7. **پروپاګندې او د افواهاتو تبليغات کول**
8. **شدت او سختۍ څخه کار اخيستل**

د دښمن د دښمنۍ اوله لاره فشار راوړل دي، رسول الله ﷺ چې کله اسلام طرف ته دعوت پيل کړ، د قريشو مشرکين راټول شول او ابو طالب ته يې وويل: "چې لاړ شه او وراره ته دې ووايه چې دا کوم کارونه تا شروع کړي، له دې څخه لاس واخله" نو له دې پوهه شو چې دښمن غواړي ستا د حمايت کوونکو او ملاتړو له لورې په تا فشار وارد کړي، يا يې درسره په دښمنۍ کې ښکېل يا يې دربانديې باوره او يا نورې طمعې ورکړي او يا ورته ګواښ او تهديد وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


مخکې مو یادونه وکړه چې زموږ او ستاسې تر ټولو سخت او خطرناک دښمن هغه دښمن دی چې پټ او مخفي وي، نو باید چې داسې دښمنان تاسې وپېژنئ، د دښمن د دښمنۍ لارې باید وپېژنئ، کله چې دښمن خپل شوم هدف ته ځان رسوي، نو په یو قوم کې یا یوه سیمه کې د خپلو نفوذي (پټو) کسانو څخه په استفاده ځان خپل هدف ته رسوي، دا د دښمن د دښمنۍ یوه لاره ده.

کله چې په مکه کې د قریشو دا اوله او دویمه حربه ناکامه شوه، مشرکین راغلل ابو طالب یې تهدید کړ ورته وایي: "دا کومې خبرې چې ستا وراره شروع کړي او له دې څخه لاس په سر نه شي، نو بیا ته او وراره دې د جګړې میدان ته راووځئ، چې سره یې معلومه کړو یا تاسې هلاک شئ یا موږ"

ابو طالب ته یې د اخطار او د تهدید خبره وکړه، نو دا د دښمن د دښمنۍ مراحل دي، دې ته به خپل ذهن عیاروئ چې دښمن مرحله په مرحله تا سره دښمني کوي او ته به دې ته ډېر متوجه اوسېږې او دفاع به ترینه کوې، نو بیا به ته د کامیابۍ طرف ته ځې.

رسول الله ﷺ باندې د دې لپاره چې د اسلام سیاسي نظام حاکم کړي نو د دښمن له لورې دا مراحل ورباندې ډېر راغلي او په دې تړاو یې ډېرې سختۍ تېرې کړي دي، نو په موږ خو به خامخا دا مرحلې

(c) ketabton.com: The Digital Library


راځي، زما او ستا په ملاتړو به هم دښمن مختلف فشارونه واردوي، حمله به پرې کوي او زموږ له ملاتړ به يې لاس په سر کوي، هغه قوم چې زما او ستا د مرستې او قوت سبب کيږي نومورى قوم د دښمن لخوا تهديديږي، دا د دښمن د دښمنۍ لارې دي، چې کله دويمه مرحله هم د دښمن ناکامه شوه، بيا په دريمه مرحله کې دښمن ستا ملاتړو او حمايت کوونکو ته د بديلې لارې په وړاندې کولو سوچ کوي، کله چې د مکې مشرکينو وليدل چې تهديد هم کار ورنه کړ، نو بيا راغلل ابو طالب ته او ورته يې وويل: "چې که ته له خپل وراره څخه په دې خاطر ملاتړ او ساتنه کوې چې ستا خدمت کوي، نو مونږ تاته د دې بديل کې يو بل ښکلى ځوان درکوو، عماره بن وليد يو ښکلى او قوي ځوان دى، همدارنګه ښه نسب والا انسان هم دى، بس دغه درکوو، ته مونږ ته محمد راکړه، دا کس به ستا خدمت کوي، دا بديل واخله".

ابو طالب ورته په جواب کې وويل: "عجيبه کار کوئ، تاسې خپل بچى ماته راکوئ چې زه يې درته وساتم او درته يې تربيه کړم او زه خپل بچى تاسو ته درکړم چې تاسې يې ووژنئ".

نو کله چې بيا بديل هم نتيجه ورنه کړه، بيا دښمن عملي اقدام کوي، نيول، شکنجه او وژل کوي او د زور له لارې کار اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


مشرکین چې کله پوه شول چې دې بدیل لارې هم نتیجه ورنه کړه بس کېناستل او مشوره یې وکړه چې د هر چا د قوم او خپلوانو څخه کوم کسان مسلمانان شوي وي او ایمانونه یې راوړي وو، نو د هغوی اسیرول، شکنجه کول او وژل دې پیل کړي او همدا کار یې شروع کړ مسلمانانو ته به یې ویل: "یا د محمد ! ﷺ د دین او دوستۍ څخه تېر شئ او یا به مو دا حال وي"

## ورونو!

څوک چې د حقیقي اسلام او توحېد دعوه کوي باید دې ته تیار وي، چې دا مراحل په موږ راتلوونکي دي، ذهناً دې ته آماده اوسه چې تاسره به هم همدغه شان دښمني کیږي، له هرې مرحلې چې ته کامیابه وځې، نو باید د الله شکر ادا کړې، چې له یوې مرحلې ووتم او بلې نوې مرحلې او نوي باب د دښمنۍ ته داخل شوم او دا فکر به درسره وي چې ته مرحله په مرحله خپل هدف ته نېږدې کیږې.

کله دښمن د شکنجو، اسارتونو او شهادتونو په ترسراوي هم خپل هدف ترلاسه نشي کړای یعنې مؤمنان له خپل هدف څخه منحرف نشي او په خپل عزم ټینګ ولاړ، صبر، ثبات او استقامت وکړي، نو له دې وروسته بیا هم دښمن په آرام نه کېني، بلکې خپله فکري جګړه تېزوي او هغې ته زور او شور ورکوي، تاسې به سیرت کې لوستي

(c) ketabton.com: The Digital Library


وي چې کله د مشرکینو دې کار هم نتیجه ورنه کړه چې مسلمانان یې په هرځای کې نیول، زورول، ربړول، شکنجه کول، اسیرول، وژل ... او د دې هر څه باوجود بیا هم د اسلام سپېڅلي دین لمن پراخېده، نو بیا یې خپله فکري جګړه تېزه کړه، دا یې درک کړه چې د حج شپې ورځې رانېږدې شوې دي، د نړۍ له مختلفو سیمو څخه خلک حج ته راځي، نو فکر یې وکړ چې دا بهرني خلک راځي نو راځۍ د دوی فکر خو بدل کړو، دوی چېرته د رسول الله ﷺ د دعوت څخه متأثره نشي او اسلام له ځانه سره خپلو سیمو ته انتقال او نور هم پراخي پیدا نه کړي، د مسلمانانو ملګري زیات نشي او دوی سره نور خلک یو ځای او هجرتونه ونه کړي. ﴿وَيَمۡكُرُونَ وَيَمۡكُرُ ٱللَّهُۖ وَٱللَّهُ خَيۡرُ ٱلۡمَٰكِرِينَ...﴾

د دوی د دې منفي تبلیغاتو نتیجه د دوی د طمعې خلاف راووتله، دوی به چې هر چا ته ورغلل، نو ډېری خلک به په خپلو مراسمو مصروف وو، بیخي به یې رسول الله ﷺ ته فکر هم نه و، خو دوی به ورته ویل: "اي خلکو! داسې یو کس دلته پیدا شوی د پیغمبرۍ دعوه یې کړې، نوم یې محمد دی او د پلار نوم یې عبد الله دی او وایي چې زه رسول الله یم، د نوي دین طرف ته دعوت کوي، پام چې د دې خواته ورنشئ او نه یې خبرو ته غوږ کېږدئ، ګوره که ورغلئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو خبرې يې دربانديې تاثير کوي، د هغې خبرو کې ډېر سکون او تاثير دی، بيا به د خپلو پلرونو دين پرېښودو ته اړ شئ"

د خلکو به يې نور هم تشويش زيات کړ او دا اراده به يې مظبوطه شوه چې اوس به حامخا د نوي دين راوړونکی کس به ګوري که مخکې به خبر نه وو او نه يې رسول اللهﷺ سره د ملاوېدو اراده وه، خو د مشرکينو خبرو به د منعه کېدو په ځای لا تشويق کړل او د رسول الله ﷺ د ليدو په نيت به د هغه څنګ ته لاړ او هلته به يې چې د رسول الله ﷺ مجلس نصيب شو او د هغه مبارک خبرې به يې واورېدې، نو حق خو د انسان په زړه ډېر زر تاثير کوي، ډېری له بهر څخه راغلو د نورو قبيلو خلکو به د اللهﷻ دين ومانه، د دوی هڅه خو دا وه چې خلک چېرته اسلام ته داخل نشي، د دې په خاطر يې دا کار کاوه، لېکن د اللهﷻ ترتيب جدا و، خلک ټول خبر شول، د چا به هم چې رسول الله ﷺ سره ملاقات وشو نو بيا به بېرته خالي ذهن نه تلو، يوه مفکوره به يې د دې ملاقات څخه ځان سره اخيستله.

نن سبا دا کفار او مشرکين هم د خپلو نيکونو په نقش قدم روان دي، په خراسان کې هم همدا حال دی چې ستا ملاتړي او حمايت کوونکي تهديدوي، مجاهدين اسيرانوي، شهيدانوي يې، همدارنګه فکري جنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library


سره له نورې هرې حربي څخه کار اخلي، چاته اجازه نه ورکوي چې زموږ او ستاسې دعوت ته لاس رسی ولري، د مهاجرينو مخه نيسي او غواړي، چې دمسلمانانو نظام ضعيفه کړي او بالاخره له منځه يې يوسي.

**نو په همدې اساس مجاهدينو ورونو!** د اسلام په سياسي نظام کې په هره برخه کې بايد تاسې ډېر وسبع او پراخه سوچ او فکر ولرئ، محدود سوچ او فکر مه کوئ، کېدای شي په نېږدې ماحول کې ته په کال کې هم څوک ملاتړی پيدا نه کړې، د دعوت سلسله دې بهر ته وباسه، د مهاجرينو په سلسله باندې کار وکړه، دښمن چې بهر ستا په خلاف منفي تبليغات شروع کړي، ته د هغې په مقابل کې مثبت دعوت او تبليغات شروع کړه.

دښمن چې دا ټول مراحل په کار واچول او کومه نتيجه يې ورنه کړه، نو ته بايد پوه يې چې له دې وروسته دوی بيا په يو بله مرحله کار کوي چې هغه خبره درته د مذاکراتو او د صلحې په شکل مخ ته کوي، دا د دښمن د دښمنۍ بله لاره ده.

**ورونو!** دښمن هلته دې مرحلې ته مخه کوي، چې په تېر شوو مرحلو

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې ناکامه او نا هیلی شي، بیا دې مرحلې ته مخه کوي، چې بیا له تاسې د مستقیمو مذاکراتو غوښتنه کوي، چې راځه تاسو څه غواړئ موږ هماغسې کوو.

هڅه وکړئ، چېرته په دې مرحله کې تاسې رالاندې نه کړي چېرته مو په دې غوړو نومونو دوکه نه کړي، په نورو سختو مراحلو کې چې دې صبر او ثبات وکړ الله ﷻ استقامت درکړ، تکلیفونه، ولږې، تندې، زندانونه، زخمونه، شهادتونه او نور بې شمېره کړاؤنه دې وګالل او دښمن ته دې ماتې ونه منله، نو اوس پام کوه چې دا آخري حربه په ځان کامیابه نه کړې، بس دا حربه او داسې وړاندیزونه یې په دې مخ ورووله.

رسول اللهﷺ چې کله له نورو ټولو سختو مراحلو کامیاب ووتلو، نو بالاخره عتبه ورته د مذاکراتو وړاندیز کوي همغه وو چې عتبه راغی، د رسول الله ﷺ په وړاندې کېناست ورته یې وویل:

**وراره!** ته خو زموږ په منځ کې د اوچتې او قدرمنې کورنۍ د محترم او لوړ نسب خاوند یې تا خپل قوم ته یوه لویه مسئله راوړې ده او په دې سره دې د ټول قوم په منځ کې جنجال جوړ کړی، بې اتفاقي دې راوړې ده، د دوی دین او معبودان توهینوې، عیب پرې پورې کوې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپلو پلرونو دین او عادات دې پرېښي، نو واوره زه درته یو څو وړاندیزونه لرم، فکر پرې وکړه کېدای شي کوم یو دې خوښ شي او ته یې ومنې او دا شخړه ختمه شي، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ﴿قل یا ابا الولید اسمع﴾ وایه ابولولیده اورم، عتبه وویل: وراره کوم دعوت چې تا اسلام ته شروع کړی او کومې هلې ځلې چې کوې او زموږ په منځ کې دې ستونزې راولاړې کړي که له دې څخه دې مقصد د مال ترلاسه کول وي، نو موږ به درته دومره مال او دارایي راټوله کړو چې له موږ ټولو به ته زیات مالداره او شتمن شې او که له دې لارې غواړې چې مشر شې، نو موږ به دې سمدستي خپل مشر وټاکو او هېڅ فیصله به ستا له مشورې پرته نه کوو، د مکې مشر به ته شې، د ټولې مکې واک به تاسره وي، که پاچاهي غواړې نو پاچا به دې کړو او که چېرې دا څه چې درته راځي جن یا پېری وي، ناروغه یې نو علاج به دې وکړو که غواړې د خپل قوم ښایسته او غوره ښځه به درکړو، خو دا کومه دعوه چې لرې، دا کوم دعوت چې دې روان کړی له دې تېر شه. کله چې عتبه خبرې ختمې کړې رسول الله ﷺ ورته وویل: ستا خبرې خلاصې شوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه ورته وويل: هو، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ﴿فاسمع مني﴾ اوس ماته غوږ شه، عتبه وويل غوږ مې دی. رسول الله ﷺ خبرې داسې پيل کړې:

**بسم الله الرحمن الرحيم : حمٓ (1) تَنزِيلٌ مِّنَ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ (2) كِتَٰبٌ فُصِّلَتْ ءَايَٰتُهُۥ قُرْءَانًا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ يَعْلَمُونَ (3) بَشِيرًا وَنَذِيرًا فَأَعْرَضَ أَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ...﴾ [سُورَةُ حٰمٓ السجدة/فُصّلَت: 1- 3]**

**ژباړه: حا، ميم. (1) دا (قرآن) د خورا مهربان او پوره رحم لرونکي الله له خوا نازل کړای شوی دی (2) يو داسې کتاب چې آيتونه يې په تفصيل سره بيان کړای شوي دي او د عربي ژبې قُرآن دی، د هغو خلکو لپاره چې علم لري؛ (3) زېرى ورکوونکی او وېروونکی دی، خو له دغو خلکو څخه زياترو ترېنه مخ واړوه او غوږ ورته نه ږدي.**

رسول الله ﷺ د سجدې آيات تلاوت کړ، سجده يې وکړه او بيا يې وويل: ابو الوليده! وادې ورېدل؟

اوس خپله فکر وکړه ته پوهه شه او کار دې، عتبه پاڅېد خپلو ملګرو ته ورغی ملګرو يې وويل: عتبه چې له موږ په کوم مخ تللی وو، په هغې نه دی راغلی، ترې وبې پوښتل څه کيسه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه ورته وویل: قسم په الله! ما داسې خبرې واوریدې، چې په ټول عمر کې مې نه وې اورېدلې، هغه نه سحر و، نه شعر و، نه جادو او مداریتوب وو، اې قریشو! محمد په خپل حال پرېږدئ.

مشرکین په عتبه پوهېږي، چې خبرو یې کومه نتیجه ورنه کړه، نو وايي: عتبه د خبرو په طریقه او استدلال نه پوهېږي، راځئ چې د مذاکراتو یو ټیم یا ګروپ جوړ کړو، یو ټیم یې د مذاکراتو لپاره جوړ کړ، د دې مذاکراتي ټیم غړي ولید بن مغیره، ابوجهل، عبدالله بن ابي امیه، امیه بن خلف او داسې نور د قریشو مشران د مذاکراتو په دې ډله کې داخل وو، کله چې دوی هم رسول الله ﷺ ته راغلل نو کوم جواب یې چې عتبه ته ورکړی و، کومه نرمي یې ونه کړه او نه هم له خپلو مادو او شرطونو څخه په شا شو، چې والله دا خو دا دی دا ځل د قریشو مشران راغلي ډېر کسان دي، سرکرده خلک دي، راځه لږ تنازل وکړه، نه بلکې دوی ته یې هم هماغه قاطع جواب ورکړ، د الله ﷻ په مدد رسول الله ﷺ د دښمن له دې مرحلې څخه هم کامیاب ووت، کله چې تاسې هم د دښمن د مذاکراتو دغه مرحله د الله ﷻ په مرسته د شکست سره مخ کړئ، نو بیا ګورئ چې دښمن خپل تبلیغات تېزوي، بیا تبلیغاتو ته کش ورکوي، بیا مرجفینو ته موقع په لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځي، بيا په صف کې يو ګنګوسي شروع کوي چې زنانه اسيراني دي، لوږه ده، اسلحه نشته، مهمات نشته، ډول ډول تکليفونه دي، خو مشرانو دومره سختي شروع کړې ده، ولې دا مذاکرات خو رسول الله ﷺ هم کړي، بيا نو د مجاهدينو په ذهنونو کې داسې عمومي او ډول ډول شبهات اچوي،په جزياتو نه ورځي لکه طالب چې خپلې تسليمۍ لپاره د حديبيې د سولې خبرې دليل نيسي، خو جزياتو ته نه ورداخلېږي او يا لکه ابو جهل چې د لېونو په شان خبرې شروع کړې چې ته ځان ته په حقه وايې، نو له خپل رب څخه وغواړه چې د تيږو باران وکړي، ملائکې وغواړه چې راشي او تاسره مرسته وکړي او منافقينو بيا دې خبرو ته زور ورکړ چې وګوره له لوږې ځانته يو ګوله مړۍ نشي موندلی، هېڅ ډول امکانات ورسره نشته، د ټولې دنيا خلک يې په خلاف راټول شوي دي، دښمن يې په سر ولاړ دی او دا په دې وخت کې د قيصر او کِسرا د فتحو خبرې کوي، بايد قريشو سره مذاکرات وشي منافقينو دا خبرې شروع کړې چې موږ سهوه شو، چې دې صف ته راغلو دلته خو بغير د غربت، لوږو، تندو، سختيو او کړاونو څخه نور څه نشته، له دې ټولو خبرو څخه يې هدف همدغه و، چې د مجاهدينو په ذهنونو کار او د دوی فکرونه مغشوش کړي، دمسلمانانو په ذهنونو منفي تاثير پرېباسي او په دې سره د مسلمانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library


صف ضعیفه شي، نو کله چې له دې لارې هم دښمن خپل مقصد ته ونه رسېږي او نوره ورسره بله هېڅ لاره پاتې نشي، نو بیا د ډېر شدت څخه کار اخلي.

مشرکینو ته وګوره کله یې چې یوه حربه هم کامیابه نشول، نو بیا یې خپل وحشتونه، ظلم او ستم زیات کړ، بلال یې اسیر کړ او په سرو شګو کې یې واچاوه او له پاسه یې پرې غټې تیږې کېښودې، څوک یې په ورځو ورځو نهاره وساتل، د یاسر اهل او کورنۍ یې د سختو شکنجو لاندې ونیوله او بالاخره یې د ډېرو سختو دردونو له ورکولو وروسته په شهادت ورسول، خو د دښمن د دښمنۍ دې ټولو مراحلو باندې رسول ﷺ صبر وکړ، آخر هم رب العزت ورته د فتحو دروازې پرانیستې.

**نو مجاهدینو ورونو!** دا خبرې مو په دې خاطر وکړې چې نن سبا په مجاهدینو هم دا حالات تېرېږي او له ډېرو مراحلو څخه لله الحمد الله ﷻ کامیاب راویستلي یو، بس دا آخري مرحلې دي، نو د دښمن مکر ته مو فکر وي، پام چې پښې مو سستې نشي، نور نو بإذن الله د کامیابۍ طرف ته نېږدې شوي یو.

ډېر داسې خلک او ډلې وې چې د اسلام په نوم یې توره راپورته کړې وه، په کلونو کلونو یې د کفارو سره مبارزه وکړه او ځانونه یې له هر

(c) ketabton.com: The Digital Library


چا نه زیات په دښمنۍ کې ډېر سخت ښودل، لېکن کله چې داسې مراحلو سره مخ شول، په دوهمه یا درېمه مرحله کې پښې وښویېدې یا د دښمن لخوا د مذاکراتو په مرحله کې ناکام شول او د کلونو کلونو هغه قربانۍ او زندانونه هر څه یې هېر کړل چې د کوم هدف لپاره یې په ځان تېر کړي وو، هم یې خپل هدف پرېښود او هم یې د دې هدف په لاره کې پرې تېر شوي زحمتونه شاته کړل، بس نو هر څه ته یې شا کړه ستړي شول او آخر هم د مذاکراتو په نوم دښمن ته تسلیم شول او بالاخره الله ﷻ له ایمانونو څخه هم ورخلاص کړل، ژوندي مثالونه یې ډېر دي، تاسې په تېر نېږدې وختونو کې مشاهده کړل چې د شوروي د یرغل په وړاندې ډېرې تنظیمونو د جهاد په نوم د هغوی په خلاف مبارزه پیل کړه او په لکونو مسلمانان په دې نوم شهیدان شول، چې موږ د کفارو په مقابل کې جهاد کوو او د اسلامي نظام غوښتونکي یو، لېکن کله چې د کفارو د مکرونو او فرېبونو لاندې راغلل او دښمن پرې له مختلفو لارو خپلې حربې استعمال کړې، بالاخره یې په جال کې ګېر او ټول په ټوله د کفارو غوښتنوته تسلیم شول یعنې دښمن پرې دمذاکراتو له لارې برلاسی شو، همدا شان د هغې نه وروسته د طالب ډله چې کلونه کلونه یې خلک د اسلام په نوم استعمال کړل په آخره مرحله کې ناکام او د همدې مذاکراتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مرحله کې یې شکست وخوړ او د هلاکت کندو ته وغورځېدل، همداسې تاسې وګورئ په شام کې د مرتد جولاني ډله هم د همدوی په پل لاړه او د کفارو د دسیسو ښکار شوه، د القاعده په شان سخت دریزه ډله وګورئ چې آخرې انجام یې څه شو، چا چې کفارو سره اړیکې پاللې نتایج یې بیا همدا دي چې ټول په ټوله له خپل مسیر څخه منحرف شول، کار به یې د اسلام د پرمختګ په نوم شروع کړی وي خو د کار نتیجه به یې بیا د اسلام بېخ کندي راوځي .

نو په همدې اساس مجاهدینو ورونو! دا خلک او دا ډلې او تنظیمونه په یو مرحله نه یو مرحله کې ناکام شول او غالباً چا چې د کفارو سره نرمي خپله کړه، راشه درشه یې ورسره شروع کړه، بس آخرې انجام یې ارتداد وي، اللهﷻ ترېنه ایمانونه بیا واخلي او دوی همداسې کفارو ته ورخوشې کړي.

## ورونو!

زموږ او ستاسې دښمن ډېر مکار دی، موږ مخکې وویل چې که دښمن په یوه لاره او مرحله کې له ناکامۍ سره مخ شي،نو په بله مرحله کې درته رامخ ته کیږي،که په دوهمه کې هم ناکام شي په درېمه مرحله کې ستاسې په وړاندې محاذ نیسي، مطلب تر هغې زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library


شا نه پرېږدي تر څو مو تسلیمۍ ته اړ کړي، دا د کفارو او مشرکینو پخوانۍ تګلاره ده او اوس یې هم دا بچې ترېنه استفاده کوي.

په دې ټولنه کې ټول خلک د مسلمانۍ دعوه کوي او جهاد څخه هېڅوک منکرېدلای نشي،بیا علت څه دی چې د مجاهدینو سره همکاري نه کوي؟

علت دا دی، چې په دې خلکو د دښمن د تبلیغاتو اثر پروت دی.

مثلاً: هر وخت چې تا په یوه سیمه کې کوم یو انصار له لاسه ورکړ، مانا یې دا ده چې دا انصار د دښمن لخوا څخه تهدید شوی، یا یې ستا د همکارۍ په مقابل کې ورته څه بدیل وړاندیز کړی دی، یا یې شکنجه کړی او یا یې غیر مستقیم اخطار ورکړی چې ستا د حمایت څخه لاس واخلي، د دې ځلورو او پنځو لارو د دښمن هڅه تل جاري وي او د دې أثر دا دی، چې په یوه سیمه کې له ما او تا څخه انصار په ځای د دې چې ملاتړ وکړي، کیني او زموږ له مرستې لاس په سر کیږي، هر وخت چې ما او تا سره سلسله د مهاجرینو کمه شوه انصار شته استقامت یې کړی، لېکن مهاجرین کم شوي ته اوس سوچ وکړه چې د دښمن د دښمنۍ کومه طرحه د دې باعث شوې چې د مهاجرینو د هجرت سلسله کمزورې او راکمه شوې، هغه کوم دوّل فکري جګړه، طرحه یا تبلیغات دي چې په پایله کې ته د داسې مشکل

(c) ketabton.com: The Digital Library


سره مخ کړی يې، نو ته بايد ډېر ځيرک او متوجه اوسېږې، بعضې وخت يو تنظيم  د مسلمانانو لوی تعداد خلک کلونه کلونه د اسلام په نوم استعمالوي او استفاده ترېنه کوي، د نوموړي تنظيم افراد تر لکونو رسېږي، لېکن افراد په دې نه دي خبر چې زموږ دا مشران په کوم مسير روان دي، قاعده دا ده چې کله هم ستا د تنظيم د مشرانو عمل او کردار د قرآن او سنت سره برابر نه وو، نو ته په دې پوه شه چې زموږ مشرانو لار خطا کړې ده او د دښمن د دښمنۍ کومه طرحه دوی باندې کامیابه شوې ده، بالخصوص داسې حالاتو کې د دښمن د دښمنۍ هغه مذاکراتي دام کې داسې خلک رانيول کيږي.

نو ته د يو سياست مداره مجاهد او ځيرک مسلمان په حيث تل بايد داسې مسائلو ته متوجه اوسېږې، ړوند تقليد مه کوه، له انسان څخه خامخا خطا او ګناه کيږي، خو هغه بايد جبران او بيا تکرار نشي.

تاسې که تاريخ ته ستانه شئ، وبه لولئ چې د عثماني دولت لاندې خامخا مسلمانانو ژوند کاوه، ددوی مشران چې په عياشيو او کفارو سره موالاتو او راشه درشه بوخت وو، د قرآن او سنت خلاف معاملې او کيسې يې کولې، کفارو سره يې نرمي کوله، د مسلمانانو د نابودۍ لپاره يې د کفارو طرحې عملي کولې، دا ټول مسلمانان ترې خبر وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو بیا یې هم ورته صبر کاوه، نتیجه یې دا شوه چې د مشرانو همدا اعمال یې د دولت د سقوط باعث شول.

دښمن تل تاته په کمین کې ناست دی او ستا لارې څارې چې په کومه طریقه مسلمانان کمزوري کړي، نو منحیث د یو ځیرک او پوه مجاهد باید د دښمن هر حرکت وڅارې او هغه نقطې پیدا کړې چې له همغې څخه دښمن خپلو شومو موخو ته رسیږي، باید همدا لارې یې وربندې کړې.

**اوس راځو دې ته چې د دښمن سره په کومو مراحلو کې دښمني په کار ده، د دښمن پیژندنې د عنوان په لړ کې په همدې باندې خبره کوو. ان شاء الله!**

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د دښمن سره د دښمنۍ مراتب او سلسله

يعنې دښمن سره بايد مرحله په مرحله دښمني مخته وېسو او هېڅکله د هغه له دښمنۍ نه غافله او بې پرواه نشو، نو بايد هر مسلمان ورور په دې پوه شي چې زه د کوم ځای څخه دښمن سره دښمني پيل کړم، نو دا مراحل لاندې ډول سره دي.

1. **ددښمن په اړه معلومات راټولول**
2. **په دښمن اعتماد نه کول**
3. **د دښمن سکوت، شکست نه ګڼل**
4. **د دښمن عقب نشينۍ ته د شکست په سترګه نه کتل**
5. **ساحه او له ساحې هر اطراف نظر لاندې ساتل**

### ❖ د دښمن پېژندلو اوله مرحله :

د دښمن په ارتباط چې کوم معلومات لرې دا به سطحي نه ګڼئ، د دې معلوماتو په مقابل کې به بې تفاوته نه پاتې کېږئ، د دښمن په وړوکي تحرک به هم ځان حساس ښايئ، داسې ناخبره به ځان نه اچوئ، نن که ته د دښمن دا وړوکی حرکت عادي او همداسې وړوکی وګڼې سبا به دا بيا ډېر ستر حرکت وي او څنګه يې چې نن مخه نيولی شې، سبا به يې درته مخنيوی ډېر ګران شي،اکثره وخت ملګري

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا سوچ کوي چې دښمن کله ستر هجوم راوړ او حمله یې وکړه بیا به یې زه مخه ونیسم، نه! تاسې بیا د دې هجوم مخه نه شئ نیولی، د دې لوی هجوم مخه هغه وخت تا نیولې شوه چې کال مخکې دې دښمن د همدې لوی هجوم لپاره واړه تحرکات پیل کړي وو، د هغه محوه کولو لپاره دې کال مخکې غفلت نه وی کړی، نو د نن څخه وروسته د دښمن عادي تحرک او اقدام بې تفاوته مه نیسه او په دې برخه کې غفلت مه کوه، دا وسنجوه، عواقب یې وګوره او دې ته پوره متوجه اوسه، که نن دې د دغه کمزوري حرکت مخه ونیوله نو په دې پوهه شه چې دادې د سباني یو ستر هجوم مخه ور ډب کړه.

### ❖ د دښمن پېژندلو دوهمه مرحله:

په دښمن باندې به هېڅکله اعتماد نه کوې، ته ښه په دې پوهېږې چې دا دې سرسخته دښمن دی او بیا درڅخه هم د هغه په وړاندې غفلت کیږي او ورسره نرمي کوې، هېڅکله په دښمن اعتماد ونه کړې که هر څومره تاته ځان خواخوږی او دوست معرفي کوي، چې الله رب العالمین او د هغه رسول الله ﷺ ورته دښمن ویلي وه او ستا د دښمنۍ په هغه ذکر شوې چوکاټ برابر ختلی وه، بیا یې نو د دښمن په نظر وګوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library


### ❖ د دښمن پېژندلو درېمه مرحله:

دښمن هېڅ کله ځان غلی او خاموشه نيسي، نو د دښمن دغه سکوت دوه حالته لري او په دواړه حالاتو کې به ته نه غافله کېږې:

**الف:** دا چې تاسې دښمن ته ضربه ورکړې، دښمن مو ضعيفه کړی، بالاخره دښمن سکوت کوي، په دغه وخت کې به تاسې غافله کېږئ نه، ځکه چې دښمن د بيا ځل قوت لپاره آمادګي نيسي.

**ب:** بل علت دا هم کېدای شي چې دښمن ضعيف نه، بلکې سکوت يې د دې په خاطر کړی چې دښمن د يوې لويې حملې لپاره غواړي ځان تيار کړي، نو په همدې اساس په دواړه حالاتو کې مه غافله کېږه، خپل کار جاري وساته په دواړه حالاتو کې بايد ته متوجه اوسېږې.

### ❖ د دښمن پېژندلو څلورمه مرحله:

ځينې وخت د دښمن عقب نشيني د شکست په مانا مه ګڼه، دا د دښمن عقب نشيني د دې په خاطر کېدای شي وي ترڅو ځان قوي او بيا حمله وکړي، دښمن د عقب نشينۍ په وخت کې هم ته غفلت مه کوه تر څو ته پوره يقيني شوی نه يې او اطلاعات دې تر لاسه کړي نه وي چې دا عقب نشيني کوم ډول ده؟ تکتيکي ده، اجباري ده او که اختياري عقب نشيني ده؟ تر څو پوره اطلاعات ونه لرې تر هغې وخته پورې په دښمن د تعرض او عملياتو اقدام مه کوه، صبر وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دغه صبر باعث د دې کيږي چې د دښمن شوم اهداف راښکاره شي.

### ❖ د دښمن پېژندلو پنځمه مرحله:

د دښمن پېژندني مراحلو په لړ کې باید ته خپل اطراف هم د نظر لاندې ونیسې، چې ډېر کله له دې اطرافو څخه هم دښمن ډېره استفاده کوي، د اطرافو خلک به ځان ته نیږدې کوې، که چېرته تا ځان ته نیږدې نه کړل، دښمن يې ځان ته نیږدې کوي ،په لاس کې يې اخلي او بیا تاسې ته له همدې لارې غټه ضربه درکوي.

تاریخ کې راځي مخکې له دې چې د مغلو قوم د اسلام سره په دښمنۍ کې واقع شي، د دوی په زړونو کې د اسلام سره لږ لږ محبت پیدا شوی و، د دوی په دې یقین راغلی و چې اسلام یو د عدل او د امن دین دی، دوی راغلل د اسلامي خاورې په اطرافو کې يې واړول، همدې وخت کې نصرانیانو سوچ وکړ، چې مغل خو ډېر جنګي قوم دی، دوی لاړل د اسلامي خاورې په اطرافو کې واړول که دوی چېرته اسلام ته دعوت شول او اسلام يې قبول کړ، خو موږ ټول له منځه وړي او اسلام به ډېر پرمختګ وکړي، په دغه وخت کې د عثمانیانو دوره وه، د مسلمانانو حاکمان په خپل عیش او عشرت کې ډوب ول، تش د اسلام نوم پرې پروت و، په ځای د دې چې د دښمن پېژندنه کې فکر او سوچ وکړي، وګوري چې زموږ په اطرافو کې څوک پراته

(c) ketabton.com: The Digital Library


دي، دا خلک او دا قوم مطالعه کړي، چې دا دښمن دی، دوست دی که بې طرفه خلک دي، دوی ته د اسلام دعوت ورکړي او نور یې هم ځان ته رانږدې کړي، خو دا هېڅ یې ونه کړل، له دې هر څه بې خبره په خپلو عیاشیو کې پراته حاکمان د موقعې څخه نا سالمه استفاده او د غفلت له امله ورته د راتلوونکو خطرونو، چانسونو، فرصتونو او ګواښونو سنجول مهم نه ول، بالاخره نصرانیانو په مغلو باندې کار شروع کړ، خپلې ښځې یې د مغلو طرف ته ورولیږلې، له دې لارې یې مغل قوم دې ته آماده کړ ترڅو پر مسلمانانو حمله وکړي او مغولانو په کال شپږ سوه شپږ پنځوس (656) کې عثماني دولت له منځه یوړ او د همدغه ښځو په ذریعه عیسویانو دومره کار وکړ چې مغولانو د عیسویت دین قبول کړ.

نو وروره دښمن تل هڅه کوي چې د مسلمانانو لښکر راکم شي، په آینده کې هېڅ قوت ترلاسه نه کړي، باید د مسلمانانو هڅه دا وي چې چې د دوی لښکر او قوت زیات شي، په دې برخه کې هېڅ ډول غفلت ونه کړي، د لښکرو د زیاتېدو منابع وپېژني، هغه دا چې خپلو اطرافو ته هر اړخیزه توجو وکړي، دعوتونه چټک کړي، هر قوم ته دعوت ورکړي، که یو طرف یې دعوت قبول نه کړي الله مهربانه دی بل طرف به یې دعوت ومني، په دې برخه کې نا امېدي په کار نه ده، الله

(c) ketabton.com: The Digital Library


تعالی به له یو قوم څخه خامخا د دین کار اخلي، خو ته هڅه وکړه او دغه قوم پیدا کړه.

**ورونو!**

هڅه به کوئ چې دښمن پېژندنه کې ډېر سوچ او فکر وکړئ او په غفلت کې واقع نشئ، ځکه د اسلامي امت د کامیابۍ راز او ریښه د مسلمانانو او مجاهدینو ترمنځ اتحاد او اتفاق دی، نو ځکه مخفي دښمن په همدې ریښو باندې تل د حملې نیت لري، د مجاهدینو اتحاد او اتفاق ته ضرر رسوي او د دوی اتفاق په اختلاف باندې تبدیلوي، ځکه د دې ضرر اسلام او مجاهدینو ته له هر څه ډېر زیات دی.

د بني امیه په زمانه کې په هند کې اسلامي حکومت وو، اسلام د هند خاورې ته داخل شو محمد بن قاسم په **دوه نویم (92) کال** کې هند فتحه کړ، بیا د سلطان محمود غزنوي په وخت کې په دې جزیره کې اسلام تر ډېره خپور شو، وروسته دسلطان محمود غزنوي څخه سلطان شهاب الدین غوري فتوحات شروع کړل، په هند کې ډهلي او همدا رنګه د هند شرق او غرب هم فتحه شول، صرف جنوب شرق طرف بعضې ځنګلونه او په لرې ساحو کې ځینې هندي جنګیالي پاتې شول نور ټول هند د اسلامي حکومت تر چتر لاندې راغی، مؤرخین لیکي د اسلامي حکومت تر ټولو ستر قلمرو دا د سلطان محمود

(c) ketabton.com: The Digital Library


غزنوي دوره کې وو، حتی د دې د حکومت قلمرو د عمر رضي الله عنه د دورې په اندازه پراخه وو، اسلامي حکومت ډېر پرمختګ وکړ، بار بار یې د هندوانو سره جګړې کړي او هند یې فتحه کړی، یو دولت او یو نظام یې قایم کړ، اوس راځو دې ته چې څنګه دې اسلامي حکومت سقوط وکړ، عوامل یې څه وو؟

موږ او تاسې په مخفي دښمن خبره کوله چې د دوست په جامه کې تر موږ ځان رسوي، د سلطان محمود په غزواتو کې یوه د سومنات غزا هم ډېره مشهوره ده، چې د سومنات بت له منځه وړلو لپاره یې لښکر کشي وکړه، **پنځوس زره (50000)** فوځ یې آماده کړ تر څو پر هند حمله وکړي او دغه بت چې هندوان ورته په ډېر احترام قائل وو، مات رامات کړي، نو سلطان محمود دا اراده وکړه تر څو دغه بت له منځه یوسي او ټوټه ټوټه یې کړي، حمله یې وکړه بالاخره هندوانو شکست وخوړ، په دې وخت کې د دې معبد مشرانو سلطان محمود ته وړاندیز وکړ چې څومره جواهرات او پیسې ستاسې په کار وي، تاسې ته یې درکوو خو دا بت مه تخریبوه، لېکن سلطان محمود د دوی دا وړاندیز ردوي او وایي: "چې ما د دې بت لپاره لښکر کشي کړې ده او زه غواړم چې په تاریخ کې بت پلورنکی نه، بلکې بت ماتوونکی یاد شم"

(c) ketabton.com: The Digital Library


بالاخره اقدام کوي د سومنات بت ټوټه ټوټه کوي، تاریخ لیکي چې د دې بت په داخل کې دومره زیات جواهرات وو، چې د هغې څخه هم څو چنده زیات وو، له کومو چې د هندوانو له خوا ورته د بت د نه ماتېدو په صورت کې وړاندیز شوي وو، همدا رنګه قیمتي تیږې هم په کې وې، هغه یې خراسان ته راوړې او غزني کې یې وربانديې یو مسجد جوړ کړ، فتوحات پرمخ روان وو چې د سلطان محمود غزنوي څخه وروسته د خراسان یو بل زمرى شهاب الدين غوري میدان ته راووت، دا په مذهب شافعي هم و، او خلکو ته یې د توحېد دعوت هم ورکولو او د توحيد څخه یې دفاع هم کړې، تر اوسه یې د غور په لرې پرتو سیمو کې خلک له هماغه وخت څخه مؤحدين پاتې دي، ځکه چې په نوموړې سیمه کې د مؤحدينو سلف تېر شوي، څومره موده مخکې شهاب الدين غوري تېر شوى، لېکن اثرات د دعوت یې اوس هم په دغه سیمو کې پاتې دي.

دا **ځلوېښت کاله** د عربو او عجمو لخوا چې کومه جګړه په افغانستان کې روانه وه، دې خلکو که چېرته توحيد ته هم سم خدمت کړى وى، نن به په خراسان کې دا حال نه وى، ځکه خو موږ وایو چې نن موږ کومو ستونزو سره د توحيد په باب کې مخ یو، وجه یې دا ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې څلویښت کاله بنیادي کار نه دی شوی او که نن هم د توحید نشر کې سستي وکړو کلونه کلونه وروسته به هم همداسې د جهل او شرک تیارو کې شپې سبا کوو.

سلطان شهاب الدین غوري د اسلام لومړنی امیر و چې هند یې خپل پایتخت اعلان کړ، یوه لویه کارنامه یې دا هم وه چې د بودایانو مرکز بنګال یې هم فتحه کړ، نن چې په میلیونونو مسلمانان په بنګال کې پراته دي دا د الله په فضل سلطان شهاب الدین غوري د فتوحاتو پایله ده، خو په کال (602 هـ) کې شهاب الدین غوري په مخفي ډول ترور شو، سلطان ته د یو نفر رسېدل او بیا په مخفي توګه ترور کېدل دا د چا له طرفه کیږي، دا د هغه دښمن له طرف کیږي چې تا ته د دوست په جامه کې ځان رسوي، اعتماد دې ترلاسه او موقع ته ګوري ترڅو خپل هدف ترلاسه کړي، وروسته دشهاب الدین غوري له رهبرۍ څخه د هند په خاوره کې درېیم سپه سالار د اسلام محمد بابر شاه و، د دې په دوره کې هم ډېر فتوحات وشول، محمد بابر شاه څخه وروسته د مسلمانانو امارت د محمد بابر شاه لمسي ته په لاس ورغی، دا هغه دوره ده چې د مسلمانانو دولت ډېرې پراخه سیمې تر لاس لاندې کړې، جلالدین اکبر شاه د مسلمانانو بیرغ په لاس کې واخیست، لِیکن نظام ترینه ګډوډ شو، یو وزیر یې ځان ته انتخاب کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې هغه شیعه رافضي و، مونږ او تاسې دښمن پېژندنه کې دا خبره کړې وه چې دښمن ته د دوست په سترګه هېڅکله هم ونه ګورئ، جلال الدین اکبر شاه په دښمن پېژندنه کې تجربه نه درلوده، پلرونو، نیکونو او نورو مشرانو یې د توحید څخه دفاع کړې، لېکن دا یې د توحید دښمن د ځان وزیر ټاکي او بیا له نومورې وزیر څخه ډېر متاثر هم و، بالاخره رافضي وزیر خپل زهر پاشل شروع کړل، جلال الدین اکبر شاه ته یې مشوره ورکړه چې دا سوچه اسلام موږ او تاسې سره څوک نه مني تر څو به دا جنګونه او وینې تویېږي، راځه په یو نوې طرحه کار وکړو چې هر دین ته په کې برخه ورکړو که هغه هندوییزم دی او که بوداییزم دی او که نور دینونه دي، مقصد باید نورو ادیانو پیروانو ته آزادي او برابري ورکړو چې څه یې خوښه وي کوي دې، سابقه دین چې ستا له پلرونو څخه راپاتې دی دا په دې خلکو تطبیقول ډېر سخت دی **(لکه نني طالبان چې کومه خبره کوي)** نومورې وزیر چې کوم دین رامنځ ته کړ، هغه د سیکانو مذهب و، د سیکانو مذهب له دغه ځای څخه نشأت وکړ او په دې طریقه منځ ته راغی، د هندوانو او سیکانو عقیده کې همدغه توپیر دی چې هندوان سوچه هندوییزم غواړي او سیکان وایي چې باید معتدل هندوییزم اوسي، یوه فیصله یې دا وکړه چې مسلمانان کولای

(c) ketabton.com: The Digital Library


شي چې سیکانو ته خپلې لورګانې ورکړي، مسلمانانو ته یې هم دا سوچ ورکړ چې تاسې کولای شئ چې هندوانو سره نکاح وکړئ، خلاصه دا چې هندوان یې په دوه ډلو تقسیم کړل، چې یو سخت دریځه او بل یې نرم دریځه وه، نرم دریځو ته یې د سیکانو نوم ورکړ، چې مرکز یې نن سبا د هند پنجاب سیمه ده.

نو په همدې اساس د مسلمانانو یو قوي دولت د توحید لپاره څومره مبارزه کړې وه، خو چې کله یې نظام د داسې یو کس لاس ته لوېږي، چې دا دښمن نه پېژني، په خپل لستوڼي کې یې مار ساتلی و، یو رافضي یې خپل وزیر او مشاور مقرر کړی و او بیا یې ترېنه د خیر طمعه هم درلوده، آخر نتیجه یې دا شوه چې د توحید ځای نورو شرکیاتو او بې دینۍ ونیوه او کلونه کلونه کوم زحمتونه او تکالیف چې د توحید د سپېڅلې عقیدې لپاره ګالل شوي وو، ټول یې په سیند لاهو کړل.

**نو په همدې اساس مجاهدینو ورونو،** تاسې تل لپاره دښمن ته متوجه اوسئ تر څو داسې ځای ته ونه رسېږي، چې بیا کلونه کلونه ستا خواري او محنت ضایع شي او اسلام ته د پرمختګ پر ځای تاوان ورسیږي.

**ورونو!** مشران تل باید د رهبرۍ ترڅنګ د رهبرانو په تربیه هم سوچ

(c) ketabton.com: The Digital Library


او فکر وکړي، رهبر هم انسان وي یو ناڅاپه ورته مرګ راځي، پلانونه او نقشې یې له منځه ځي، نو په رهبرۍ کې یوه قاعده ده که غواړې ستا رهبري نسلونو نسلونو ته دوام پیدا کړي، نو نن چې ته رهبر یې، د رهبرۍ ترځنګ نور رهبران هم تربیه کړه، نن ته ځان د رهبرانو په تربیه کې مصروف کړه او ته چې نن کوم رهبران تربیه کوې، دوی ته دا انګېزه ورکړه چې ستاسو وظیفه هم دا ده چې په څنګ کې رهبران تربیه کړئ.

**مجاهدینو ورونو:** مثلاً دوه د فوټبال ټیمونه دي، د دوی ترمنځ مسابقه ده، د یو ټیم مربي او استاد ډېر لایقه، هوښیار، تجربه لرونکی او ماهره انسان دی، نو د دې ټیم نور اعضاء تنبل او سست دي، همدې خپل استاد ته ګوري چې څه امر ورته کوي، همغه انجاموي نور خپله نه کوم فعالیت او نه تجربه لري، بل طرف ټیم ټولو د استاد څخه نیولې تر آخري غړي د دې ټیم ځانونه په دې مسلک کې رسولي او ټول د خپل استاد په څېر تجربه او مهارت لري. مسابقه به څوک ګټي؟

طبیعي خبره ده چې همدا ټیم یې ګټي چې ټولو خواري کړې، ځانونه یې رسولي او د استاد په څېر یې دا هر یو د ځانګړي مهارت او تجربې خاوندان شوي وي، نو په همدې اساس رهبري د یو کاروان او صف

(c) ketabton.com: The Digital Library


په خبر ده که یو کس څومره مهارت او تجربه او پوهه ولري، لېکن لاندې خپل ټیم تربیه نه کړي، نو کله چې رهبر وفات کیږي او یا په شهادت رسیږي، ددغه امیر او رهبر له وفات سره د کلونو کلونو خواري او محنت بیا ضایع شي.

موږ د دې ډېر مثالونه لرو، مجاهدینو ورونو تاسې ته معلومات دی، چې اسامه رحمه الله امیر او رهبر و، د هغه په ژوند کفارو ته ډېرې ضربې ورسېدې او تنظیم یې په خپل وخت کې منظم ساتلی و، د هغه په شهادت سره یې تنظیم ګډوډ او بالاخره د داسې خلکو لاس ته ولوېده چې خپل منهج او لاره یې پرېښوده او بیخي ختم شو.

بل طرف ته تاسې ګورئ چې اسلامي دولت ډېر رهبران یو د بل پسې په شهادت ورسېدل خو الحمد الله چې د ځان سره یې نور رهبران تربیه کړي و، یو د بل پسې په ښه توګه رهبري پرمخ وړي او په هماغه منهج چې د شروع څخه روان دی تر ننه پورې په هماغه منهج روان دي، ورونو ډېره هڅه وکړئ چې د خپلې رهبرۍ ترڅنګ زیات وخت د رهبرانو تربیه کولو ته ورکړئ که ته چېرته رهبر تربیه نه کړې؛ **نو دا قاعده ده چې بې تجربې کس ته وظیفه ورکول نتیجه یې شکست ده**، چې ستا څخه وروسته رهبري د یو بې

(c) ketabton.com: The Digital Library


تجربې کس لاس ته ورغله، نو بیا د صف شکست له همدې نقطې څخه شروع کیږي.

د دښمن پېژندنې لپاره اطلاعات راټولول هم یو اړین کار دی،د اطلاعاتو په برخه کې تاسې باید ډېر فعال اوسېږئ که وړه اطلاع ستاسې لاس ته درځي، دا به نادیده نه نیسئ، په دې اړه به تحقیق کوئ.

## ورونو!

د اسلامي امت ژوند او د تېر برم راستنېدنه په همدې کې ده چې ته دقیق اطلاعات ترلاسه کړې.

ددې لپاره چې ته په رهبرۍ کې غافله نه شې نو ته دقیقو اطلاعاتو ته ضرورت لرې. د دې لپاره چې دښمن دې غافله کړې نو ته بیا هم اطلاعاتو ته ضرورت لرې.

مهمه وسیله د جګړې اطلاعات دي.

اطلاعات د قدرت او رهبرۍ اسبابو او رکن کې راځي.

ورونو په نظامي برخه کې همدارنګه په اعلامي ډګر کې اطلاعات ډېر ضروري دي، اطلاعات باید راجمع، بیا پرې سوچ وکړې، تحلیل یې کړې او بیا تصمیم ونیسې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د اطلاعاتو راجمع کولو لپاره جدا سوچ او فکر وکړئ چې د سیاست په باب کې دا ډېر مهم رول لري، تل باید ته له خپل صف څخه هر اړخیز اطلاعات ولرې، تل به هڅه کوې چې نوي نوي معلومات تر لاسه کړې او د مختلفو لارو څخه یې تر لاسه کړې، کله چې کوم معلومات درته ورسېدل، نو بیا غفلت ونه کړې، سوچ په کې وکړې.

منافقینو، مرجفینو او داخلي دښمن باره کې به ته همېش اطلاعات راجمع کوې، ځکه چې همدغه خلک نظام ته ضرر رسوي او لوی ضرر د منافقینو او مرجفینو څخه چې موږ ته رسیږي دا دی چې دوی نه غواړي چې ستا نظام پرمختګ وکړي، نه غواړي چې ستا لښکر زیات شي او خلکو ته شکوک او شبهې ور اچوي، تاسې ګورئ د احد په غزا کې منافقینو چې مسلمانانو ته کوم لومړی ضرر ورساوه، هغه له غزا څخه د ډېرو خلکو راګرځول او د دوی په منځ کې وېره او بزدلي خپرول وو، منافق او مرجف د ابلیس په څېر تر آخري حده هڅه کوي چې څنګه مجاهدینو صف ته ضرر ورسوي او دا کار په مخفي توګه کوي، ډېر با استعداده او مخلص خلک یې د نظام سره له تواصل او رابطې نه پټ کړي او نه یې معرفي کوي تر څو د خدمت مصدر وګرځي، بلکې د خپلو شومو موخو لپاره یې وخت په وخت استعمالوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو دا خلک تاسې په څه پېژندلای شئ؟

دا د اطلاعاتو په ذرېعه باندې پېژنئ، په اطلاعاتو کې به د افراط او تفريط څخه کار نه اخلئ، د چا خاطر به په کې نه کوئ، سستي به په کې نه کوئ، زموږ او ستاسې د اطلاعاتو په راټولولو کې معلم رسول الله ﷺ دی، په سیرت کې زموږ او ستاسې راز پوه رسول اللهﷺ دی، نو رسول الله ﷺ په اکثره غزواتو کې د کفارو څخه اطلاعات حاصل کړي او خپل اطلاعات او رازونه يې پټ ساتلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دښمن ريښې پرې کول او ګذار ورکول

د اسلام په سياسي نظام کې د خدعې بله خبره دا ده چې د دښمن ريښو ته تاسې ضربه ورسوئ او هغه قطعه کړئ، نو په همدې اساس د مجاهدينو لپاره لازمي ده چې اول دا ريښې وپېژني مطلب د دښمن ريښې بايد لومړي راپيدا کړي...

## د دښمن ريښه (جرړه) کومه ده؟

د دښمن ريښه هماغه ده،د کوم ځخه چې دښمن پيدا کيږي، توليديږي، زياتيږي، قوي کيږي، روزل کيږي او حمايه کيږي، همدغه د دښمن ريښه ده، ځکه چې د ريښې وظيفه همدغه ده چې يا ونې ته انرژي يا قوت ورکوي، د ونې ټول ډډ او څانګې له همدې ريښو خړوبيږي او تقويه کيږي او ټول ډډ په همدې ريښو مظبوط ولاړ وي، همدې باندې ونه غټيږي او ورباندې حاکمه ده، نو له کوم څه چې دښمن خړوبيږي، دښمن ته انرژي او قوت ورکوي، له هماغه ځايه دښمن راپيدا کيږي، تعداد زياتيږي، تربيه کيږي، په څه چې د دښمن نظام ولاړ دی، همدا د دښمن ريښې دي، همدا تشخيص کړئ او له منځه يې يوسئ.

په بل تعبير د دښمن ريښه هغه ده، له کومه ځايه چې د دوی فکر او عقيده رشد او قوي کيږي، ځکه جګړه کې ظاهراً ټول عسکر تاسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشئ ختمولی، لېکن د ټولو عسکرو روحیه تاسې ختمولای شئ، د مجاهدینو کار همدغه دی چې د دښمن روحیه، مورال او عقیده ختمه او یا ضعیفه کړي، د ریښې وظیفه داده چې دښمن ته مورال، عقیده او فکر ورکړي، یا یې قوي کړي.

د کوم ځای څخه چې د دښمن فکر او عقیده رشد او نمو اخلي او د دښمن د روزنې او د نوي دښمنانو د راټولېدنې او زېږېدنې سبب کیږي، همدغې ته د سیاست په اصطلاح کې "ریشهٔ دشمن" وایي.

د اسلامي نظام په سیاسي چوکاټ کې د حرب په برخه کې دا مهمه ده چې تاسې باید د دښمن ریښه پرې کړئ، که تاسې د دښمن ریښه معلومه نه کړه او بیا مو غوڅه نه کړه، نو تاسې جګړه نشئ ګټلی او خپلو اهدافو ته نشئ رسېدلای، په بله مانا که چېرته تا د دښمن ریښه پیدا نه کړه او بیا دې قطعه نه کړه، نو تا نه مشکل درک کړی او نه دې ستونزو ته د حل لاره پیدا کړې، نو په تاسې لازمي ده چې د دښمن د هرې برخې ریښې ومومئ که هغه د دښمن د اقتصاد ریښې دي که یې د دعوت، اعلام، جلب او جذب، په ټولنه کې د نفوذ کولو او که اړوند نورې ریښې له مختلفو لارو دښمن څغلوي، نو تاسې باید ورته متوجه واوسئ، د دښمن د دې ټولو برخو ریښې پیدا او پرې کړئ او که مو دا کار وکړ، نو د دښمن د نظام ډډ په خپله وچیږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا نوي ځانګې او نودې نه کوي، همداسې په ځای به ولاړ وي او حرکت به نشي کولای.

## ورونو!

د سیاست په باب کې د دښمن د ریښو پرې کولو ته موږ دغیر مستقیمې حملې نوم ورکولای شو، یعنې ته په دښمن باندې مستقیماً حمله نه کوې، خو لېکن غېر مستقیم تاسې داسې کار کوئ چې د دښمن ریښې پرې کوئ او ملا یې ورماتوئ، داسې یو عملیات کوئ چې هغه یو، دوه یا درې عملیاتونه وي، خو غېر مستقیم مو د دښمن د کلونو، کلونو خواري او زحمتونه په سیند ورته لاهو کړل.

لومړي قدم کې به د دښمن ریښه راپیدا کوئ، ځکه ریښه خو طبیعي ده چې پټه وي د خاورو لاندې وي، نو ستاسې ځیرکتیا به همدا وي چې د دښمن دا پټې ریښې راپیدا کړئ، د ټولو برخو ملګري باید د دښمن د هرې برخې ریښو پسې وګرځي، په ځانګړي ډول د دعوت ورونه باید د دښمن دا ریښه راپیدا کړي چې دښمن ته زموږ په خلاف د جګړې روحیه او عقیده څوک ورکوي، دښمن له کومو ریښو په دې برخه کې انرژي اخلي، دا ریښې چرته پټې دي، دا ریښې موږ په څه طریقه له کاره ویستلای شو چې هم پرې د خپل دعوت داسې تیزاب

(c) ketabton.com: The Digital Library


وروپاشو چې ریښه یې خپله وچه شي او هم یې نظامي ورونو ته ورپه ګوته کړو، چې په توره یې دا ریښې ورغوڅې کړي.
لړه به دا خبره نوره هم ساده کړو، تاسې پوهیږئ چې دښمن ته زموږ په خلاف د دوی درباري ملایان ډول ډول تبلیغات کوي، دوی ته یې د دوی له کفر څخه اسلام جوړ کړی او زموږ په پاک او سپېڅلي اسلام او نبوي منهج ډول ډول تهمتونه لګوي، نو د دعوت ملګري به په دلایلو سره د دوی دا ریښې وچوي، د دوی هغه ادعاوې راپیدا کوي او هغه په نطفه کې خنثا کوي او نظامي ورونه بیا د داسې ملایانو او یا د دښمن د داسې فکري او جسمي روزنې مراکز په نښه کوي او دا ریښې یې پرې کوي.
په مقابل کې دښمن هم د مجاهدینو د ریښو د ختمولو لپاره کار شروع کړی دی، غواړي اول دا ریښې معلومې، بیا یې رالوځې کړي تر څو په بنیادي او تدریجي شکل سره مجاهدین شکست طرف ته سوق کړي.
نو په همدې اساس شرط همدا دی چې که په ریښه باندې هرڅومره خاوره پرته وي، هماغومره ښه قوت کوي، هغومره ښه فعالیت کوي، څومره چې ریښه د خطر څخه بچ وي، د چینجي، ملخ او نورو مضرو حشرو له ضربې او فشار څخه بچ وي، خپله هم هماغومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه وده کوي او ونې ته هم ښه پوره انرژي ورکوي، مجاهدین هم باید همداسې هڅه وکړي، چې خپلې ریښې همدغسې محفوظې او مخفي وساتي، د هرنوع فشار، ضرر، حشراتو، مرض او آفت څخه يې پټې وساتي، بیا دا ریښې په ډېر تندرست شکل سره ستاسې نظام ته قوت او تنه ورکوي.

د مجاهدینو ریښه د دوی منهج او عقیده ده، هڅه به کوئ، چې دا ریښې همدغسې محفوظ او همدغسې د هر آفت، مصیبتونو، فتنو څخه او دښمن سره د جوړ جاړي او قصدي خطایئ څخه محفوظې وساتئ، دا خرابې نه کړئ.

ورونو! نن سبا د عقیدې او منهج څخه دفاع او پرې قایم پاتې کېدل له ټولو مهم دي، په دې کې دښمن سره جوړ جاړی او تنازل هېڅکله مه کوئ، بیا به آینده نسل تاسې ګوري ستاسې د نظام ونې لاندې به د آرام ساه اخلي او تاسې ته به دعاوې کوي چې تاسې د خپل منهج ریښې د دښمن سره د جوړ جاړي او نورو معاملو له مضرو حشرو ساتلې، ځکه مو په آینده کې د نظام ونې هاغومره قوي ډډ کړی او څانګې يې تر لرې، لرې خپرې شوي دي.

هو! دې ته مه خفه کېږئ چې ستاسې په همدې ریښو ولاړ د نظام نیالګی نن کوچنی، سیوری يې کم او ډډ يې نری دی خو ریښې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library


لله الحمد پټې، مظبوطې او محفوظې دي، نو ددې ونې آينده ان شاءالله تعالی ډېره ښه ده.

نن سبا چې د اسلام د سياسي نظام د ونې تنه او ډډ کمزوری دی، وجه يې دا ده چې په دې وروستيو کې د دې نظام ريښو پسې ټولو دښمنانو لرونه، تبرونه او نور زهرېله وسايل راواخيستل هغه يې وربېلې او چا چې دا ريښې بيا نهال کړې، نو يا يې هسې د ځمکې په سر کينولې او يا يې هم چېرته بيخي بې اوبو دښته کې همداسې ګذارې کړې، چې ښه ثمره او نتيجه يې ورنه کړه، مانا دا چې د جهاد په نوم راولاړو شويو تنظيمونو ځينو يې خو په ځای د دې چې دا ريښې پټې کړي، همدې د اسلامي نظام ريښو پسې يې دښمن سره يو ځای تبرونه راواخيستل، چا بيا دا ريښې د خپلو مفادو لپاره پټې کړې خو چې د نظام ونې لږ سر وکړ، نو له وخته مخکې يې پسې تبر راواخيست او د أمت له سر څخه يې د اسلامي نظام د ونې سيوری واخيست.

د جهاد ثمره چې نظام ده، هغه اصلاً هېڅ درک نه لري، د نن نسل چې تباه دی، علت يې همدا د اسلام او جهاد په نومونو د مخکنيو تنظيمونو د غفلت نتيجه او ثمره ده چې د جهاد په نوم يې د ميليونونو خلکو وينې تويې کړې،خلک يې په همدې مقدس نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library


استعمال کړل،خو منهجونه يې له پيله کاره او ريښې يې له استخباراتي ډنډونو خړوبېدې، ځکه نو بې لارې شول، نه يوازې دوی زيان وکړ، بلکې أمت يې هم له سترو خيرونو بې برخې کړ، خو لله الحمد اسلامي خلافت يو ځل بيا د اسلامي أمت تېر برم راستون کړ، د اسلامي نظام د ونې ريښې يې دا ځل داسې نهال کړې، چې له خپلو سپېڅلو وينو يې خړوبوي او زر ده چې د دې ونې سيوري ته ټول أمت راټول شي.

**ورونو!** د دښمن پېژندنې چتر لاندې يو بل مهم عنوان باندې چې بايد مجاهدين خبر شي، هغه د اقليت موضوع ده، راځئ دې باندې هم بحث وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د اقلیت دسیسه

﴿قال تعالی: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هَٰذَا ۚ وَإِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً فَسَوْفَ يُغْنِيكُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ إِن شَاءَ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ ﴿سورة التوبة ٢٨﴾

ژباړه: اې مؤمنانو! مشرکان ناولي دي، نو له سږ کال څخه وروسته باید دوی مسجد حرام ته ورنږدې نشي او که تاسې له تنګلاسی څخه په وېره کې یاست، نو لرې نه ده چې که الله وغواړي نو تاسې به په خپل فضل سره شتمن کړي، الله په هر څه پوهه او حکمت خاوند دی.

و قال تعالی: ﴿قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَلَا بِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡءَاخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ ٱلۡحَقِّ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ حَتَّىٰ يُعۡطُواْ ٱلۡجِزۡيَةَ عَن يَدٖ وَهُمۡ صَٰغِرُونَ﴾﴿سورة التوبة٢٩﴾

ژباړه: له اهل کتابو څخه د هغه خلکو په خلاف وجنګیږئ چې په الله او د آخرت په ورځ ایمان نه راوړي او څه چې الله عزوجل او د هغه پیغمبر حرام کړي هغه نه حراموي او حق دین خپل دین نه ګرځوي،(له هغو سره وجنګیږئ) تر دې پورې چې په خپل لاس جزیه ورکړي او ذلیله شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورونو! د دښمن برخورد او شېوه د دښمنۍ په مختلفو وختونو کې فرق کوي.

مثلاً: د فتحې په محال کې يو ډول دښمني، د سقوط پر محال درسره بل ډول، کله چې اسلامي دولت تأسيس شي بيا نو د دښمنۍ ډول بدلوي او په يو بل ډول دښمني درسره پيلوي، په مختلفو طريقو درسره دښمني کوي، مطلب تل درته په کمين کې ناست وي چې هر کله ورته برابر شوې ګوزار درکوي.

کفار تل غواړي د مسلمانانو له حالاتو څخه ځان با خبره وساتي، په ځانګړي ډول تل غواړي د دوی د داخلي نظام څخه خبر او معلومات ولري، کله چې کفار د مسلمانانو د داخلي نظام معلوماتو ته لاس رسی ونه لري نو نا امېده او لاسونه يې قطعه وي، خو کله چې ورته معلومات حاصل نشي بيا په ډېر وارخطايی کې واقع کيږي.

کله چې يو طرف د اسلام په نوم نظام قايم شي او کفار وغواړي د نظام د داخل څخه راز او معلومات ترلاسه کړي، نو دا کار د اقليت د پروژې د نوم لاندې د خپلو جواسيسو او مخبرينو له لارې يې کوي، تاسې که چېرته متوجه شوې ياستئ، کفار تل په اقليت قشر باندې ډېر خفه کيږي او اوس چې کوم خلک په افغانستان کې واک ته رسېدلي، دوی هم همدا چغې وهي چې مونږ د اقليت وګړو ته توجه

(c) ketabton.com: The Digital Library


لرو او د نړۍ کفار هم وربانديې بار بار دا تأکید کوي چې اقلیت ته توجو ډېره وکړئ او د هغوی څخه دفاع او ساتنه وکړئ، که تاسو وګورئ غرب تل د یو ملک په اشغال کې د اقلیت څخه استفاده کړې، د ځان ملګري کړي یې دي او بیا حاکم نظامونه یې پرې له منځه وړي دي.

کله چې د صدام په وخت کې امریکې په عراق باندې حمله وکړه، نو امریکا د ځان سره همدا اقلیت یو ځای کړل که هغه کردان وو، یا نورې رافضي ډلې وې، د صدام حکومت او نظام یې پرې چپه کړ، همدا شان په افغانستان کې چې کله د طالبانو لومړی دور وه، امریکا پر افغانستان حمله کوله، نو د شمالي ټلوالې او د دوستم د ملېشو څخه په مرسته چې په افغانستان کې اقلیت یادیږي استفاده یې وکړه او د طالبانو نظام یې پرې چپه کړ، همداسې هر ملک کې غرب د اقلیت څخه په همدې خاطر ملاتړ کوي، چې یو وخت د دوی په درد خوري، مثلاً په پاکستان کې بیا بلوچانو سره خواخوږي کوي، دا په دې خاطر چې کله هم پاکستان د امریکا د کومې خبرې څخه سرغړونه وکړي، هلته ورته بلوچان راپاڅوي، خلاصه دا چې د دوی د اقلیت څخه ملاتړ د خپلو مقاصدو او اهدافو په خاطر دی، په رښتیا سره دوی د خلکو یا د اقلیت غم نه دي وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجاهدينو ورونو!

په اسلام کې بيا د **اقليت** او **اکثريت** اصطلاحات او کيسې نشته، لېکن دا دواړه اصطلاح ګاني په دې سيکولريزم کې يو اصل، اساس او ستنې دي، دا ډېر بنيادي اصطلاحات دي چې په همدې باندې سيکولريزم ولاړ دی، دا دوه اصطلاح ګانې د سيکولريزم لپاره يو معيار دی او تل يې په دې خلکو ته دوکه ورکړې.

په نظامونو کې اقليت طبقې ته په همدې طريقه ځان خواخوږی ښودلې چې موږ ستاسې دوستان يو، له تاسې څخه او ستاسې د حقوقو څخه دفاع کوو اما په اسلام کې بيا معيار دا اقليت او اکثريت موضوع په داسې شکل مطرح نه ده، اسلام کې مهم ايمان، تقوا او اخلاص دی.

## کفار اقليت چاته وايي؟

د دوی په قانون کې داسې تشرېح شوي چې دا د يوې ډلې او هغه خلکو مجموعه ده چې د يو حکومت د حاکميت لاندې ژوند کوي چې څو عمده شروط لري:

**اول : په حکومت کې شامل نه دي.**

**دوهم: د دوی تعداد نسبت نورو قومونو ته لږ دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**دریم : چېرته چې اوسېږي، ځان د همدغې منطقې بولي.**

تاسې وګورئ، ځینې غلام حکومتونه بیا اقلیتونو ته هم په نظام کې وظیفه ورکوي که هغوی اهل وي او که نه؛ دا ولې؟

ځکه چې په دوی باندې د غرب لخوا فشار وي چې دې خلکو ته په نظام کې برخه ورکړي او داسې حقوقو ته یې قایل کړي چې حتی د بین الملل د اصولو څخه هم اوچت حقوق ورته غواړي، که نه په دیموکراسۍ کې هر هغه څوک ګټونکی دی چې تر شا یې خلک ډېر وي، خو دوی په دې ځای کې پر خپل قانون هم پښې ږدي، نن سبا طالب هم همدا خبره زمزمه کوي چې د اقلیتونو ساتنه پرموږ فرض ده او د دوی څخه په دفاع کې چې د دوی کوم عسکر ووژل شي، بیا ورته د شهید نوم ورکوي.

الحمدلله! د اسلامي دولت د مجاهدینو په هڅو یو طرف د مسلمانانو انتقام واخیستل شو، بل طرف د دې اقلیت هندو کفارو څخه دا خاوره آزاده شوه او اللهﷻ ته امېد دی چې یوه ورځ به د روافضو د پلیتو قدمونو څخه هم د مسلمانانو خاوره پاکه شي.

**د بین الملل قانون وایي** چې د نورو قومونو سره باید اقلیت ته هم په هره برخه کې سهم ورکړل شي او دوی هم ترېنه مستفید شي، ولې دوی د اقلیت له غمه دومره مړه دي، ولې دوی ته دومره توجو کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه ددې ترشا د دوی اهداف پراته دي، دا د کفارو او غرب لخوا څخه د مسلمانانو د نظام د ختمولو په خاطر د مسلمانانو دننه یوه دسیسه ده او د مسلمانانو له منځه د پټو معلوماتو راټولولو لپاره یې په دوی پام زیات وي.

یو څوک چې دا خبره وکړي چې موږ د اقلیت حقوقو ته قائل یو دا مانا لري چې دا اقلیت که کافر هم وي، د بل مسلمان مؤمن موحد سره به یې حقوق مساوي وي، دا د اسلام خلاف خبره ده، حال دا چې که چېرته نظام اسلامي وي، د دوی څخه هغه خلک چې اسلام ورڅخه جزیه اخستل جائز کړي دي ،جزیه به ورکوي او که جزیه اخستل ترې جائز نه وي نو یا به اسلام قبلوي او یا به شړل کېږی او پاتې به یې وژل کیږي.

د همدی اقلیت کافرو لپاره د اسلامي نظام د چتر لاندې همدا الهي اصول دي چې سرته‌یې به اسلامي نظام ته جزیه ورکوي.

**قال تعالى: قَاتِلُواْ الَّذِينَ لاَ يُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَلاَ بِالْيَوْمِ الآخِرِ وَلاَ يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللّهُ وَرَسُولُهُ وَلاَ يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُواْ الْكِتَابَ حَتَّى يُعْطُواْ الْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ ﴿ التوبة 29﴾**

**ژباړه : د اهل کتابو څخه د هغه خلکو په خلاف وجنګیږئ چې په الله عزوجل او د آخرت په ورځ ایمان نه راوړي او څه چې الله او د هغه**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**پيغمبر حرام کړي دي هغه نه حراموي او حق دين خپل دين نه گرځوي (له هغوسره وجنگيږئ) تر دې پورې چې په خپل لاس جزيه ورکړي او ذليل شي .**

د مسلمانانو بدترين دښمنان هغه يهود دي، ورپسې بيا مشرکين دي، کله چې رسول الله ﷺ مدينې ته راغی، يهود په اقليت کې واقع شول، همدې بدبختو بار بار د رسول الله ﷺ په مقابل کې دسيسې جوړې کړې.

اقليت تل ځان مظلوم ګڼي او وايي: "چې موږ اقليت يو زموږ تعداد کم دی، همدې مظلوم نمايي باندې خپل شوم اهدافو ته ځان رسوي. دوی چې د اسلامي نظامونو لاندې ژوند ته تيار شوي او دوی اصلاً د مسلمانانو خاورې ته چې راځي او دا د ذلت ژوند اختياروي دوی اکثره د تخريب په خاطر راځي، دوی غواړي چې په دې خاوره کې خپل نفوذ پراخه کړي او بالاخره نظام چپه کړي او ځانونه هدف ته ورسوي، ښه مثال يې د روافضو دی، تاسې په افغانستان کې د دوی تاريخ وګورئ، کله چې دوی افغانستان ته داخل شول، په ډېره کمه اندازه وو او ډېر ذليله ژوند يې درلود په ټولنه کې خشره، شاقه او سخت کارونه به دوی کول، لېکن په مرور د وخت سره د يوې منظمې برنامې له مخې د نجيب کافر په دور کې دوی ته په نظام کې د پراخه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چوکیو ورکولو فیصله وشوه او دوی تعلیم ته مخه کړه او په لږ وخت کې یې ډېر پرمختګ وکړ، بیا وروسته د کرزي مرتد په وخت کې دوی په نظام کې په لوړو پوستونو او مهمو دریځونو مؤظف شول.

دا خلک د یوې ستراتېژۍ مطابق مخې ته ځي، تاسو وګورئ دا خلک په یمن، شام، عراق او داسې نورو هېوادونو کې اقلیت کې ول، ولې کفارو د دوی ملاتړ وکړ، نن د دې ملکونو واک د همدې رافضي مشرکینو په لاس کې دی او په دې ستراتېژۍ کې افغانستان هم داخل دی، دوی غواړي چې افغانستان د خپل واک لاندې راولي، د اقلیت په نوم داخل شول او مختلفې برنامې یې په کار واچولې، خو الحمد الله!

چې د هرې زمانې فرعون لپاره الله‎ﷻ‎ د وخت موسی هم پیدا کوي، د دوی لپاره الله‎ﷻ‎ داسې یوه ډله انتخاب کړې چې دوی د الله سره محبت کوي او الله‎ﷻ‎ د دوی سره محبت کوي، د دوی په مقابل کې خپلې غوښې شیندي، خو دا د الله‎ﷻ‎ د هغه رسول ﷺ او د صحابه وو دښمنان نه پرېږدي او بار بار یې خپلو بریدونو لاندې راوستي او تر ډېره حده یې د دوی د پرمختګ مخه نیولې، په زرګونو یې مردار کړي او د دوی برنامې یې خنثا کړي، الحمد الله! او یوه ورځ به د الله په مدد د هندوانو په شان د دوی ټغر هم ورټول شي که څه هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library


دوی ورونه طالبان دوی ته بار بار د امنيت اطمينان ورکوي او د دې نجسانو په دفاع کې خپلې ناپاکې وينې تويوي خو بيا هم د مجاهدينو د تندريزو عملياتو مخه نشي نيولای او په دوی په هر بريد به د نړۍ کفار لړزيږي او پرې خفه کيږي او طالبانو ته پيغورونه ورکوي چې تاسې د اقليت دفاع کې پاتې راغلي ياستئ او همدا چغې ورته وهي چې د اقليت حفاظت او دفاع بايد لا قوي کړئ.

بر عکس که چېرته مسلمانان بيا کفري ملکونو کې اقليت کې وي، بيا د کفارو لخوا ورسره سخت ظلمونه کيږي هېڅوک يې آواز نه اوري، لکه مثالونه يې ډېر دي، په چين کې د ايغور په مسلمانو باندې د همدې کفارو لخوا سخت ظلمونه روان دي، زندانونه يې د مسلمانانو څخه ډک دي، په برما کې وګورئ د مسلمانانو اقليت سره څه روان دي؟ په هند کې د مسلمانانو د اقليت سره څه روان دي؟ هېڅوک غږ نه کوي، تش په نوم اسلامي هېوادونه يو آواز د هغوی لپاره نشي اوچتولی، دا اوس چې افغانستان کې کوم په نوم اسلامي نظام ځان ته وايي، د دوی له ويناند څخه يوې رسنۍ والا پوښتنه وکړه:

چې اوس خو تاسې قدرت ته ورسېدئ، په چين کې پر ايغور مسلمانانو سخت ظلم روان دی، آيا تاسې د هغې پوښتنه کوئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


ویاند یې په ځواب کې وایي: چې دا د هغوی داخلي مسئله ده، موږ پورې اړه نه لري... عجیبه نه ده، دوی پورې اړه نه لري بیا ولې کفارو ته په افغانستان کې د اقلیت د دفاع لپاره د مداخلې اجازه ورکوئ او هغوی ته هره ورځ ډاډ ورکوئ، الله جل جلاله به تاسې نور هم ذلیل او شرمنده کړي، په داسې نظام چې د اسلام نوم مو ورکړی دی، خو په اصل کې د اسلام بدنامونکی نظام دی.

کفار په خپلو ملکونو کې اقلیت ته هېڅ کاري صلاحیت نه ورکوي، کله چې هسپانیه کې یهودان اقلیت کې شول، نو نصرانیانو دا اقلیت یهودان له هسپانیه څخه وشړل، هغوی پوهېږي چې دا په آینده کې موږ لپاره سر خوږی جوړېږي، مسلمانان هم په هسپانیه کې اقلیت شول د دوی په باره کې یې مشورې شروع کړې چې دوی سره څه وکړو؟ اقلیت کې اوس واقع شوي، دا وروسته بیا مشکل جوړوي باید د دوی لپاره یو تصمیم ونیسو، بعضو دا مشوره ورکړه چې خندقونه ووهو او دا ټول پکې واچوو، چې غم نه یې خلاص شو، ځینو بیا دا مشوره ورکړه، چې بحر نېژدې دی، په کېښتیو کې به یې سپاره کړو چې منځ ته ورسېدل، ټول به په اوبو کې ورډوب کړو، بعضو بیا دا مشوره ورکړه چې د افریقا مغرب ته به یې وشړو تر څو د هر ډول سهولتونو څخه لرې پاتې شي او په ذلت کې ژوند وکړي، بالاخره په

(c) ketabton.com: The Digital Library


همدې فیصله وشوه، مسلمانان یې غرب افریقا ته وشړل د څه لپاره یې دا کار وکړ تر څو د اقلیت د آینده خطر څخه په امن شي، نن د جهاد برکت وګوره چې هماغه خلک نن کفارو ته په غرب افریقا کې په یو لوی ګواښ بدل شول، همدا راز د عثماني دولت د ړنګېدو پېل هم اقلیتونو وکړ.

**ورونو!** دا د کفارو لخوا یوه لویه دسیسه ده چې دوی د اقلیت ملاتړ کوي او مخکې مخکې کوي یې او د هغوی د حقوقو چغې وهي، اشغالګرو چې تل کومه سیمه اشغال کړې، د همدې اقلیتونو څخه یې استفاده کړې.

کله چې لومړی نړیواله جګړه کې انګلیس په عراق حمله وکړه او عراق یې اشغال کړ دا وخت په عراق کې یهود او نصارا دواړه ډلې اقلیت واقع شوي ول، همدغه یهود او نصارا وو چې په عراق کې یې آرام ژوند کړی و، د انګلیسیانو ښه راغلاست ته راووتل او د انګلیس لښکرو ته یې اطمینان ورکړ چې موږ په مال او ځان ستاسې ملاتړ یو، خو کله چې د انګلیس په مقابل کې مبارزه او پاڅون پیل شو، بالاخره انګلیس شکست وخوړ، عراقیانو بېرته د استقلال هڅه کوله، لېکن د دغه اقلیتونو د مخالفت سره مخ شول او ویل یې چې همدغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د انګرېزانو نظام ښه دی، د دوی په ضد پاڅون مناسب کار نه دی همدا باید باقي پاتې شي او نوی نظام باید حاکم نشي.

تاسې وګورئ، چې کله امریکا خپل فوځ د افغانستان څخه وویستلو هم دا اقلیتونه ډېر ورخطا وو او په دې خوښ نه وو چې امریکایان ووځي، حال دا چې د مرتدینو له لورې کوم خطر ورته متوجه نه و، اطمینان ورته ورکړل شوی و، د همدې کفارو لخوا څخه ورته پوره ډاډ ورکول شوی و، چې طالبان به ستاسې حفاظت او دفاع کوي، تاسې مه وارخطا کېږئ، خو بیا هم د امریکا د فوځ په وتلو ډېر خفه وو.اقلیت د مسلمانانو په خاوره کې تل د کفارو د سترګو حیثیت لري، مکمل استخباراتي معلومات کفارو او مرتدینو ته همدوی ورکوي.

اقلیت دا دعوه لري چې موږ د همدې خاورې یو، همدا مو وطن دی، خو کله چې په خاوره یې یرغل وشي، نو په تاریخ کې اقلیتونو بیا د خاورې د دفاع لپاره چېرته هم ټوپک نه دی راخېستی، تاسې ژوندی مثال لیدلی شئ، د افغانستان روافض کله هم چې د افغانستان او ایران ترمنځ په شخصي ګټو یا سیاسي ټکر یې ترمنځ راشي، همدغه روافض چې ځان د افغانستان بولي، د افغانستان څخه په دفاع کې نه ودرېږي، بلکې د ایران په ګټه خوشحاله دي، تاسو به ډېر وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library


ټولنيزې شبکې څارلې وي، دا مشرکان بيا د ايران پر ګټو خوشحاله او د هغوی سره ولاړ وي او بيا دعوه لري، چې موږ افغانان يو.

همېشه چې اشغال ګرو حمله کړې، دوی د هغوی سره جنګ نه، بلکې په څنګ کې ورسره ودرېدلي او حتی له خپلو عزتونو څخه هم ورتېر شوي، امريکا چې په افغانستان يرغل وکړ، له ټولو مرتدينو څخه دا بېغيرته روافض يې ډېر په خدمت کې ول، مطلب د هرې بېغيرتۍ، دلالۍ بې ناموسۍ پيل همدوی کړی.

د اسلام په سياسي نظام کې اقليتونو ته د ژوند کولو اجازه به د شريعت په چوکاټ او اصولو کې وي، مرتد به نه پرېښودل کيږي، اصلي کافر به جزيه ورکوي او د غدر په مقابل کې به سخت ترينه جزا ورته ورکول کيږي، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ په مدينه کې د يهودو سره کومه معامله کړې وه، د قتل وړ کسان يې قتل کړل او نورو ته يې وخت ورکړ چې په دومره وخت کې د دې خاورې څخه ووځئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## استعمار

دا هغه اصطلاح ده، چې په دې باندې ډېرو علماؤ درسونه هم کړي او کتابونه هم پرې لیکل شوي دي، تاسې هڅه وکړئ چې موږ کوم اصطلاحات درته وایو نور بیا تاسې پوره تحقیق او مزید معلومات د دې په اړه خپله حاصل کړئ، مطالعه وکړئ ترڅو بصیرت او معلومات مو نور هم ډېر شي.

### ورونو!

هېڅکله د دښمن په ظاهر باندې تاسې دوکه نشئ، د اسلام په سیاسي نظام کې ته یو سیاستمداره مجاهد ګڼل کېږې، ته باید د دښمن ظاهر ته ونه ګورې، بلکې له هغې زوایې او له هغه طرفه ورته وګورې له کومې چې دښمن **تکمیلېږي**.

**مثلاً:** د دښمن ظاهرد یو موټر په مثال دی، ظاهر یې خه قوي دی، د موټر ظاهري قوت او ښکلا ته مه ګوره، بلکې په دې سوچ وکړه، چې د دغه موټر کومې کومې پُرزې را یو ځای شوي او بالاخره دا موټر ترېنه جوړ شوی، په دې سوچ او فکر وکړه، چې څنګه د دې موټر نه داسې یوه پرزه جدا کړم چې دا قوي او ښکلی موټر له کاره وغورځوم، نو دغه شان د دښمن ظاهر ته مه ګوره، هغه لارې په لټوې چې کوم اسباب او کوم شیان دي چې دښمن ته یې قوت ورکړی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښمن يې تشکيل کړی او ترېنه تکميل شوی؟

دغه لارې يې قطعه او خنثا کړه ترڅو دښمن له کاره ولوېږي او بل طرف نا تکميله پاتې شي.

همدا شان که د يوې کوټې مثال ورکړو څلور پايې لري او څلور واړه ظاهراً قوي دي، قوي سيخ او سيمنټ په کې استعمال شوی، بالاخره يې يوه قوي ډانچه تشکيل کړې او بيا پرې يو قوي لنټر يا چت جوړ شوی چې د دې په سر باندې هلی کوپټر هم کېناستلی شي، د دې چت مقاومت ډېر زيات دی، اوس ته دې چت ته مه ګوره، چې دا چت به زه څنګه ونړوم، په څو کيلو بارودو به زه دا چت راچپه کړم، بلکې د دې چت څلور پايوو ته وګوره، چې دا چت يې تشکيل او قوت يې ورکړی، آسانه طريقه يې دا ده چې يوه پايه ترېنه وغورځوه يوه برخه يې ړنګ کړه او بيا بله پايه... بالاخره چت خپله غورځيږي، له کاره لوېږي او له منځه ځي.

## وروړنو!

دغه شان د دښمن ظاهري قدرت ته مه ګورئ، بلکې په دې سوچ وکړئ، چې دښمن دا قدرت له کومو لارو څخه راجمع کړی، څنګه يې راجمع کړی او بالاخره يو قوت يې ترېنه جوړ کړی، څنګه زه دا قدرت د دوی تقسيم او جدا کړم، په کومه طريقه زه دښمن کمزوری کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه چې دښمن ته یې قوت ورکړی، د هغې له جملې څخه یو اقتصاد دی یعنې یو طرف او هغه زاویه چې دښمن ته یې قوت او ظاهري ښکلا ورکړې او ډېره مهمه زاویه ده، هغه اقتصاد دی، هر وخت چې دښمن غوښتي چې اسلامي خاوره تسخیر کړي، په هغه پلان او برنامه یې کار شروع کړی تر څو اقتصاد له منځه یوسي، نو په همدې اساس داسلام سیاسي نظام کې هم چې دښمن ورته ډېره توجو کوي او هڅه کوي چې د حملې لاندې یې ونیسي، هغه اقتصادي برخه ده، نو موږ باید د دې د حفاظت لپاره پوره توجو وکړو تر څو دا طرف زموږ محفوظ شي او برعکس څنګه دښمن ته موږ په همدې اقتصادي برخه کې ضربه ورکړو.

اشغالګرو چې تل د اسلامي خاورې د اشغال سوچ کړی، شروع یې د اقتصادي برخې څخه کړې تر څو د مسلمانانو اقتصاد ضعیف کړي او بې جنګه او بې تلفاتو اسلامي خاوره په آسانه طریقه اشغال کړي، په تاریخ کې ډېری داسې جنګونو ته وګورئ که هغه غټ جنګونه شوي او که واړه، چې یو هېواد پر بل هېواد حمله کړې، د عسکري نفوذ د کموالي په سبب یې شکست نه دی خوړلی، بلکې شکست یې چې خوړلی د اقتصاد د کمزورې کېدو په وجه یې خوړلی.

په کال (۱۲۱۳) کې چې کله فرانسې مصر اشغال کړ، د اشغال د

(c) ketabton.com: The Digital Library


برنامې شروع یې اقتصادي او تجارتي وه، همدا شان افغانستان چې بار بار اشغال شوی، شروع یې د اقتصاد او تجارت څخه شوې، نن سبا چې غرب خپل اهداف لاس ته راوړي، په هر ملک کې شروع د اقتصادي او تجارتي اړیکو څخه کوي، په دې نوم یو هېواد ته خپل جاسوسان داخلوي، چې زه کلینیک درته جوړوم، شفاخانه درته جوړوم، بندونه درته جوړم، مکتبونه درته جوړوم، بشري مرستې درسره کوم او همداسې مختلفې پروژې په کار اچوي بیا نور خپل اهداف مخ ته وړي.

کفار درسره حتی اتوم بم هم منلی شي، خو اقتصادي آزادي درسره نه مني، تش په نوم څومره چې اسلامي هېوادونه دي، کفارو په اقتصادي برخه کې د استعمار لاندې نیولي دي، که چېرته لږ هم د غرب د فکر خلاف کار وکړي، نظامي حملې پرې نه کوي، یو آسانه کیلي ورسره ده بس فلانکي هېواد د امریکې خلاف یو حرکت کړی، اقتصادي بندیزونه ورباندې ولګوي، بیا همدا هېوادونه ورته بېرته سوال او زاری کوي چې ما بد کړي، خو له ما څخه دا اقتصادي بندیزونه لرې کړه، لکه څنګه چې نن طالب هم په دې مرض اخته دی.که چېرته د امریکا او د نورو کفارو په خوښه مخکې ځي، نو د لنګې غوا په څېر پرې شېدې راپرېږدي، هره اونۍ ورته علني (۴۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library


میلیونه ډالر رالېږي، خو که چېرته يې په يوه خبره کې هم د کفارو سره اختلاف وکړ او د هغوی اوامر يې ونه منل، نو بيا پرې د ډالرو دا کڅوړې ودرېږي، بيا ورته نه نوي افغان بانک نوټونه رالېږي، نه يې بانکي سيستم کې همکاري کوي او نه ورسره نور اقتصادي راشه درشه او تعاملات کوي، چې بس بيا ورته سوال او زارۍ شروع کړي او يوه منډه ورته دوحې ته وکړي او ورته وايي ستاسې هر امر او غوښتنه په سر سترګو، خو دا مرستې مو مه ودروئ چې کفار يوځل بيا ورسره د مرستو اعلانونه وکړي، نو ورونو دېته وايي اقتصادي استعمار.

حتی په دې هېوادونو کې د خلکو شخصي سرمايه هم د کفارو په واک کې ده، کله چې د بانکونو څخه خپله شخصي سرمايه وباسي هم د کفارو په خوښه به يې ترېنه وباسي او هغوی ته به راپور ورکوي چې زه دا سرمايه د بانک څخه باسم او په دغه شيانو کې او يا يې په دغه تجارت کې مصروفوم، اسناد به ورته وړاندې کوي او که چېرې د کفارو خوښه رانشي، کفار کولای شي چې د خلکو شخصي سرمايه هم کنټل کړي او ورېې نه کړي.

په شلمه پېړۍ کې افريقا د بلژيک د نظامي استعمار لاندې وه، لِيکن په يو ويشتمه پېړۍ کې د نظامي استعمار څخه خلاصه شوه، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library


تر اوسه هم د تجارتي او اقتصادي استعمار لاندې ده، یعنې که یو هېواد بل هېواد باندې نظامي یرغل وکړي او بیا وروسته خپل د نظامي اشغال لمنه راټوله هم کړي نو دې وخت کې خپل اقتصادي استعمار ته دوام ورکوي .

## موږ په استعمار باندې خبره کوله، وروڼو!

د استعمار لغوي مانا د إعمار الأرض څخه اخیستل شوې، یعنې جوړول، لېکن اصلي مانا یې د کفارو له لورې د یو هېواد دایمي او هر اړخیز تسخیرول دي.

د استعمار اصطلاح به تاسې د ډېرو خلکو څخه اورېدلي وي، لکه طالبان هم دا کلمه زیاته استعمالوي چې د امریکا له لورې افغانستان استعمار شوی وو.

همدارنګه استعمار په سیاست کې څه مانا لري، مونږ او تاسې به په یو لنډه قاعده او فرمول کې دا ټول تشریح کړو، باذن الله، چې آینده د تل لپاره که بیا دا اصطلاحات ستاسې غوږونو ته رسېږي چې تاسې بیا په دې پوه یاستئ چې کله استعمار راشي، نو استقلال ترېنه په کومو طریقو اخیستل کیږي.

**وروڼو!** هر استعمار تر شا یو فکر او انګېزه لري، که چېرته کفار په خپل منځ کې یو بل استعمار لاندې نیسي، دلته یې تر شا ډېری

(c) ketabton.com: The Digital Library


اقتصادي انګېزه پرته وي او که چېرته کفار بیا اسلامي خاوره استعمار کوي او د خپل تسلط لاندې يې راولي، بیا د دې شاته **عقيدوي** او **فکري** انګېزه پرته ده چې دې ته د سیاست په نظام کې د استعمار **ریښې** وايي، هر استعمار بیا ځانګړې ریښې لري چې له هغې څخه استعمار راپورته، تقویه او همدا شان حمایه کیږي، د استعمار لپاره کار کوي او هدف ته ځان رسوي.

نو دا استعمار چې د مسلمانانو خاوره اشغالوي، د دې استعمار ریښه هغه عقیده او فکر دی، نو تر څو مو چې د استعمار ریښه قطعه کړې نه وي، د استعمار دا اغزي لرونکې ونه که په نورو ځایونو او څانګو کې هر څومره قطعه کړې، هغه بیا رازرغونېږي او سر راپورته کوي.

ته چې استعمار سره مبارزه کوې، نو له بېخه به يې ختموې، اوس راځو په استعمار باندې خبره کوو، چې طالبان هم په دې اعتراف کوي چې افغانستان استعمار شوی وو، د دوی څخه دا پوښتنه وشي چې افغانستان استعمار شوی وو، نتیجه يې څه وه؟

د استعمار په دوران کې کوم فعالیتونه د استعمار لخوا شوي وو او نتیجه د دې فعالیتونو څخه څه وه او څه لاس ته راوړني يې د استعمار لپاره درلودې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


په بل تعبیر که د طالبانو نه سوال وشي استعمار ځان سره کوم کفر راوړی وه او کوم بخش کې کفر ته عقیدوي کار کړې دی؟

طالب په دې جواب سکوت کوي، ځکه چې دوی خپله د استعمار لپاره کار کوي، د اشغال کوونکو سره همکاري کوي، د استعمار لپاره همدوی فعالیت کوي، یوه ډله یې د آي ایس آي (**ISI**) لپاره فعالیت کوي، بله ډله د روافضو لپاره او بله ډله یې بیا د غرب لپاره په خدمت بوخته ده.

## ورونو!

راځئ، دلته به د استعمار په پنځو انواعو یا اقسامو لنډ بحث وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د استعمار انواع

1. **سياسي استعمار**
2. **نظامي استعمار**
3. **اقتصادي استعمار**
4. **ثقافتي استعمار**
5. **ټولنيز(اجتماعي) استعمار**

مخکې مونږ ووېل چې هر استعمار تر شا يوه انګېزه لري، لکه څنګه چې د تجارتي استعمار شا ته د سيکولر اقتصاد ترويجول هدف دی، دغسې د نظامي استعمار شا ته انګېزه او هدف د خاورې اشغال او نور ډول ډول استعمار ته زمينه سازي ده، د سياسي استعمار شا ته د ديموکراسۍ د حاکميت او ترويج انګېزه پرته ده، د ثقافتي او فرهنګي استعمار شا ته بيا د سيکولر تعليم او د غربي فرهنګ، کفري ادبياتو او د ژورناليزم په مټ د فکري جګړې يوه انګېزه پرته ده، همدا راز د اجتماعي استعمار شاته بيا د سيکولر تعاملاتو، معاملاتو راکړې ورکړې، ناستې ولاړې، آداب، احترام، رسم او رواج، حقوق او مدني آزاديو په نوم د نورو ډېرو بې لاريو انګېزه پرته ده.

**نو طالب ته وايو!** چې لږ مو غوږونه خلاص کړئ، د استعمار انواع او اقسام وپېژنئ، يواځې په نظامي برخه کې اشغال نه وي، بلکې د

(c) ketabton.com: The Digital Library


اشغال نوري بڼې چې نن سبا يې تاسې اشغال کړي ياستئ، دا له نظامي اشغال څخه ډېرې خطرناکې او زيان رسونکي دي.

طالب اوس د اقتصادي استعمار له لوري مستعمره دی، د اقتصادي استعمار په پايله کې سيکولر اقتصاد حاکم وي، لکه د طالب په بانکي سيستم او نړۍ سره د نورو اقتصادي راکړو ورکړو په برخه کې چې حاکم دی، د دغه سيکولر اقتصادي حاکميت ترڅنګ دا په اقتصادي استعمار کې چې سودي نظام، اختلاس او اختلاق او نورې بڼې مروجې دي، هغه بيا بېل بحث دی.

که غواړې چې د سيکولر اقتصاد له استعمار څخه استقلال تر لاسه کړئ، نو ته به د سيکولر اقتصاد سره مبارزه کوې، بيا ته دعوه کولای شې چې ما اقتصادي استقلال ترلاسه کړی،زموږ د ډېر بې فکره دښمن سره مخه ده، چغې د استقلال وهي خو نور په يوه برخه کې هم مستقل نه دي، نه استقلال شته او نه نوره آزادي لري،په دې باټو او نارو،تشو شعارونو او خبرو دا نا خبره عوام دوکه کوي او غولوي يې. د نظامي استعمار په نتيجه کې اشغال رامنځته کيږي، نو که ته غواړې چې د دې استعمار څخه استقلال حاصل کړې، نو ته بايد د دښمن سره نظامي مبارزه وکړې تر څو استقلال واخلې، هر وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې دې اشغال په مکمله توګه له منځه یوړ بیا ته دعوه کولای شې چې ما نظامي استقلال ګټلی.

طالب خو په نورو برخو کې مستعمره و او دی، بلکې په نظامي برخه کې هم استقلال نه لري، تاسې نه ګورئ څلورویشت ساعته د افغانستان فضا د کفارو په واک کې ده او چې چېرته یې زړه وغواړي، هلته عملیات کوي او بیا چې کوم ځای هدف وګرځوي په ثانیو کې یې تخریبوي، خو دوی دومره سپین سترګې دي چې بیا قانع کېږي هم نه، د بېرون بریدونه بیا د ځمکې څخه ځمکې ته د ویشتل شویو میزایلو سره توجیه کوي او دا شپه او ورځ یې چې په سر ګرځي دا بېرونونه ورته نه ښکاري که ورته ښکارېدی، نو چېرته خو به یې پرې د توفانچې بېز کړی وی، مطلب دا که مستقل وي نو دوی ته خو ښه پرمختللي وسایل کفارو پریخي دي ولې دا بېورن نه ولي، خو نه داسې نه ده دوی مستقل نه دي.

همدارنګه د سیاسي استعمار په نتیجه کې دیموکراتیک نظام رامنځته کیږي، که ته غواړې چې له دیموکراسۍ څخه استقلال واخلې، نو ته یې باید په مقابل کې سیاسي مبارزه وکړې، همدا شان که ته غواړې چې فرهنګي استعمار ختم کړې او دا دعوه وکړې چې ما استقلال تر

(c) ketabton.com: The Digital Library


لاسه کړی، باید سیکولر تعلیم او سیکولر نصاب سره مبارزه وکړې، ځکه چې همدا د استعمار ریښې او جرړې دي.

سیکولر تعلیم د استعمار لپاره فکري مامورین روزي، تعلیمې نصاب چې د سیکولاریزم په اساساتو ولاړ وه نو بیا دا دعوه مه کوه چې ما استقلال تر لاسه کړی، نه! اسلامي نړۍ اشغال وه او اشغال ده، یوازې په کوړه ویلو باندې خوله نه خوږه کیږي، چې جشنونه د استقلال په نوم راجوړ کړې او د خلکو په سترګو کې خاورې وشیندې نو ته به رښتیا **آزاد** حساب شې؟ نه داسې نه ده.

## دوی ته وایو!

نن تاسو دعوه لرئ چې استقلال مو اخیستی، ستا په ښونځیو او پوهنتونونو کې کوم نصاب تدریسیږي؟

دا خو هماغه نصاب دی چې تر پرونه په دیموکراتیک نظام کې تدریس کېده، پرون هم تعلیمي ادارو ته غربي مؤسساتو بودیجه ورکوله او نن هم هماغه سیکولر نصاب دی، هماغه غربي مؤسسات دي چې تاته بودیجه درکوي، هماغه زاړه معلمین او زاړه مامورین دي او له هماغه ادارو ورته معاشونه، کتابونه او قرطاسیه راځي، توپیر په څه کې دی؟

او استقلال مو په څه کې تر لاسه کړی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو ته په کوم دليل د استقلال دعوه کوې؟

**طالبه!**

ته فکر کوې چې ستا په دې نارو او شعارونو به نور خلک هم دوکه کړې؟ نه هېڅکله داسې نه ده، ټول خلک ستا په خبر نه دي!

نو تر څو چې همدا سيکولر نصاب وي او همدا شرقي او غربي ادارې مو ملاتړ کوي تاسې به همداسې مستعمره ياست.

همدا شان د اجتماعي استعمار په نتيجه کې يو سيکولر فرهنګ، سيکولر اخلاق، فحشا، د غرب عادات، رسومات او د هماغو په نقش قدم تلل رامنځ ته کول دي، نو که له طالبه وپوښتو چې تا په څه کې تغيير راوړی او په څه کې مستقل يې؟

په تلويزونونو کې هماغه زاړه پروګرامونه او هماغسې د نارينه او ښځينه و شريک بنډارونه، هماغسې په ادارو کې د نارينه او ښځينه و شريک مجلسونه او کارونه، هماغسې د فحشا او عياشۍ مجلسونه، هماغسې نمانځنې، مراسم غونډې او د غرب په تقليد برابر کارونه ...

په ځای د دې چې له شريعت څخه خلاف جوړه شوې د مرتد امان الله مقبره ونړوئ، تاسې ورځئ د هماغې د فکر او پاليسۍ د لمانځنې په هدف ورته په قبر د ګلونو ګېډۍ ږدئ، د خپلو بادارانو په خبر مو خپلو اخوندانو ته په لارو کې قالينې هوارې کړې وي او هسې د

(c) ketabton.com: The Digital Library


نمایشي کارونو په ترسره کولو کې هم د هغوی په نقش قدم روان یاست، د پټې پرې کولو او هماغسې په قالینو په نازو نخرو تللو کې له هغوی کم نه یاست، کله نو بیا د غرب په فکر او فرهنګ برابر د خپلو مشرانو تلین هم لمانځۍ او د خپلو مشرانو عکسونو ته د ګلونو ګېډۍ ږدۍ ، په یو مېز یې د غربیانو په څېر په کتابچو کې خاطرې لیکۍ، ستاسې کوم عادت، کوم اخلاق او کومه ناسته ولاړه مستقله ده؟

نو که ته غواړې چې فرهنګي استقلال تر لاسه کړې سیکولر فرهنګ، اداب، رواج او عادتونو سره باید مبارزه وکړې او د ټولنې څخه د دې رېښې ختمې کړې، بیا ته دعوه کولای شې چې ووایې، ما اجتماعي استقلال ترلاسه کړی دی.

کله چې دې په دې پنځه برخو کې استقلالیت ترلاسه کړ، نو بیا ته دعوه کولای شې چې ته مستقل یې.

## مجاهدینو ورونو!

د استعمار په ډولونو ځکه خبره کوو چې موږ او تاسې په دې پوهه شو او استعمار په تمامه معنا وپېژنو او په دې هم وپوهېږو چې موږ څه وخت او په کوم حالات له استعمار څخه خلاصی موندلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## اقتصادي استعمار

موږ هغه وخت له اقتصادي استعمار څخه خلاصی مومو کله چې زموږ اقتصاد مستقل، د کفارو له سلطې آزاد او په دې برخه کې موږ د هغوی له احتیاجه خلاص شو.

تاسې ژوندی مثال د طالب د واک لاندې افغانستان کتلای شئ چې په ټولو برخو کې مستعمره دی، هغه که نظامي، اقتصادي او فرهنګي برخې دي او که نورې سیاسي، اجتماعي او هر اړخیزې برخې دي، په ټولو برخو کې مستعمره دی، هسې طالب د استقلال په تشو نارو له مستعمرې نشي آزادېدلای ترڅو په عمل کې استقلال پلي نه کړي.

کفار چې تل د کوم هېواد د استعمار اراده وکړي، نو لومړی یې د اقتصادي استعمار لاندې راولي، په دوهم قدم کې بیا د نظامي استعمار هڅه کوي او په درېیم قدم کې خپل سیاسي استعمار تطبیقوي، بیا غواړي همداسې مخ ته لاړ شي، نصاب ته تغییر ورکړي او بیا نو د سیاسي استعمار په زور فرهنګي استعمار ته لاره هواروي او بالاخره مکمل ټول بنیادونه او بنسټونه استعماروي، که هغه تعلیمي ادارې دي، که حقوقي، سیاسي او اجتماعي ادارې دي او که حتی روغتیایي ادارې دي دا ټول مستعمره کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


که ته غواړې چې استعمار ته شکست ورکړې، نو په اقتصاد باندې یې شروع وکړه، وروسته بیا نظامي برخې ته توجو زیاته کړئ او په نظامي ډګر کې به شکست ورکړې او بیا به معارف او تعلیم تربیه د استعمار نه خلاصه کړې، نصاب کې به تغییرات راولې، بالاخره چې دا ټولې برخې دې مستقلې کړې، نو خپله ټولنه به دې له استعماره ژغورلې وي.

که اقتصادي استعمار کې د اوله استقلالیت تر لاسه نه کړو نو ته بیا هېڅ کله هم نشي کولای د استعمار نورو ډلونو سره مبارزه وکړې، ځکه که ته د یو کافر او مرتد سره رابطه وکړې او مال ترېنه واخلې او بیا بل کافر وربانديې ووهې، ته هېڅ وخت نشې کولای آینده کې مستقل نظام ولرې، د تنظیمونو او طالبانو تش په نوم د جهاد مبارزه زموږ دې خبرې ته روښانه دلیل دی.

الحمدلله صرف د خلافت مجاهدین دي چې هر بخش کې مستقل دي، ولو که نن کمزوري دي، خو الحمدلله د ستن نه تر تار پورې هر څه یې مستقل دي او په همدې اساس د الله رب العالمین نه هیله لرو چې نژدې وخت کې د استعمار ټول ډلونه د ماتې سره مخ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هند د انګلیس لخوا د اقتصادي او تجارتي اړیکو په مټ استعمار شو خو بېرته هند د اقتصاد له لارې انګلیس ته شکست ورکړ او ځان یې د انګلیس د استعمار څخه خلاص کړ او استقلال یې واخیست.

تاریخ کې راځي چې ګاندي یوه اوزه ساتلې وه او د هغې اوزې شېدې یې کلونه کلونه استعمال کړې وې، بالاخره کله چې انګلیس شکست وخوړ، د اروپا پارلمان ګاندي ته بلنه ورکړه چې پارلمان ته راشه بیان وکړه او په دې وغږېږه چې هغه کوم علتونه وو چې تاسې د انګلیس د استعمارڅخه استقلال واخیست؟

وایې ګاندي ورته جواب کې وویل: چې زه درځم، خو په یو شرط او هغه دا چې زه به ځان سره اوزه هم پارلمان ته درولم" هغوی ورته وویل: "موږ ته وخت راکړه، زموږ په قانون کې دا نشته، چې حیوانات دې پارلمان ته داخل شي" بیا یې یو قانون تازه تصویب کړ چې په هغې کې لیکلي وو چې هېڅوک حق نه لري چې د حیوان سره پارلمان ته داخل شي پرته د ګاندي د اوزې څخه، دلته د ګاندي همدا عملي دښمن ته ښودل چې د کومې لارې او څنګه یې استقلال تر لاسه کړو؟

نو په همدې اساس دښمن دا درک کوي چې په کومه طریقه موږ څخه خلک استقلال اخلي، نو کفار او غرب خصوصاً امریکا غواړي چې ټوله

(c) ketabton.com: The Digital Library


دنیا د خپل استعمار لاندې راولي، د دې هدف لپاره یې په میلیونونو انسانان له منځه یوړل، د دنیا په هر ګوټ کې چې چا سر پورته کړی او د دوی ګټو ته یې خطر پیښ کړی، له منځه یې وړی او هېڅ رحم یې ورباندې نه دی کړی او خصوصاً مسلمانان خو بیخي سر جیګېدو ته نه پرېږدي، تاسې ولیدل چې په شام او عراق کې اسلامي دولت خلافت اعلان کړ او په کم وخت کې یې خپل مستقل اقتصاد جوړ کړ، دوی له نهایت زیاتې وارخطایی سره مخ شول او په دې وپوهېدل چې اوس نو مسلمانانو د استقلال هغه اصلي سرچینه او مفهوم وپېژانده او که دا اسلامي امت راپسې یو ځل راویښ شو، نو بیا یې کنټرولول سخت دي، په ډېر شدت او په ډېر زیات وحشت او په ډېر سرعت سره یې په هغوی هر قسمه ټکنالوژي استعمال کړه، لومړی کار یې دا وو چې هغه منابع چې اسلامي دولت د هغې له لارې خپل اقتصاد قوي کاوه، هماغه منابع او سرچینې د بمبار لاندې ونیوې او هغه د تېلو او نفتو څاه ګانې یې له منځه یوړې چې د نورو منابعو په شمول د اسلامي دولت اقتصاد یې پیاوړی او مستقل کړی وو او بیا یې نو په همدې وحشتونو کې حتی زنانه او ماشومان هم د اور د سرو لمبو خوراک کړل، دا هرڅه د کوم هدف لپاره؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دې لپاره چې چېرته دا فکر او عقيده دنيا ته خپره نشي، دوی د اسلامي دولت فکر، عقيده منهج او تګلاره ډېره ښه پېژني او په نړۍ کې له هېڅچا هم دومره ډار نه لري لکه له اسلامي دولت څخه يې چې لري، وجه دا ده چې دوی په دې پوهيږي چې همدا يوازينی دولت دی چې دوی سره په هر ډګر کې د سيالۍ جوګه دی او په هره برخه کې ورسره د مقابلې او د دوی د ماتې لپاره خپلې مستقلې برنامې او نقشې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## سیاسي استعمار

دا استعمار دوه صورته لري، اول صورت یې د اشغال په زور حاکمیږي او دویمه نوع یې **استعمار الحمایه** دی.

اکثره خلک دا فکر کوي چې افغانستان کې امریکا ماته وخوړه او نظامي استقلال ترلاسه شو، حال دا چې امریکا په خپله خوښه نظام د اشرف غني څخه واخیست او طالب ته یې وسپاره، امریکا خپل عساکر وویستل، لېکن استعمار په خپل ځای پاتې شو که هغه سیاسي، اقتصادي، اجتماعي او آن نظامي استعمار دی، ټول په خپل ځای پاتې دی او فقط خلکو ته په سترګو کې د خاورو شیندلو یوه هڅه وشوه، خو ناکامه شوه او ببرته استعمار په خپل اصلي شکل کې اوس خپل ټول کارونه مخ ته وړي.

د یو اشغال شوي هېواد څخه چې کله کفار وځي نو یا به د اسلامي قوانینو موافق دا وتل کوي او یا هم دا وتل به یې د بین الملل د قانون په چوکاټ کې وي.

د اسلامي قانون موافق کله چې کفار د یوې خاورې نه د قتال په زور شړل کیږي نو د وتلو نه وروسته بیا هلته د دوی قانون او خبره نه چلیږي او شاته خپل قوانین او اصول نه پرېږدي په بل تعبیر باندې د کفارو وتلو نه وروسته بیا د دښمنۍ اصل کفارو سره په دوستۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library


نه بدلیږي .

اما که چېرته یو هېواد د بین الملل د قانون په اساس د نظامي اشغال څخه خلاصیږي، نو اول هلته به اشغالګران د استعمار الحمایه تړون امضا کوي، دویم خپل قانون او اصول هم شاته پرېږدي، مطلب د وتلو نه وروسته هم د دوی خبرې هلته پوره چلیږي او کفارو سره راشه درشه او دوستي هم خه د زړه له خلاصه شروع کیږي، لکه نن د کفارو خبره چې افغانستان کې چلیږي او طالب هم د دوستۍ غېږه ورته خه په اخلاص خلاصه کړې ده.

## مجاهدینو ورونو!

د استعمار الحمایه مانا دا ده چې اشغالګر په زور له تا څخه دا تعهد او ضمانت واخلي چې له ما او زما له متحدینو څخه به دفاع کوې، لکه د دوحې تړون چې دی دا استعمار الحمایه تړون دی، امریکا د خپل حفاظت تړون پر طالب په زوره امضا کړی دی.

په بل تعبیر، استعمار الحمایه مانا دا ده چې یو هېواد خپل حفاظت او د امنیت ساتل په هغه هېواد باندې جبري کوي چې هغه یې مخکې اشغال کړی و، نن سبا امریکا په زوره په طالب باندې خپل حفاظت لازمي کړی، امریکا خپله هم په خپلواکه توګه د افغانستان فضا په خپل اختیار کې نیولې ده او لاندې داخل کې یې هم هر طرف هر ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library


رياستونه فعال دي او هم يې طالب باندې په زوره امضاء کړې چې زما او زما د متحدينو ټولو امنيت به ساتې چې همدې ته سياست کې استعمار الحمايه وايي.

مجاهدينو ورونو! هېڅ وخت د کفارو له لورې په يوه سيمه او هېواد کې نظامي اشغال دايمي نه وي، مخکې مو وويل چې لومړی استعمار چې دی، هغه اقتصادي استعمار دی چې نظامي استعمار ته هم زمينه سازي کوي او نورو ته هم، چې کله نظامي استعمار رامنځ ته او سيمه اشغال شي، بيا نظامي اشغال سياسي استعمار ته زمينه سازي کوي او بالاخره يو اشغالګر (ديموکراتيک) نظام حاکم کړي ترڅو د استعمار نورو ډولونو ته زمينه سازي وکړي.

کله چې نظام ديموکراتيک شو نو بيا جامعه خپله سيکولر تربيه کيږي، کله چې يوه ټولنه د سيکولريزم په فکر او عقيده تربيه او وروزل شوه او مکمل د سيکولريزم سره آشنا شوه او د سيکولريزم د دنيوي خوندونو او رنګونو په رنګ او خوند کې ډوبه شوه، بيا هلته کفار خپل هدف ته ورسېدل، بيا نو هلته نظامي حضور ته نوره اړتيا نه وي، هلته بيا کفار خپل نظامي حضور کموي او يا يې بيخي ختموي او هغه هېواد تخليه کوي او بيا همهلته د دوی مامورين د دوی پاتې ماموريت ترسره کوي، بيا نو د لمدې ختې لرې اوبه بهانه

(c) ketabton.com: The Digital Library


وي، تیاره ټولنه د سیکولر په رنګ رنګ شوې وي، بیا دومره کار نه غواړي فقط یوه څارنه او ځینې تطبیقات مهم وي، چې دا کار بیا د استعمارګرو قوتونو له لورې په هغه سیمه کې واک ته د رسول شویو حشراتو په واسطه آسانۍ سره کولای شي. نو ځکه امریکا خپل نظامي حضور ختم نه کړ، بلکې د هغې بڼه یې وربدله کړه، نور د فکري جنګ عسکر یې خپل کار مخې ته وړي او جاسوسي شبکې یې هم په هېواد کې ښه قوي فعالې دي.

تاسې په دې فکر وکړئ، چې دوی ولې پوره **(۲۰) کاله** په افغانستان کې پاتې شول؟

په دې خاطر چې که یو ماشوم پیدا هم شي، نو په شلو کلونو کې بلوغ ته رسیږي او په سیکولریزم کې رالویږي، هغه بیا یو سیکولر ځوان دی، د اوه کلنۍ نه چې کله ماشوم په ښه او بد پوه شي، د دې په ذهن کار شروع شي تر ماسترۍ او دوکتورا پورې، بیا نو له دې غټ سیکولر انسان جوړ شي او بیا د همدې کفارو په ګټه او د اسلام په ضد مبارزه پرمخ بیا یې الا ماشاءالله، نو امریکا هم دلته پوره یو نسل د سیکولریزم په فکر او عقیده وروزه، دوی د همدې یوه نسل د روزنې لپاره پوره شل کاله دلته خپل شتون لازمي باله، اوس نو د دوی کار آسانه شوی او له دوی پرته یې د دوی د لاس لاندې مامورین

(c) ketabton.com: The Digital Library


هم کولای شي چې دا ماموریت مخکې د جمهوریت مرتدینو مخ ته وړ او اوس یې طالب ترسره کوي.

نو په همدې اساس مجاهدینو ورونو! تاسې هڅه وکړئ چې په دې اړه خپله مطالعه قوي کړئ، نوره څېړنه وکړئ، خپله علمي سویه لوړه کړئ، په نړۍ کې هېڅ تنظیم او ډله نوره پاتې نه شوه چې د اسلامي نظام لپاره هر اړخیزه مبارزه وکړي او یا اسلامي نظام قایم کړي، دغه کار اوس صرف او صرف اسلامي دولت ته پاتې دی، همدغه د اسلامي دولت مجاهدین دي چې د نړۍ په لر بر کې خپل هڅه کوي او قرباني ورکوي، خپلې غوښې شیندي، د هېڅ کافر او مرتد سره معامله نه کوي، صرف او صرف د رب العالمین مدد ورسره دی، په خپل رب باندې یقین او باور لري، د هېچا د ملامتی څخه نه وېرېږي او د خپل صفا منهج په دفاع کې چې هغه نبوي منهج دی، د ټولې دنیا کفارو او مرتدینو سره په جګړه کې خپله سینه سپر کړې او تر هغې پورې به جهاد او هر اړخیزې مبارزې ته دوام ورکوي تر څو په ځمکه فتنه ختمه او دین خالص د رب العالمین لپاره شي.

**څنګه پوه شو، چې یو هېواد د سیاسي استعمار لاندې دی، په داسې حال کې چې د استعمارګرو نظامي قوت هم نشته؟**

نو په ډېره آسانه تاسې پوهېدای شئ، تاسې وګورئ هر هغه هېواد

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې په اقتصاد کې بل هېواد ته محتاج وو، پوه شه چې دا هېواد د هغه هېواد د سیاسي استعمار لاندې دی، چا ته چې په اقتصاد کې مجبوره دی او هغوی ته یې خولې وازې کړي او لاسونه او کچکولونه یې ورته نیولي.

لکه طالب چې امریکا ته نیولې، اوس تاسې څه فکر کوئ، دا هره اونۍ چې امریکا د میلونونو ډالرو کڅوړې رالیږي، دا پرې د طالبانو قلنګ دی او که له امریکا څخه باج اخلي او یا دا چې د افغاني نویو بانکنوټونو څخه یې ورته بارداري طیارې راډکې کړې وي او یا هم نورې پټې او ښکاره په ټنونو مرستې ورته راروانې دي، دا د کوم هدف لپاره دي؟

دا ځکه چې نن سبا افغانستان د امریکا له لوري د سیاسي، اقتصادي، اجتماعي، ثقافتي او حتا نظامي استعمار لاندې دی، امریکا د ځینو مصلحتونو په بنا فقط د استعمار شکل ته تغییر ورکړ، نظامي استعمار یې په استعمار الحمایه بدل کړ او د همدې تغییر لپاره دا لازمه وه چې د اشرف غربي له اداري واک واخلي او قطري طالبانو ته یې وسپاري، خومره ګټه چې امریکا د استعمارالحمایه په چوکاټ کې وکړه هغه یې په نظامي استعمار کې نشوه کولای، مخکې د امریکا په نظامي حضور چې څومره لګښت راتللو او یا یې د تېر جمهوریت

(c) ketabton.com: The Digital Library


د مرتدینو غښتې خیټې په څومره ډالرو ډکولې، اوس نو هغه هر څه ورته بچت پاتې شول، اوس یې نو چې کله په دوحه کې طالبان د استعمار الحمایه په پړي وتړل، نو نه یواځې دا چې خپل ډېر ډالر یې سپما کړل، بلکې مخکې یې چې د جمهوریت په مرتدینو کوم شرطونه منلي وو او هغوی یې تر ډېره په پلي کولو کې پاتې راغلي وو، نو اوس یې نسبت مخکنیو ډالرو ته په ډېرو کمو ډالرو په طالب ومنل، دوی سره یې د نورو ګڼو شرطونو په منلو دا هم لاسلیک کړه چې د اسلامي شریعت فقط تشې نارې به وهئ، نور به کومه دیموکراسي چې موږ په دوحه کې د شریعت په نوم ډیزاین کړې، دا به تطبیقوئ، مشران به درته ذهنیت سازي کوي ترڅو مو کشرخېل مکمل د دیموکراسۍ کړۍ ته سرونه راداخل کړي، نور به د جهاد نارې هم نه وهئ، بهر د مؤمنانو په ځپلو کې به هم د نورو استعمارګرو قوتونو حمایه کوئ او د افغانستان په داخل او بهر کې به د امریکا دښمن ستاسې دښمن او دوست به یې ستاسې دوست وي، د افغانستان په داخل او بهر کې به زموږ امنیت او ګټې ساتئ، مسلمان مجاهد ته به په افغانستان کې ځای نه ورکوئ، هغه د بلیک واټر (**Black Water**) وظیفه چې مخکې موږ مستقیم په غاړه درلوده، اوس به هغه وظیفه خه په اخلاص سره تاسې سرته رسوئ، نو تاسو ته به هفته کې دومره ډالر

(c) ketabton.com: The Digital Library


رالېږل کیږي او دا ستاسې معاش دی، چې زموږ حفاظت او د دې نورو شرطونو د پلي کولو په مقابل کې درکول کیږي، دا د طالبانو حال دی خو نه پوهیږو چې دوی ځنګه پوهه کړو او څه ترتیب باندې د دوی خیر خواهي وکړو او د کفرکولو څخه یې لاس بند کړو؟

**علماؤ چې د استعمار په اړه ځومره کتابونه لیکلي، نو استعمار یې په دوه شکله تقسیم کړی:**

1. **استعمار القدیمة**
2. **ماډرن استـعمـار**

یو ته وایي استعمار القدیمه چې په مخکنۍ زمانه کې وو او بل ته یې د مډرن استعمار نوم ورکړی چې دا اوسنی استعمار دی، چې اکثره هېوادونه د دې نوي استعمار لاندې دي، خو بیا هم همدې استعمار ته د استقلال نوم ورکوي، د اسلام په سیاسي نظام کې خو دا یو منل شوی حقیقت دی چې تر څو جهاد فرض عین وي، نو تر هغې استقلال نشته، طالب اصلاً د امریکا سره استعمار الحمایه تړون لاسلیک کړی چې زموږ خاورې څخه به هېڅ کافر او مرتد ته هېڅ خطر نه وي، خو نوم یې د استقلال ورکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**قديم (پخواني)** او **مهرن (اوسني)** استعمار ترمنځ توپير دادی چې پخواني استعمار کې شرط د ځمکې اشغال وو، مګر اوسني استعمار کې شرط نظامي اشغال نه بلکه استعمار الحمايه دی، اوسني استعمار کې حتمي نه ده چې خاوره دې اشغال شي، اوسني يعني مهرن استعمار کې د يو هېواد اقتصاد او اجتماع د استعمار لاندې ساتل کيږي، لکه نن سبا افغانستان د امريکا لخوا په نوی بڼه د




استعمار لاندې دی، صرف د استعمار نوع بدله شوې، نور هېڅ تغيير په کې نه دی راغلی.

مجاهدينو ورونو! د اسلام په سياسي نظام کې د (استعمار الحمايه) حق دا د اسلامي دولت دی چې کفري نړی د استعمار الحمايه لاندې وساتي، يعنې اسلامي دولت به يا له کفارو څخه په زور ځمکه نيسي او قتال به ورسره کوي تر څو کفار جزيې ورکولو ته اړ کړي، دغه وخت کې ورسره د مسلمانانو دولت د استعمار الحمايه تړون کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


يعنې په زور په کفارو دا امضاء کوي چې د مسلمانانو د دولت ساتنه به کوئ، مخالف کس ته به خپله ځمکه کې ځای نه ورکوئ او د دوی له طرفه به هېڅ يو مسلمان ته کوم خطر نه وي متوجه، دا کار به په زور په کفارو عملي کيږي.

خو اوس خبره برعکس ده، اوس کفار يا د مسلمانانو ځمکې اشغالوي او يا په مسلمانانو د طالبانو په څېر په زور واکمن کړای شويو څخه استعمار الحمايه تړون لاسليکوي، يعنې ورته وايي مونږ ته به ستاسې له خاورې نه هېڅ خطر متوجه نه وي او نه به زمونږ دښمن ته ځای ورکوئ او داخل کې به مو هم انتحاري قطعات نور زمونږ امنيت ساتي.

دوی خو د اسلام دين خلکو ته د يو سوالګر، مغلوب، يو فقير او بېچاره دين په حيث معرفي کړی، دنيا ته يې د يو بې غيرته او بې نظامه او بې ارزښته دين په توګه معرفي کړ، دا حالت امريکې له قصده راوست چې دوی ته يې دا هېواد تسليم کړ، د نورو اهدافو سره يې يو هدف د دې تړون څخه دا وو چې خلکو ته د دوی د نظام په شکل کې اسلامي نظام يو داسې نظام معرفي کړي چې دا خو يو فقير او سوالګر نظام دی چې په مستقله توګه د خپلې خولې مړی نشي پيدا کولای، د يو څه لپاره ورسره هم حل لاره نشته، امريکا دلته څو

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګڼي وکړي، یو خو یې تېر جمهوریت خلکو ته داسې یو سخي او غني نظام معرفي کړ چې هغه نو د هر درد دوا وه بیا یې د حقیقي اسلامي نظام د مخې نیولو په هدف خلکو ته په دوحه کې ډیزاین شوی پاکستانی جعلي اسلام د حقیقي اسلام په نوم د طالبانو په لاس راوړ چې خلک په آینده کې په فکري لحاظ هم نور د اسلامي نظام نوم اخیستو ته تیار نشي، یعنې خلکو ته یې دا وښوده چې دا مسلمانان د کوم اسلامي نظام دعوه کوي، هغه نو دغه اسلامي نظام دی، دا دی تاسې یې وګورئ طالبانو حاکم کړی دی، په اوسني وخت کې دا نظام د کوم درد دوا دی، ټول خلک ترې په تېښته دي، یو وحشت، بدبیني، کینه، تعصب، لوږه، فقر څخه ډک کفارو ته اړ، محتاج او د سوالګرو نظام دی.

یعنې د دوی په شکل یې ټول مسلمانان دنیا ته په نظام د نه پوهېدونکو او احمقانو په حیث معرفي کړل، چې بیا څوک په آینده کې د اسلامي نظام غوښتنه ونه کړي، حال دا چې دا اسلامي نظام نه دی، دا د اسلامي نظام نماینده ګي نشي کولای، دا یو وطن پرسته او بې دینه ډله ده او دا جنګ هم دوی د قدرت او چوکۍ لپاره کولو، دوی سره د منصب لاسته کولو درجې پېټاؤنه او انفجارات دي، معلومه خبره ده چې دوی همدې چوکۍ او منصب لپاره کار شروع کړی وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library


نه يې اسلامي نظام مقصد وو او نه په اسلامي نظام او شرعي سياست خبر دي، دا لونګۍ او دا ږيرې لکه د هندوانو په څېر د دوی رسم او رواج دی.

دا نور هېوادونه چې هسې ظاهري استقلال لمانځي، په حقيقت کې دا يو هم حقيقي استقلال نه لري، دوی تش په نوم اسلامي هېوادونه دي، هغه که پاکستان دی، ازبکستان، ترکمنستان، تاجکستان، ترکيه، قطر، عربستان ... او نور دا ټول د استعمار لاندې دي، څوک د امريکا د استعمار لاندې وخت تېروي، څوک بيا د روس د استعمار لاندې د ذلت څخه ډکې شپې سبا کوي او څوک بيا د چين او برتانيه د بيرغ لاندې دي، دا هېوادونه آزادي نه لري هم يې اقتصاد د استعمار لاندې دی او هم يې اجتماع او هم يې سياست او هم يې ثقافت، صرف نظامي استعمار کې اشغال نشته دی او د استعمار الحمايه ترون لاندې دي، نور ټول په ټوله دوی د شرقي بلاک او د غربي بلاک د استعمار لاندې خپل نفس اوباسي او تش په باټو کال کې يو ځل د استقلال په نوم جشنونو کې غېر مستقيم د نړۍ کفارو ته صراحتاً اعلانوي چې زموږ له خاورې څخه يو کافر او مرتد ته هم خطر نشته دی او موږ خپل وظيفه په درست شکل انجاموو، مانا همدا ستاسو استعمار الحمايه ترون لاندې وخت تېروو او ورته وفاداره يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


راشه طالب ته دوی خو نه ظاهري استقلال لري او نه حقيقي استقلال لري، لکه ماشومان چې نانځکې لوبوي دغسې پرې د نړۍ کفار لوبې کوي او طالب مشران لکه د نانځکو لوبوي، دا بيچاره ګان نن په دې سوله چې اصل کې تسليمي ده، امريکا له سره تر پښو بند په بند تړلي، په دې دريځ چې دوی نيولی دی، اسلام ته قطعاً خير نشي رسېدلای او بلکې اسلام ته ضرر رسوي او اسلام بدناموي، دا بېچاره ګان ملامته ندي ځکه دوی پرته د چوکۍ او واک څخه بل هدف نه لري او د همدې قدرت لاسته راوړلو لپاره هر څه ته تيار دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## آیا د اسلام په سیاسي نظام کې د استقلال لمانځنه شته؟

د طالبانو له لوري د استقلال په نوم د ورځو لمانځنه او تجلیل د ټولو هغه بین المللي پولو د قبولیت په مانا دی چې د دوی تر منځ کش شوي دي، د نړیوالې جګړې وروسته چې کفارو د دوی تر منځ پولې وویشلې، د همدې پولو ساتنې او د وطنیت د عقیدې منلو ته دوی استقلال وایي.

دا کرښې او ویش د لومړۍ نړیوالې جګړې په نتیجه کې رامنځ ته شوې، د زورواکو لخوا خطونه کش شول، چې دا افغانستان او دا یې پاکستان او دا تاجکستان او همداسې نور...

د مسلمانانو خاوره یې ټوټه، ټوټه کړه او هر ملک د کفارو لخوا جدا جدا استعمار شو او بیا په هغې کې یې د قومیت او د قوم پرستۍ درسونه شروع کړل، نن دې حالت ته دا قومیت رسېدلی دی چې د یو هېواد خلک او په نوم مسلمانان کافر ته دومره په بده سترګه نه ګوري چې خپل د ګاوندي هېواد عام مسلمانانو ته ګوري.

لکه نن چې یو افغان یو پاکستاني ته او یا یو پاکستانی یو افغان ته په بد نظر ګوري، د دوی ترمنځ یې د نورو ګڼو تعصبونو او نفرتونو او اهدافو د تطبیق تر څنګ د قومي تعصب او مرض زهر هم شیندلي، چې د کور پیاله یی هم ماته شې وایی دا د پاکستان کار دی بل طرف

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګاونډ کې يې ملحد چينايان، کمونيست روسان او د صحابه و دښمنان روافض پراته دي خو د حوادثو اتفاقات بيا يو هم دوی ته نه نسبت کوي، مستقيم يی ګوته پاکستان ته نيولې وي، پاکستان يو کفري نظام او حکومت دې خو عام مسلمانان هم په کثرت سره هلته موجود دي چه هغه ټول زموږ وررونه دي او هغوی ته د دال خورو او نورو نسبتونه دا د جاهليت د افکارو څخه سرچينه اخيستونکي او مردود نظريات دي.

د اسلام د سياسي نظام يو صفت دا دی چې دا به نړيوال وي، په کومه محدوده او د خاورې په احاطه کې به راګېر نه وي، د دې نظام له تأسيس څخه پيل تر قيامته به دا نظام اسلامي او عالمي وي، ځکه الله تعالی خپل رسول ته فرمايي:

**﴿قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ لا إِلَهَ إِلاَّ هُوَ يُحْيِي وَيُمِيتُ فَآمِنُواْ بِاللّهِ وَرَسُولِهِ النَّبِيِّ الأُمِّيِّ الَّذِي يُؤْمِنُ بِاللّهِ وَكَلِمَاتِهِ وَاتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ﴾[الأعراف:158]**

**ژباړه : اې پيغمبره ووايه : اې انسانانو! زه ستاسې ټولو لوري ته د هغه الله استازی يم چې د آسمانونو او ځمکې د باچاهۍ مالک دی، له هغه پرته بل اِله نشته، هماغه ژوند بښي او همغه مرګ ورکوي، نو**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**پر الله او د هغه پر هغه نبي اُمي استازي ایمان راوړئ، چې الله او د هغه ښونې مني او د هغه پیروي غوره کړئ، هیله ده چې تاسې سمه لاره ومومئ.**

الله ﷻ رسول الله ﷺ د يو قوم لپاره نه دی رالېږلی، بلکې د نړۍ انسانانو او پېریانو ته يې رالېږلی، بل نبي دنيا ته نه راځي، نو اسلامي نظام به د يوې منطقې پورې محدود نه وي، بلکې د اسلام سياسي نظام به نړېوال نظام وي، کومې کربښې چې کفارو کش کړي، دا به له منځه ځي، ټول مسلمانان به په يو نظام او يو رهبر يعنې خليفه باندې راټولېږي، نو هر مسلمان ته په کار ده چې يو نړېوال فکر ولري، تر يو سيمې يې نظريه محدوده نه وي، د نړۍ په هر ګوټ کې د مسلمان په درد ودردېږي او په خوشحالۍ يې خوشحاله شي او د قوم پرستۍ او ډل بازۍ څخه ځان لرې وساتي يعنې د طالبي فکر او عقيدې څخه ځانونه لرې وساتئ، چې دوی د قوميت په مرض اخته دي، دا يو داسې مرض دی چې د کنسر نه هم سخت مرض دی، د دنيا په ګوټ ګوټ کې مسلمانان دې د کفارو او مرتدينو په زندانونو کې شکنجه کيږي، د مسلمانانو د خويندو بې عزتي دې کيږي، د نړۍ کوم هېواد نه دی چې د هغوی په زندانو کې نن مسلمانې خويندې د اسارت شپې او ورځې نه تېروي او ته بيا په داسې حال کې د استقلال

(c) ketabton.com: The Digital Library


چغې او چکې وهې، دا کوم استقلال دی او ته بدبخته بیا د هماغه کفارو او مرتدینو سره دوستي او راشه درشه پالې او د دوستۍ چغې ورته وهې، معلومه دا شوه چې ته هم د همدوی ملګری یې او حشر به دې هم همدې کفارو او مرتدینو سره کیږي. ان شاءالله!

رسول الله ﷺ فرمايي: "چې ماته الله جل جلاله پنځه شیان راکړي چې له ما څخه مخکې پیغمبرانو ته یې نه دي ورکړي، یو د هغې څخه دادی چې زه د ټولو انسانانو لپاره رالیږل شوی یم، یوه خبره یاد ساتئ مجاهدینو ورونو چې مسلمانان به په امتحاناتو او په ستونزو کې وي که هرڅومره سخت حالات پر موږ راشي، باید خپله عقیده او منهج له لاسه ورنه کړو، لږ ملګري دې وي خو مخلص او صفا عقیدې والا دې وي، ډېر خلک دي چې لږ فشار پرې راشي بیا مرتدینو ته د مرستې او د همکارۍ چغې وهي، د الله د مدد څخه یې طمعه قطعه شي، تاسې به ځان سره دا قاعده لیکئ چې د رسول الله ﷺ امت مرتدینو ته ضرورت نه لري، دا باید ستاسې شعار وي او همدارنګه اسلامي دولت د هېڅ مرتد مرستې ته ضرورت نه لري او نه یې اخلي، ګوره د حدیبیې په سوله کې رسول الله ﷺ مشرکینو سره دا خبره لیکلې وه چې که چېرته د مسلمانانو نه څوک تاسې ته درغی یعنی مرتد شو بیرته یې موږ ته مه رالیږئ، زموږ ورته ضرورت نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مجاهدینو ورونو!** مونږ ووېل چې د استقلال تجلیلول دا خپله د دیموکراسۍ یو اصل دی، دا د خلکو دوکه کول او په دې اعتراف کول دي چې دا کومه خاوره د بین الملل لخوا څخه تقسیم شوې، د بین الملل دا فیصله موږ ته د منلو وړ ده او موږ منلې ده، کفارو ته په کال کې یو ځل اطمنان ورکول دي چې موږ دا استقلال تجلیل کړ، د دې همدا مانا شوه چې تاسې کومې کرښې کش کړي دا موږ ومنلې او جشنونه مو پرې وکړل.

داسلام په سیاسي نظام کې خبره بیا دا ده چې ربعي بن عامري وایي:

" الله ﷻ مونږ د دې لپاره رالیږلي یو چې بنده ګان د بنده د بنده ګۍ څخه د الله ﷻ بنده ګۍ ته را دعوت کړو، دا د یو مسلمان او یو مجاهد تلپاتې وظیفه او مسؤلیت دی چې د اسلام په سیاسي نظام کې په هر ډګر کې باید ته د همدې وظیفې لپاره کار وکړي ترڅو هر طرف او په هر کنج کې خلک د الله بندګۍ ته رادعوت شي که هغه په نرمه ژبه باندې دعوت وي او که په قتال وي.

په اصل کې د دیموکراسۍ مبارزه د اسلام سره په همدې ټکي کې ده چې دیموکراسي وایي د خلکو رایې ته احترام په کار دی او اسلام وایي چې نه د الله رایه او قانون ته غاړه اېښودل په کار دي، جمهوریت او دیموکراسي بنده ګان اخلي د بنده په بنده ګۍ یې تړي او اسلامي نظام

(c) ketabton.com: The Digital Library


غوارړي خلک د داسې غلامۍ او د بنده د بندګۍ څخه د الله رب العالمين بندګۍ طرف ته سوق کړي که هغه پاکستان کې دی او که افغانستان کې دی او یا د نړۍ په هر ګوټ کې دی، طالب خو اسلام ته شاه کړې ده، ځکه يې دا مسؤليت او وظيفه خوښې کړه او د بين الملل څوکيداري يې شروع کړه، د هغوی په فيصلو باندې راضي شول، هغوی ته په احترام قايل دي او هغوی هم اونۍ په اونۍ دوی ته د خپلې چوکيدارۍ لپاره معاش ورکوي.

**مجاهدينو ورونو!** استعمار او نتيجه د استعمار چې هغه د سيکولر نظام قايمېدل دي او بيا استقلال اخيستل په دې باندې موږ او تاسې خبرې وکړې، په دې پوهه شو چې پنځه استعماره چې پنځه نتيجې ورباندې مرتب کيږي او پنځه سيکولر نظامونه فعاليږي، او له دې استعمار څخه بايد ته پنځه استقلاله تر لاسه کړې، چې بيا ته په هغې سيکولر نظام کې (سرحدات چې ورته کفارو تعيين کړې دي) دا دعوه کولای شې چې ما استقلال ترلاسه کړی.

د اقتصادي استعمار نتيجه دا ده چې سيکولر اقتصاد حاکمه شي او بيا اقتصادي استقلال هغه وخت تاسو تر لاسه کولای شئ چې سيکولر اقتصاد سره مبارزه وکړئ تر څو دا ړنګ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د نظامي استعمار په صورت کې اشغال او ديکتاتوري رامنځ ته کيږي او بيا نظامي استقلال دا دی چې د اشغال سره مقابله وکړې او اشغال په کامله توګه ختم کړي او له منځه يې يوسې، دجهاد او قتال له لارې دښمن ذليله کيږي او له منځه ورل کيږي، د سياسي استعمار نتيجه دا ده چې په دې سره ډيموکراسي اوسيکولر نظام قائميږي، سياسي استقلال هغه وخت ترلاسه کولای شو چې د ديموکراسۍ او سيکولريزم ارکان او اساساتو سره مبارزه وکړو.

د ثقافتي استعمار په پايله کې سيکولر نصاب او تعليم حاکميږي د ثقافتي استعمار څخه استقلال ته هغه وخت تر لاسه کولای شې چې د سيکولر نصاب او سيکولر تعليم سره مبارزه وکړې، د اجتماعي استعمار په نتيجه کې سيکولر فرهنګ، هنر او بد اخلاقي حاکميږي او هغه وخت ته کولای شې چې اجتماعي استقلال واخلې چې ته د سيکولر فرهنګ، هنر او فحشا سره مبارزه وکړې.

خوشې په بغارو باندې استقلال نه تر لاسه کيږي تر څو مو چې د پوره پنځه ډوله استعمار سره مبارزه نه وي کړي او د پنځه ډوله استعمار په نتيجه کې چې کوم پنځه سيکولر نظامونه قايميږي، هغه رنګ شوي نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله اصطلاح د استقلال ده چې دا کلمه به هم تاسې ډېره اورېدلي وي چې دا هم نن سبا طالبان تجلیلوي، جشنونه کوي چې موږ له امریکا څخه استقلال اخیستی، یا تېر نظام هم داسې درواغجن استقلال نمانځلو، تش په نامه علماؤ (علماء سوء) هم او ځینې د استقلال د مانا څخه نا خبره خلکو ورته چکچکې او نڅاوې کولې، چې موږ استقلال اخیستی.

اوس راځو د اللهﷻ په توفیق سره په دې هم یو تحقیقي بحث کوو چې استقلال څه ته وایي؟ او څه وخت استقلال اخیستل کیږي؟ په سیاست کې استقلال څه مانا لري؟ ځکه دا د استقلال کلمه دا یوه سیاسي اصطلاح ده او دا باید د سیاست په علومو کې تشریح شي او د استقلال اصول او ضوابط باید سیاست واضح کړي، چې استقلال یعنې څه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# استقلال / خپلواکي

**استقلال:** د نورو نظامونو له مداخلې پرته د تصميم نيونې خپلواکي ته استقلال وايي.

طالب ځخه تاسې پوښتنه وکړئ چې د کفارو او مرتدينو له مداخلې پرته په کومه موضوع کې تاسې تصميم نيولی، تاسې په کوم دليل خپل استقلال نمانځئ، په نظامي، سياسي، تعليمي، اقتصادي ... کومه برخه کې تاسې په مستقله توګه د تصميم نيونې آزادي لرئ؟

دوراني شکل سره د بين الملل کارمندان هرې ادارې سره مو روزمره ملاقاتونه نلري ؟ دا د څه لپاره دي، ښکاره خبره ده چې ستاسو د نظارت لپاره په منظم شکل باندې په نوبت سره هره اداره مو چک کيږي.

په يوه برخه کې هم آزادي نه لرئ، خو بيا نارې د استقلال وهئ، وايې چې زه نظامي آزادي لرم، دا شپه او ورځ ستا په سر چې قسما قسم طيارې ګرځي، آيا دا استقلال دی؟ چې هر ځای کې وغوا‌ړي عمليات کوي، آيا اونۍ کې يو وار د استعمار الحمايه لاسليک شوی تړون، کفارو ته نه زمزمه کوئ؟

که ته وايې چې زه فرهنګې استقلال لرم، نن په مکتبونو او پوهنتونونو کې کوم نصاب تدرسيږي؟ آيا همغه نصاب نه دی چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library


تېر سيکولر نظام کې تدريس کېده؟

هماغه د سيکولريزم په آخور رالوي شوې استادان اوس هم پوهنتون کې تدريس نه کوي؟

هغه سابقه نيکتايي داره په غرب کې تربيه شوي استادان خو په خپل ځای اوس پاتې دي، ملا نديم مو د نړۍ کفارو ته هم دا پيغام ورکړ چې زموږ کدرونه تربيه کړی او د اشرف غني په څېر ملحدين امارت ته هم تربيه کړئ او راشئ مونږ ته پوهنتونو کې تدريس وکړئ، عجيبه استقلال دی .

د نړۍ غليظه کفارو نه طمع لري چې راشي او د دوی اسلامي نظام ته د اسلام په روحيه کدرونه تربيه کړي! دا شو د طالب عقل او منطق.

او که دوی دا دعوه لري چې زه په اقتصاد کې استقلال لرم، ته وګوره هماغه سودي بانکونه نن هم خپل کار پرمخ نه وړي کومو چې جمهوريت کې فعاليت کاوه؟ هېڅ بدلون يکې نه کتل کيږي.

**طالبه!** په هېڅ صورت او په يوه برخه کې هم استقلال نه لرې، په سياست کې استقلال دا دی چې دومره اختيار ولرې چې خپل امور اداره کړې، پرته د نورو طرفونو له مداخلې په آزاد شکل خپل پرېکړه ونيسې، آيا يقيني طالبان دومره اختيارات لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې بيا خپل استقلاليت نمانځي!

تاسې وګورئ، چې د دوی ادارې څوک کنټرولوي، آيا آي ايس آي (ISI)، روافض او نور مرتدين يې نه کنټرولوي؟

آيا هغوی سره استخباراتي تړونونه او همکاری نلري؟

طالبه د نوروخلکو په سترګو کې خو خاورې شيندې خو موږ ته مو حال معلوم دی چې څنګه مرتدو روافضو او د پاکستان مرتد استخباراتو سره اړيکې لرئ او څنګه يو بل ته استخباراتي معلومات پاس کوئ.

او اوس خو يې رسمي کفارو ته خپل شيطانت او منافقت باندې اعتراف وکړ چې څومره يې هغوی ته چاپلوسي کړې او د مجاهدينو معلومات يې ورسره شريک کړي دي الحمدلله دې کار سره نور هيڅ هم په لاس نه ورځي مګر چې خپل اصليت چې هغه مليشتوب او د کفارو په نيابت مسلمانانو سره جګړه دی ښکاره کوي.

او ټولې ادارې يې له نورو طاغوتي او کفري، بشري، مالي او نورو سرچينو څخه چليږي او کنټروليږي.

## ورونو!

زموږ او ستاسې استقلال د ورځی نمانځل به هغه وخت وي چې د اسلام دين خالص د الله لپاره شي، د هر قسمه دښمن د استعمار څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library


يې اوباسو، ټوله اسلامي خاوره آزاده کړو، اسلامي سرحدات بېرته ترلاسه او دفاع يې وکولای شو، کله مو چې په ټولو امورو کې شريعت تطبيق کړ، قرآن حاکم او قوانين يې نافذ شي، بيا موږ د استقلاليت دعوه کولای شو، ځکه د اسلام دين يو مستقل دين دی. رسول الله ﷺ به په بار بار دا دعا کوله:"چې يا الله د بيت المقدس څخه قبله د کعبې په طرف واړوه"حتا په قبله کې د محمد ﷺ امت مستقل دی.

استقلال هلته رامنځته کيږي چې هغه ځای استعمار شوی وي او ته ترېنه استقلال حاصل کړې، بيا په هغه وخت کې ته دعوه د استقلال کولای شې چې کله دا پنځه دولې استعماره ته له منځه يوسې.

آيا طالبانو په حقيقي دول په دې پنځو برخو کې چې دا خاوره يې استعمار کړې وه او اوس پنځو واړو بخشونو کې دوی استقلال اخيستی؟

نه هېڅکله نه، حتا په يوه برخه کې هم استقلال نه لري.

طالبانو د تش په نوم استقلال نمانځلو سره دا هم وښوده چې دوی د نړۍ د مسلمانانو څخه برائت اعلان کړ، ځکه استقلال هغه وخت اعلانيږي چې ستا ټول اهداف تر لاسه شي، څه چې تاسې غوښتل هغه تر لاسه کړئ، نو بيا د استقلال دعوه کولای شې، ځکه نو ملا حسن يې وايي: "نور چيشي غواړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو هر څه مو تر لاسه کړي کنه، نور چيشي غواړئ؟"

طالبانو دې کار سره د نړۍ ټولو مظلومو مسلمانانو څخه برائت او د نړۍ کفارو سره په ځانګړې ډؤل بين الملل سره يې د خپل يووالي تړون او پيوستون اعلان کړ، دا خوښي يې وښوده چې ستاسې له لوري د ځمکو وېش هم راته د منلو وړ دی او ستاسې په کفري ملت کې د شاملېدو ټول شرايط مو نه يواځې دا چې منلي، بلکې عملي کړي مو هم دي، نو چې هر څنګه وي اوس ستاسې د ملت يو جزء يو، په رسميت مې وپېژنئ او ستاسې د ټولو د امنيت ساتنه، ستاسې له لوري راسپارل شوي اصول او نور ټول ماموريتونه په درست شکل ترسره کوم.

موږ مخکې په دې تفصيلي بحث وکړ چې طالب په دوحه کې داسې ذلت او د تاريخ پستي او تنازل ومانه چې نور ترېنه د خير طمعه محال ده، دوی اوس د کفر د ملت يوه عضوه وګرځېدل او په خپل عمل يې ثابته کړه چې دوی له ايمانه خلاص او د کفر په ملت کې شامل شول، اوس دوی د اسلامي ارزښتونو د ساتلو او پاللو په ځای د بين الملل د کفري اصولو د پلي کولو او عملي کولو سرلارې دي، نور دوی د اسلامي امت په خبر نه، بلکې په زيان يې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**سوال : د اسلام په سیاسي نظام کې کله د استقلالیت دعوه کولای شو؟**

**جواب:** هغه وخت دا دعوه کولای شو او زموږ دا دعوه به رښتینې وي چې ټوله اسلامي خاوره آزاده کړو، ټولې اسیرې خویندې او ورونه را آزاد کړو، جهاد له فرض عین څخه فرض کفایي ته واوړي او کفار جزیې ورکولو ته اړ کړو،اسلام بېرته تېر برم، عظمت او عزت ته ستون کړو، د اقصی، اندلس او شرقي ترکستان په شمول ټول یرغمل شوې اسلامي خاوره آزاده شي او پرې یو اسلامي مستقل نظام (خلافت) قایم شي،د اسلام مځکنې سرحدات بیا معلوم او مشخص شي، د اسلام رعیت په ډاګه او د دفاع خبره یې مطرح شي، کفار مرعوب او قانون یې ذلیل او باطل اعلان شي، فیصلې د اسلام په قوانینو وشي، اقتصاد، سیاست، تعلیم، دا ټول نظامونه مستقل او د مسلمانانو په واک کې شي، اسلامي امت یو لښکر، یو قوت ولري، لومړۍ قبله مو له یهودو آزاده او کفار مو ذلیله کړې وي، د جزیرة العرب څخه د یهودو ویستلو کې د رسول الله ﷺ وصیت پوره کړو نو دغه وخت بیا د استقلال دعوه کولای شو، دغه وخت به بیا اسلامي امت د استقلال نمانځنه کوي که نه اوس داسې نمایشي او کاغذي استقلال چې د کفارو د استعمار الحمایه ترون په نتیجه کې رامنځ ته شوی وي، نو دا آزادي او استقلال صریح کفر، غلامي او مزدوري ده،چې له دې ذلت څخه الله رب العالمین ته پناه وړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# سیکولریزم

د سیکولرزیم منشاء اصل کې یهودو ته رسیږي چې کله هم دوی عیسویت سره مقابلې لپاره سوچ وکړو نو د خلکو تیار ذهن او فکر د کلیسا نه په تنګ شوی وه، یهودو د همدې موقع نه په استفاده داسې یوه نظریه یې وړاندې کړه چې باید دین د سیاست، ژوند، تعلیم، اجتماع او مال نه جلا وي .

سیکولریزم د دین او سیاست د جدایی په مانا دی، وایي دین باید د سیاست څخه جدا وي، بیا د اقتصادي استعمار په نتیجه کې سیکولر اقتصاد حاکمیږي، مانا دا چې اقتصاد د دین څخه جدا دی، د سیکولر تعلیم مانا دا ده چې اسلام د تعلیم او نصاب څخه جدا دی او تعلیم دین سره کار نه لري،سیکولر سیاست کې د سیکولریزم(دیموکراسی) مانا دا ده چې دین د سیاست څخه جدا دی، د سیکولر ټولنې مانا دا ده چې له فرهنګ، اخلاقو، ادب او نورو اړخونو سره د اسلام کوم کار نشته، دا ټول باید له اسلام څخه لرې او جلا وي، یعنې دین به د چا په ژوند کې کار نه لري چې هرڅه کوي شخص ته به آزادي وي، نو په همدې اساس تاسې فقط د سیکولریزم څخه به دا تعبیر نه کوئ چې دین د سیاست څخه جدا ګڼي، سیکولریزیم یواځې د سیاست څخه د اسلام جلا والی نه غواړي، بلکې د ژوند له نورو چارو او

(c) ketabton.com: The Digital Library


امورو که هغه تعلیم، شخصي ژوند، اجتماعي ژوند او که نور اړخونه دي، دغه ټول باید له دین څخه جلا وي، په دې هېڅ کې باید اسلام داخل نه وي، په چا به زور نه وي که څوک هر قِسم او په هر ډوّل ژوند کول وغواړي ورته اختیار دی، همدا د سیکولریزم کامله مانا ده.
کله چې وایي دین د تعلیم او نصاب سره اړیکه نه لري، مانا دا چې په تعلیم او نصاب کې دین کوم رول نه لري، ځکه نو دین په ځینې تعلیمونو باندې پابندي لګولې ده، چې هغه علم نجوم، د جادو وغیره علوم دي، یا هر هغه تعلیم چې د اسلام سره په ټکر کې وي دین ورته اجازه نه ورکوي، خو سیکولریزم درسره دا خبره نه مني.

## راځئ په دې اړه یو څه معلومات ترلاسه کړو چې سیکولریزم څنګه رامنځ ته شو؟

کله چې مسیحیت تحریف شو کلیسا او پاپانو دا په یو دیکتاتوري نظام بدل کړی و، د ژوند په ټولو چارو کې یې مداخله کوله او خلک ترېنه تنګ شول، نو په دې وخت کې دا عقیده او دا قانون رامنځ ته شو چې دین باید د سیاست، تعلیم، اجتماعي ژوند او مالي سیستم سره کار ونه لري، نو خلک چې د دوی څخه تنګ شوي وو د کلیسا، مسیحیت او پاپانو څخه یې مخ واړاوه او د سیکولریزم آزادۍ ته یې مخه کړه چې هلته د پاپانو د اقتصادي درنو بوجونو څخه یې ملاوې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ماتې وي، دلته په سیکولریزم کې د خپل اقتصادي او خپل اجتماعي ځانګړې آزادۍ خاوندان شول.

هغه پابندي چې د تعلیم په برخه کې کلیسا لګولې وه خلک ترېنه تنګ شول، نو خلکو سیکولر تعلیم ته مخه کړه چې دین به د تعلیم سره کار نه لري، دا چې سیکولریزم منځ ته راغی، دا ټول د کلیسا او د تحریف شوي مسیحیت د افراطیت نتیجه وه، په هره برخه کې دوی تشدد شروع کړی وو، هر څه یې کلیسا ته خاص کړي وو، په هره برخه کې خلک د کلیسا د دیکتاتورۍ لاندې وو، چې آخر هم خلک د کلیسا د روزمره فرمایشونو څخه چې د دین په نوم یې په خلکو تحمیلول، ترې په تنګ شول او سیکولریزم ته یې مخه کړه او د کلیسا مقابله یې شروع کړه چې دین باید زموږ د ژوند څخه جدا او د ژوند په امورو کې نوره مداخله ونه کړي، دین باید له سیاست، اقتصاد، تعلیم، فرهنګ هر څه جلا وي، د دین سره د مبارزې تهداب سیکولریزم ایښی دی، سیکولریزم په همدې فکر اعلان شوی چې د دوی مبارزه به د دین سره وي، لکه څنګه چې موږ په اسلام کې دیني درس ورکوو، دغه شان په سیکولریزم کې د بې دینۍ درس ورکول کیږي، لکه څرنګه چې موږ خلک د فحشا او بد اخلاقۍ څخه منعه کوو، په سیکولریزم کې خلک فحشا او بد اخلاقۍ طرف دعوتیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د سیکولریزم حامیانو خلکو ته اعلان وکړ چې د دین په نوم د کلیسا دیکتاتوري قبلوئ او که عام او تام آزادي غواړئ؟ خلک چې د کلیسا د انحصار او فرمایشونو څخه پوزې ته راغلي وو، نو په ډېر شوق او منډه یې سیکولریزم غوره کړ.

زموږ د اسلام مبارک دین سیکولریزم ته ضرورت نه لري، بلکې سخت ورسره په ټکر کې دی، سیکولریزم د کلیسا د دیکتاتور مالي نظام په مقابل کې خپل اقتصاد رامنځ ته کړ. همدا شان یې د کلیسا د دعوت او تعلیم په مقابل کې خپل سیکولر تعلیم رامنځته کړ، خلاصه دا چې سیکولریزم د ژوند د ټولو امورو څخه د دین جدایي غواړي.

د اسلام سپېڅلی نظام نه دیکتاتورانه او نه دیموکراتیک نظام دی، دیکتاتوري خو ټول ظلم او زور دی، مطلق امر کوي او دیموکراسي بیا ټول صلاحیت خلکو ته ورکوي، چې د خلکو څه خوښه وي هغه دې کوي، بل طرف دیکتاتورۍ کې د انسان څخه ټوله آزادي اخیستل کیږي که هغه انفرادي آزادي وي او یا اجتماعي او په دیموکراسۍ کې بیا انسان ته ټول صلاحیت او آزادي ورکول کیږي، انسان پوره آزاد دی چې څه یې خوښه وي هغه دې کوي کومه پابندي پرې نشته.

په اسلام کې انسان ته په اجتماع کې تر خپله حده اجازه او آزادي ورکول شوې، معلوم حدود لري چې له هغې څخه به سرغړونه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library


کوي.

د سيکولريزم اول کار هغه دا و چې په تعليمي برخه کې يې د عقيدې تحريف وکړ، د سيکولريزم تعليم او نصاب لومړی دښمني د اسلام د مقدس دين د تعليم او نصاب سره اعلان او خپله مبارزه يې شروع کړه، لومړنی کار يې د عقيدوي آزادۍ په نوم د عقيدې په تحريف شروع وکړه، کله چې دوی د توحيد په عقيده کې تحريف شروع کړ، ددې په نتيجه کې نورې باطلې ډلې راپيدا شوې چې لومړۍ باطله ډله هغه ډله او فرقه د تصوف ده چې د ترکيه په هېواد کې يې ډېر رشد وکړ او له هماغه ځايه يې سر راپورته کړ.

**يو ورور پوښتنه کړې وه، ويلې يې و چې: د تبليغيانو ډله د سيکولريزم سره څه ارتباط لري او که نه؟**

دا ټولې ډلې او ټپلې چې په دين کې نوې راپيدا شوي، دا د همدې سيکولرانو د هڅو په نتيجه کې رامنځته شوي، څوک چې د عقيدې آزادۍ ته قائل دي په حقيقت کې بې دينۍ ته قايل دي، د سيکولريزم يو، يو صنف او ټولګی په همدې بنياد دی چې خلک په رسمي توګه بې دينۍ ته دعوت کړي او دوی ته بې ديني زده کړي .

د الولاء والبراء عقيده چې مسلمانانو په زړه کې کفارو سره د دښمنۍ اساس تشکيلوي، نو سيکولريزم دا اساس را ړنګ کړ، دا عقيده يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بشري حقوقو او بشري مرستو او مدني حقوقو او انساني همدردۍ او له هر څه مخکې انسانیت په شعارونو تحریف او د مسلمانانو له زړونو وویستله، سوله ییز ژوند، کفارو سره راشه درشه، هغوی سره معاملات او تعاملات دا یې رایج او عادي کړل او په همدې پلمو نومونو او شعارونو یې د مسلمان او کافر ترمنځ توپیر ختم کړ او ټول یې د یو انسانیت په نوم د سیکولریزم په آخور وتړل او د همدغه آزادیو او شعارونو څخه زیږېدلي مواد او موضوعات په هغه دولتونو کې چې سیکولر نصاب په کې چلېږي، تطبیقیږي او تدریسیږي، نو هلته غرب په دې نوم مرستې هم کوي (بشري او انساني مرستو په نوم) په همدي نوم د مؤسساتو او نورو استخباراتي ادارو په مرسته خپل منظم پروګرامونه مخې ته وړي او دا مرستې ټول د همدې سیکولر تعلیم او نصاب د تقویې په هدف ترسره کیږي، خو چې د خلکو فکرونه تاو کړي، نو نور نومونه ورکوي، لېکن متأسفانه چې مسلمانان د دې حقایقو څخه خبر نه دي او دې مرستو ته خوشحاله دي، دا چې طالبانو ته هره جمعه په میلونونو ډالر راروان دي، د همدې په خاطر چې نصاب چېرته تغییر نه کړي که همدا نن طالب په رسمي ډول اعلان وکړي چې سیکولر تعلیم او نصاب بند شو، نو دا غربیان به بیا یوه روپۍ هم نه ورکوي، اوس د مکتبونو د معلمینو

(c) ketabton.com: The Digital Library


تنخوا ولې همدا موسسات ورکوي؟ ولې يې نورو مامورينو ته نه ورکوي؟ وجه همدا ده کنه چې غربيانو ته دا برخه چې د سيکولر نصاب برخه ده ډېره مهمه ده، ځکه چې د دې لارې په فکرونو باندې کار کيږي، پوره نسلونه روزي.

**ځکه الله ﷻ فرمايي:** ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاء تُلْقُونَ إِلَيْهِم بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُوا بِمَا جَاءكُم مِّنَ الْحَقِّ يُخْرِجُونَ الرَّسُولَ وَإِيَّاكُمْ أَن تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ رَبِّكُمْ إِن كُنتُمْ خَرَجْتُمْ جِهَادًا فِي سَبِيلِي وَابْتِغَاء مَرْضَاتِي تُسِرُّونَ إِلَيْهِم بِالْمَوَدَّةِ وَأَنَا أَعْلَمُ بِمَا أَخْفَيْتُمْ وَمَا أَعْلَنتُمْ وَمَن يَفْعَلْهُ مِنكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاء السَّبِيلِ﴾ [الممتحنه 1]

**ژباړه: اې ايمان راوړنکو! که تاسې زما په لاره کې د جهاد کولو لپاره او زما د رضا ګټلو لپاره (وطن پرېښې او له کورونو څخه) وتلي یاست نو زما او ستاسې دښمنان خپل دوستان مه نیسئ، تاسې له هغوی سره دوستانه اچوئ، په داسې حال کې کوم حق چې تاسې ته راغلی دی، د هغه له منلو څخه هغوی انکار کړی دی، او د هغوی چلند دادی چې پیغمبر او پخپله تاسې په دې ګناه له وطن څخه وباسي چې تاسې په خپل رب باندې ايمان راوړی دی، تاسې په پټه هغوی ته دوستانه پیغامونه مه لیږئ، په داسې حال کې څه چې تاسې په پټه**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**کوئ او څه چې تاسې په ښکاره کوئ، په هر څه زه پوهېږم، هر څوک چې ستاسې څخه داسې وکړي هغه په یقیني توګه له سمې لارې څخه بې لارې شو.**

**ورونو!** تاسو خپله فکر وکړئ چې سیکولر تعلیم لپاره څومره زمینه مساعده شوې ده، آیا همدومره زمینه اسلامي تعلیم ته مساعده ده؟
په بل تعبیر، دومره خنډونه چې د اسلامي تعلیم د زده کړې مقابل کې جوړ شوي دي آیا د سیکولر تعلیم مخته کوم خنډ شته دی؟
یا هم که داسې ووایو دومره د مصارفو برداشت او پرداخت چې د سیکولر نظریې د نشر لپاره کیږي، آیا د اسلامي فکر د نشر لپاره هم همدومره مال په مصرف رسیږي؟
رادیو، تلویزون، انترنت، سینما، ورځپاڼې، مجلې او مختلف د جنسي مسایلو **څخه** ډک د کیسو او ناولونو مصارف وسنجوه بیا درته پته لګیږي چې یو ځوان به کومه فکره آسانه تر لاسه کړي.
تل هڅه شوې ده چې اسلامي فکر همداسې سینو کې پټ وساتل شي، ځکه نو کله بیا په **جوش** راشي او انسان مجبوره کړي چې اسلحې ته لاس یوسي.
**ورونو!** سیکولریزم هر څه د هغې چشمو څخه ګوري چې دوه قالبه لري، یا دوه قِسمه شیشې لري، یو قالب یې یو شی د خپل اصل څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډېر لوی ښکاره کوي او بل قالب یې یو شی د خپل اصل څخه ډېر کوچنی ښکاره کوي، نو په همدې اساس سیکولریزم د راتلونکي لپاره یو حقیقي دید نه لري، یو شی ته به ډېر پورته په افراط کې واقع کیږي او یو شي ته به ډېر ټیټ په تفریط کې واقع کیږي.

دلته سوال مطرح کیږي چې سیکولریزم خو لومړی د مسیحیت د تحریف شوي بڼې او د کلیسا د پاپانو د وحشتونو په غبرګون کې مبارزه شروع کړه اوپه همدې بنیاد رامنځ ته شو، نو اسلام سره یې د دښمنۍ وجه څه ده او اسلام سره یې ولې دښمني پیل کړه؟

**جواب:** دا دی چې سیکولریزم وايي، اسلام تر ډېره په غیبو د ایمان خبرې کوي او د سیکولریزم هره ادعا په عقل او علم باندې ولاړه ده، د سیکولریزم اصلي مرجع هغه عقل او علم(تجارب) دی، لېکن د اسلام اصلي مرجع هغه (وحي، علم او عقل) دی، د سیکولریزم مبارزه د اسلام سره هغه په ما انزل الله باندې ده، هغې ځای کې درسره دا ما انزل الله مني چې علم او عقل سره په ټکر کې نه وي، یعنې باید د علم او عقل تابع وي، له دې اخوا یې درسره نه مني، لېکن عقل په اسلام کې یو خاص ځای لري، شراب ولې اسلام حرام کړي؟ ځکه چې په عقل ناوړه تاثیر کوي، د عقل د حفاظت لپاره اسلام هر هغه شی حرام کړی چې هغه نشه راولي، سیکولران سره د دې چې د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library


سیکولریزم مرجع عقل ګڼي خو بیا هم د عقل د تخریب په خاطر د شرابو چاټې تشوي، خپل عقل د ورځې څو ځله د لاسه ورکوي، بیا وايي زموږ معیار چې دی هغه عقل دی، د عقل د تباهۍ لپاره الکولیات او مشروبات څښي او نور نشه یي توکي کاروي او بیا په اسلام اعتراض کوي، چې اسلام عقل ته ارزښت نه ورکوي، اسلام ته ګوره چې د دغه موادو د استعمال، خرڅول، اخیستل هر څه یې حرام ګرځولي او استعمال کوونکي ته یې جزا ټاکلې، په دې خاطر چې له اضرارو یې عقلونه خوندي شي او سیکولریزم یې د استعمال لپاره تبلیغات کوي او د دې جوړولو کمپنیو ته یې د تولید لپاره اجازې ورکړې.

نو د سیکولریزم مبارزه اسلام سره په همدې **ما انزل الله** باندې ده، که دا ما انزل الله په اقتصاد، سیاست، تعلیم، اجتماع او که قانون او اصولو کې وي، اول یې درسره نه مني، خپل عقل او منطق جنګوي او که بیا یې درسره ومني هم، هغه وخت یې درسره مني چې د عقل او خواهش خلاف نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د سیکولریزم تعریف:

سیکولریزم یو منظم حرکت دی چې د یوې ځانګړې طرحې او برنامې په شکل او اساس د خلکو پام، سوچ او فکر د آخرت د ژوند څخه راګرځوي او دنیاوي ژوند پورې یې تړي.

په ځینو کتابونو کې بیا سیکولریزم هغه یواځینۍ نظریه ګڼل کیږي چې دین له تعلیم څخه جلا ګڼي، سیکولریزم په ټولو اهدافو کې ډېره توجو او تمرکز په تعلیم لري.

### ورونو!

هر هغه سیاسي نظام چې وایي دین د سیاست سره کار نه لري، هر هغه تعلیمي نظام چې وایي د دین د تعلیم سره کار نشته، هر هغه ټولنیز نظام چې وایي دین د ټولنې سره کار نه لري، هر هغه ثقافتي او فرهنګي نظام چې وایي د دین د ثقافت او فرهنګ سره کار نشته او هر هغه نظام چې وایي د دین د اقتصاد او مال سره کار نشته، همدا ټولې د سیکولریزم نظریې او په حقیقت کې د اسلام په ضد دي، اسلام او سیکولریزم سره اور او اوبه دي، هېڅکله د یو ځای کېدو امکان نه لري، دا چې اسلامي جمهوریت نومونه ځینو طاغوتي هېوادونو خپل ځان اسلامي ګڼلو په خاطر ایښي، دا خپل عوام دوکه کوي، دا داسې مانا لري لکه اسلامي کفر، یعنې سیکولریزم او اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا هېڅکله یو ځای کېدای نشي.

مخکې مو چې په کومو موضوعاتو بحث وکړ، الله دې وکړي چې تاسې ته روښانه شوې وي او یوه انګېزه مو ترې اخیستې وي ترڅو آینده کې تاسې همداسې درسونه وکړئ، دا ویده او غافله ځوانان راویښ شي او د حقیقي اسلامي نظام د قیام خدمت ته ملا وتړي، په اکثره خلکو کې چې سستي او ضعف پیدا شوی، د اسلام سیاسي نظام ته خدمت، فعالیت او هېڅ ډول فکر نه کوي، یا ځان بې خبره نیسي، یا ځان د اسلامي نظام نه داسې نیسي چې بیخي ورسره چپ وي، داسې فکر به کوي چې د اسلام دا سیاسي نظام د ده د تربورانو نظام دی، بیخي ورباندې د دې نظام نوم بد لګیږي، داسې فکر کوي که د اسلام سیاسي نظام حاکم شي نو له ده به ټول حقونه وتړي، د دې ټولو یو علت دا دی چې دغه راز خلک د اسلام د سیاسي نظام په اصولو او اهدافو سم نه پوهیږي، نه پرې ځان پوهوي او نه ورسره په دې اړه د ځان پوهولو کومه انګېزه شته، نو که یو څوک په یو شي نه پوهیږي، نو څنګه به یې خوښ کړي، نو دلته زموږ او ستاسې همدا مسؤلیت جوړیږي چې د اسلام د سیاسي نظام په اړه خلکو ته داسې یوه انګېزه او مفکوره ورکړو چې هغوی بیا خپله په دې اړه تحقیق وکړي، ځان مکمل په دې نظام پوهه کړي په نتیجه کې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library


خلک به خپله پوهه شي چې د اسلام سیاسي نظام یو داسې نظام دی چې د تطبیق وړ، د ټولو خلکو حقوق خوندي، امن، تعلیم، مینه، سکون، خوشحالي او هم په کې د دواړو جهانونو کامیابي ده.

نو موږ او تاسې ته لازمه ده چې د اسلام د سیاسي نظام دا ټول اړخونه ښه تشریح او توضیح کړو تر هغه وخته باید موږ په مختلفو ډګرونو کې مبارزه وکړو.

## ورونو!

زموږ د دورې هدف همدغه دی، چې تاسې ته فقط یوه مفکوره درکړو، تاسې داسې یوه انګېزه پیدا کړئ چې د خپلې مبارزې هدف وپېژنئ او د خپلې مبارزې د جزء جزء په اهمیت پوهه شئ او په دې هم پوهه شئ چې دښمن ستا د اهدافو له منځه وړلو لپاره ځومره په دقت او سرعت کار کوي، د دې اهدافو له منځه وړلو لپاره یې ځومره دقیقه نقشه طرحه کړې، خو په مقابل کې که موږ او تاسې په مبارزه بوخت یو، خو د خپلې مبارزې په اهدافو چې پوهه نشو، نو بیا موږ ته مقابله سختیږي.

د خپل هدف څخه پوره ځان نه خبروو، په دې اړه دقیقه برنامه ریزي نه کوو، خو په مقابل کې زموږ دښمن په دې هر څه له موږ څخه ډېر پوهه وي، هغې ته ستا د هدف هر اړخیز معلومات وي، نو په خلاف

(c) ketabton.com: The Digital Library


به یې هماغسې پلان هم جوړوي، د دې هدف له منځه وړلو لپاره یې پیړۍ پیړۍ کار کړی او پلان یې نیولی، نو دا خبرې څېړل او خلک پوهول غواړي تر څو په هره برخه کې دښمن ته کلک ګوزار ورکړو، د اسلام د سیاسي نظام په اړه باید موږ او تاسې په هره برخه کې پوره تحلیل، تحقیق، په دې اړه دورې، تدریس او بیانات وکړو همداسې کتابونه او مقالې ولیکو او دا موضوع دومره وشاربو چې بیخي یې عامه او ساده کړو، چې هر چاته ورسیږي، هر څوک د اسلام د سیاسي نظام په اړه پوه شي او یا که پوهه نشي، حد اقل دا فکر خو ورسره پیدا شي چې په دې اړه خپله لاس په کار شي مطالعې او معلوماتو ته لاس رسی پیدا کړي او بیا نو په همدې تراو موږ او تاسې ښه پوره مواد ذخیره کړې وي تر څو ترینه خلک مستفید شي.

دغه د ټولو کفارو منافقینو، مرتدینو،د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ د دښمنانو دا ټولې سعې او هڅې، مصارف او پلانونه او په هره برخه کې دومره ستړیاوې د همدې لپاره دي، چې د اسلام سیاسي نظام باندې څوک پوهه نه شي او د اسلام سیاسي نظام حاکم نشي، بیخي د حاکمېدو زمینه سازي ورته ونشي، له هرې لارې چې کېدای شي بدناموي یې، او مخه یې نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قال تعالى: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِنْ دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْآيَاتِ إِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُونَ﴾

ژباړه : اې مؤمنانو! له خپلې ټولنې له وګړو څخه پرته له نورو سره خپل رازونه مه وایاست، هغوی ستاسې د ورکولو د هېڅ یو فرصت څخه ګټه اخستل له لاسه نه ورکوي او تاسې ته چې په هر څه زیان اوړي د هغوی خوښیږي، د هغوی د زړه دښمني له خولې څخه راوځي او څه چې هغوی په خپلو سینو کې پټ ساتلي دي، هغه له دې څخه زیات دي، موږ تاسې ته په ډاګه څرګنده لارښوونې کړې دي، که تاسې پوهه لرئ نو له هغوی سره به په ارتباط ساتنه کې له پاملرنې کار واخلئ .

قال القرطبي: نهى الله عزوجل المؤمنين بهذه الآية أن يتخذوا من الكفار واليهود وأهل الأهواء دخلاء ووُلَجاء، يفاوضونهم في الآراء، ويسندون إليهم أمورهم)

ژباړه: قرطبي: ویلي دي: الله ﷻ مؤمنان په دې آیت سره له دې څخه منع کړي دي چې کافران، یهودیان او خواهش پرسته خلک په خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library


**کارونو کې داخل کړي چې په مسائلو کې ورسره مشوره کوي او هغوی ته خپل کارونه حواله کوي.**

**ورونو!** د فکري جګړې په میدان کې دښمن ډېر کار کړی او کوي يې چې کلونه کلونه وروسته هم مسلمانان د اسلام د سیاسي نظام په حاکمیت ونه توانيږي.

د نظامي جګړې په لړ کې خو دربانديې ځکه يرغل کوي چې زخمي او بندي دې کړي، ودې ځپي او ښه دې در په دره کړي تر څو ته د دې توانايي پيدا نه کړې چې د اسلام سیاسي نظام حاکم کړې، د فکري جګړې په لړ کې هم دوی په دې بوخت دي، په مختلفو ډګرونو کې په دې کار کوي چې د اسلام د سیاسي نظام تصور د خلکو له ذهنونو څخه لرې کړي، د تعليم، ژورناليزم، دعوت، ادب او فرهنګ، تفريح لوبو او نورو ټولو برخو کې کفارو په همدې سرمايه ګذاري کړې ده چې د اسلامي امت ځوان نسل بيخي د اسلام د سیاسي نظام په اړه فکر کولو ته اوزګار نشي او ټوله هڅه يې دا هم ده چې څنګه د اسلام د سیاسي نظام رنګ بد او بدل کړي، خلکو ته د اسلام سیاسي نظام په مختلفو شکلونو وروپېژني، د تېرو زړو پېړيو يو نه تطبيقېدونکی، د عصر د پرمختګونو سره نه جوړېدونکی او لنډه دا چې بيخي د يو نظام په شکل نه منونکی يې معرفي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دې هدف لپاره دوی په پېرېيو پېرېيو مبارزه کړې او کوي يې، د اسلام په نامه به نظامونه هم راځي او په راتللو کې به يې د همدې امريکا او غرب لاسپوځي وي، همدوی به يې تقويه کوي او ملاتړ به يې کوي، په دې هدف چې هغه به د اسلام حقيقي نظام نه وي، داسې نظام به وي لکه د طالبانو اوسنی نظام چې نوم به يې د شريعت وي، نوره به شنه ديموکراسي او وحشت قايم وي، اوس تاسې وينئ چې امريکا طالبان په څه ډول په افغانستان واکمن کړل او په څومره هنر يې حمايه کوي، طالب مشران دا سمبوليکې نارې هم وهي چې د دوی نظام د اسلام سياسي نظام دی، کشران يې هم ورسره مني، خو دې ته بيا نه ګوري چې آيا کفار چې د اسلام د سياسي نظام د بېخ کندی او مخنيوي لپاره شپه او ورځ خپل مالونه او ځانونه مصرفوي، څنګه ستا د اسلامي نظام د حمايې لپاره هره اونۍ د ډالرو کڅوړې راليږي؟

اوس نو که مونږ خلک د اسلام د سياسي نظام په اصولو، قواعدو، ستراتېژۍ او اهدافو پوهه کړي وي لکه په تېرو برخو کې مو چې پرې بحث وکړ، نو بيا به خلک د اسلام حقيقي سياسي نظام او د طالب يا نورو په لاس د اسلام په نامه حاکمه ديموکراسي واضحه پېژني او په مقابل کې به يې مبارزه کوي، کفار خو دا د اسلام په

(c) ketabton.com: The Digital Library


نامه په اسلامي هېوادونو حاکم طاغوتي نظامونه د همدې لپاره حمایه کوي چې خلکو د اسلامي نظام په نوم منلي، حال دا چې دا نظامونه که له یوه لوري اسلامي نه دي، بل لوري ته د اسلام بدناموونکي دي، نو د کفارو هدف هم همدغه دی چې مسلمانانو ته وښايي چې کوم دی، تاسې چې د اسلام کوم سیاسي نظام غواړئ، دا دی طالبانو حاکم کړی دی، دې کې نو ستاسې د کوم درد او غم علاج وشو، دې کې نو عدالت او د حقوقو تامین چېرته دی، نو لهذا د اسلام، اسلام له نارو تېر شئ او همدا بربنډه دیموکراسي ومنئ، اسلام اوس د تطبیق وړ نه دی، نو ځکه ما او تا ته کلکه ملا تړل په کار دي چې په دې برخه کې کار وکړو.

ورونو د دورې ختم د څو سوالونو په جواب سره کوو ان شاءالله.

**اوله پوښتنه:** سیکولران او غرب پلوه خلک دا اصطلاح کاروي، چې د مجاهدینو جګړه یوه ایډیالوژیکي جګړه ده، ددې اصطلاح مانا څه ده؟ او د دې اصطلاح شاته کوم مفاهیم پراته دي او ایډیالوژیکي اصطلاح په سیاست کې څه وخت راغلې؟

**دوهمه پوښتنه:** د اسلام په سیاسي نظام کې دسولې او تسلیمۍ توپیر څه دی؟

**اولۍ پوښتنې ځواب:**

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورونو کفار تل هڅه کوي چې ځینې اصطلاحات مروج کړي، خو په داسې شکل چې خلکو ته یې فقط د یوې بشرپاله او عادلانه فکر په نوم او یوې اصطلاح په شکل وړاندې کوي، خو په هغې کې پټ بې شمېره کفریات پراته وي.

لکه مثال کې به دیموکراسي راواخلو، دیموکراسي کفارو خلکو ته دومره خوږه کړې چې د ټولو ستونزو حل په دیموکراسۍ کې ویني او دیموکراسي هم اسلام ګڼي، ډېری خلک مسلمانان هم ځان ته وایي او دیموکراسي هم ورته اسلام ښکاري.

تاسې ګورئ چې د دیموکراسۍ تر شا پټ کفري مفاهیم له خلکو پټ ساتل شوي او اسلامي امت ته د یو غوره نظام په حیث او ورته یې اسلامي معرفي کړی، نو ځکه ځانونه مسلمانان هم بولي، خو لګیا دي د دیموکراسۍ په دفاع کې وینه ورکوي.

ایډیالوژي هم همدغسې یوه اصطلاح ده،د ایډیالوژۍ مانا دا ده چې ته پرته له کوم دلیل څخه په یو څه شي باندې عقیده او باور پیدا کړې.

په بل تعبیر: د یوې مفکورې او عقیدې منل پرته له کوم دلیل څخه همدا ایډیالوژي ده، یعنې چې ته په پټو سترګو یوه عقیده ومنې، نور په حق او باطل یې فکر ونه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


یا یو کار کول او د یوې عقیدوي چارې ترسره کول پرته له دې څخه چې تاته یې کوم شرعي او منطقي دلیل وړاندې شي همدا ایډیالوژي ده. همدا خپله لفظ سره یې اسلام په ټکر کې دی چې ترشا یې کوم کفریات پټ دي، هغه خو لا څه کوې، یعنې کېدای شي ډېری خلک د همدې عقیدې په بناء دا خبره وکړي چې هو موږ خو عقیدوي جګړه کوو، خو نه وروره د دې مانا دا نه ده، موږ خو عقیدوي جګړه کوو، خو د کوم هدف لپاره چې جګړه کوو، په څه چې عقیده لرو نو په دلایلو راته دا واضحه شوې ده، موږ په پوره بصیرت دا هر څه منلي، داسې په پټو سترګو خو موږ جګړه نه کوو، نو د کفارو هدف د دې اصطلاح څخه همدا مقصد دی چې ګڼې موږ خطا شوي یو، عقیدوي جنګ کوو خو عقیده مو بې دلیله او بې اساسه ده، د همدې اصطلاح مانا او لفظ اسلام سره په ټکر کې دی، د اسلام دین، احکام او مفاهیم ټول په دلایلو استواره دي.

**ایډیالوژي بیا وایي:** چې هر څه به په پټو سترګو منې نور دلیل مه غواړه، هر باطل نظام چې غرب درته د اسلام په نوم معرفي کړي، نو ته مجبور یې چې بې دلیله یې ومنې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


لکه اوس درته طالب وايي چې د دوی ړنده ديموکراسي د اسلامي شريعت په نوم ومنه، نور به ترې دليل نه غواړې چې خه دا ستاسو نظام په کوم دليل شرعي نظام دی؟

بس په پټو سترګو به دا ايډيالوژي منې.

دا اصطلاح نن سبا ډېره کارول کيږي او ډېر ساده لوحه مسلمانان هم په دې غوليږي چې دا خو ډېره مډرن او پېشرفته اصطلاح ده، نو د دوی څخه هم استعماليږي، ځکه چې په مفهوم يې نه پوهيږي.

دوهمه خبره دا ده چې نن سبا اکثره د ديموکراسۍ اصطلاحات درته له غربيانو له لورې مخ ته کيږي، چې کله ونه چليږي او يا يې هغه پټه خبره د مسلمانانو له لوري رسوا شي، نو هغه اصطلاح په کراره شاته شي او په ځای يې نوې اصطلاحات رامخ ته شي، لکه نن سبا د ديموکراسۍ بازار خراب دی، اوس يې ايډيالوژيکي اصطلاح په ځېر په اړونده برخو د نويو اصطلاحاتو د راويستو په لټه کې دي.

دا فقط د يو لفظ استعمالول نه دي، بلکې د دې لفظ ترشا يو ستر فکر پروت دی او د دې فکر ترشا يوه عقيده پرته ده او دا هغه اصطلاح ده چې کفر توليد کړې او دا يو خاص دين پوري چې سوسياليزم ياديږي مربوط دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ایډیالوژي او دیموکراسي دواړه هغه اصطلاحات دي چې ترشا خپل فکر، عقیده او اصول لري، نو په همدې اساس دا باید تاسې پوره وپېژنئ چې ایډیالوژي د دیموکراسۍ دویم مخ دی.

ځینې خلک هڅه کوي چې اسلام هم د یوې ایډیالوژۍ په حیث معرفي کړي او وایي چې اسلام هم یوه ایډیالوژي ده، خو داسې نه ده، ایډیالوژي لکه دیموکراسي د خپلو شخصي منافعو لپاره مبارزه کوي.

فرضاً: کمونیزم یوه ایډیالوژي ده، د کمونیزم نظام ته ایډیالوژیکي نظام ویلی شو، د سرمایه دارۍ، کپیټلیزم او نور نظامونه دا ټول ایډیلوژیکي نظامونه دي، د اسلام مبارک دین ته دا اصطلاح کارول مناسب نه دي، دا اصطلاح ببرته د همدوی په مخ ورویشتل په کار دي چې ستاسې په لاس جوړ شوي نظامونه ایډیالوژیکي نظامونه دي، چې نه درسره پرې کوم دلیل شته او نه منطق که دلیل درڅخه وغوښتل شي نو زور استعمالوئ.

دا اصطلاح اسلام کې ځای نه لري، د څو سوه کالو څخه راپدېخوا چې دا سوسیالیزم په نړۍ کې راغلی،نو عقیدوي برخې ته یې د ایډیالوژۍ نوم ورکړ.

ایډیالوژي دا یوه فرانسوۍ اصطلاح ده، چې مؤسس یې هم عیسویت عقیدې ته منسوب هغه کس وه چې فکر او اند کې آزاد او سیکولر

(c) ketabton.com: The Digital Library


نظريه يې درلودله او اول ځل همدې کس دا اصطلاح  سياست کی مطرح کړه.

نو د ايډيالوژيکي نظام يا ايډيالوژيکي فکر له دې اصطلاح ځان لرې وساتئ، مطلب لکه څوک چې ووايي ديموکراسي په اسلام کې شته، همدا مانا لري چې ايډيالوژيکي عقيده يا نظام په اسلام کې شته.

دريم توپير او خاص توپير هغه دادی چې اوس څوک سيکولريزم نه استعمالوي اوس ډېری خلک دا وايي چې موږ ايډيالوژيکي جګړه روانه کړې، نو د دې مانا همدا ده چې اسلام سره په نويو اصطلاحاتو سره مقابله وکړي.

سيکولريزم تل همداسې غولوونکي اصطلاحات په ښکلو قالبونو کې وړاندې کړي دي .

بل توپير يې د اسلام سره دا دی چې د ايډيالوژی ټولې برنامې خيالي دي، د نظام داری، د ژوند د نورو امورو اړوند د ټولو مسائلو لپاره يې ټولې برنامې او پلانونه د تطبيق وړ نه دي، که يې لري نو ډېر محدودې دي، د عمل لپاره عمومي پلان نه لري، لېکن اسلام د ژوند ټولو امورو ته شامل او کامل داسې نظام دی چې د تطبيق وړ هم دی نو تش هوايي پلانونه اسلام کې نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو د دې اصطلاح تر شا ګڼ مفاهیم پراته دي، مطلب که یو څوک تاته ووايي ستاسې جګړه ایډیالوژیکي جګړه ده او ته يې هم ورسره ومنې، نو مانا يې همدا ده چې دا ته د کوم نظام دعوې کوې دا هسې خیالي نظام دی، په عمل کې د تطبیق وړ نه دی، حال دا چې د اسلام سپیڅلی نظام هره برخه يې د عملي تطبیق وړ ده او د ژوند ټولو مسائلو ته یو ځواب ویونکې نظام ده.

دا خبرې سیکولریزم رواج کړي چې اسلام په خپل ځای سم دین دی، خو د تطبیق وړ نه دی او د ژوند د امورو لپاره د سیکولر نظام تطبیق مهم دی.

نن سبا دا اصطلاح په همدې مفهوم کارول کیږي چې مانا يې همدا ده چې ته د کوم قانون څخه دفاع کوې دا د تطبیق وړ نه دی، کومه عقیده چې لرې، کوم فکر درسره دی، دا هسې خیالي دی، کوم اساس نه لري او نه يې پر حقانیت کوم دلیل راغلی خو داسې نه ده، ته باید په دې پوهه يې چې ته د کوم نظام څخه دفاع کوې او د کوم نظام د خوریدو او قایمېدو هڅه کوې، نو د دې نظام اقتصادي، اجتماعي او مختلفې برخې هم د تطبیق وړ دي او هم يې عقیدوي او فکري برخه په دلایلو ولاړه او په هره زمانه کې د تطبیق وړ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


او په ځانګړې ډول سیکولریزم په اسلامي ټولنه کې د اسلام د اقتصادي نظام د نه تطبیق په اړه ډېری خلک قانع کړي او ټولو خلکو ته یې دا ورفهم کړې چې اوس مډرن زمانه ده، د اسلام اقتصادي نظام د تطبیق وړ نه دی او سیکولر اقتصادي نظام باید تطبیق شي، نو ځکه هم ورسره خلکو منلې او هم یې عملي کړې، نو په همدې اساس یې د سیکولر نظام په چوکاټ کې د اقتصادي نظام، سودي او د کپیټلېزم برخې ته یې مخه کړې، چې له سترو نیمګړتیاو ډکه ده، هم آخروي او هم دنیاوي زیانونه او تباهي لري.

همداسې د طالب اقتصادي نظام چې همدا سیکولر اقتصادي نظام دی، دوی ته یې هم دا قناعت ورکړی چې د اسلام اقتصادي نظام په اوس وخت کې د تطبیق وړ نه دی، موږ باید نړۍ سره تعامل ولرو، باید چې همداسې تعامل کې واوسو، اوس نو نړۍ سره تړلي یو بانکي نظامونه دي که سودي نظام وي او که نور هر ډول نظام وي، خو باید عملي یې کړو.

د دوی پاکستاني بادارانو او استادانو ډېر له مخکې څخه دوی ته په کتابونو او درسونو کې د سیکولر اقتصادي نظام په ګټو لکچرې ورکړي دي او ددې سودي نظام په ګټو یې قانع کړي دي، ځکه نو همدا خبرې دوی کوي چې موږ مجبوره یو چې غرب سره په دې برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې تعامل وکړو بله چاره مو نشته، باید دا سیکولر اقتصادي نظام عملي کړو، چې هم ګټه ترلاسه کړو او هم مخ ته لاړ شو.

دوی ته غربیانو دا فکر ډېر مخکې د خپلو پخوانیو زر خریدو غلامانو پاکستاني نجسو مرتدینو له لورې وروپېچکاري کړی او د ایډیالوژۍ په اصطلاح یې قانع کړي چې ستاسې نظام خو یو ایډیالوژیکي نظام دی، مطلب یې همدا دی چې اسلام کې اقتصادي نظام اوس د تطبیق وړ نه دی، نو باید چې دوی نور نظامونه ومني. دا اصطلاح اخواني شیاطین هم ډېره کاروي، د دوی په کتابونو کې هم دا اصطلاح ډېره ذکر شوې، د دوی هم همدا فکر دی چې اسلامي نظام اوس د تطبیق وړ نه دی، دوی نو دا فکر لري چې څه له اسلام څخه راواخله، څه له سیکولریزم او څه له نورو نظامونو څخه راواخله او یو ګډوله نظام ترې جوړ او عملي یې کړه، د دوی همدا فکر دی چې اسلام په اوسنۍ وخت کې خالص د تطبیق وړ نه دی، نو دا خبیثان هم لګیا دي په خوله یو څه وایي او په عمل کې د نړۍ یهودو سره هم تعامل غواړي،هر چېرته چې په کتابونو کې ایډیالوژي اصطلاح کارول شوې وه او کتاب د اسلام په نوم و او د دې فکر څخه دفاع شوې وه،نو تاسې پوهه شئ چې دا کتاب اخوانیانو لیکلی او یا یې ترجمه کړی دی، چېرته د دې کتاب څخه استدلال ونه کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځینې کتابونه دوی د سید قطب هم ترجمه کړي، هغې کې د دوی مترجمینو هم همدا اصطلاح ورزیاته کړې، په داسې حال کې چې د هغې په کتابونو کې دا اصطلاح نشته، دا د اخواني شیاطینو یو خدمت دی چې دې اصطلاح ته یې کړی، که څوک تاسې ته ووایي چې سید قطب خو هم همدا اصطلاح کارولې، نو تاسې ورته ووایئ، دا د اخواني شیطاني مترجمینو زیاتونه ده او که چېرته یې کارولې وي، نو هم دا موږ ته دلیل نشي کېدای، دا کفري اصطلاح کفارو راداخل کړې ده او د دې ترشا پټ کفري مفاهیم پراته دي.

دا یوه پوښتنه وه چې جواب شوه نو په دې هیله چې په دې پوهه شوی یاستئ چې که تاسې ته څوک له دې وروسته ووایي چې ستاسې جنګ ایډیالوژیکي جنګ دی، نو تاسې باید په دې پوهه شئ چې د دوی هدف له دې څخه څه دی؟ نو اوس پوهه شوئ چې د دوی مقصد همدا دی چې تاسې له کوم قانون څخه دفاع کوئ، دا د تطبیق وړ نه دی، کومه عقیده او فکر چې لرئ دا دلیل او حقیقت نه لري، نو تاسې داسې خلکو ته جواب وموند، چې لله الحمد زموږ جګړه ایډیالوژیکي جګړه نه ده، دا یوه په دلایلو ولاړه عقیدوي جګړه ده او زموږ جنګ د اسلام د سپېڅلي نظام د حاکمیت لپاره دی، چې هم د تطبیق وړ دی او هم مو عقیده او فکر په دلایلو استواره دی، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library


خبرې چېرته طالبانو ته وکړئ چې د هغوی جګړه هم ایډیالوژیکي وه او نظام یې هم ایډیالوژیکي نظام دی.

**د دویم سوال جواب:**

بله پوښتنه دا وه چې د تسلیمۍ او سولې ترمنځ کوم توپیرونه موجود دي، په دې اړه موږ مخکې هم لیکل او بحثونه کړي، علماؤ پرې هم بیانات کړي او کتابونه یې پرې لیکلي او په کارده چې علماء کرام په همدې موضوعاتو لازیات کار وکړي څکه چې امارت خلکو ته خپله تسلیمي په سوله تعبیر کړې ده.

نو د پوښتونکي هدف هم همدغه دی چې امارت امریکا سره کړي تړون ته سوله وایي، تاسې ورته تسلیمي وایئ، نو تاسې د سولې او تسلیمۍ په ربط او توپیرونو رڼا واچوئ.

مخکې موږ وویل چې دا موضوع ډېره تحلیل شوې په کتابونو کې هم پرې بحثونه شوي، چې دا سوله نه بلکې تسلیمي ده او د ملګري هدف هم همدغه دی چې طالبان څنګه په منطقي دلایلو په دې قانع کړو چې د دوی دا تړون د سولې نه، بلکې د تسلیمۍ تړون دی، په دې اړه به منطقي او مدلل لنډ بحث وکړو. ان شاء الله!

په شریعت کې خو دا موضوع ډېره واضحه ده او په دې اړه مو د همدې کتاب د حدیبیې د سولې په عناوینو کې په سوله حدیبیه باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library


هر اړخيز بحث کړی او د طالبانو دا تسليمي چې دوی د حديبې د سولې سره مقايسه کوي، موږ د دواړو مقارنه کړې، نو دلته به يو څه نوره زياتونه هم وکړو.

ورونو! تسليمي په هر فرهنګ او هر ځای کې چې ته مانا کړې نو د تسليمۍ مانا همدا ده، چې ترک د وظيفې، مسلک او د خپل فکر او عقيدې څخه تېرېدنې ته تسليمي وايي .

د اسلام د سياسي نظام په نظامي ستراتيژۍ کې يا نورو نظامونو کې د تسليمۍ مانا همدا ده چې کله ته له خپلې وظيفې او مسلک څخه لاس په سر شوې نو ته تسليم شوی يې.

کله چې دوه قدرتونه د يو بل په مقابل کې واقع وي، يو راجګيرې او بل ته تسليميږي، نو هغه په دې مانا چې کله يې خپلې پخوانۍ داعيه، مسلک، وظيفه، فکر عقيده هر څه يې پرېښودل او دا يې مقابل لورې سره ومنل چې دوی نور د خپل فکر او مسلک دعوه دار نه دي او نه په دې اړه نوره مبارزه کوي، نو همدا تسليمي شوه.

رئيس او امير يې هماغه قدرت جوړيږي چې دا ورته تسليم شوی وي، بيا د هغوې نوم نه اخيستل کيږي او د خپلو پخوانيو کارونو او فکرونو څخه لاس په سر کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په بل تعبير دوه قدرتونه يو بل سره په مقابله کي واقع دي، يو قدرت د بل قدرت په ګټه د خپل هر فکر او مسلک، اصولو، ظوابطو او داعيي څخه تېرېږي او د مقابل جانب دا هر څه مني،نو همدې ته تسليمي وايي. اوس نو په همدې چوکاټ کې طالبان واچوئ او يا يې د همدې قاعدې په تله وتلئ درته به معلومه شي چې طالبانو سوله کړې او که تسليمي يې ورکړې ده.

طالبانو چې د جهاد په نوم کومه لوبه روانه کړې وه، جهاد خو نه و، يوه سياسي لوبه وه، خو څه دا به ورسره ومنو چې جهاد يې کاوه، آيا له دې ترون وروسته له خپلې دې داعيې يې په علني شکل د تېرېدو اعلان ونه کړ؟

دا اعلان يې تکراراً وکړ چې نوره جګړه ختمه ده او جګړه نشته، طالب دلته د تسليمۍ په نوم اعتراف نه کوي خو په نورو معاملاتو او اصطلاحاتو کې يې نړۍ ته دا منلې او دا يې اعتراف کړی چې دوی تسليم شوي، ځکه دوی نور اعلان وکړ چې مونږ نوره جګړه نه کوو. د اسلام په سياسي نظام کې لکه څنګه مو چې وويل بل مقابل قدرت ته له خپلې داعيې او اصولو تېر شي، نو تا مقابل قدرت ته تسليمي ورکړه، د هغې قدرت او اصول دې ومنل نو همدا تسليمي ده، اوس طالب وګوره چې له خپلو اصولو، داعيې، ظوابطو هر څه څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library


امریکې ته ورتېر شو او دا هر څه یې د امریکا ومنل او د بین الملل د اصولو په نوم یې اوس د امریکا ټول قوانین او اصول څه عملي کړي دي او باقي هغه به هم زر عملي کړي او په دې هر څه یې اعتراف کړی چې همدا کړني هر قاموس او فرهنګ کې تعبیر او تفسیر کړې نچوړ یې تسلیمې راوځي.

سوله دا ده چې که د دوه قدرتونو ترمنځ سوله کیږي، نو د هر قدرت داعیه، اصول، ظوابط او وظیفې سره کار نه لري، هغه په خپل حال ثابت پاتې کیږي، دواړه قدرتونه په خپلو کارونو کې مستقل وي، په تسلیمۍ کې خبره برعکس ده، تسلیمۍ کې به یو قدرت بل کې مدغم کیږي، بیا به د پیاوړي قدرت خبره چلیږي.

په بل تعبیر ته چې دښمن سره سوله کوې، نو دښمن سره اصل د دښمنۍ باقي پاتې کیږي فقط مؤقت وخت ځربندي وي، دښمن ته د دوست په سترګه نه کتل کیږي او نه ورسره ملګرتیا او صمیمت او محبت کیږي، ګوره په اجتماعي نظام کې چې هم څوک اړیکې پالي، نو یا د دوستۍ اړیکې وي یا د دښمنۍ، دوست سره راشه درشه وي دوستي وي مینه وي محبت وي، همکاري او صله رحمي وي او دښمن سره بیا دا هرڅه معکوس وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


همدا خبره د اسلام په سیاسي نظام کې هم ده چې سوله کې د دښمنۍ اصل باید په خپل ځای باندې پاتې شي، خو په تسلیمۍ کې د دښمنۍ اصل په دوستۍ بدلیږي.

طالب اوس وګوره په کومه لار روان دی؟

مشرانو یې څه وکړل او کشران یې اوس هم بریت تاووي چې دوی امریکا ماته کړه، حال دا چې دوی هماغې امریکا ته تسلیمي ورکړه او هر څه یې د امریکا ومنل.

**قال تعالی: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تُطِيعُوا الَّذِينَ كَفَرُوا يَرُدُّوكُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ فَتَنْقَلِبُوا خَاسِرِينَ﴾ [آل عمران149]**

**ژباړه: ای مؤمنانو که چېرې تاسو د هغه کسانو خبره ومنئ چې کفرېې کړی دی نو تاسو به په شاه واړوي، نو تاسو به تاوانیان شئ.**

دوی اوس په دې نه پوهیږي چې د دوی د دښمنۍ اصل له منځه لاړ او په دوستۍ بدل شو، تر پرونه دې دښمن وو خو اوس دې دوست شو، نو اوس په دې پوهه شه چې ورته تسلیم شوې، ځکه دې نو د دښمنۍ اصل تغییر وکړ، مفته د ډالرو کڅوړې دښمنانو ته څوک نه را استوي، خو ښکاره خبره ده، چې امریکې سره دې وروړې شروع کړې او دا ډاډ هم ورکوې، چې د دښمن په سترګه درته نه ګورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو وخت کلیسا هر څه ځانته انحصار کړي وو، پاپانو او کشیشانو به د دین څخه د مال راټولولو لپاره استفاده کوله،نن طالبانو د همغه پاپانو په نقش قدم باندې کار روان کړی دی او د دین نه د قدرت ساتلو او لاسته راوړلو لپاره استفاده کوي او وې کړه، نور يې بیا نه اسلام ته فکر شته او نه د خپل ایمان غم ورسره شته، څه کې چې د قدرت بقا وي هغه ته د ټولو نه مخکې طالب لاس ور اوږد کړی وي.

بل لوی توپیر يې دا دی چې سوله مؤقت وي او تسلیمي دایمي او ابدي وي چې تسلیم شوې نو بس له منځه لاړې. اوس نو تاسې وګورئ، د طالب څرګندونو ته غوږ شئ چې همدا ناري وهي... (دایمي او تل پاتې سوله... نور موږ چاسره دښمني نه لرو نور جنګ ختم شو).

نور هېر داسې شعارونه چې ورکوي دا د سولې شعارونه نه دي، دا د تسلیمۍ شعارونه دي، ښکاره خو داسې له شرمه هم نشي ویلی چې په صفا ټکو يې ووایي چې موږ نور امریکا ته تسلیم شو، نور مو د جهاد څخه توبه وویستله کوم څه مو چې د جهاد په نوم ترسره کړي دي، هم بد مو کړي، نو دا خبرې په بدل مفهوم کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**قال تعالی: ﴿إِنَّ الَّذِينَ ارْتَدُّوا عَلَى أَدْبَارِهِم مِّن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى الشَّيْطَانُ سَوَّلَ لَهُمْ وَأَمْلَى لَهُمْ ۝ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا لِلَّذِينَ كَرِهُوا مَا نَزَّلَ اللَّهُ سَنُطِيعُكُمْ فِي بَعْضِ الْأَمْرِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِسْرَارَهُمْ﴾ [محمد:26، 25]**

**ژباړه: بېشکه هغه کسان چې په خپلو شاګانو (له ایمانه) بېرته ګرځېدلي دي، وروسته له دې چې دوی ته هدایت ښکاره شو، دوی ته شیطان (خپل عملونه) ښایسته کړي دي او دوی ته یې مهلت ښکاره کړی دي، دغه په دې سبب چې یقیناً دوی هغو کسانو ته، چې دغه (قرآن) بد ګڼي چې الله نازل کړی دی، وویل: په ځینو کارونو کې به مونږ زر ستاسو حکم ومنو او الله د دوی په پټو خبرو پوهیږي.**

طالب ټول اصطلاحات هماغه د دښمن اصطلاحات کاروي اوس دوی هم مهاجرین بهرنیان، مجاهدین تروریستان او بهرني کفار خپل دوستان ګڼي، مانا د تسلیمي همدا ده چې نور دایمي د مقابل لورې ټول اصول او ظوابط ومني، اوس بېچاره طالب د بین الملل په چوکاټ کې د کفر ټول اصول او شرایطو ته تسلیم شوو چې دا صراحتاً کفر او ارتداد دی. قال تعالی: **﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تُطِيعُوا فَرِيقًا مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ يَرُدُّوكُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ كَافِرِينَ﴾**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ژباړه : اې مؤمنانو! که تاسې ددې اهل کتابو د یوې ډلې خبره ومنئ، نو دوی به تاسې له ایمان څخه بېرته د کفر لورې ته واړوي.**

دایمي اصطلاح چې په طالب استعمالوي، نو غربیانو ته د دایمي مفهوم مالوم دی، ځکه نو دوی د هرې خبرې په اول او آخر کې همدا وایي دایمي سوله، دایمي همکاري، دایمي تعاملات او نور ...

تسلیمي د اسلام په سیاسي نظام کې بده پدیده او ارتداد دی او همدا راز د نړۍ په نورو نظامي قوانینو کې همدا خبره ده چې که څوک تسلیم شي هغه نظامي محکمې ته معرفي کیږي، چې هلته ته ځان ته وکیل نشي نیولی هر څه ته به خپله جواب وایي.

او طالب به ان شاء الله د اسلامي خلافت د مجاهدینو له لوري د اسلامي شریعت محکمې ته راکش کول کیږي او د دې تسلیمۍ حساب به ورسره کیږي، اوس خو مست مست ګرځي خو دا ورځې پرې راورانې دي ان شاء الله!

د اسلام په سیاسي نظام کې به هرې ماتې ته چمتو یې، خو تسلیمي به نه قبلوې، ځان به ټوټه ټوټه کوې هرڅه به دې له لاسه وځي خو تسلیمي به نه ورکوې.

**ورونو!** غواړو په یو څو نورو اصطلاحاتو هم لنډه رڼا واچوو، چې هغه عبارت دی له کودتا څخه. کودتا څه ته وایي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


# کودتا

کودتاچیان په سیاست کې په داخل د نظام کې یوه ډله او هغه چارواکي وي چې په نظام کې په لوړو چوکیو وظایف لري که هغه نظامي او یا ملکي وي، خو غواړي چې په موجوده حکماو تخت چپه کړي او خپله پرې کیني، که هغه له نظامي لارو وي او یا له نورو څخه وي ... خو ځان خپل ټاکلي هدف ته رسوي، نو همدې چارې ته کودتا وایي، که چېرته دا خلک کامیاب شي نو قدرت ترلاسه کوي او که ناکام شي نو ځای یې بیا زندان او یا قبر وي، مطلب د قدرت اخیستو لپاره دوی دومره زړه کوي او د اکثره کودتا ګانو ترشا د بهرنیو استخباراتو لاس وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# انقلاب

انقلاب بیا له بهر یا داخل څخه راپورته شوی منظم هجوم وي.

## د کودتا او انقلاب تر منځ توپیر:

**لومړي توپیر دادی:** چې د انقلاب ترشا ډېری وخت ولسونه ولاړ وي، لېکن کودتا بیا دا د مشخصو کسانو له لورې چې نظام کې دخیل وي، ترسره کیږي او که ولسې ملاتړ وي هم پټ وي او په کمه اندازه وي.

**دوهم توپیر یې دا دی:** چې په انقلاب کې بیا نظام له سره جوړیږي.

**دریم توپیر یې دا دی:** چې په کودتا کې حالت بېرته زر عادي کیږي، یعني ډېر زر په حالاتو کنټرول راځي، تخریب او ویجاړي هم دومره نه رامنځته کیږي او نه هم تلفات زیات وي، ځکه چې نظام تیار موجود دی، حاکم لرې شوی،نورې اداري او سیستم منظم دي، برعکس بیا په انقلاب کې بېرته د دې هر څه رغول وخت نیسي، ځکه چې اداري ړنګیږي، امکان لري چې د نظام طرز هم په کې بدلون ومومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# قیام څه ته وایي؟

قیام د ولسونو او مختلفو اقشارو هغه مسلح پاڅون ته وایي چې له حاکم نظام څخه تنګ شوي وي او غواړي چې نظام ته بدلون ورکړي، یا نظام چپه کړي او یا هم په نظام خپلې غوښتنې ومني.

قیام یا پاڅونونه تر ډېره د خلکو د شخصي اهدافو په بنیاد راپورته کیږي، کله چې د حاکم نظام له لورې د خلکو حقوق پایمال شي، په دوی ظلمونه او وحشتونه له حده زیات شي او یا هم نور اړوند مسائل وي، نو خلک بیا مسلح پاڅون کوي، خلک مجبور شي د حاکم نظام په خلاف ټوپک ته لاس کړي خو دا حرکت منظم نه وي، مطلب اکثره رهبري یې هم یوه نه وي او یو خودسرانه پرجوشه حرکت وي، په غیر منظم شکل مخ ته ځي که څېرته پاڅون کامیاب هم شي نو بېرته دوی سره د نظام د جوړېدو کومه برنامه او طرحه نه وي او که نظام یې چپه نه کړ، د حاکم نظام لخوا څخه چې د دوی څه غوښتنې وي هغه ورسره مني او یوې نتیجې ته سره رسیږي او بالاخره قیام سړیږي او نظام په خپل ځای پاتې کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## شورش

دا هم يو مسلحانه حرکت دی، يوه ډله خلک د خپلو محدودو اهدافو د ترلاسه کولو په خاطر يو شورش جوړوي، کله يې چې اهداف ترلاسه کړل، نو بېرته له شورش څخه لاس په سر کېږي، ډېری شورشونه په غريبو او په فقيرو ټولنو کې ترسره کېږي، کوم هېوادونو کې چې فقر زيات دی هلته د شورشونو امکانات ډېر وي، د دوی شورشونه هم د فقر څخه خلاصون يا د نورو ستونزو د ختمېدو په خاطر وي، دا هم اسلامي بڼه نه لري.

## سياسي اصلاحات

تاسې به يوه بله اصطلاح د سياسي اصلاحاتو په نوم هم اورېدلې وي، دا هم يوه ډله خلک وي، د نظام د اصلاح لپاره غير مسلح هڅه کوي تر څو په نظام کې کومې نيمګړتياوې وي، هغه اصلاح شي، دوی غواړي چې د نظام په سياست کې بدلون راشي، مظاهرو ته ورته شکل لري، خو مظاهره موقتي وي او دا اوږد مهاله وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جنبش

جنبش هم یوه اصطلاح ده چې معمولاً خلک راپاڅېږي او وايي چې زموږ ملک اشغال شوی او د استقلال لپاره کار کوو، نور اهداف په کې مطرح نه وي، کومه اسلامي انګېزه نه لري، نه د اسلامي نظام خبره کوي او نه هم د اسلام کوم غم ورسره وي، فقط د نظام سره د قدرت په سر په ټکر کې وي، د دې لپاره مبارزه کوي چې قدرت او چوکۍ تر لاسه کړي، لکه د طالبانو په څېر یو جنبش وي، چې د اسلام په کیسه کې نه دي.

## نتیجه

د شریعت هر حکم د حکمتونو څخه ډک وي، نو د همدغه حکمونو په رڼا کې چې کله په یو نظام باندې رد کوئ، یا په کوم تنظیم باندې رد کوئ، دلته په لاندې افرادو رد مهم نه دی، ځکه رد به د نظام په رأس کې چې څوک واقع وي د هغوی په عقیده، سیاست او د هغوی له لورې د همدغه تنظیم لپاره په جوړه شوې تګلاره او منهج به رد کوئ، نو د تنظیم په سر کې شته مشران او چلوونکي یې چې د ارتداد په حکم کې داخل شول، نو لاندې افراد که هر څومره د اخلاص او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه نیت بغاري ووهي، خو چې د همدغه مشرانو او تنظیم تګلاره تعقیبوي، نو دې سره خپله مرتد ګرځي.

مورږ او تاسو چې په یو نظام د بطلان خط کش کوو، نو د دې نظام په بنسټ ایښودونکو، د دوی په اهدافو، د دوی په عقیده او د دوی د تأسیس په دلایلو باندې خط کش کوو، زما او ستا فتوا د نظام په تأسیس باندې ده، نو لاندې د افرادو نظریات مهم نه دي.

که اوس یو څوک وایي زه د طالبانو په امارت کې یم، خو د طالبانو د دغه.. دغه.. کارونو مخالف یم، دا خبره نه شریعت مني، نه یې سیاست مني او نه د عقل او منطق له لحاظه قبول ده، ځکه ته چې د امارت په صف کې داخل یې، نو د همدغه صف حکم اخلې، دلته ټول رد په دغه نظام باندې دی، ته چې یو ځل دې نظام ته داخل شوې او تا د دې نظام ټول اصول او شرایط ومنل نو ته د اسلام څخه خارج شوې، ځکه دا د شریعت حکم دی چې په رأس د یو تنظیم باندې کوم حکم لګول کیږي، دا په لاندې افرادو باندې هم لګول کیږي، ولو که د دې تنظیم یو فرد ووایي چې زه د دې کار مخالف یم، خو چې بیا هم ځان د همدې نظام غړی او عسکر حسابوي، دا کس هم د همدې نظام په حکم کې داخل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# خاتمه

آخر کې يو ځل بيا د نړۍ کفارو او د هغوی مليشو ته شيخ ابومصعب زرقاوي رحمه الله هغه وينا ورياده وو کومه چې نن سبا زموږ رګونو کې هم لکه وينه په جريان کې ده او هغه دا چې مونږ دلته د يو موټې خاورې او يا د هغه بی معنا سرحدونو لپاره چې سايکس ـ پيکو رسم کړي نه جنګيږو او همدارنګه د دې لپاره هم نه جنګيږو چې عرب ګمراهان د غربي ګمراهانو ځای ونيسي، بلکې زموږ جهاد تر دې لوړ او ښايسته دی، موږ د کلمة الله د لوړ والي لپاره جنګيږو، تر څو دين او بندګي خاص د الله لپاره شي.

او هر هغه څوک چې د دې مرام مخالفت وکړي او يا زموږ د رسېدو دې هدف ته خنډ وګرځي، نو هغه په هر نوم او نسب چې وي زموږ دښمن او زموږ د تورو هدف دی.

مونږ داسي يو دين لرو چې الله جل جلاله زموږ لپاره ميزان او فيصله کونکی راليږلی دی، خبره يې قاطعه او لاره يې ښونکې ده او فرمان يې ټوکې او ملنډې ندي، دا دين زموږ او د خلکو په منځ کې نسبت دی، شريعت زموږ آسماني دی، فرمانونه زمونږ قرآني دي او فيصلی زمونږ محمدي دي، امريکايي مسلمان زموږ ګران ورور دی او کافر عرب زموږ دښمن دی که څه هم موږ او دوی له يوې مور څخه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورونو! د کتاب دويم جلد کې د الله رب العالمين په توفيق سره بيا د اسلام اقتصادي نظام او تجارتي اړيکو (ساختار او تطبيق) د اسلام امنيتي نظام (ساختار او تطبيق)، د اسلام عسکري نظام (ساختار او تطبيق) او د اسلام اجتماعي نظام (ساختار او تطبيق) باندې بحثونه لرو، ان شاءالله!

چې اقتصادي نظام کې ټول تجارتي اړيکې او معاملات سره د يو مستقل نظم پرمخ وړلو باندې بحث کوو، څکه خلک نن سبا حربي کفارو سره راشه درشه وکړي او بيا نوم د تجارتي اړيکو ورکړي، دې ته ورته او ورسره اړوندو نورو موضوعاتو باندې تفصيلي بحث لرو تر څو مجاهدين دې باندې هم پوه شي چې د اسلام اقتصادي نظام هم هر وخت کې د تطبيق او مطرح کېدلو قابل دی.

عسکري نظام کې د مجاهد تربيې څخه شروع چې کوم منوال باندې يو نظامي مجاهد بايد تربيه شي، کوم بخشونو کي تربيه شي تر عسکري اړيکو او ستراتېژيانو باندې عمومي بحث لرو.

امنيتي نظام کې د رب په توفيق سره د استخباراتو او امنيت موضوع مطرح کيږي، چې څه نظم باندې خپل داخل او خارج د نظام کنټرول لاندې وساتو تر څو يو مظبوط نظام ولرو.

اجتماعي نظام باندې هم د تعليم موضوع تر څنګ نور اسلامي رسوم

(c) ketabton.com: The Digital Library


او عنعناتو او يوې اسلامي ټولنه باندې چې کوم فکر او مورال باندې تربيه شي او د کفارو دامونه چې دوی ته يې ايښي دا د بحث لاندې ساتو ان شاء الله .

چې ددې هر نظام په ساختار او تطبيق او ترڅنګ يې د کفارو او نورو مخالفينو د دسيسو رابرسېره کول او ددوی په شبهاتو رد به په راتلونکي ټوک کې بحث کړو باذن الله ترڅو مجاهدين ورونه په دې اړينو مسائلو تر ډېره پوهه ترلاسه کړي .

**جزاكم الله خيرا و بارك الله فيكم**

**(سُبْحَانَكَ لاَ عِلْمَ لَنَا إِلاَّ مَا عَلَّمْتَنَا إِنَّكَ أَنتَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ)**

**أرض خراسان**

20/محرم/1445

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اسلام سیاسي نظام

## ساختار ـ تطبیق د نظام ـ رد پر مخالفینو

دا نظام د اسلام سیاسي نظام دی، چې زموږ دښمن یې هم په تمامه مانا پېژني او په دې پوهېږي هم که چېرې په حقیقت کې د اسلام سیاسي نظام حاکم شي، نو هغه ورځ به د دوی د ذلت او د اسلامي امت د برم او عزت ورځ وي، ځکه یې نو د اسلام د سیاسي نظام د حاکمیت رښتیني لارویان د اسلامي دولت سربښندویان یې د سختو فشارونو لاندې نیولي دي.

تر اوسه د اسلام د ټولو دښمنانو دا شریکه هڅه وه چې اسلامي امت د اسلام
د حقیقي سیاسي نظام له رښتینې تصور او حقانیت څخه لرې وساتي،
دوی ټوله انرژي په همدې مصرفوله چې اسلامي امت رابیداره
او د یو داسې نبوي منهج په دریځ راښکاره نشي
چې بیا به ترې ټولې کفري نړۍ...

مؤسسة العزائم الإعلامية

العزائم

خپرندویه إداره یې وړاندې کوي

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**